# سیاسي جګړې

د جمال ناصر اصولي مرکې او شننې

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






# سیاسي جګړې

**د جمال ناصر اصولي مرکې او شننې**

چاپکال: **۱۳۹۸ل/ ۲۰۲۰ز**

خپرندوي: **جمال ناصر اصولي**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

ډیزاین: **سپین سهار**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


د فکر او عمل لاروی ........................................ ۵

ځو خبرې ................................................ ۷

له مخالفینو سره د سولې خبرې ........................ ۱۰

د ثور د اوومې او په افغانستان کې د اوسنۍ روسیې نقش .......... ۱۳

د افغانستان سوله او پاکستان ......................... ۱۷

د امریکا او طالبانو تر منځ اړیکې.......................... ۱۹

د امریکا او افغانستان امنیتي تړون......................... ۳۰

امریکا ولې پر پاکستان فشار نه راوړي ....................... ۳٤

پر پاکستان د امریکا د مرستو بندول.......................... ٤۵

د کندز ناسم وضعیت........................................ ٦۳

پر پاکستان د امریکا فشار.................................... ۷۱

د افغانستان او پاکستان د سولې دویم پړاو ...................... ۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امریکا څخه پر پاکستان د نور فشار غوښتنه .................. ۸۹
د امریکا له نوي دولت سره د کابل اړیکې ........................ ۱۰۰
د ډیورند فرضي کرښه .............................................. ۱۱۲
د ملا اختر محمد منصور وژنه ........................................ ۱۲۲
د ملي یووالي حکومت په اړه د جان کېري خوشبیني.............. ۱۳۳
په لندن کې د افغانستان، پاکستان او برېتانیا غونډه.............. ۱٤۳
پنځم ستون ............................................................ ۱۵۰
د طالبانو نوی مشر ملا هیبت الله .................................. ۱۵۲
یو سوله‌ییز افغانستان د پاکستان په ګټه دی ........................ ۱٦٤
د ټاکنو په کمیسیون کې اصلاحات ................................ ۱۷۷
د الکترونیکي تذکرو بحث ......................................... ۱۸٤
له اداري فساد بډو یا رشوت سره مبارزه ........................... ۱۹۳
د طالبانو د حملو ډېروالی او د جګړې نوی فصل.................. ۲۰٦
په افغانستان کې د مجازاتو قانون ولې نه پلی کېږي............... ۲۱۷
د کندز ښار د سقوط پایلې ........................................ ۲۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فکر او عمل لاروی

ښاغلی اصولی پر داسې مهال وزېږېد چې په وطن کې د جګړې د توپان لمبې ايله پيل شوې وې، په ۱۳۵۹ل کال د خوست د تنيوولسوالۍ د دره ګي په کلي کې د ولسي جرګې د پخواني استازي نوروز اصولي د کاله څراغ شو. د ځوانۍ پيل يې د هېواد په غېږه کې و، خو د هېواد ناخوالو د وطن مور له غېږې بې برخې کړ. کلونه کلونه يې په روسيه او انګلستان کې تېر کړل خو د زړه هره درزا يې د وطن له حالاتو سره غوټه وه. د وطن وياړلې خو له جنګونو او ننګونو خونړۍ غيږه يې د ځان لپاره بسيا وګڼله بېرته راستون شو او په ډاډه زړه يې ګامونه واخيستل.

د اصولي کورنۍ له اره د خلکو د ناستې ولاړې ځای و. تصميمونه به نيول کېدل او ګامونه به اخيستل کېدل، اصولي شپه ورځ په داسې يوه دېره او يوه مرکز رالوی شو، چې معيار يې وطن، پښتونولي او مېلمه پالنه ده، ځکه خو پر ده د خپلو اسلافو سيوره غوړېدل د حيرانتيا وړ نه ده.

اصولي اشنا سړی دی. د جرګې مرکې ملګری دی او د وطن او ولس په باب د انديښنو او مسلو د راسپړلو او تحليلولو سړی دی. له يوې خوا که د ژبو او ادبياتو ماسټر دی نو له بلې خوا د وطن د تحليل او ارزونې او د ملي دريځ خپلولو سر لاری هم دی. په کتابونو کې شعرونه او نثرونه خپروي، د (پرديسۍ تروږمي) يې د شعرونو تولګه ده، په غونډو کې ويناوې کوي او په ټلوېزيونونو او راډيوګانو کې شعرونه او نقدونه اوروي. د وطن سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالات هم ارزوي او نظر يې کره او پوره وي، ځکه خو دده ملي دريځ د ټول ولس دريځ ګرځېدلی او دی يې په خپل ولس او خلکو لا ډېر ګران کړی دی.

د جمال ناصر اصولي مجلس او ناسته ولاړه د وطن او ولس د مينې يو خوږ ګډون دی، چې يوازې د فن او هنر خاوندان يې په خوند پوهيږي او دی په انديالو ځوانانو لاپسې ګرانوي او درنوي.

دا ټولګه د اصولي صيب د سياسي، ټولنيزو او ملي بحثونو يو نچوړ دی، چې دده د هېوادني او ملي دريځ پته ترې ډېره ښه لګېدی شي. دده غږ رسا دی او د ټولو دی، ځکه خو دده ياران ورسره په جيګه غاړه په دې نظر دي، چې وايي:

بې حسه بې سواده دی، په شل ځايه تقسيم دی
خو څه وکړم همدغه مې ولس دی زما خوښ دی

د اصولي د ملي فکر د ملګرتيا لاره دې همداسې ودانه وي!!

د خدای ښه دي

محمد داود وفا

جلال اباد

۱۰/۱۰/۲۰۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو خبرې

د لوی او بخښونکي خدای(ج) په نامه!

نولس کاله کیږي، چې په ګران هېواد کې د بیان آزادي رغېدلې او پیاوړې شوې ده. هغه هېوادونه، چې د بیان آزادي نه لري، د خلکو خولې يې ور تړلې دي، دوی د خپلو نظرونو او اندونو د بیان څخه محروم شوي دي. په داسې هېواد کې چې ژبې نه شي غړېدای، اند او نظر له ستوني یا د مرۍ نیول شوي وي، کله هم ولس د زړه خبره نه شي کولای او د هېواد سیاست، ولسي ستونزې، ملي بنسټونه په ټوله کې په حکومت پسې اړوند پدیدې د روښانه ګڼېځ څرک نه ویني. همدا راز هلته ډیکټاټوري حاکمه وي، که ولس په سترګو څه ویني هم د ویلو جرئت يې نه لري.

له مؤقتې ادارې را په دېخوا د حکومت یوه لاسته راوړنه د بیان آزادي شمېرل کیږي. زه او هر د نظر خاوند خپل اند په آزاد ډول په رسنیو او خواله رسنیو کې ویلی شي. له دې ازادۍ څخه په ګټه اخیستلو سره ما هم وغوښتل، چې زما ځینې سیاسي مرکو ته د کتاب بڼه ورکړم. په ګران هېواد کې مې تر اوسه داسې کوم کتاب تر سترګو شوی نه دی یا تر ما نه دی رسېدلی، چې له رسنیو سره شوې مرکې يې د کتاب په شکل چاپ وي. ما وانګېرله، چې خپلې مرکې را ټولې، وار په وار يې چاپ کړم، تر څو د نثر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بڼه هم مینه‌وال وکولای شي ترې برخمن شي.

ددې کار ګټه به دا وي، چې له تصویري او غږیزو رسنیو سره په مختلفو ورځو، اونیو، میاشتو او کلونو کې شوې مرکې به خوندي او د مختلفو موضوعاتو اړوند حقایق به د تاریخ پاڼو ته وسپارل شي، تر څو نور لیکوالان او تاریخ‌ثبتوونکي ترې ګټه واخلي. هره خپرونه د یوې ځانګړې موضوع په اړه جوړه شوې ده، چې سیاسي یا ګردي مېزونه هم ورته ویلی شو. په هر سیاسي مېز کې له دوو نیولې تر څلورو کسانو ګډون لري. هر د نظر خاوند -چې ویاندویان یا رسنۍ یې د سیاسي کارپوه په نوم نوموي- له خپله فکره په یوه موضوع بحث کوي، شني یې او وياند ترې په هره موضوع کې بېلابېلې پوښتنې کوي.

ما هڅه کړې، چې د مېز په جریان کې تر ډېره خپلې خبرې را واخلم، خو د هغو دوستانو خبرې مې هم را اخیستې دي، چې زما له خبرو سره یا متضادې او یا تړاو لري.

ددغو خپرونو یا مرکو ډېری منځپانګه د ګاونډیو هېوادونو په دوه مخو سیاستونو، جګړې، سولې، کورنیو ستونزو او بېلا بېلو نورو مسئلو را څرخي.

په هېواد کې د بیان آزادۍ د ښېګړو تر څنګ یوه بدګړه دا هم ده، چې هر څوک هر څه ویلی شي، هېڅ سرې کرښې او چوکاټونه موجود نه دي. په ډېرو رسنیو کې ځینې په نوم کارپوهان د ملي ګټو، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي اتلانو، د هېواد بیرغ او په لویه کې په افغانستان خپل ککړ لستوڼي مړي، خو څوک ترې هډو پوښتنه هم نه کوي. ددې لپاره چې دا ډول نا افغانه خلک د عدالت مېز ته را کش شي، پکار ده، چې لکه په نوره دنیا کې ورته قوانین وضعه شي، تر څو وپوښتل شي، چې د کومو لاسوندونو پر بنسټ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول مضرې او د هېواد پر ضد څرګندونې کړې دي.

د رسنیو د څار لپاره دې یوه وړه تشکیله اداره جوړه شي، تر څو د بیان د آزادۍ څخه د سوء استفاده کوونکو مغرضو اشخاصو لپاره پر مخ څپېړه وي.

دلته ځینې رسنۍ هم بې‌باکه او د ملي ګټو پر ضد، خپرونې کوي. حکومت یې په مقابل کې پوره خوله تړلې او پر وړاندې یې هېڅ‌ډول حرکت نه لري. د هېواد ملي ګټو ته په کتو سره پکار ده، چې د قانون له مخې ورته سرې کرښې په ګوته شي، تر څو مو د داسې مواردو مخه نیولې وي.

درناوی

جمال ناصر اصولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱

## له مخالفینو سره د سولې خبرې

**سید سلیمان آشنا:** ولسمشر غني د دولت له وسله‌والو مخالفینو غوښتي چې د سولې بین‌الافغاني خبرو ته حاضر شي. په دې اړه له کابله د سیاسي څېړونکي جمال ناصر اصولي نظر اخلو.

اصولي صاحب! ولسمشر غني مخکې هم ویلي و چې په افغانستان کې به د سولې د ټینګښت لپاره له پاکستان سره خبرې کوي او په ننني وینا کې یې په بین‌الافغاني خبرو ټینګار وکړ. آیا په دې ستراتیژۍ کې کوم بدلون راغلی، که څنګه؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه. دا چې موږ له پاکستان سره د سولې خبرې وکړو، یا طالبان وایي چې باید له امریکا سره خبرې وشي. ښه به دا وي چې افغانان پخپلو کې سره کښېني او د یو بل خبرې واوري. ګټه به یې دا وي چې دا خبرې به افغانان له یو بل سره نږدې کړي، ځکه هر څومره چې دریېمګړی په دغو خبرو کې داخل شي، د سولې پر خبرو لا ډېر منفي تاثیر کوي. لکه څنګه چې پاکستان څو ځلې په دغو خبرو کې دریېمګړی شو، خو سمه پایله یې نه ده ورکړې. ځکه چې هغوی خپلې موخې لرلې او دغه موخې یې د سولې په خبرو کې ځای پر ځای کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره چې د بهرنيو اغراض ورڅخه وايستل شي، نو اړينه ده چې طالبان د افغانستان له اسلامي جمهوريت سره کېني او بحثونه وکړي. موږ د دغو خبرو د برياليۍ اومثبتې پايلې په هيله يو.

**سيد سليمان آشنا:** يعنې تاسو فکر کوئ چې وسلهوال مخالفين به د بهرنيو له منځګړيتوبه پرته خبرو ته حاضر شي؟

**اصولي:** تاسو پوهېږئ چې د افغانستان جګړه افغانۍ نه ده، بلکې تر شا يې ډېرې کړۍ او نور لاسونه دي. ښکاره ده چې د طالبانو او سولې په خبرو کې د هغوی د اغراضو يوځای کول ناشونی کار دی، خو افغانان بايد کوشش وکړي چې هغوی له منځه وباسي او پخپل منځ کې د سولې خبرې وکړي. کېدای شي، چې د پخوا غوندې، د سولې خبرې ناکامې هم کړي، لکه چې پاکستان څو ځلې دا کار کړی او طالبان يې د سولې له مېزه لرې کړي، او اوس هم نه غواړي چې طالبان د سولې خبرو ته حاضر شي. خو ويلای شو که امريکا وغواړي چې په افغانستان کې سوله راشي، نو په پاکستان فشار راوستلای شي، او ويلای شم چې په دوو مياشتو کې به په افغانستان کې سوله راولي. که امريکا په رښتيا هم غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي، نو د تروريزم اصلي حامي پاکستان دی او امريکا ورسره مرسته کوي. نو د افغانستان د سولې لپاره امريکا بايد له پاکستان سره خپلې مرستې پرې کړي او پر پاکستان فشار راوړي چې په افغانستان کې له طالبانو سره نور مرسته ونه کړي او همداراز د داعش له تمويلولو هم لاس واخلي. په دغه صورت کې به افغانستان په يوه بشپړ سولهييز هېواد بدل شي.

**سيد سليمان آشنا:** اصولي صاحب همداسې يوه هڅه له حزب اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره وه چې خبرې او موافقه پرې وشوه، نو د موافقې په عملي کېدو کې اوس څنګه د څه لپاره دی؟ همدارنګه آيا کېدای شي چې له حزب اسلامي سره موافقه عملي شي، څو نورې ډلې هم خبرو ته تشويق او حاضرې شي؟

**اصولي:** له حزب اسلامي سره د سولې د لاسليک شوي هوکړه‌ليک عملي کول يو څه وخت غواړي، ځکه ځينې مسايل داسې دي چې د افغانستان د حکومت په واک کې نه دي، لکه له تور لېسته د حکمتيار صاحب د نامه ايستل، چې دغه د ملل‌متحد او امريکا کار دی او دېته ورته د بنديانو د خوشې کېدو موضوع چې بايد په سمه توګه تفکيک کړای شي؛ هغوی چې لوی جنايي جرمونه يې کړي، بايد خوشې نه کړای شي، بلکې يوازې هغه بنديان پکې آزاد شي چې له ځينو کړيو سره د سياسي ستونزو له امله بنديان شوي دي. يعنې يو څه وخت ته ضرورت شته. د دې لپاره چې دغه پروسه بريالۍ کړای شي، نه يوازې به طالبان سولې ته مجبور کړي، بلکې د افغانستان د حکومت ټولو مخالفو ډلو ته – چې د دغه نظام پر وړاندې جنګېږي – يوه مثبته انګېزه ده.

**سيدسليمان آشنا:** څومره امکان شته چې له طالبانو سره سوله په لنډ وخت کې ښه نتيجه ورکړي.

**اصولي:** زما په آند څو چې امريکا او پاکستان ونه غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي او د دغه هېواد د سولې له پروسې سره په اخلاص کار ونه کړي، تر هغې په افغانستان کې د سولې ټينګښت ناشونی دی. موږ وايو چې افغانان بايد په خپلو کې سره کېني، خو د دوی تر شا همدا لاسونه دي. امريکا بايد پر پاکستان فشار راوړي چې طالبان پرېږدي، څو سولې ته حاضر شي، هله به مو په خپلو کې روغه وشي، او سوله به وکړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲

# د ثور د اوومې او په افغانستان کې د اوسنۍ روسیې نقش

**امریکا غږ، سید سلیمان آشنا:** اصولي صاحب په سلامونو مو هرکلی کوم! د پخواني شوري پر یرغل او د مداخلې پر عواقبو ډېر بحثونه شوي، خو پوښتنه دا ده چې مسکو نن هم له افغانستان سره د همکاریو لپاره ژمن ښکاري. داسې کوم مشترکات شته چې دواړه هېوادونه په ستراتیژیک ډول سره ملګري کولای شي؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! سلام تاسو او ټولو لیدونکو ته. روسیه په افغانستان کې له داعشه ډارېږي، فکر کوي چې که داعش په افغانستان کې کامیاب شي، نو بیا یې ریښې منځنۍ آسیا ته رسېږي او له منځنۍ آسیا څخه بیا تر روسیې پورې غځېږي، او دغه ډار هم ورسره دی چې په سیمه کې شته لوی قدرتونه غواړي چې روسیه باید په یو ډول د داعش په ولکه کې ورکړي، یا د نړۍ دا لوی ناورینونه، چې له داعش او نورو ډلو سره راپیدا شوي، باید منځنۍ آسیا ته لاړ شي. روسیه د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حکومت سره په يو ډول همکاري کوي؛ تل يې ويلي چې موږ د افغان حکومت همکار يو او دا همکاري به مو دوامداره وي، خو د دې ترڅنګ دوی بيا له طالبانو سره هم يو ډول همکاري لري. دوی وايي چې موږ له طالبانو سره اړيکې جوړې کړې دي. نو پر دې اساس ممکن چې ځينې نظامي وسلې يې هم ورکړې وي، ځکه پوهېږي که په افغانستان کې اوسنی نظام ړنګ شي، بيا طالبان راځي او طالبان هغه څوک دي چې داعش په افغانستان کې نه پرېږدي، ځکه له داعش سره په تضاد کې دي؛ ډېرى وختونه سره جنګېږي هم؛ او دغو دوو ډلو د هېواد په ډېرو سيمو کې يو بل سره وژلي هم دي. له همدې امله روسيه چې په افغانستان کې يو تريخ تاريخ هم لري، ډاډه ده چې که ناټو او امريکا په افغانستان کې ناکام شول، نو د طالبانو راتګ ممکن دی.

**سيد سليمان آشنا:** ډېره مننه. اصولي صاحب بله پوښتنه دا ده هغه جهادي تنظيمونه او ډلې چې پخوا يې د شوروي په ملاتړ د افغانستان د حکومت پر وړاندې جګړه کوله او ولاړ وو، نن هغوی په افغانستان کې حضور لري او حتا ځينې يې په حکومتي ادارو کې هم شتون لري او پخپله له يوې مسلحانه جګړې سره مخ شوي دي، نو اساسي پوښتنه دا ده چې ولې تل په افغانستان کې د حاکمو حکومتونو په مناسبت دغه ډول جګړو ته مشروعيت ورکول کېږي؟

**اصولي:** په افغانستان کې چې پخوا د روسيې شتون و، همغه وخت کله چې شوروي اتحاد يا روسيې پر افغانستان يرغل وکړ، نو په ضد يې امريکا، عربي هېوادونو او ناټو يا اروپايي هېوادونه راپورته شول او د روسيې پر ضد يې د پاکستان په مرسته مجاهدينو ته وسلې ورکړې؛ دوی يې وروزل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان يې هم په يو ډول کرا کړ، څو افغان مجاهدين وروزي او تر ننه يې روزي، کومې چې د دوی پکار دي او په آرامه او ارزانه يې اخيستلای شي، څو خپلې استفادې ورڅخه وکړي. روسيه په افغانستان کې هغه څه غواړي چې دوی ته پکار دي، او غواړي هغه خطر لرې کړي چې د ځان لپاره يې احساسوي. ځکه دلته په افغانستان کې د داعش ډله هغوی ته تر ټولو لوی خطر دی.

**سيد سليمان آشنا:** يعنې ستاسو برداشت دا دی چې هر هېواد که قدرت لري که يې نه لري؛ که نږدې (ګاونډی) دی که لرې، د خپلو ګټو لپاره به کوشش کوي چې وجنګېږي؟ بله پوښتنه دا چې تاسو په تېره دغه زموږ نسل چې پوهېږو څه ناڅه ځلوبښت کاله کېږي چې پاکستان په يو ډول سره د هغو ډلو پالنه کوي چې په افغانستان کې د نظام خلاف جنګېږي. نن هم د داسې يوې ډلې کوربه دی چې هغه د افغانستان د حکومت خلاف ده. ستاسو په آند ولس په دې هرڅه پوهېږي چې د دغو ټولو جګړو اصلي موخې څه دي؟

**اصولي:** اصلاً اساسي موضوع دا ده چې افغانانو ته اوس په سيمه کې خپل دښمن معلوم دی او هغه پاکستان دی. د پاکستان لپاره دا مهمه نه ده چې په افغانستان کې کفري نظام دی يا اسلامي، بلکې د دوی لپاره دا مهمه ده چې څنګه وکولای شي افغانان کرا کړي او د هغوی په واسطه دغه هېواد ړنګ کړي؛ پلونه او سړکونه يې وران او په يوه کنډواله يې بدل کړي، څو خپلو موخو ته ورسېږي، ځکه پاکستان په سيمه کې د دغه هېواد لپاره واړه اهداف نه لري، د هغوی لوی هدف د افغانستان ورانول؛ د آسيا له نقشې څخه ايستل او يو ځل بيا د افغانستان په اور کې سوځول دي. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدهمرغه چې موږ افغانان یې کرا کړي یو، تل مو کرا کوي او همېشه مو د خپل هېواد پر ضد جنګوي. خو موږ تر اوسه هم نه پوهېږو؛ لا هم د پردیو په غېږه کې پراته یو؛ اوس هم د پردیو مسایل اورو او د پردیو بانک‌نوټونه کلدارې، ډالر او تومن کاروو، په جېبونو کې یې ګرځوو او له دوی څخه یې اخلو چې خپل هېواد مو پرې ویجاړ کړو. زما په آند افغانان باید نور پوه شي چې دلته جګړه د اسلام او کفر نه، بلکې دلته اصلاً د پاکستان او افغانستان جنګ دی چې ټول افغانان باید پر دې پوه شي، څو د تل لپاره له جګړو لاس واخلي او هغې مرحلې ته ځان ورسوي چې افغانستان نور پرمختګ وکړي. هله به د پنجابي په ګډون له ایراني او نورو سره سیالي وکړای شو.

**سید سلیمان آشنا:** بالکل، ستاسو هدف همدا دی چې باید خودکفا وو او له سیمې سره سیال واوسو. همداراز یو هراړخیز خپلواک حکومت ولرو. ډېره مننه اصولي صاحب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳

## د افغانستان سوله او پاکستان

**شمشاد:** تر دې دمخه پاکستان ځو ځلې د افغانستان د سولې په تړاو ځینې غونډې لرلې، خو د افغانستان د خلکو د غوښتنو مطابق پایلې یې له ځانه سره نه لرلې، په دغو وروستیو کې د پاکستان او طالبانو ترمنځ د ناستو په اړه ځینې خوښۍ له دې امله پیدا شوې چې ګواکې پاکستان پر طالبانو د پام وړ اغېز لري.

**اصولي:** د تاریخ په اوږدو کې پاکستان صادق نه دی پاتې شوی. په تېره بیا په دې وروستۍ یوه نیمه لسیزه کې، چې له موقتې ادارې سره تر ننه په افغانستان کې ځینې حکومتونه راغلل، نه یوازې یې د افغانستان د سولې له بهیر سره مرسته نه ده کړې، بلکې برعکس د افغانستان د نظام پرضد یې ځینې نوې ډلې، لکه داعش رامنځته کړې او پخوانۍ ډلې یې غښتلې کړې دي.

**شمشاد:** ګواکې چې په دغو وختونو کې د افغانستان د سولې په تړاو په مسکو کې ناسته ترسره شي، خو حکومت له مخکې په دې غونډه کې د طالبانو له ګډون سره خپل مخالفت اعلان کړی، اوس څېړنې دا ښیي چې طالبان د افغانستان د روانې جګړې مهمه برخه ده او د افغانستان د سولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تړاو په هره نړیواله او سیمه‌ییزه ناسته کې ګډون ولري.

**اصولي:** د سولې په تړاو له افغانستانه بهر او هغه غونډې/ ناستې د افغانستان په ګټه نه دي چې د جګړې دواړه اړخونه پکې ګډون ونه لري. هغه غونډې چې په افغانستان کې کېږي او د جګړې دواړه اړخونه پکې ګډون لري، تر ډېره به د افغانستان په ګټه وي او د سولې له بهیر سره به مرسته وکړي. زما په آند هغه غونډې، چې اوس په مسکو، بیجنګ یا نورو هېوادونو کې جوړېږي، د افغانستان په ګټه نه‌شي تمامېدای، ځکه چې طالبان نور هم منزوي کوي او بله هېڅ ګټه نه لري. له همدې امله هره هغه غونډه چې د سولې په تړاو جوړېږي، طالبان باید پکې ګډون ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۴

# د امریکا او طالبانو تر منځ اړیکې

**میرویس ستانکزی:** امریکا له پخوا طالبانو سره اړیکې درلودې، د امریکایي منابعو یو تازه افشاشوی لیک دا څرګندوي چې په پاکستان کې د پرویز مشرف د واکمنۍ پر مهال هم د امریکا او طالبانو ترمنځ اړیکې وې. دا لیک په ډاګه کوي چې پرویز مشرف د امریکا او طالبانو ترمنځ وساطت کاوه او طالبان په مشخصه توګه د پاکستان د استخباراتو له مشر محمود خان سره تړلي ښودل شوي دي. همدارنګه ویل کېږي کله چې پرویزمشرف امریکایانو ته وایي چې باید مخامخ له طالبانو سره خبرې وکړي، نو طالبانو ته وایي چې دوی په واشنګټن او یو شمېر نورو هېوادونو کې د طالبانو له مشرانو سره کتلي او له یو بل سره ښې اړیکې لري.

دغه راز د دغه لیک په یوه برخه کې راځي چې امریکایان د پاکستان د استخباراتو له مشر محمود خان څخه غواړي چې داسې یوه بله ډله رامنځته شي چې د طالبانو بدیل واوسي او په یوه وخت کې هم د پاکستان ګټې خوندي وساتي او هم د امریکا. اوس اساسي موضوع دا ده چې آیا په رښتیا هم طالبانو له پیله تر دې دمه له امریکا سره اړیکې لرلې او لیدنې کتنې یې ترسره کولې؟ دویمه مسئله هم دا ده چې آیا لکه څنګه چې اوس هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په برخه کې د غربي نړۍ لید د پاکستان له کړکېچه ختلی دی آیا د طالبانو په وخت کې هم داسې کار کېده؟ د طالبانو په وخت کې د طالبانو په نیابت باندې پاکستان په تېره بیا د دغه هېواد چارواکي غږېدل، لکه څنګه چې طالبان اوس هم په دې تورن دي چې د پاکستان یوه پروژه وه او امریکا هم غوښتل په یو ډول له دوی څخه کار واخلي، خو بیا یو شمېر نارضایتونه رامنځته او د دې لامل شول چې که پاکستان ظاهرن له طالبانو څخه راضي واوسي خو امریکا ډېره راضي نه برېښېده. آیا په رښتیا هم طالبان خودجوشه او یا هم د پاکستان له کړکېچه د امریکا په تمویل یو حرکت دی.

بله مسئله هم دا چې آیا طالبانو یا امریکایانو دواړو لوریو دا منله چې له یو بل سره مستقیمې اړیکې ولري؟ بل دا چې په دې برخه کې د پرویز مشرف د واکمنۍ پر محال د پاکستان رول څه وو؟

دا موضوعات به راسره لیکوال او سیاسي شنونکی نظرمحمد مطمین، د مشرانو جرګې پخوانۍ مرستیال رفیع الله ګل افغان، او د سیاسي چارو شنونکی جمال ناصر اصولي وڅېړي.

**اصولي صاحب** په داسې اساسي شرایطو کې د دې ډول خبرونو او لیکنو خپرول، یا دا چې د مطمین صاحب په باور باید داسې هڅه وشي چې معتدل او افراطي طالبان سره بېل شي د طالبانو په منځ کې انشعاب رامنځته شي او بیا تر هغې وروسته ترې ګټه اخیستنه وشي، په رښتیا هم آیا CIA او ISI دا هڅه کوله او یا دا د هغوی خپل پلان و؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! ټولو ګډونوالو او لیدونکو ته سلامونه وړاندې کوم. که څه هم زموږ بحث پر طالبانو دی، خو له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې، چا چې په افغانستان کې حکومت کاوه د هغه يادونه به وکړو. کله چې په افغانستان کې کمونېستي رژيم واک ته ورسېد. پر دې موږ پوهېږو چې د دوی بنسټ او سرچينه له کومه ځايه وه، له روس څخه تجهيزېدل. مجاهدين هم مالوم وو، چې له کومه تجهيزيدل؟ که هغوی له روسه تجهيزېدل، مجاهدين له پاکستان، امريکا، عربو او نورو لخوا تجهيزېدل او افغانستان يې وراناوه، يوه خوا کمونستانو او بله خوا مجاهدينو افغانستان وراناوه، دلته د اسلام او د کفر په نامه جنګ تر هغه حده پورې و چې بيا روسان ووتل او بيا له هغې وروسته مجاهدين په خپلو کې سره ولوېدل او افغانستان يې وران کړ، په داسې حال کې چې دلته کوم جهاد هم موجود نه و. راځو دېته چې چا تجهيزول؟ څوک وو؟ همدا پاکستان او CIA وو. کله چې د افغانستان خلک له دغو ډلو څخه ډېر ستړي شول؛ عزت، ناموس، مال او هرڅه يې له واکه ووتل؛ خپل وطن يې په خپل واک کې نه و؛ هېواد يې د پرديو واک ته ولوېد، نو امريکا په دې نوره هم ووېرېده چې حالت دلته نور هم خرابېږي او دا سيمه له ژوندکولو څخه وځي، له همدې امله يې طالبان رامنځته کړل. کله چې افغانانو په لومړيو وختونو کې طالبان وليدل، ډېر ورته خوشحاله وو. په ډېرو ولايتونو کې له دوی سره جنګونه ونه شول او کابل يې هم پرته له جنګه ونيو. همدارنګه پکتيا، ننګرهار او ډېرو نورو ولايتونو ته پرته له جګړې راغلل. يوازې په يوه ليک به يې ولايتونه ورته خوشې کړل. علت يې څه و؟ علت يې دا و چې خلک له مجاهدينو څخه ستړي شوي وو. د طالبانو، د کمونېستانو او د مجاهدينو پروژه، دا ټولې هغه پروژې وې چې بهرنيو پر موږ تپلې وې.

دغه راز روسانو يا شورويانو زموږ هېواد ته يوه بدله ډيموکراسي راوړه؛ چې افغاني نه وه. د مجاهدينو راتګ او د دوی افراطي بڼه هم ربښتيني اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه و او طالبان په هماغه ډول له افراطه خالي نه وو.

**ستانکزی:** له دغو خودجوشه حرکتونو څخه هم دا تمه نه‌شي کېدای؛ البته که هر ډول نظام وي. دغه نظام خو اوس هم خودجوشه نه دی؛ نه طالبان وو، نه مجاهدین. هغه هم په داسې وروسته‌پاتې هېواد کې. اوس پوښتنه دا ده چې څوک په رښتیني توګه له پیله تر پایه یوه پروژه وه او د پردیو افکارو له‌پاره یې کاوه؟ د مطمین صاحب په آند چې طالب خپله یو فکر و. خو بل نظر دا دی چې طالب له پیله یوه پروژه وه چې پاکستان او امریکا ورته فکر ورکاوه.

**اصولي:** ګورئ، یوه پدیده چې له کومه ځایه سرچینه اخلي پکار ده چې هغه ځای ته صادقه واوسي. نو دغو نورو ډلو، چې له کومه ځایه سرچینه اخیستې وه، له هغو مرجع‌ګانو سره یې خیانت ونه کړ او دغه هېواد یې تر آخره وران کړ. طالبان هم همداسې یوه پروژه وه. مګر دا چې امریکا نور په دغو اواخرو کې د طالبانو شتون ګټور حس نه کړ؛ په آسانۍ سره یې نه‌شوای راټولولی، ځکه دوی یې د یوه لوی ځواک په توګه رامنځته کړي وو، نو له همدې امله یې له دغه ځایه په زور وایستل. د طالبانو اوسنۍ پروژه هم د انګلیستان په ګډون د ISI او CIA ده. همدغه هېوادونه یې په افغانستان کې مرستندوی دي او تجهیزات ورکوي. که له ځانه وپوښتو چې طالبان له کومه ځایه تجهیزات ترلاسه کوي، ځواب به مو یوازې همدغه هېوادونه وي. یو وخت به چې طالبان کوم ولایت ته راغلل، نو په کلیو کې به یې خیراتونه او چندې ټولولې، څو د هغه ولایت ولسوالۍ پرې وساتي. یعنې د دوی اوایلو ته په کتو، دغو غریبو طالبانو ته اوس دا پیسې او وسلې له کومه ځایه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستانکزی:** مطمین صاحب، لکه څنګه چې وویل شول طالبان یوه پروژه ده، یو دلیل یې هم دا دی چې کله کله چارواکي، امریکایان یا پاکستانیان مطبوعاتو ته داسې کاذبې ویناوې کوي چې ممکن ځانګړې موخې ولري، خو په ځینو لیکونو کې یې ځینې حقایق هم افشا کېږي. د لیک په یوه برخه کې راځي چې امریکایان پرویز مشرف ته په څرګنده وایي؛ موږ پر دې ډېر تاسف کوو چې تر ټولو ښه ملګری مو تر ټولو لوی دښمن دی او دا د امریکا او پاکستان د اړیکو تر ټولو سخته برخه ښیي. نو آیا دا هرڅه د دې ښکارندويي نه کوي چې طالبان یوه پروژه ده؟

**مطمئین:** ګورئ، ټول پوهېږو کله چې مجاهدینو حکومت ونیو، نو امریکا نه غوښتل چې هغه افراطي مجاهدین یا افراطي کمونېستان په واک کې پاتې شي. وروسته رباني د حکومت مشر شو. او که چېرې امریکا غوښتي وای، نو کولای یې شول چې رباني له حکومته لرې کړي. کله چې امریکا مجبورېږي چې هغه سیاف او مجاهدین، چې امریکا یې د ورکېدو په هڅه کې وه یا هغه کمونېستان چې امریکایان یې مخالف وو، بېرته د خپل پیاده پوځ په توګه پر طالبانو رامرش کړي. نو بیا پوښتنه دلته پیدا کېږي، کله چې امریکا مجبورېږي هغه دښمن، چې واک به یې نه ورکاوه، ولې یې واخیست او د طالب پر وړاندې یې وجنګاوه. او که طالب د چا غلام و، دا نورې ډلې خو پوهېدې، مګر دوی ولې د امریکا لپاره قربانۍ ورکولې؟ او دلته چې په زرګونو امریکایان مړه شول، د دغو ټولو باوجود څنګه ویلای شو چې طالبان د امریکا تر فشار لاندې راتلای شوای؟

**ستانکزی:** که موږ په روښانه توګه پوه کړئ؛ آیا دغه څه چې افشا شوي، واقعیتونه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مطمئین:** زما په نظر طالبان د CIA یا ISI غلامان بلل، له دوی سره یو ډول خیانت دی، ځکه په دې برخه کې موږ کوم ښکاره ثبوت نه لرو.

**ستانکزی:** هغه څه چې د یادونې وړ دي، دا چې تاسو د ملاعبدالسلام ضعیف د کتاب یادونه وکړه، ما دغه کتاب نه دی لوستلی، خو په یوه پراګراف کې مې یې په یوه ځای کې د محمود خان د راتګ توضیحات لوستي، چې دا تر ډېره د دې ښکارندویي کوي چې یو څه ضرور شته. ولې دومره نږدې تقرب، هغه هم د پاکستان د استخباراتو له رییس سره؟

**مطمئن:** ګورئ اسامه بن‌لادن موږ ټول پېژنو، چې په ننګرهار کې اوسېده. هغه مهال چې زه د کابل پوهنتون محصل وم، هلته به طالبانو آزادانه خبرې کولې او ویل یې چې اسامه به له طالبانو دومره وېره لرله چې که طالبان ننګرهار ونیسي، نو لومړی سړی به هغه وي چې د CIA په لاس به یې ورکوي. ګورئ چې دا تبلیغات دومره تاثیر لري. خو بیا موږ ولیدل چې هماغه اسامه بن‌لادن چې امریکا به خپل لوی دښمن باله او جګړې یې ورسره کولې؛ د خلیج اوسنۍ جګړه؛ دا ټول هماغه عربان دي چې دلته د جهاد پر مهال راغلي ول، هغوی ملا محمدعمر ته بیعت کوي، اسامه خو دومره ناپوه سړی نه و چې د امریکا یا د ISI یا داسې یوه چا سره بیعت وکړي چې د هغوی تر اغېز لاندې راځي.

ګورئ وایو چې افغانان ځواکمن، خپلواک او پر وطن مین خلک دي. چنګیز، مغل، انګلیس او روسانو ته یې ماتې ورکړه، نو بیا موږ ولې خپله دغه لویه جګړه او د دغه لوی ایتلاف د ماتې امتیاز امریکا یا پاکستان ته ورکړو، چې افغانستان ته راغلي او لکه د دویمې نړیوالې جګړې غوندې وو او بیا یې له طالبانو څخه ماته وخوړه. دا خو بیا داسې مانا لري، لکه روسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزان او مغل چې هم موږ نه وي مات کړي. دلته خو داسې کړې دي چې غواړي د افغانانو دغه امتیازات د نورو په نامه کړي؛ پاکستان ته یې ورکړي، لکه له بدهمرغه چې د جهاد په وخت کې داسې وشول.

**ستانکزی:** بله موضوع دا ده چې په رښتیا هم دا مسئله او دا جګړې موږ په بشپړه توګه نفې کولای نهشو، یا یې د دوی اړیکې ببخي مطلق نفې کړو.

**مطمئین:** لکه څنګه چې اصولي صاحب وویل زما هم یاد دي، په لومړیو وختونو کې چې طالبان زموږ په سیمو (هلمند او کندهار) کې پیدا کېدل، نو د کلي له خلکو به یې مرسته غوښته، او خلکو به هم کومک ورسره کاوه.

**ستانکزی:** دا چې موږ له یوې خوا امریکا خپل ستراتیژیک ملګری بولو او امنیتي تړون ورسره لرو؛ ډېری وخت یې ستاینه هم کوو او له بل لوري انتقادونه هم پرې کوو، لکه پخوانی ولسمشر حامد کرزی چې وایي، امریکا که وغواړي ډېر ژر به سوله راولي، یانې هرڅه د امریکا په کنټرول کې دي او امریکا دواړو خواوو ته ده، ټوله جګړه د امریکا تر کنټرول لاندې ده، که رښتیا هم امریکا دواړو خواوو ته وي، یو طرف ته خو په ښکاره توګه ده چې افغان حکومت تمویل او تجهیز کوي او بل لوري ته که رښتیا هم دا اوسنۍ ادعاوې ټول واقعیتونه واوسي. خو موږ د امریکا له دغه دوهمخي سیاست سره واضح نه غږیږو، که طالبانو سره هم خبرې وکړو ګټه نه لري. که پاکستان تطبیق کوونکی وي، له هغوی سره مو خبرې هم ګټه نه لري. نو ولې دا خبرې له امریکا سره په وضاحت او صراحت نه کوي.

**اصولي:** ټول پوهېږو چې امریکا د افغانستان له حکومت سره مرستې کوي او هغه تجهیزوي. مګر که دا هرڅه په ژوره توګه وڅېړو، پوهېږو چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له افغان حکومت سره هم صادقانه مرستې نه دي کړي. د یوه هېواد لپاره تر ټولو مهمه موضوع د هغوی پوځ دی. امریکا راغله او په رښتیا یا دروغو سره یې افغانستان ته پوځ جوړ کړ، خو په سمه توګه یې تجهیز نه کړ، مثلاً دوی ته یې بېکاره وسلې ورکړې؛ له روسانو څخه پاتې شوي مهمات مجاهدینو او بیا طالبانو ته په لاس ورغلل چې هغه یې ټول خراب او یا یې له منځه یوړل، همداډول هغه پخوانۍ وسلې یې له هېواده وایستې او په نورو یې وپلورلې. همداراز بله مسئله د افغاني پوځ هوایي ځواک دی چې په دغو څوارلسو کلونو کې یې هم دغه هوایي ځواک جوړ نه کړو.

**ستانکزی:** خو پوښتنه همدا ده چې موږ پر دغه مېز دا تحلیل کولای شو، مګر حکومتیان ولې داسې تحلیل نه‌شي کولای؟ چې بیا هم په ستراتیژیکې ملګرتیا ټینګار کوي.

**اصولي:** همدا خبره ده کله چې دوی زموږ پوځ جوړ نه کړ؛ امنیتي ارګانونه یې راته په سمه توګه تجهیز نه کړل، نو دا خپله د دې ښکارندویي کوي چې تر کاسې لاندې نیمکاسه شته. امریکا او پاکستان د افغانستان پر سر خپله معامله سره وکړه او معامله یې دا وه چې پاکستان ویل، چې د افغانستان اردو به زموږ پر وړاندې نه قوي کوي. که چېرې امریکا پاکستان ته ووایي چې طالبانو ته پر خپله خاوره ځای مه ورکوه نو دوی به یې وساتي؟ ښکاره ده چې نه یې ساتي، خو برعکس هغوی ته په ملیاردونو پیسې ورکوي څو طالبان تجهیز کړي، دا پټه موضوع نه ده. که تاسو په میرانشاه تر کوېټې، د هلمند پر پولو، د هغوی اډې وګورئ، همدا د ملي پوځ او د عسکرو موټر او رېنجرې ورسره دي. پاکستاني ملېشې یې ویني، خو هېڅ ورته نه وایي. دوی په وزیرستان کې د هغو طالبانو پر ضد جنګ شروع کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د پاکستان پر خلاف وو، خو هغه طالبانو ته یې هیڅ هم ونه ویل چې د افغانستان پر خلاف یې جګړه کوله. آن تر دې چې هغوی یې په سمه توګه وسائل او امن سیمو ته یې ولېږدول. تاسو څه فکر کوئ چې آیا د پاکستان ISI به پر دې نه وه خبره چې بن‌لادن چېرې دی؟ نه، بلکې ښه سم پرې پوه وو. هغوی خپله هلته ساته، پاکستان پر هرڅه خبر او هرڅه یې سم مدیریت کول. خو موږ یوازې د قضیې ظاهري بڼې ته ګورو او دا چې په اصل کې تر کاسې لاندې څه دي، پر هغو ځانونه نه پوهوو. کرزي صاحب له دیارلسو کلونو وروسته دا موضوع درک کړه چې دا درک یې ربښتیني دی، خو اشرف غني دا مسئله لا هم نه ده درک کړې، او څو چې هغه دا هرڅه درک کوي نو ډېره موده به ونیسي. څنګه چې کمونېستي رژیم، مجاهدینو او طالبانو ډېرې تېروتنې وکړې، همدارنګه دغه حکومت هم له سهوو او تېروتنو سره روان دی.

**ګل افغان:** ما مخکې هم ویلي او اوس هم وایم؛ په پکتیکا کې د سپورټ پر میدان انفجار کېږي او طالبان یې مسوولیت مني، دېته خو موږ نه مسلمان ویلای شو، نه طالب. او دا هم ښکاره ده چې هیڅکله پنجابی نه، بلکې هغه څوک له موږ سره جنګېږي چې افغانان دي، خو د هغوی غلامي کوي. نو د اسلام لارویان، که طالب وي، که زه یم، که ته ، داسې کار نه‌شو کولای.

**ستانکزی:** اصولي صاحب دا خو ښکاره ده چې پاکستان د CIA او امریکا له اجازې پرته هیڅ کار هم نه‌شي کولای. په پاکستان کې د ملا اختر محمد منصور او د نورو کسانو ترمنځ بیعت او وساطت غونډې په پراخه او ښکاره توګه ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** زه به یوه حل‌لاره درکړم؛ کله چې روسان په افغانستان کې وو، مجاهدینو به ویل چې که له روسیې سره دې لاس ولګېد نو لاس دې پرېکوو، یعنې هغوی یې دومره لوی کافران بلل. خو کله چې به امریکا تجهیزول، نو همدغو مجاهدینو به ورسره غېږ په غېږ روغبړ کاوه. دا د هغه کیسې غوندې ده چې هر چرګ به چې جومات ته راتلو نو هغه به یې حلالاوه، خو کله چې د ملا چرګ جومات ته ورننوت، ملا لاره جوړه کړه او ټول یې داسې وپوهول چې د ملا چرګ معاف دی. اوس هم د ملا د معافېدو خبره ده. واقعیت دا دی چې ورځ سپینه رڼا ده او ټول پر دې پوهېږو چې څوک یې توره بولي. همدارنګه که شپه توره ده، منې په حساب دي. لنډه دا چې پاکستان تل افغانان کرا کړي او تل یې ورڅخه ناوړه ګټه اخیستې ده. زه نه وایم چې دا طالبان، بلکې زموږ خپل افغانان دي، چې دا پنځوس کاله یې افغانستان وران کړی؛ افغانان یې مړه او یتیمان کړي؛ تر پاکستان، ایران، اروپا او بېلابېلو ملکونو یې رسولي او... دا هرڅه زموږ مشرانو او رهبرانو کړي؛ موږ یې په ټولیز ډول بېخي کرا کړي یو؛ هر چا له خپلې موقع څخه په استفادې د خپلو ګټو لپاره کارولي یو.

**ستانکزی:** یوه خبره باید واضحه شي، دا خو موږ ومنله چې پاکستان د طالبانو تر شا ولاړ دی او پاکستان هم د امریکا له اجازې پرته هېڅ کار نه کوي. نو دا زموږ حکومت، د دې پرځای چې طالبانو یا پاکستانیانو سره بحث وکړي، له امریکایانو سره یې ولې یوه ورځ په دې اړه خبرې ونه کړې؟

**اصولي:** بالکل سل په سلو کې خبرې باید له امریکا سره وشي. لکه څنګه چې پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي چې زموږ د سولې کونجي له امریکا او پاکستان سره ده. لومړی هغه پروژې، چې امریکا یې جوړوي، بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان ته سپاري او هغه يې په افغانستان کې په ښه توګه عملي کوي او د خپلو ملي ګټو لپاره تر ې ښه ګټه اخلي.

**ستانکزی:** اصولي صاحب ډېره مننه. مطمئين صاحب که په لنډو کې خپلې آخري خبرې راته وواياست.

**مطمئين:** زه خو وايم دا تهمتونه او د جګړې خبرې به پرېږدو، د دې پر ځای به حکومت، طالب او ټولې ډلې دېته مجبورې کړو او دا ذهنيت به ورکړو چې تر څو پخپلو منځونو کې سره يوځای نه‌شو؛ له پرديو څخه ځانونه خلاص نه کړو، تر هغو به دا هېواد نه جوړ شي او نه به يې جوړ کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۵

## د امریکا او افغانستان امنیتي تړون

**رنا نورستانۍ:** دا خو ښکاره ده چې امریکایان په سیمه او نړۍ، په هر ځای کې چې حضور پیدا کوي، د خپلو ګټو له پاره راڅرګندېږي، نو افغانان هم باید د خپلو، همدارازد امریکا د ګټو په نظر کې نیولو سره له هغوی سره هوکړې ته ورسېږي.

**اصولي:** بالکل. زما په اند دوی خو هسې هم دلته راغلي او له دغه ځایه ظاهرن نه ځي، افغانانو ته په کار ده چې مثبته استفاده ترې وکړي، تر څو تر یوه حده خپلې ملي ګټې خوندي کړي.

**رنا:** نو له دوی سره دا زموږ امضا شوی امنیتي تړون په څه مانا دی؟ آیا دا په دې مانا نه دی چې د افغانستان حکومت له دوی سره یو ډول جوړجاړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی؟

**اصولي:** امنيتي تړون اصلاً د افغانستان د حکومت او د افغانستان د خلکو په ګټه نه دی. سمه ده چې زموږ د اړتياوو يا د نغدو پيسو يو څه منفعت به پکې وي، خو لکه څنګه چې نور هېوادونه له يو ځايه راځي؛ په يوه هېواد کې نظامي حضور پيدا کوي او هلته ورته ځای ورکوي، زموږ بيا په هغه ډول نه دی، لکه څنګه چې په دا نورو هېوادونو کې دی. کله چې پر افغانستان بريد وشي، امريکا ورته سترګې غړوي او هېڅ ورته نه وايي چې زه به يې دفاع وکړم يا زه به هم په هغه بريد وکړم؛ يا به درته جنګي چورلکې درکړم، چې ته پرې د ځان ځواب ووايې. له همدې امله اصلاً په دې کې د افغانستان منفعت نه‌شته. کله چې دغه تړون لاسليک شوی په دغه هېواد کې امنيتي وضعيت لا ډېر خراب شوی. حتا تر دې چې اوس دلته مخامخ جبهه‌يي جنګونه روان دي. نور به څه پېښېږي، يعنې په دې امنيتي تړون کې د افغانستان دومره ګټه نه وه، لکه څومره چې تمه ترې کېده.

**رنا:** اصولي صاحب، نو بايد څه وشي؟

**اصولي:** اصلاً کله چې دا دوه مشران راغلل يا کله چې ولسمشر غني واک ترلاسه کړ، پکار وه چې دومره ژر او په بېړه يې دا کار نه وای کړی، دوی بايد يو څه فکر پرې کړی وای؛ پر هغو مسايلو يې غور کړی وای چې پخواني ولسمشر کرزي صاحب پرې ټينګار کاوه. له هغه سره يې بايد په يو ډول سره جورجاړی کړی وای او په دغه تړون کې يې يو څه تغييرات راوستي وای، چې لږ تر لږه خو افغانانو هم له دغه تړونه څه نا څه ګټه اخيستې وای. امريکايان خو هسې هم له افغانستانه نه تلل او نه ځي، که تړون لاسليک وای يا نه، د دوی پر تګ يې څه تاثير نه کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رنګا:** اصولي صاحب نو څه فکر کوې؟ اوس بايد په دغه تړون کې تجديدنظر وشي؟

**اصولي:** داسې ده چې که موږ هرڅومره تجديدنظر پکې راولو، بيا هم امريکا، چې څنګه يې خوښه وي، په هماغه خپله لاره ځي. دوی د افغانستان اردو، چې په اوايلو کې يې ويل چې موږ د افغانستان له اردو سره مرسته کوو او تجهيزوو يې، تر اوسه يې هم نه ده تجهيز کړې. تقريباً ۱۳ يا ۱۴ کاله کېږي چې دلته حضور لري، خو بيا يې هم زموږ اردو تجهيز نه کړه. هره ورځ زموږ ځوانان شهيدانېږي؛ ټپيانېږي؛ معيوبېږي. د دې هرڅه علت څه دی؟ علت يې دا دی چې موږ وسايل او وسلې نه لرو، هغه وسايط چې بايد له يوې پياوړې اردو سره وي، خو دوی زموږ له اردو سره دا مرسته ونه‌شوای کړای، ځکه چې که دوی دا ډول مرسته کړې وای، بيا خو پاکستان خپه کېده. دوی له پاکستان سره هم تړون امضا کړ او پاکستان دا شرط پرې کېښود چې د افغانستان اردو به هېڅکله زموږ پر وړاندې نه پياوړې کوئ، بلکې يو ډول کمزورې به يې ساتئ، څو زموږ له‌پاره د سر درد جوړه نه‌شي او خنډونه راته پيدا نه کړي.

**رنګا:** نو اصولي صاحب که دلته په افغانستان کې يوازې د تجهيز خبره وي، افغانستان خو يو خپلواک هېواد دی او د خپلې خپلواکۍ پر اساس کولای شي چې له هر هېواد سره هوکړه‌ليک ولري او مرسته ورڅخه وغواړي، ځکه دغه کوم مستعمره نه، بلکې يو خپلواک او مستقل هېواد دی، نو دلته خو نور هېوادونه هم شته او دېته آماده دي چې له افغانستان سره مرسته وکړي. په تېره بيا په نظامي برخه کې، لکه روسيه هند او داسې نور هېوادونه چې د چورلکو په برخه کې يې له افغان حکومت سره ژمنه کړې وه. نو له دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو سره سره د افغانستان حکومت ولې دا ګامونه نه پورته کوي؟

**اصولي:** کله چې د امریکا خوښه نه وي په افغانستان کې هېڅوک هم له بل چا څخه وسلې نه‌شي اخیستلای. کله چې د امریکا خوښه نه وي افغانان په اوس کې هېڅکله هم له روسیې هند، چین او یا له نورو هېوادونو څخه خرید نه‌شي کولای؛ له دوی څخه باید په یو نه یو ډول پوښتنه وشي، ځکه چې دوی په افغانستان کې مستقیم نظامي شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ٦

# امریکا ولې پر پاکستان فشار نه راوړي

حوادث دا په ډاګه کوي چې پاکستان یو ستونزېجوړونکي او خطر راوړونکی هېواد دی. له همدې امله د امریکا سیاست په پاکستان کې اصلاحات راوستل دي چې دا سیاست د افغانانو نه خوښېږي. ویل کېږي چې امریکا به د ۲۰۱۷ میلادي په بهیر کې ۳۵۰ میلیونه ډالره له پاکستان سره نقدي مرسته کوي چې په دغو نږدې وختونو کې یې ۱۵۰ میلیونه ډالره مرسته ورسره کړې هم ده. نو پوښتنه دا ده چې ولې پاکستان د امریکا اصلي متحد پاتې دی؟ د دې موضوع د پوهېدو لهپاره په بحث کې د سیاسي چارو کارپوه ښاغلي جمال ناصر اصولي، ښاغلی محمد اسحق اتمر او د پوهنتون استاد آرش شهیرپور راسره دي. خپرونې ته ښه راغلاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتمر صاحب له تاسو يې پيلوم، امريکا له يوې خوا پاکستان د تروريستانو پټنځای بولي، له بلې خوا بيا ورسره لويې لويې مرستې هم کوي. په رښتيا هم امريکا څه غواړي؟

**اتمر:** مننه، ټولو ته سلامونه! که چېرې موږ د امريکا او پاکستان اړيکو ته وګورو، نو پوهېږو چې له ډېرې پخوا د دوی اړيکې زياتې ستراتيژيکې دي، يعنې دا چې پاکستان له پخوا د امريکا په مرستو، په تېره بيا د هغوی په پوځي مرستو، داسې غښتلی پاتې شوی. پاکستان پخوا هم د امريکا ستراتېژيک ملګری و. کله چې د امريکا مخکني ولسمشر له هند سره تجارتي تړونونه لاسليک کړل، نو نړيوالو دا فکر وکړ چې امريکا د پاکستان بديل پيدا کړی، خو که په تېره موده کې وګورو، مثلاً کله چې پاکستان په ۱۹۹۸ ميلادي کال خپل اتومي بم و آزمايه، نو امريکايان چپ پاتې شول، خو کله چې ايران اټومي بم ته رسېدل غواړي، نو امريکا پرې هراړخيز قيودات راولي. خو که د افغانستان په برخه کې يې وګورو، له دغه هېواد سره د امريکا اړيکې دومره غښتلې نه دي، لکه څومره چې له پاکستان سره دي. کله چې امريکايان له پاکستانه وتل، نو د ۴۰۰ ميليونه ډالرو تجهيزات يې پاکستان ته ورکړل، خو په افغانستان کې يې دا تجهييزات او دا ودانۍ ورانې کړې.

**نګرش:** ډېره مننه اتمر صاحب. اصولي صاحب امريکا له افغانستان سره د مور او ميرې چلند کوي، حال دا چې په افغانستان کې د دغه ډيموکراټيک نظام راوستلو يو لامل امريکا ده. که چېرې امريکا بيا افغانستان يوازې پرېږدي، نو دا به بيا د امريکا لپاره لوی سرخوږی نه وي.

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! تاسو او ټولو قدرمنو مېلمنو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامونه او نېکې هیلې! ګورئ کله چې امریکا افغانستان ته راتله نو هدف یې له افغانانو سره مینه نه، بلکې دوی د خپلو موخو او خپلو ملي ګټو د ساتلو لپاره دغه هېواد ته راغلل. دوی د دې لپاره افغانستان ته راغلل چې د دغه هېواد په اړه خپلې له مخکې جوړې شوې ستراتېژۍ او پلانونه پلي کړي. د امریکا هغه پېښه هم یوه استخباراتي مسئله وه چې د هغې په بهانې سره افغانستان ته راغلل. دا چې دوی له افغانستانه وځي که نه، دا بېل بحث دی. خو امریکا افغانستان نه پرېږدي او دلته به وي.

**نګرش:** په هلمند کندز او نورو سیمو کې جګړې روانې دي او تاسې ولیدل چې زیاتره ولسوالیو سقوط وکړ، نو له دغو ټولو سره سره په افغانستان کې د دوی پوځي شتون څه مانا لري؟

**اصولي:** امریکایان دېته نه دي راغلي چې په افغانستان کې سوله راولي، دوی که په افغانستان کې سوله راوستلای، نو په تېرو ۱۶ کلونو کې یې دا کار کولای شوای.

**نګرش:** یعنې موږ د یوه پلان برخه یو که نه، یانې افغانستان د امریکا د پلان یوه برخه ده که نه او د امریکا لپاره د یوه ملت په توګه پېژندل شوي یو کنه؟

**اصولي:** دوی ته دا مهمه نه ده چې د ملت په توګه ورته وپېژندل شې یا نه. ګورئ له یوې خوا طالبان جنګېږي، دوی هم افغانان دي چې هره ورځ مړه کېږي، ټپیانېږي، کونډې او یتیمان ترې پاتېږي او دېخوا ته هم همداسې ده. یانې په عموم کې افغانان وژل کېږي. دوی ته موږ وسیلې یو؛ دوی یوازې اوبه خړوي او ماهیان پکې نیسي. دوی دېته نه دي راغلي چې په ګرمسیر کې خپلې اډې جوړې کړي او طالبانو ته ووایي چې تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دلته حق نه لرئ، بلکې دوی دېته راغلي چې د ځان لپاره کار وکړي او خپلې ستراتېژۍ بريالۍ کړي، خو ګورو چې طالبان د دوی په دوه کيلو مترۍ کې خپل کارونه کوي. لښکرګاه قندز او داسې نورې سيمې او ولسوالۍ سقوط کوي اولارې بندوي.

**نګرش:** ښه تاسې د ولسواکۍ ګټه د امريکا په ګټه نه بولئ، که چېرې په افغانستان کې ولسواکي حاکمه شي، دا د امريکا په ګټه نه ده؟ د امريکا لپاره به ډېره ستونزمنه وي، نور څومره مرسته وکړي، څومره خپل سرتېري ولېږي؟

**اصولي:** امريکا دېته نه ده راغلې چې افغانانو ته ولسواکي راوړي يا يې په افغانانو ومني. امريکا بايد دا هم ومني چې هغه ډيموکراسي، چې د شورويانو پر وخت افغانستان ته راغلې، هغه د افغانانو خپله ډيموکراسي نه وه، ځکه ناکامه شوه. اوسنۍ ډيموکراسي، چې دوی له ځانه سره راوړې، دا هم په يو ډول سره ناکامېږي. بل اړخ يې دا چې هغه افراطيزم چې طالبانو يا مجاهدينو له ځانه سره راوړی و، هغه هم له ماتې سره مخ شو. يانې دا چې افغانان خپله لاره خپل قوانين او خپله ډيموکراسي لري. په هغه ډيموکراسۍ کې موږ تر يوه حده مزل کولای شو، خو په بله او پرديو ډيموکراسيو کې موږ او دوی دواړه ناکام يو. کله چې افغانستان ته راځي او خپله ډيموکراسي په افغانانو تحميلوي نو دا د دوی لويه ناکامي ده. موږ افغاني او اسلامي ډيموکراسي لرو چې د همدې ډيموکراسۍ په اډانه کې روان يو.

**نګرش:** اصولي صاحب موږ په ټولو معاملو کې يوه برخه يوو چې يا بايد پاتې شو يا بايد تلفات ورکړو او يا مبارزه وکړو. تاسو وليدل چې په تېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامونو کې زموږ ډیموکراسۍ سم ځواب ورنه کړ، د طالبانو په نظام کې، د مجاهدینو په نظام کې، د ډاکټر نجیب الله په نظام کې، له دغو ټولو څخه موږ ناخوښه وو چې دا ټول نظامونه پر افغانستان وتپل شول. نو د ډیموکراسۍ دغه نظام خو زموږ سم نظام نه و چې د خلکو لپاره هغه د ولسواکۍ ځواب ورکړي.

**اصولي:** ما وویل هغه پردۍ ډیموکراسۍ، چې افغانستان ته راغلې وې، دلته ناکامې شوې. په همدې ډول د طالبانو په وخت کې افراطي اسلامیزم راغی چې هغه هم ناکام شو. یانې موږ هغه خپلې ډیموکراسۍ ته نه پرېږدي.

**نګرش:** خو تاسو له یو او بل سره نه جوړېږئ، نو دا خو په دې معنا نه ده چې امریکایان نه غواړي.

**اصولي:** یو د جوړښت خبره ده، یو د ډیموکراسۍ! تاسو لاړ شئ وګورئ په امریکا کې اصلاً ډیموکراسي نه‌شته، هلته هغه تعصب او توهین، چې د تورپوستو پر وړاندې کېږي، اصلاً د اروپا په ګډون په ټوله نړۍ کې نه‌شته. ګورئ څېړنې ښیي چې په هرو دوو یا دریو دقیقو کې په امریکا کې پر ښځو یو جنسي‌تېرۍ کېږي. هر ځای ښه او بد انسانان شته، خو کله چې په افغانستان کې په میاشتو میاشتو یو جنسي‌تېرۍ وشي، نو دا پېښه دومره رسنیزه شي چې ټوله نړۍ ونیسي، او په امریکا او اروپا کې یې د رسنیو سرلیکونه جوړ کړې وي. علت یې دا دی چې دوی هغه خپل کړه وړه پټوي او زموږ ورته ډېر مهم وي، ځکه یې بربنډوي او نړیوالو ته ښیي چې دلته داسې بدبختي روانه ده. تاسو پوهېږئ په امریکا کې یوه پېښه کېږي چې دوه کسان پکې مړه کېږي، خو د افغانستان په کابل کې چې یوه پېښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي، پنځوس یا سل کسه پکې شهیدان او سلګونه نور پکې ټپیانېږي، خو دېته بیا څوک نه ګوري؛ دا مسئله یې له پامه غورځولې، مګر دا بله موضوع بیا ډېره زر تر نړیوالو رسوي. د ښځو پر ضد د تاوتریخوالي مسئله دوی ته ډېره مهمه ده، دا ولې؟ دا ځکه چې نړیوالو ته وښیي چې موږ په افغانستان کې ډیموکراسي قوي کوو، خو دلته چې د مرګ‌ژوبلې په ګڼون نورې هر ډول پېښې کېږي، نړۍ ته یې نه ښیي، مطلب یو ډول پرده پرې غوړوي. دوی ته باید یواځې د تاوتریخوالي موضوع ډېره مهمه وای، هغه چې لسګونه خلک پکې شهیدانېږي. دلته چې پاکستان کومې چاودنې او نورې بدبختۍ کوي، د همدوی په قوي مالي ملاتړ یې کوي. دا هغه پیسې دي په تروریزم او د دوی په تحرک او تجهیز لګېږي.

**نګرش:** داسې ده چې په ډېرو موضوعاتو کې موږ افغانان له یو بل سره نه جوړېږو او د یوې ښې حکومتولۍ نه جوړېدلو یوه لویه ستونزه او لامل مو هم دا زموږ نه سره جوړېدل کېدای شي یا مو ترمنځ د تور او سپین په نامه ډېرې ستونزې پرتې دي.

**اصولي:** په ډېریو برخو کې زموږ ترمنځ دا تور او سپین هم بهرنیان راپیدا کوي. د روسانو په وخت کې هم دغه کار وشو زیاتره وخت یې واړه قومونه له لویو قومونو سره اچول او اوس هم په زیاتره ځایونو کې دوی دغه کار ترسره کوي. یانې دا هر څه د هغه ډیموکراسۍ، چې موږ وایو امریکا راغله او دا ډیموکراسي یې راوړه، تر سیوري لاندې کېږي. کنه څنګه داسې کېدای شي چې زه دلته له تا سره ناست اوسم او له دې تریبیون څخه په ښکاره ډول یوه قوم ته سپکاوی وکړم. اوس چې دا هرڅه کېږي، همداسې روان دي، یانې په همدې ډیموکراسۍ کې یې کوي. خو که چېرې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیموکراسي نه وای؛ د امین وخت وای، نو لاسونه یې راتړل؛ له دغه ځایه یې روانولو او سبا به نور د خپل سپکاوي له امله نهشوای ګرځېدای. په اوسني حکومت کې هم باید د دې هرڅه لپاره قوانین جوړ شي. د دې لپاره باید محاکم ولرو، هغه څه چې دلته ویل کېږي د هغو ټولو باید لامل او ځواب وویل شي.

**نګرش:** جناب استاد نکات دیگری را که باید بیان کرد اینست که موجودیت اسامه بن لادن در پاکستان ثابت شد و مخفی گاهایش هم در پاکستان است که بسیاری از فرزندان امریکا هم توسط همی تروریستان بقتل رسیده. امریکا نیز بارها اعلان داشته که پاکستان نقطه ضعف امریکا است. همی نقطه ضعف کجاست؟ یعنی آمریکا از پاکستان ترس دارد؟

**شهیرپور:** خوب پاکستان در این ۷۰ یا ٦۹ سال عمرش با امریکا برخی از افت و اخیزهای را داشته یک زمان یک باج بسیار کلانی را با آمدن روسها به افغانستان از آمریکا گرفت و یک امتیاز بزرگی دیگری را در سال ۲۰۰۱ با ندای مبارزه با تروریزم بدست آورد. در حالیکه پالیسی پاکستان یا پوشانیدن عیب و نقص هایشان به حدی بسیار بزرگ است که خود بالای سیاست شان تاثیر گذار است و به نفع خویش بازی میکنند.

**نګرش:** ډېره مننه. ښاغلی اصولي صاحب ستاسو وړاندیز څه دی، څه کول پکار دي؟ انګېرنه مو څه ده، آیا تاسو هم د اتمر صاحب غوندې نظر لرئ چې که خلک راوینښ نهشي، نو راتلونکې به مو ښه نه وي؟

**اصولي:** تر هر څه دمخه مسئله دا ده چې زموږ حکومت او دولت له کومه راغلی؟ خو همدا خلک دي د همدغو خلکو له منځه راغلي او چې هرڅه وي، خو افغانان دي او سبا یا بله ورځ چې نور یې راځي دوی به هم د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو له منځه راځي. ننني مشران باید کوشش وکړي چې امریکا ته قناعت ورکړي، څو پر پاکستان صادقانه فشار راوړي، خو هغه صادقانه فشار چې افغانان يې غواړي، نه داسې چې دلته راته  پاکستان د ترهګرو مرکز، تمویلوونکی او روزونکی معرفي کوي او هلته بېرته له پاکستان سره نقدي مرستې کوي او  تجهیزوي يې. هغه پیسې چې امریکا يې دوی ته ورکوي پاکستان يې د تروریزم په تمویل او تجهیز مصرفوي. دوی هملته روزل او افغانستان ته رالېږل کېږي. یانې دا د دوی یوه ګډه پروژه ده. امریکا، افغانستان ته دروغ وایي او پاکستان خو هسې هم زموږ (افغانستان) سره په دروغو او درغلیو روان دی، او د خپل وس/ توان په کچه له افغانانو سره ظلم او زیاتی کوي. له همدې امله زموږ مشرانو ته پکار ده، څو امریکا ته ووایي چې دلته ستاسو تل‌پاتې حضور ته په یوه شرط اجازه درکوو چې موږ ته به سوله راوړئ، نه جنګ.

**نګرش:** خو دا د خلکو دنده هم ده. یعنې چې ولس راپورته شي او همدا خبره وکړي.  اوس راځئ د ولسونو تعریف هم راته وکړئ چې موږ هم یو ډېر پاشلی ولس لرو، لکه څنګه چې اتمر صاحب وویل.

**اصولي:** نه، زموږ ولس دومره پاشلی هم نه دی، دا هغه ولس دی چې تل د پردیو په مقابل کې یوځای راپورته شوی. که د انګرېزانو یا د مغل او سکندرمقدوني له وخته يې راشروع کړو، همدا قومونه وو، چې لاسونه به يې سره ورکړل، یو به خپل ببل، بل به خپل تبر او هرڅه سره شریک کړل، بیا به یولاس شول او د دښمن پر وړاندې به جنګېدل. اوس هم د روسانو په مقابل کې لاس په لاس ولاړ وو او دوی يې مات کړل، خو ځینې سیاسیون شته چې له پردیو څخه په همدغه نامه پیسې اخلي؛ له سفارتونو څخه پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي او زموږ پښتون، تاجک، هزاره او ازبک سره وېشي؛ په یوه او بل نوم یې سره بېلوي. د دغو ټولو علت همدغه ډیموکراسي ده چې مخکې مو بحث پرې وکړ. ځکه له هغو څخه څوک پوښتنه نه کوي چې تا ولې دا کار وکړ؛ لاسونه یې نه تړل کېږي؛ سزا یې نه ویني چې ولې دا کار کوې. تاسو پوهېږئ د ډیورند پر مسئله بېلابېل بحثونه شته دي، یانې ځینې خلک خاوره خرڅوي او وایي چې دا زما خاوره نه ده. اې وروره دا خاوره یوازې د پښتون نه، بلکې د ټولو افغانانو ده، ولې یې پر یوه قوم پورې تړلې بولې؛ اېخوا یوازې پښتانه نه، بلکې بلوڅان هم پکې اوسېږي؛ د هزاره‌وو په ګډون لسګونه نور قومونه هم پکې شته دي.

**نګرش:** ښه د یوې سمې مشرۍ نه‌شتون د دې لامل کېږي چې داسې ستونزې رامنځته شي. اوس نو په یوې سمې مشرۍ باید کار وشي. دا مشري، چې د اتمر صاحب په وینا په طیارو کې راغلي او بېرته په طیارو کې ځي، د دوی مفکورې هم د هغه ډیموکراسۍ پېښې دي چې تاسې ورته اشاره وکړه.

**اصولي:** ګورئ که موږ او تاسې څو ځله هم مشري بدله کړو بیا به هم همدا حالت وي، ولې؟ ځکه علت یې دا دی چې امریکا پیسې راکوي؛ وسلې راکوي او دا هر څه، چې دولت پرې ولاړ دی، د امریکا دي. له همدې امله باید د امریکا خبره ومنو. په هغه حالت کې بیا کېږي چې موږ امریکا ته ووایو، چې ته رانه ووځه موږ خپله پوهېږو چې څه وکړو؛ موږ خپله په خپل منځ کې جوړېږو؛ که ملا عمر ټاکو که بل څوک ټاکو؛ که احمد انتخابوو یا محمود. نو خبره دا ده چې په داسې شرایطو کې، چې موږ د نورو دروازو ته لاس نیولی، هېڅ امکان نه لري چې ځان د دوی له تاثیراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص کړو. یو څه کېدای شي چې دوی ته ووایو چې تاسو موږ ته سوله رانه وړه؛ جګړه مو شپاړس کاله راته اوږده کړه؛ افغانان مو راشهیدان کړل؛ زموږ هېوادوال مو پخپلو کې سره اچولي، اېخوا طالب د پاکستان په لاس تجهیزوې او دېخوا موږ پخپل لاس تجهیزوې، بالاخره دلته د څه لپاره راغلي یاست؟ که سوله راولئ خو را یې ولئ او پاکستان له موږه منع کړئ. او که دا کار نه‌شئ کولای، نو بیا زما پر خاوره څه کوې؛ بیا نو زموږ له خاورې ووځه.

**نګرش:** هممم، یوازې د حل لاره همدا ده؟

**اصولي:** د حل لاره همدا ده، ولس ګوره په وړې ګېده څه نه‌شي کولای؛ ولس د ګهیځ او بېګا نه لري؛ ولس به راپورته کړې، مګر څه به وکړي؛ ملت له امریکا سره څه وکړي. دېته سیاست وایي چې زموږ سیاسیون باید له امریکایانو سره خپل سیاست وکړي، خو د دې لپاره بیا کلک سیاسیون پکار دي، داسې سیاسیون چې په ټینګه ورته ووایي چې زه که په ارګ کې دوې ورځې وم، که درې، نو له تا سوله غواړم.

**نګرش:** خوب انچه اصولی صاحب گفتند، مردم نیمتوانند با شکم گرسنه به این مسایل بپرازند. چگونه با امریکا بجگند با دست خالی؟

**شهیرپور:** اصلاً ملت وظیفه اش هم نیست که با امریکا صحبت کنند، باید همین رهبران ما خود شان در خانه و بین هم بنشینند و تازمانیکه به این نتیجه نه رسند که ادامه چنین وضعیت جز تباهی ملت افغانستان چیزی دیگری را نمیاورد، ملت افغانستان نه میتواند.

**نگرش:** فکر میکنید با این اوضاع تباهی ادامه خواهد داشت؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شهیرپور:** دقیقاً من حالا امیدوارم فکرم اشتباه باشد ولی در کوتاه مدت خوشبین نیستم که این وضعیت بهبود یابد.

**نگرش:** ممنون تشکر بسیار خوش آمدین. تشکر از حضور تان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۷

# پر پاکستان د امریکا د مرستو بندول

**خبریاله:** د امریکا دفاع وزارت به له پاکستان سره د ۳۰۰ میلیونو ډالرو پوځي مرسته ونه کړي. امریکایي چارواکي وایي، د امریکا دفاع وزیر کانګرس ته ویلي چې پاکستان د حقاني شبکې پر وړاندې اقدام نه دی کړی، نو ځکه به دا پیسې هغه هېواد ته ور نه کړل شي. بلخوا د پاکستان لومړی وزیر هم مني چې په پاکستان کې ستونزې شته خو د دې پر ځای چې پېچلې شي باید حل شي. د دې موضوع د بحث لپاره په سټوډیو کې راسره سیاسي شنونکی ښاغلی جمال ناصر اصولي دی. ښاغلی اصولي تاسو ته ښه راغلاست وایم او د لومړۍ پوښتنې په توګه، څه د دې لامل شول چې بالاخره امریکا پرېکړه وکړه چې پر پاکستان خپلې مالي مرستې ودروي.

**اصولي:** د لوی او ښښونکي خدای په نامه! سلام تاسو او ټولو لیدونکو ته. ګورئ پاکستان له ډېرې پخوا راهیسې د افغانستان په جګړه او د سیمې په تروریزم کې لاس لرلی چې امریکا هم له ډېرې پخوا پر دې ډېره ښه پوهېده او پوهېږي. په افغانستان کې د تېرو ۱۴ کلونو راهیسې چې لا هم په جګړه کې ښکېل دی، د دغو جګړو او تروریزم اصلي تمویلوونکې سرچینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان دی چې هلته تمویل او تجهیزېږي او بیا سیمې ته خپرېږي. امریکا له اوایلو څخه پوهېږي چې د تروریزم سرچینه پاکستان دی او په دې برخه کې خپله امریکا هم د هغوی مرستندویه ده. موږ او تاسو داسې ډېرې بېلګې لرو چې که چېرې امریکا غوښتي وای چې په پاکستان فشار راولي، نو تر اوسه به دا ډول حالات نه وو او په افغانستان کې به دا بل شوی اور اوس نه وای.

**خبریاله:** یعنې تاسې وایئ چې خپله امریکا په دې هر څه کې لاس لري، که نه له مخکې یې باید دا هرڅه ترسره کړي وای؟

**اصولي:** کله کله امریکا پر پاکستان داسې فشارونه راوړي چې خپلې غوښتنې په پاکستان ومني. په دې هرڅه کې امریکا خپله له پاکستان سره ښکېله ده، که داسې نه وي، نو د ډېورنډ له فرضي کرښې اېخوا، کومې اډې چې طالبانو یا داعش ته ورکړل شوې، تمویلېږي، تجهیزیږي؛ هلته په سمه توګه ساتل کېږي؛ هلته یې د ټپیانو او ناروغانو درملنه کېږي، نو پر دې هر څه امریکا خبره وه.

**خبریاله:** یعنې تاسو وایئ چې په یو ډول نه په یو ډول خپله امریکا هم په دې هر څه کې ښکېله ده؟

**اصولي:** امریکا دواړې خواوې وهي، هم هغوی تمویلوي او هم د افغانستان حکومت. کومې پیسې چې پاکستان ته ورکول کېږي، هغه عملن ټول وینو چې تروریزم پرې تمویلېږي. همدا ۳۰۰ میلیونه ډالر د دې لپاره نه دي بند شوي چې ګواکې دوی تروریزم تمویلوي، د دې لپاره یو څه موده ورځخه ځنډېږي، څو هغه څه، چې د امریکا اصلي موخه ده، په پاکستان ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریاله:** ستاسو په نظر، په دې کار سره د امریکا موخه څه ده؟

**اصولي:** امریکا د سیمې لپاره اوږدمهاله ستراتېژۍ لري، دا ستراتېژۍ دوی نه یوازې د افغانستان لپاره لري، بلکې د هند، چین، منځنۍ آسیا او د ټولې سیمې لپاره یې لري، او همدا ستراتیژۍ تنها په جګړه کې عملي کولای شي او د دغو عملي کولو لپاره یې جګړه خوښه کړې ده. ځکه هغه وجود چې روغ وي په هغه کې رنځ زر سرایت نه کوي، بلکې کله چې وجود ناروغ وي، نو رنځ او بېلابېل رنځونه پکې رامنځته کېدای شي. دوی هم همداسې کړي، سیمه یې ناامنه او دېته برابره کړې چې خپلې ستراتېژۍ پکې پلې کړي. لکه څنګه چې طالبانو په افغانستان کې جګړه تازه ساتلې وه، داعش راغی او دلته یې ځالې جوړې کړې. دا خو د منلو وړ نه ده چې داعش به پخپل سرې توګه له عربي هېوادونو څخه هوایي دلته راشي او دلته دې ځانونو ته ځالې جوړې کړي. خو یو څوک شته چې دوی تمویلوي او دلته یې راوړي.

**خبریاله:** یعنې تاسو په دې هرڅه کې د امریکا لاس ښکېل ګورئ؟

**اصولي:** زه وایم چې که چېرې امریکا د تروریزم په جګړه کې صادقه وي، نو دوی پر پاکستان فشارونه راوړلای شوای. کله چې دوی په رښتیني توګه پر پاکستان فشار نه راولي، ښکاره ده چې د تروریزم په تمویل کې لاس لري. کله چې یې هماغه اصلي سرچینه له منځه نه وړي او راځي زموږ په کور او کلي کې تروریستان ګوري، دا خو ټول پوهېږي چې زموږ په کور او کلي کې تروریستان نه‌شته، بلکې د هغوی منبع او سرچینې په پاکستان کې دي. لاړ دې شي په اسلام‌آباد او په پنجاب کې دې یې وګوري، اصلي منبع یې هملته ده. د ISI هغه جنرالان چې په افغانستان کې تروریزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپروي امریکا یې ویني، امریکا یې تمویلوي او مرستې ورسره کوي او هغوی همدا ټولې مرستې په تروریزم لګوي.

**خبریاله:** بیا نو اوس په دغو اوسنیو شرایطو کې دا د مرستو بندول په دې معنا نه دي چې نور امریکا نه غواړي له پاکستانه ملاتړ وکړي، دا چې د ترهګرۍ د ځپلو لپاره یې جدي مبارزه ونه کړه، نو خپله مرسته یې بنده کړه.

**اصولي:** هېڅکله هم نه! ما مخکې اشاره وکړه چې امریکا یوازې غواړي چې خپلې غوښتنې بیا په پاکستان ومني. دوی به د پردې تر شا نورې غوښتنې او نورې ستونزې لري. کله چې هغه سره حل کړي بیا به هم د ۳۰۰ میلیونو ډالرو مرستې او نورې مرستې وي.

**خبریاله:** کومې غوښتنې به د پردې ترشا وي؟

**اصولي:** د دوی ترمنځ د پردې تر شاه ډېرې خبرې دي. پاکستان یو داسې هېواد دی چې تل یې د نورو هېوادونو د ورانولو لپاره پروژې اخیستې، لکه یو قراردادي شرکت غوندې دی. دوی په سیمه کې ورانوونکې پروژې پلې کوي او کله چې په دې پلي کولو کې ناکام شي بیا پرې ناټو او امریکا فشار راولي، څو دوی دا پروژې په سمه توګه عملي کړي. څکه نو دا ټول فشارونو د همدغو پروژو د عملي کولو لپاره دي، نه د سولې راوستلو او د تروریزم د ځپلو لپاره.

**خبریاله:** کومې پیسې چې امریکا د پروژو د عملي کولو لپاره پاکستان ته ورکولې، آیا پاکستان د امریکا د غوښتنو مطابق هغه پروژې تر اوسه نه دي عملي کړې چې امریکا دا پیسې نه ورکوي.

**اصولي:** همداسې ده. هر کله چې دوی په پوره ډول د خپلو تړونونو مطابق

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پروژې عملي نه کړي، نو په نامستقیمه توګه پر دوی فشار راولي، ځو پاکستان دېته اړ شي چې دا پروژې په سمه توګه پلې کړي. موږ او تاسو هم ولیدل چې په افغانستان کې خو د نظام مخالفینو مشران ونه وژل شول، بلکې ټول په پاکستان کې له منځه ولاړل، لکه ملا عمر په پاکستان کې ووژل شو، ملا منصور په پاکستان کې، د نړۍ مهم کس د القاعده مشر د پاکستان په زړه کې ووژل شو، همداسې نور د دوی مشران چې نیول کېږي دا ټول په پاکستان کې دي او هلته نیول کېږي او امریکا ته یې ورکوي.

**خبریاله:** تاسو وویل، له وړاندې هم امریکا د پاکستان په دغو کارونو پوه شوې وه، چې هلته ترهګر پالي او د ترهګرو ځالې هم په همدې پاکستان کې دي، یا خپله امریکا هم دلته لاس لري. بیا نو امریکا د دې په پوهېدو سره خپلې مرستې بندې کړې چې وایي نړیوال هم پر دې پوه شول چې پاکستان یو تروربستي هېواد دی، ځکه یې ځان ترې ویست او له پاکستانه لرې شو، ځکه یې مرستې ورسره بندې کړې، ځو خلکو ته وښيي چې موږ له دوی سره کومه اړیکه یا ارتباط نه لرو.

**اصولي:** داسې ده چې لوی هېوادونه تل په درېیمو هېوادونو تجارت کوي، له امریکا سره چې اوس ناټو ولاړه ده او لاس په لاس سره روان دي، تش په نامه د تروریزم پر ضد دلته په افغانستان کې، عربي ممالکو او بېلابېلو ځایونو او په ټوله نړۍ کې دوی راوتلي چې موږ تروریزم له منځه وړو. دا هر څه د تروریزم د له منځه وړلو لپاره نه، بلکې دوی دا ټول کارونه د تروریزم پر ضد د جګړې تر چتر لاندې ترسره کوي او ځانونه خپلو اهدافو ته رسوي. په اوایلو کې خو دلته څه طالبان وو، څه القاعده، او هلته وویل شول چې پر امریکا یې بریدونه وکړل. خو په عراق کې څه وو، هلته خو نه اټومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلې وې، نه کومه جنګي ډله. هلته یې یوه بهانه راپیدا کړه او عراق یې دړې وړې کړ، اردو، پولیس او هرڅه یې ورته وران کړل، لکه څنګه چې په تېره لسیزه کې یې دا کار په افغانستان وکړ. روس‌پلوه حکومت یې نسکور او اردو یې وررنګه کړه، یانې په اسلامي نړۍ کې تاریخ تکرارېږي. په افغانستان او عراق دواړو کې یې هرڅه له منځه یوړل اردو یې ړنګه او پولیس یې له منځه یوړل؛ ملي بنسټونه یې ټول ختم او هرڅه یې پر بل مخ واړول. همداراز اوس په سوریه کې هم همداسې کوي؛ په یمن کې هم اخته دي؛ تر سعودي هم رسېدلي، او هغه هېواد یې له حوثیانو سره په جګړه کې ښکېل کړی دی.

**خبریاله:** خو برعکس په افغانستان کې اوس زموږ پوځ څه ناڅه په خپلو پښو درېدلی چې دا هر څه د امریکا له برکته دي.

**اصولي:** زموږ پوځ په پښو نه دی درېدلی، زموږ پوځ نه مړ دی نه ژوندی، بلکې نیم‌ژواندی دی. هر کله چې د امریکا مرستې او وسلې پرې ودرېږي نو همدغه پوځ به د طالبانو له لوري له سختې ماتې سره مخ کېږي. زموږ له پوځ څخه زیاته مرسته له طالبانو سره کېږي. څنګه کېدای شي چې په هلمند کې جګړه روانه وي او زموږ درې یا څلورسوه زره امنیتي ځواکونه، چې هوایي پوځ هم پکې شته او نسبتن د اړتیا وړ تجهیزات هم لري، په هلمند کې ناکام شي او هغه ګورئ چې حتا تر لښکرګاه راورسېدل او لښکرګاه یې کلابنده کړې ده. څنګه کېدای شي چې کندز ورنه ونیسي؛ څنګه کېدای شي چې ولسوالۍ ورنه نیسي؛ ولې دا لویې لارې بندې دي؟

**خبریاله:** یعنې د دولت وسله‌وال مخالفین هم د دغه هېواد لخوا ملاتړ کېږي او دوی ته وسلې او تجهیزات ورکول کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** که نه ورکول کېږي هم، خو له یوه ځایه خو کېږي. امریکا چې له هوا څخه یوه ستنه هم پر ځمکه ویني، نو دومره غټه پیمانه وسلې، ټانګونه، پیسې او د جګړې اړوند ټول ضروریات نهشي لیدلای.

**خبریاله:** یعنې که په ټولیز ډول ووایو هغه وسلې او تجهیزات چې افغان ځواکونه یې نه لري.

**اصولي:** ګورئ، د یوه هېواد آبادول ډېر آسانه دي، مګر د یوې جګړې ترسره کول او بیا په پرلهپسې د دې جګړې ساتل ډېر ستونزمن کار دی. دا یوې غټې سرمایې ته اړتیا لري، چې هغه سرمایه نه افغانستان لري، نه پاکستان او نه یې هم دا نور ګاونډي هېوادونه. تاسو ولیدل چې شوروي اتحاد کابو ۱۰ یا ۱۴ کاله له افغانستان سره په جګړه کې ښکېل شو او بیا د اقتصادي ستونزو له وجې هغه لوی شوروي اتحاد ړنګ شو. نو څنګه کېدای شي چې دومره درنه پیسه، چې طالبانو او داعش ته ورکول کېږي، معاشونه، وسلې یې تجهیزات، له یوه عادي هېواده نه راوځي.

**خبریاله:** ښاغلی اصولي اوس ځینې په دې اند دي چې امریکا له پاکستان سره د خپلو مالي مرستو په بندولو سره نور نه غواړي چې له پاکستانه مالي ملاتړ وکړي او په تېره بیا د افغانستان د سولې د خبرو په برخه کې د پاکستان لاس لنډ کړي.

**اصولي:** هر څه صادقانه نه دي، موږ هغه مهال ویلای شو چې پاکستان او امریکا یا ناټو له افغانستان سره صادق دي چې موږ عملاً کوم څه ورڅخه ووینو. پاکستان هم وایي چې موږ بیا د سولې له پروسې سره خبرې شروع کړې او صادق یو، خو عملن بیا جګړه شي؛ عملن بیا افغانستان ته باروت او وسلې رالېږي؛ عملن بیا ځانمرګي او بمونه رااستوي. امریکا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې ده. که چېرې په رښتیا هم دوی پر پاکستان فشارونه راوړي او په رښتیا هم صادق شوي وي، نو دا یو نیک ګام دی. یعنې چې دا ۳۰۰ میلیونه یې که پرې بندې کړې وي، نو هغه ملیاردونه نور ډالر دي په نظامي برخه کې هم پرې بند کړي چې په کلنۍ توګه پاکستان سره مرسته کوي. هغه پیسې چې په اقتصادي برخه کې پاکستان ته ورکول کېږي هغه دې هم پرې بندې کړي. هله یې صادق بللی شو. خو بیا به دوې درې یا څلور میاشتې وروسته ووینئ چې له پاکستان سره بیا خورا زیاته مرسته کېږي. ځکه چې هغه مهال به بیا دوی خپلې غوښتنې په دوی منلې او خپلې ستونزې به یې حل کړې وي. هر کله چې تر دې ورسېږي چې امریکا صادقه شي، موږ او تاسو یې وینو چې د سولې په پروسه کې یې عملاً همکاري وکړه او پر پاکستان یې فشارونه راوستل، یانې افغانان نور له پاکستان او امریکا څخه سوله نه غواړي، بلکې د دې پر ځای ترې غواړي چې د افغان حکومت مخالفې ډلې ونه روزي؛ تمویل او تجهیز یې نه کړي او نه دې ورته اډې ورکوي. هغه مخالفین چې د افغانستان د نظام پر ضد جنګېږي، ټول په پاکستان کې اډې لري هملته جلب، جذب او روزل کېږي.

**خبریاله:** خو پاکستان دا ادعا کړې ده چې دوی له تروریزم سره جدي مبارزه کوي او پخپل هېواد کې ورته ځای نه ورکوي، حتا دوی په دې برخه کې له ګاونډیو هېوادونو سره مرسته کړې ده، نو امریکا څنګه راځي، په دې برخه کې پر پاکستان خپلې مرستې بندوي، آیا په دې برخه کې د پاکستان مبارزه په رښتیا جدي نه ده.

**اصولي:** پاکستان د هغه تروریزم او هغو ډلو پر وړاندې جدي غبرګون ښیي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د پاکستان پر وړاندې جنګېږي. تاسو ولیدل څه موده وړاندې په پاکستان کې عملیات پیل شول او دوی د هغه چا پر وړاندې عملیات پیل کړل چې د پاکستان د جنډې مخالف وو؛ د پاکستان د نظام مخالف وو. هغه ډلې چې د افغانستان د نظام په خلاف جنګېدل، هغوی یې له سیمې په پوځي موټرو کې کراچۍ، ټل، پېښور او داسې نورو ځایونو ته یوړل چې دوی هلته په سوله‌ییز ډول خوندي کېږي او امنیت یې هم ورته د دوی پوځ نیولي و. د همدوی پولیسو، د همدوی ملیشه‌وو یې امنیت ونیو. دوی په ټولیز ډول هغه څوک، چې د پاکستان پر وړاندې جنګېدل، وځپل او افغانستان ته یې راواړول، څو دلته د افغانستان پر ضد وجنګېږي. چې دلته بیا هغوی هم په دوو ډلو ووېشل شول، یوه ډله یې چې د پاکستان پر ضد جنګېدل، په خپل حالت پاتې شول او ځینې نور یې بیا له طالبانو سره یوځای شول او د افغانستان د حکومت پر وړاندې یې جګړه شروع کړه. تاسو اوس هم وینئ چې وزیرستان کې او د ډیورند اېخوا اوس هم اډې او ټریننګ کمپونه جوړ او عملاً شته دي. اوس هم ډېرې شبکې فعالې دي، ولې یې له منځه نه وړي یا لږ تر لږه ولې یې تجهیزوي.

**خبریاله:** دلیل یې په څه کې دی؟ ښاغلی اصولي ځینې په دې اند دي چې د ډیورند د کرښې ناامني د پاکستان په ګټه ده؟

**اصولي:** د پاکستان ګټه دا ده چې افغانستان په جنګ کې وساتي؛ افغانستان په اور کې وساتي؛ د افغانستان ملي بنسټونه له منځه لاړ شي او پاکستان په خپل ګاونډیتوب کې داسې یو هېواد ونه لري چې پیاوړی وي، زورور وي او سبا ورځ لږ تر لږه دومره ورته ووایي چې د ډیورند اېخوا زما کوم افغانان چې دي، په دوی ظلم مه کوه، بلکې دوی ته مکتب ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د زده‌کړو امکانات ورته برابر کړه. دوی ته ټوپک مه ورکوه. پوهېږئ د ډیورند له کرښې سره په پاکستان کې اووه ایجنسۍ دي دا ایجنسۍ د پښتونخوا د حکومت تر لاس لاندې نه کنټرولېږي. پوهېږئ دا د مرکزي حکومت یعنې له اسلام‌آباد څخه کنټرولېږي. دا یې په دې ډول ساتلي لکه یو جال چې پرې راتاو شي او نور ورته لاسرسی ونه لري، دوی سره یوازې ټوپک ښه ښکاري او د پاکستان حکومت یې ورکوي؛ دوی ته بمونه ورکوي؛ دوی د وسلو انبارونه رالېږي؛ دوی ته یې قلم داسې ښودلی چې دغه پدیده اصلن د اسلام مخالفه ده؛ د قرآن مخالفه ده؛ په قلم اسلام له منځه ځي؛ مکتب کې خلک کافر کېږي. دا روحیه یې ورکړې؛ دوی ته یې د پښتنو او افغانانو تاریخ په شرمونو شرمېدلی ښوولی او دوی ته یې هغه تاریخ ورکړی چې په اصل کې د دوی خپل تاریخ نه دی.

**خبریاله:** ښاغلی اصولي فکر نه کوئ کوم اور چې پاکستان بل کړی، یو وخت به خپله به پکې ونه سوځي؟

**اصولي:** که نن تر یوه حده سوځي نو ورځ به یې راشي، لکه څنګه چې اوس افغانستان په اور کې سوځي او وسوځېد همداسې به پاکستان او اسلام‌آباد هم وسوځي، ځکه چې بل ته اور بلوي خپله به هم پکې سوځي. زه وایم چې پاکستان له افغانستان سره نه صادق پاتېږي او نه هم افغانان په هغوی داسې باور کولای شي چې پاکستان به له افغانستان سره صادق پاتې شي.

**خبریاله:** پوښتنه هم همدا ده چې د افغانستان مشران او  افغان دولت له وړاندې هم پر دې پوهېږي چې په افغانستان کې د ټولو بدبختیو لامل همدا پاکستان دی او د پاکستان په سیاستونو هم پوهېږي، خو بیا هم ولې زموږ هېواد د دوی په وړاندې کوم روښانه سیاست نه دی غوره کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** ستونزې دلته موجودې دي، کله چې په افغانستان کې د طالبانو نظام ړنګ شو، له هغو وروسته بیا حتا چوکۍ او مېز هم نه وو او له صفره بیا راشروع شوه؛ دیارلس کاله د کرزي حکومت د نوي ژوند غوندې دغه وطن تر دې ځایه راورساوه. تر څنګ یې بیا دلته موږ ځینې دښمنان هم لرل؛ امریکا که له موږ سره مرستې کوي، خو بیا هم زموږ دوست هېواد نه دی. ځکه چې امریکا دلته د خپلو موخو او ملي ګټو د ساتلو لپاره راغلې. همدارنګه دلته داخلي عوامل هم وو، دلته موږ ټوپک‌سالاران لرل؛ لوی لوی غله مو لرل؛ د چور او چپاول قوماندانان؛ دلته مو داسې کسان لرل چې اصلن افغانستان ورته مهم نه و، ملي ګټې ورته بې‌ارزښته ښکارېدې، لکه څنګه چې اوس هم د هغوی لپاره ملي ګټې مهمې نه دي. نو په داسې شرایطو کې بیا هم افغانستان تر دې سرحده ورسېد. اوسمهال زموږ مشران په دې نه توانېږي چې د دوی په مخ کې ودرېږي او کله چې څوک کمزوري وي، نو په کمزوري دریځ کې به درېږي. پخواني ولسمشر حامد کرزي په کراتو کراتو ویلي او چیغې یې وهلې چې دلته په کلیو او بانډو کې تروریزم نه‌شته، تروریزم هلته دی، هلته پسې ورشئ، خو د هغه چیغې چا نه دي اورېدلې. همدا اوس هم کوم دریځ، چې ولسمشر غني د پاکستان په وړاندې خپل کړی، تر ټولو ښه او غوره دریځ دی. یعنې افغانان له دوی څخه ملاتړ کوي؛ له دوی سره باید نور هم جدي لاړ شي؛ دلته (افغانستان) کې باید د دوی سفارت وتړل او خپل سفارت هم راوغوښتل شي څو پاکستان پوه شي چې افغانان هم جدیت ښودلی شي او د دې ترڅنګ په پاکستاني اموالو بندیزونه ولګېږي، مالیات پرې ډېر شي او خپلې اړتیاوې له نورو هېوادونو پوره کړو پر دې لارو چارو باید فکر وشي. یو هېواد چې څو له ستونزو سره مخ نه‌شي، تر هغو له ستونزو سره د حل لپاره لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارې نه‌شي موندلی. افغانستان باید پاکستاني اموال بند کړي، څو پر خپله خاوره د پاکستان بازار ختم شي.

**خبریاله:** له تېرو دیارلسو کلونو راهیسې موږ په دې ډول ستونزو کې ښکېل یو، نو ولې دوی تر اوسه کوم اقدام نه دی کړی؟

**اصولي:** لکه څنګه چې مو مخکې یادونه وکړه افغانستان له صفره را شروع کړه او تر دې ځایه راورسېد، یعنې اوس هم په اوسنیو شرایطو کې ښه روان دی او بهرنۍ پالیسۍ د پاکستان پر وړاندې د افغانستان پالیسي یا د ډاکټر غني پالیسي ډېره ښه پالیسي ده. په دغه وخت هغه موضوع چې په کندهار کې د کلدارو په اړه رابرسېره شوې، د ستایلو ده، یعنې ویل کېږي چې د کندهار چارواکو هلته په پاکستاني کلدارو بندیز لګولی. زموږ مشران که چېرې غواړي چې پر پاکستان فشار راوړي نو په هلمند، کندهار، فراه، خوست، کنړ، ننګرهار او په دغو ټولو په کرښه پرتو ولایتونو کې دې پر پاکستاني کلدارو بندیز ولګوي. دا خو کولای شي دا خو زموږ خپله سیمه ده او د فشار په ډول همدا کلدارې باید دلته بندې کړو. موږ باید د پاکستان اوړه او هر څه بند کړو. د لارو چارو د حل لپاره یې همدلته دننه په افغانستان کې یو فکر وکړو او همدلته سرمایه‌ګذاري وکړو؛ دلته تجاران تشویق کړو او هغوی ته سهولتونه برابر کړو چې څنګه د افغانستان په اقتصاد او پیاوړتیا کې یو او بل ته لاسونه ورکړي او افغانستان پیاوړی کړي. نو پکار ده چې په دغو شرایطو کې هر هغه څه مو چې د پاکستان پر ضد له لاسه پوره دي، باید ویې وکړو.

**خبریاله:** اصولي صاحب اوس که رښتیا هم دا ځل امریکا د پاکستان په مقابل کې جدي وي او په صادقانه توګه یې دا اقدام ترسره کړی وي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان دولت باید په کوم ډول له دغه فرصته د خپلو ګټو لپاره کار واخلي؟

**اصولي:** که رښتیا هم امریکا په صداقت سره د پاکستان پر وړاندې داسې برخورد کړی وي او دوی په خپل دغه اقدام کې صادق و اوسي، بیا نو افغانستان ته پکار ده چې لا هم ځان له امریکا سره نږدې کړي او لا هم ملګرتیا ورسره وکړي او په یو ډول سره امریکا ته د دې قناعت ورکړي چې سوله‌ییز افغانستان د امریکا په ګټه دی او پاکستان خو امریکا خپله پېژني، ځکه پاکستان چې رامنځته شوی همدا د انګلیس او امریکا په وسیلې د نړۍ په نقشه راوتپل شو، او همدوی دي چې د سیمې او نړۍ د هېوادونو پر وړاندې د پاکستان په وسیلې تجارت کوي. پاکستان یې یوه آله او د پروژو پلي‌کوونکی ګرځولی. په سیمه کې هر هغه څه چې غواړي، هغه پرې کوي. زموږ مشران باید پاکستان ته دا قناعت ورکړي چې یو سوله‌ییز افغانستان د امریکا په ګټه او ناامنه افغانستان د امریکا په تاوان دی. لکه څنګه چې دلته افغانان هره ورځ شهیدانېږي او خپل ژوند له لاسه ورکوي، ټپیانېږي همدا شان امریکایان هم دلته هره ورځ قرباني ورکوي؛ سرتېري یې ټپیان او ژوند له لاسه ورکوي. دا طبیعي هم ده کله چې یو څوک کوم بل هېواد ته ځي هلته به دوی ته تاوان رسېږي؛ وژل کېږي به او خپل ډېر امکانات به له لاسه ورکوي. نو امریکا ته نور پکار ده چې د تروریزم اصلي سرچینه وپېژني او یو سوله‌ییز افغانستان خپل ملګری او دوست ومني. ځکه یو جګړه‌ییز افغانستان نه د دوی په ګټه دی، نه دې پاکستان. پاکستان به هم نارامه کړي، لکه څنګه چې د لر او بر پښتنو دواړو خواوو علما وژل کېږي؛ ښوونکي یې شهیدانېږي، دا پروسه یوازې اوس روانه نه ده، بلکې دا پروسه تقریباً له پنځوسو کلو راپدېخوا جاري ده. څو همدا لر او بر پښتانه د پاکستان پر وړاندې خپل آواز پورته نه کړي او یا هم دومره ووایي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل حق وغواړي او د خپل کلي لپاره ښوونځی وغواړي یعنې دا ستراتېژۍ له پخوا همداسې روانې دي چې په دې سیمه کې باید جنګ وي؛ دا سیمه باید ناروغه او دلته باید تروریزم زر سرایت وکړي. مخکې چې ما دا اووه ایجنسۍ یادې کړې، دا ټولې یې د ډیورند اېخوا د همدې لپاره ساتلې، په دې باندې اصلن د حکومتونو کنټرول نه‌شته، دا آزاد قبایل دي او آزاد یې پرېښي. په دوی چې هر ډول پروژه وغواړي هغه پرې پلې کېږي، یعنې په هغه سیمه کې، چې اصلن قلم او ښوونځي هېڅ نه وي، هلته هره پروژه پلې کېږي. د عقیدې تر سیوري لاندې خلک هرڅه کوي، لکه څنګه چې په افغانستان کې دا ټولې جګړې د عقیدې تر سیوري لاندې ترسره کېږي. دلته د عقایدو منبع اسلام ده او د مقدس اسلام تر سیوري لاندې همدا وحشتونه کوي؛ افغانان وژني او تروریزم خوروي. علت یې دا دی چې موږ اصلن اسلام نه دی پېژندلی ځکه علم نه لرو، که چېرې مو علم لرلی بیا پوهېدو چې اسلام یعنې څه. اسلام دا نه چې ټوپک راواخله یو څوک ووژنه، په اسلام کې ویل شوي چې کافر به هم نه وژنې، یعنې کله چې پروردګار تا ته د یوه چا د وژلو واک نه وي درکړی، څنګه کولای شې چې یو څوک ووژنې؛ مسلمان ووژنې؛ د ماشومانو په ښوونځي کې چاودنه وکړې؛ حتا جومات او ممبر په بمونو والوزوې. یعنې اسلام یې دومره ډېر افراطي کړی.

**خبریاله:** ښاغلی اصولي اوس به پاکستان څه وکړي؟ ځکه که چېرې امریکا په رښتیا هم جدي وي، نو څه فکر کوئ چې آیا پاکستان به د ترهګریزو ډلو په مقابل کې اقدامات ونه کړي؟

**اصولي:** پاکستان د امریکا او د انګلیس په پیسو ژوندی دی. هر کله چې امریکا او انګلیس په پاکستان خپلې مرستې بندې کړي، بیا پاکستان هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه کوي چې امریکا یې ورڅخه غواړي، خو که چېرې همدا دوه هېوادونه په صادقانه ډول پر پاکستان فشار راولي؛ خپلې مرستې پرې ودروي او همدا شرط ورکړي، چې ته دې نور دا ورانوونکې پروژې په ټپه ودروه، که چېرې ستا ملي ګټې د افغانستان په ورانولو کې وي، بیا یې نو پر بله لاره فکر وکړه، یا به دا هر څه د افغانستان په ګټه وي او پاکستان به هم دېته واداره شي، یوازې دومره دې وکړي چې شپږ میاشتې دې خپلې ټولې مرستې پرې ودروي او ټول مناسبات دې ورسره بند کړي، بیا به نو دا هر څه د افغانستان په ګټه وي. کله چې امریکا او انګلستان خپلې ټولې مرستې پرې ودرولې، بیا پاکستان د امریکا او انګلستان پر وړاندې سر نهشي راپورته کولای. ځکه هلته یې بیا ملي ګټې په خطر کې کېږي. دوی په دې پوهېږي چې پاکستان یو په لاس جوړ شوی تصادفي هېواد دی، ځکه دا یو طبیعي هېواد نه دی. دوی پر دې پوهېږي چې که چېرې همدا دوه هېوادونه وغواړي، نو په یوه میاشت یا شپږو میاشتو کې دا هېواد تقسیمېدلای شي. ځکه خو دوی له همدې ډارېږي او خپله ملګرتیا له انګلستان یا امریکا سره نه خرابوي.

**خبریاله:** بنه نو څه ډول چلند به وکړي؟ د امریکا د دغه اقدام پر وړاندې به د پاکستان غبرګون څه وي؟

**اصولي:** داسې ده چې د پاکستان ژوند د امریکا او انګلستان په ملګرتیا کې دی، ځکه هلته همدا اوس بلوڅان تیار دي چې یو څوک له هغوی سره مرسته وکړي او پاکستان له منځه یوسي. کله چې امریکا خپلې ټولې مرستې په صادقانه ډول پرې قطع کړي او فشار پرې راوړي، نو پاکستان کولای شي چې د افغانستان د سولې په پروسه کې تر ټولو بنه رول ولوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبرياله:** که چېرې د امریکا مرستې پرې بندې شي او پاکستان هم له طالبانو سره خپلې مرستې ودروي، یعنې طالبانو ته تجهیزات ورنه کړي، نو طالبان به څنګه سولې ته حاضر شي؟

**اصولي:** کله چې په طالبانو ټولې مرستې قطع شي، بیا په ټوله معنا د سولې له پروسې سره یوځای کېږي، ځکه کله چې له دوی سره د جګړې وسایل او وسله نه وي، څنګه به له افغان ځواکونو سره جنګېږي؟ اوس طالبانو او نورو مخالفو ډلو ته پیاوړي پیاوړي معاشونه ورکول کېږي، لکه داعش چې پیاوړي معاشونه لري، نو دا معاشونه ځوک ورکوي چې زموږ اردو یې نه لري او هغوی ته یې ورکوي. دوی ډېر ښه تجهیز لري او ښه تجهیزېږي. که دا هر څه پرې ودرېږي، بیا دوی له دغه تحرکه لوېږي، بیا به یا له افغانستانه وځي او یا به هم د افغانستان د سولې له پروسې سره یوځای کېږي. طالبانو ته هم پکار ده چې راشي او د افغانستان د سولې له پروسې سره یوځای شي، لکه څنګه چې شورای نظار یا ټلوالې، وحدت ګوند او د جګړو نورو ګوندونو سیاسي واک پخپله غېږه کې راټینګ او ټول واک یې خپل کړی، دا هرڅه د ټوپک په زور نه، بلکې په سیاسي ډول کوي. کله چې پکارېږي دوی بیا ټوپک هم راوباسي، ځکه نه غواړي چې دغه واک له لاسه ورکړي. نو طالبان څه خدای وهلي، خو را دې شي او له همدغو افغانانو سره دې کېني. د سولې له پروسې سره دې یوځای شي او خپلې غوښتنې دې د ټوپک پرځای د یوه سیاسي بهیر له لارې پلې کړي. دوی که هوښیار وي، را دې شي او د ټوپک پرځای دې قلم انتخاب کړي، د سولې مېز دې انتخاب او خپلې غوښتنې دې د سولې له لارې پلې کړي. د سولې خلاف بله ډله، چې له ټولو مهمه او نړیواله مضره پدیده ده، د داعش

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله ده. طالبان افغانان دي، ورسره جوړ به شو، مګر داعش څوک دی؟ داعش یوه نړیواله پدیده ده دوی دلته د دې لپاره نه دي راغلي چې افغانستان مني، دوی دلته د خراسان په نامه راغلي چې په سیمه کې تاجکستان ایران او په نورو سره نښتو سیمو کې د پخوا غوندې خلافت جوړ کړي. مګر کاش چې دغه ډله بیا په اسلامي طریقه روان وای! دوی خو یوه افراطي لاره خپله کړې چې اصلن نه سپین‌ږیری پېژني او نه ماشوم؛ دواړه الوزوي او وژني یې او همدېته ورته هغه څه چې دوی پلي کوي، په ټوله نړۍ کې ناشوني دي. له افغانستانه د دې پدیدې لرې کول کوم آسانه کار هم نه دی.

**خبریاله:** ویل کېږي چې همدا پدیده هم پاکستان تمویلوي. آیا له پاکستان سره د امریکا د مرستو بندېدل به له دې سره هم مرسته وکړي چې داعش د پاکستان له لوري تمویل نه‌شي او د داعش لاس له افغانستانه لنډ شي.

**اصولي:** بالکل، پاکستان یې تمویلوي. ګورئ نومونه مهم نه دي، چې کومه ډله تمویلوي او کومه نه، کله چې فشار پرې راشي دوی به له ټولو هغو ډلو لاس اخلي چې افراطګرایي خپروي، دا په ټولو تاثیر کوي. له عربي نړۍ څخه په هوا کې داعش راځي او په افغانستان کې کېني، دا خو ناممکن دی دا خو په یوه طریقه راځي هغه طریقه څوک ده، هغه پاکستان دی. همدا اوس پرون تاسو ولیدل چې د افغانستان په لوګر کې پاکستانۍ چورلکه راځي، هلته کېني او پاکستاني ځواکونه ترې کوزېږي. علت یې دا دی چې موږ بې‌سرپوښه دېګ یو او هغه څه چې بهرنیان غواړي هغه دلته کېږي، د افغانستان هوایي قلمرو د بهرنیانو په لاس کې دی او څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی غواړي هغسې کېږي. کومه طیاره چې راځي او کومه چې بېرته ځي دا ټول د دوی په لاس کې دي. دلته د پاکستان چورلکې راځي او د افغانستان حکومت خبر نه وي چې دلته د پاکستان چورلکې څه کوي.

**خبریاله:** یعنې دا هرڅه د څه ښکارندوینه کوي؟

**اصولي:** دا د دې ښکارندویي کوي چې په افغانستان کې ټولې جنګي ډلې د پاکستان له لخوا، په هوایي او ځمکني ډول تمویلېږي. مثلاً په کندز کې جګړه روانه ده، چې هېڅ د ډیورند له کرښې سره کومه اړیکه هم نه لري، مګر هلته هم دغه ډلې د پاکستان لخوا تمویلېږي. لکه د حامد کرزي د حکومت په اوایلو کې کرزي وویل چې ځینې هلکوپترې له هلمنده ډکېږي او په کندز او شمال کې خالي کېږي؛ افراد انتقالوي، څو په شمال کې وضع خرابه کړي. په افغانستان کې چې هوایي قلمرو د بهرنیانو په لاس کې وي، بیا نو د دوی خوښه ده. دغه هلیکوپترې، د څه لهپاره افغانستان ته راغلې وې او که پاکستان وایي چې زموږ هلیکوپټر روسیې ته تله یا له روسیې څخه دلته راتله، نو دا خو د منلو نه ده. څنګه کېدای شي چې په هلیکوپټر کې روسیې ته لاړ شي یا راشي؟ نو بناً خبره دا ده چې افغانستان یو بېسرپوښه هېواد دی. زموږ مشرانو ته په دغو حساسو شرایطو کې پکار ده چې سره یو موټی شي؛ یوځای شي؛ پرمخ لاړ شي او د جنګ اصلي سرچینې، یعنې امریکا، ته داسې قناعت ورکړي چې افغانستان یو خپلواک هېواد دی.

**خبریاله:** له تاسو څخه ډېره مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۸

# د کندز ناسم وضعیت

**خبریاله:** د کندز د ناسم وضعیت په اړه په دغه بحث کې د سیاسي چارو کارپوه ښاغلی جمال ناصر اصولي لرو. دغه بحث به له ده سره یوځای وڅېړو، اصولي صاحب پخیر راغلئ، اصولي صاحب که څه هم د هېواد په ډېرو ولایتونو کې جګړه روانه ده، خو کندز یو ځل بیا له سقوط سره مخ دی، بالاخره وسله‌وال مخالفین له کندزه څه غواړي؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! په افغانستان کې روانه جګړه کومه داخلي جګړه نه ده، بلکې د دولت او پاکستان ترمنځ جګړه ده، د دې جګړې نور لاملونه هم دي چې تر ډېره یې بهرني لاملونه بللای شو یا هم ویلای شو هغه څوک چې د افغانستان له حکومت سره مرستې کوي، هغوی همدا جګړه اوږدوي. دوی دي چې د دې جګړې مشري کوي او په هر مسیر یې چې زړه وي په هغه یې بیولای شي. جګړه د افغانانو ترمنځ نه ده. دا جګړه د بهرنیان لپاره ارزښت لرونکې ده چې باید په کندز تخار او په دغو سیمو کې وي، ځکه دلته د شمال په ځینو برخو کې دا روانه جګړه د خپلو اهدافو لپاره توده ساتي، یو علت یې دا دی چې د منځنۍ اسیا یا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسیې لپاره یې تودوي، یا تر چین پورې. دوی خپل اهداف د همدې جګړو په وسیلې سره پلي کوي. له همدې امله مورږ ویلای شو چې بهرنیان غواړي، څو لکه د جنوب په څېر دا جګړه په شمال کې هم توده وي، ځکه خو یې دا جګړه تر تخار او بدخشان او ټول شماله ورسوله. دوی د خپلو هغو ستراتیژیکو اهدافو لپاره، چې له ډېرې پخوا یې جوړ کړي، باید دا جګړه توده وساتي. په همدې ډول دا جګړه اوس په فراه کې روانه ده، هلته هم د جنګ تودېدل غواړي. په همدې ډول په هلمند کې حتی تر ارزګانه څه وخت مخکې مو ولیدل چې حتا په پکتیا او خوست کې هم جګړې وې. په ننګرهار کې هم دي. یعنې په شمال کې د جګړو اوسېدلو یو لامل دا دی چې بهرنیان غواړي دا جګړه په ټولو سیمو کې وي او په راتلونکي کې داعش ته لاره پیدا کړي، څو داعش هم هلته حضور پیدا کړي.

**خبریاله:** آیا داعش اوس په شمال کې حضور لري؟

**اصولي:** زما په اند تر هغه چې فکر کېږي په شمال کې تر اوسه داعش نه‌شته، خو داعش څوک دي.

**خبریاله:** خو همداسې ګونګسې شته چې روسیه طالبانو ته په وسلو ورکولو سره غواړي د هغوی په وسیلې د داعش حضور وځپي. حال دا چې داعش تر اوسه په کندز کې نه‌شته.

**اصولي:** ګورئ زه وایم اول باید پوه شو چې اصلن داعش څوک دي؟ داعش خو له بل ځایه راغلې ډله نه ده؛ نه عربان دي او نه هم له منځنۍ آسیا څخه راغلي کوم څوک دي. سمه ده د بېلابېلو هېوادونو وګړي به پکې وي؛ پنجابیان، تاجکان، ازبک، پاتې نور خو ټول همدا طالبان دي چې ځانته د داعش نوم ورکوي. یا هماغه ډلې دي چې تقویه او تجهیزېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی نن که د طالب نوم لري سبا يې بيا نوم بدلېږي؛ ځانته د داعش نوم ورکوي. بله ورځ په بل نامه راڅرګندېږي. مطلب دا هرځای چې جګړې او ناخوالې وي، هلته نورې ډلې هم ریښې کوي. دوی هم پراخېږي او جګړې ته لا ډېره مخه کوي او له کومه ځايه چې دوی تمويل او تجهيزېږي؛ وسلې ورکول کېږي؛ د ټيپانو درملنه يې کېږي؛ معاشونه ورکول کېږي او... . نو اساسي ستونزه دلته همدا ده چې څنګه دا جګړه پايته رسولی شو. موږ مخکې هم وويل چې د جګړې پای او تحرک د بهرنيانو په لاس دی او موږ، خصوصن مشران مو، بايد بهرنيانو ته قناعت ورکړي.

**خبرياله:** په ډېريو ولايتونو کې خو پاکستاني جنرالان ليدل شوي چې د دې جګړې مشري کوي. څه فکر کوئ په کندز کې د چا لخوا دا جګړه تقويه کېږي او مشري يې څوک کوي؟

**اصولي:** يوه مسئله خو دا هم ده چې پاکستان غواړي بهرنيانو ته وښيي چې که د ډيورند د کرښې شاوخوا جګړه روانه ده، بيا يې نو په کندز کې څوک مشري کوي؟ دوی غواړي چې نړيوالو ته دا مسئله وښيي چې که موږ د ډيورند کرښې په شاوخوا کې په جګړو تورن يوو، يعنې نړيوال د ځان په هکله تېر باسي. په کندز کې هم همدا پاکستاني جنرالان دي چې د جګړو مشري کوي، خو پاکستان يو ټېکه‌دار شرکت دی چې تمويلېږي او پروژې يې په افغانستان کې عملي کوي. خو اصلي مسئله دا ده چې د چا لخوا تمويلېږي. پر دې ټول پوهېږي چې د پاکستان تر شا څوک دي، يوازې هماغه خلک دي چې هم موږ او هم دوی تمويلوي.

**خبرياله:** او په دې توګه غواړي خپلو موخو ته ورسېږي؟

**اصولي:** هو، بالکل. که چېرې داسې نه وي نو ايا هماغه امريکا، هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناټو او همدغه انګلستان او برېتانیا پر پاکستان فشار نه‌شي راوړلای؟ یعنې فشار دې هم نه راوړي، بلکې یوازې دې خپلې مرستې او تمویل پرې بند کړي.

**خبریاله:** ښه نو علت یې څه دی، چې افغان امنیتي ځواکونه د جګړو د مهارولو توان نه لري؟

**اصولي:** که موږ ووایو چې موږ په بشپړ ډول خپلواک یو، نو دا هم سمه نه ده. ځکه زموږ جګړې اوس هم بهرنیان رهبري کوي؛ که مخالفه ډله تقویه کوي دا ډله هم تقویه کوي؛ دوی په دې کې هم لاس لري چې چېرې باید جګړه وګټي او چېرې یې باید وبایلي؛ تجهیز یې هم مالوم دی چې افغان ځواکونو ته په کومه پیمانه تجهیز ورکوي. موږ ته دا هم مالومه ده چې دوی زموږ هوایي ځواک تر اوسه په سمه توګه تجهیز او تقویه نه کړ. دا هم یو دلیل کېدای شي چې دوی غوښتل په افغانستان کې همدا ډلې وروزي او لا یې پیاوړې او پراخې کړي، څو په آسانه مات نه‌شي.

**خبریاله:** خو بیا داسې هم ویل کېږي چې خپله امنیتي چارواکي له وسله‌والو سره لاس لري، ځکه خو جګړه نه مهار کېږي.

**اصولي:** دا هم یو لامل کېدای شي، موږ تاسو وینو چې خپله په کندز کې ځینې چارواکي او یا هم خپله د کندز د امنیې قومندان، هغه څوک دي چې په پخوانیو جګړو کې یې لاس لاره. دوی د کابل د کورنیو جګړو په وخت کې کابل وران او کورونه یې چور کړل. دوی په همدغه چور روږدي شوي دي، نو څوک چې یو ځل په غلا روږدي وي هغوی به پوستې او ولایت نه خرڅوي؟ خو ستونزه دا ده چې زموږ مشران او زموږ ولسمشر د دې پرځای چې دا ډول کسان راونیسي او محکمې ته یې کش کړي، هغه یې تول

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټول کړي، رتبې او مډالونه ورکوي. په کندز کې هماغه د امنیې قوماندان، د لوا قوماندان، د ملي دفاع او د کورنیو چارو وزارت ټول شته استازي، چې هلته دي، باید ونیول شي او څارنوالیو ته معرفي شي. دوی ولې تر اوسه په دې ونه توانېدل چې په ټول کندز کې مخالفین وځپي. علت یې څه دی؟ علت یې همدا دی چې دوی ناغېړي کړې ده؛ کار یې نه دی کړی؛ خپله دنده یې په پوره ژمنتیا نه ده ترسره کړې. دوی که په رښتینې توګه خپله دنده ترسره کړې وای، نو اوس به په کندز کې هېڅ مخالفه ډله نه وه.

**خبریاله:** خو ولسمشر وایي چې د کندز جنګ یوه تحمیلي جګړه ده او باید سیاسي او عجولانه عمل ونه شي، یعنې په دې هرڅه سره عامه افکارو ته ځواب ویلای شي؟

**اصولي:** د افغانستان جګړه ټوله تحمیلي جګړه ده. دا چې چا تحمیل کړې ټول پرې پوهېږو، ولې یې تحمیل کړې ده؟ ځکه دوی خپل حضور په جنګ کې ویني. زموږ مشران تر اوسه په دې نه دي توانېدلي چې بهرنیان او امریکایان قانع کړي چې یو سوله‌ییز افغانستان ستاسو په ګټه دی؛ هغه افغانستان چې په سوله کې ژوند وکړي او ستاسو حضور هم دلته ومني. مګر اوسنی غوندې په جګړه کې ښکېل افغانستان ستاسو په ګټه هم نه دی. لکه څنګه چې ویل کېږي دا جګړه دوی نه‌شي ګټلی، بلکې لا به یې پراخوي. زه وایم چې دوی به دا جګړه پراخه کړي، خو یوازې د همدغه هېواد (افغانستان) د ورانۍ سبب به کېږي. که موږ مخکې له روسانو سره جګړه وکړه خو خپل وطن مو وران کړ او که اوس موږ له امریکا سره جګړه کوو، دا نو بیا هم خپل هېواد ورانوو. همدا اوس د کندز اوسېدونکو خپل کورونه او هرڅه پرېښي او ژوند ورته سخت شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریاله:** که جګړه همداسې دوام ولري او دولت یې هم د محارولو توان ونه لري، نو فکر نه کوئ چې هېواد خپله د بحران خواته ځي؟

**اصولي:** که موږ او تاسو یو حقیقت ومنو، هغه دا چې که نن کندز له لاسه ورکړو، سبا به مو هلمند له لاسه وتلی وي. موږ ډېری ولایتونه په همدې ډول لیدلي؛ کېدای شي څو ورځې وروسته نور ولایتونه هم ووینو چې د سقوط په حال کې وي. په دغه مدیریت کې چې اوس شته کېدای شي همداسې وشي.

**خبریاله:** نو ولې دوی په امنیت کې بدلون نهشي راوستلای کله چې خپله هم وایي چې په امنیتي برخو کې دا ستونزې شته، بیا نو ولې په هغه کې بدلون نهشي راوستلای؟

**اصولي:** یوه موضوع خو دا هم کېدای شي چې د ځینو ولایتونو والیان او قوماندانان د پنځوس سلنې له خوا ټاکل شوي او بل پنځوس سلنه نهشي کولای چې په ډاډه زړه په هغه امر وکړي یا دوی له هغه ځایه برطرف کړي. کنه همدا کندز تاسو ګورئ چې هلته هغه چارواکي چې پخوا وو، اوس هم شته. یو والي به یې تبدیل شوی وي چې هغه د ولسمشر استازی و، مګر دوی نهشي کولای چې قوماندانانو ته کوم څه ووایي؛ له هغه ځایه د ملي پوځ قوماندانان له هغه ځایه نهشي تبدیلولای او که تبدیل یې هم کړي، بیا نو دوی په خپل منځ کې سره برخلافېږي او له یو بل سره لاس او ګریوان کېږي.

**خبریاله:** دوی وایي چې خلک له مخالفینو سره همغږي دي او پخپلو کورونو کې ورته ځای ورکوي، بیا نو ستونزه چېرې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** په اوايلو کې لومړی وار، تېر کال، کله چې کندز سقوط وکړ، نو کورني جنګسالارانو او قومندانانو په خلکو ظلمونه کول او دوی هم د تعصب او تبعیض له مخې تحرک کاوه، هلته دوی خلک هڅول چې له دوی سره هم تعصب وښيي، ځکه هر عمل عکس‌العمل لري، ځکه خو کېدای شي خلکو پخپلو کورونو کې ورته ځای ورکړی وي. نو په اوسنيو شرايطو کې هم يو وړوکی لامل دا کېدای شي، خو په لويه کې د حکومت کمزوري هم ده؛ د مديريت کمزوري هم او د کورنيو چارو او د دفاع وزارتونو کمزوري هم ده.

**خبرياله:** فکر نه کوئ چې يو بې‌تفاوته عمل هم دی ځکه يو ځل خو کندز سقوط کړی و او اوس يو ځل بيا هم ورسره مخ شو. دوی خپله کله چې يوه ولسوالي ونيسي او تصفيوي عمليات پکې وکړي، خو بېرته يې ولې نه‌شي ساتلی. دا هرڅه د دوی بې‌تفاوتي نه ښيي. دا خپله وضعيت نه خرابوي چې تصفيوي عمليات کوي او بېرته يې له لاسه ورکوي، آيا حمايوي قوا نه لري که څنګه؟

**اصولي:** د افغانستان د حکومت يا امنيتي ځواکونو کمزوري همدا ده، چې ډېری وخت ډېر ځايونه له مخالفينو څخه ونيسي، خو څه موده وروسته يې بېرته ورپرېږدي. دوی هغه او خپلې پوستې نه‌شي ساتلی. علت يې دا دی چې هلته سم مديريت نه‌شته؛ هلته محلي او په پوليسو او دفاع وزارت پورې اړوند قومندانان پيسې اخلي؛ تجهيزات او پوستې خرڅوي او خپل ځوانان د دولت په مخالفينو شهيدانوي.

**خبرياله:** د هغو خلکو ژوند ارزښت نه لري؟

**اصولي:** کله چې دوی پيسې اخلي، رشوت خوري، پوستې خرڅوي، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردیو میندو زامن ورته اصلن ارزښت نه لري او که ارزښت یې ورته لرلای، نو دوه ځلې به کندز سقوط نه کاوه. په لویه کې ویلای شو چې د دولت په رهبریت کې باید تصامیم ونیول شي او هغه خلک چې د کندز په سقوط کې یې لاس درلود، حتا که چارواکي هم دي، باید څارنوالۍ ته معرفي شي، خو داسې نه چې اول څارنوالي ته معرفي شي او بیا خوشې شي، بلکې دا موضع باید په ډېر دقت او ژوره توګه وڅېړل شي.

**خبریاله:** ډېره مننه اصولي صاحب. سیاسي شنونکی ښاغلی اصولي و چې د کندز د امنیتي وضعیت په اړه یې له موږ سره بحث درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۹

# پر پاکستان د امریکا فشار

در ادامه تیرگي روابط افغانستان و پاکستان امریکا از آن کشور خواسته تا حمایت خود را از گروه‌هاي دهشت‌افگن کنار بگذارد. در غیر آن تضعیف خواهد شد. حکومت افغانستان بیش از ده سال است که از پاکستان میخواهد تا حمایت خودش را از گروه دهشت‌افگن کنار بگذارد، اما این چنین مورد را پاکستان تا حال مدنظر نگرفته و جهان هم قبولش نکرده. از سوی دیگر حرف تمویل داعش مسله‌یی تازه ایست که افغانستان آنرا مطرح کرده و گفته میشود که در ازره یی لوگر مشاوران شورای امنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان آمده بودند و میخواستند که گروه داعش را در آن ولایت تمویل و تجهیز کنند، اما مورد دیگر که اکنون بحث‌های تازه یی را باز کرده اتهام حمایت شدن طالبان از سوی شورای امنیت ملی افغانستان است. سه مورد خیلی عمده را در این برنامه پس از خبر مورد بحث قرار میگیرد.

اما سوالات که مطرح میشود هشدار تازه یی امریکا به پاکستان چقدر جدی است، و از طرف دیگر گزینه‌های را که حکومت افغانستان و امریکا در دست دارند تا بیشتر بالای پاکستان فشار وارد کنند که از حمایت دهشت‌افگنی و تروریزم دست بر دارد، چه هست؟ من بیژن آرین روی همین موارد با مهمانانم بحث را دنبال خواهم کرد.

**آرین:** در این برنامه آقایان هریک محمد قاسم عرفانی استاد پوهنتون، و آقای جمال ناصر اصولی آگاه مسایل سیاسی با ما هستند. خیلی خوش آمدید. استاد از شما آغاز میکنم، هشدار آخر امریکا به پاکستان اینکه گفته اگر از حمایت دهشت‌افگنان دست بردار نشود با سرنوشت افغانستان سر دچار یا تضعیف خواهد شد، چقدر این مورد را جدی می پندارید؟

**عرفانی:** بنام خدا، سلام بشما، مهمان و تماشاچیان تان، همه میدانیم که در چند سال گذشته با بدست آمدن بعضی اسناد پاکستان بعنوان حامی دهشت‌افگنی در جهان مطرح بوده که کشته شدن اسامه در پاکستان، شورای کویته، شورای پشاور، شبکه حقانی و همه دهشت‌افگن‌ها را پناه داده، و دسته‌بندی‌های که در اواخر در وزیرستان صورت گرفت و طالبان را به خوب و بد تقسیم کرد و با دهشت‌افگنان بصورت گزینشی برخورد کردند. بنابر این در غرب بخصوص در امریکا شاهد ملاحظات بودیم که خواستار این بودند که پاکستان باید در این زمینه قاطعیت خودش را نشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدهد و این در حالیست که حکومت افغانستان منظم و بصورت مکرر تکرار کرده اند، که پاکستان در زمینه مبارزه با تروریزم صادقانه برخورد نمیکند.

**آرین:** دقیقا بیش از یازده سال میشود.

عرفانی: بلی، و گفته که پاکستان از طالبان بحیث یک آله فشار علیه افغانستان کار می گیرد، که این همه نه تنها افغانستان را با مشکل مواجه ساخته، بلکه دست آوردهای چندین سال گذشته علیه تروریزم را نیز با خطر مواجه ساخته از این جهت است که مواضع ضد پاکستانی در غرب برجسته تر میشود، اما تا هنوز هم ما شاهد اقدامات قاطع کشورهای دیگر علیه پاکستان نیستیم و ای هشدارهای فعلی هم یک امریست که بارها توسط خود پاکستاني ها هم گفته شده که ناامنی و بی‌ثباتی افغانستان به معنی ناامنی و بی‌ثباتی پاکستان است.

**آرین:** جناب اصولي صاحب، آیا باز هم بازيهای در حال اجرا هست و همان سناریو يې را که امریکا قبلن انجام داده بود و پاکستان را هشدار داده بود. و بار دیگر فقط هشدار داد یا اینکه حرف تازه یی در این هشدار موجود است؟

**اصولي:** د لوی او بخښوونکي خدای په نامه! سلامونه تاسو او ټولو ته! یوې موضوع ته غواړم اشاره وکړم. کله چې د امریکا لخوا په پاکستان غږ کېږي، د دې هرڅه پرځای دې امریکا پاکستان ته یوازې دا موضوع مطرح کړي چې د هغو ډلو تمویل او تجهیز دې بند کړي چې د افغانستان په خلاف جنګېږي او دا هرڅه دې په واضح ډول ورته ووایي. دوی دې همدا مسئله له خلکو، له نړۍ او له ولسه نه پټوي. ځکه نړۍ افغانان او ټول پر دې پوهېږي چې د پردې ترشا دا تمویل، چې طالبانو ته ورکول کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک پاکستان ته ورکوي. بیا هم موږ ویلای شو چې همدا خلک دي چې دوی کله پاکستان او کله نورو ځایونو ته ګوابښونه کوي.

**آرین:** یعنې حالا امریکا همان بازي موش و پشک را به گونه یی دیگر اجرا می کند؟

**اصولي:** اساسي موضوع دا ده، کله چې په هلمند کې جنګ دی؛ د ګرمسیر په ولسوالۍ کې د امریکایانو اډه ده، په یوه بله ولسوالۍ کې هم اډه لري، خو طالبان هلته له دوی سره جګړه نه کوي، بلکې راځي پر افغانانو بریدونه کوي. خو همدا امریکایان، چې هلته مېشت دي، طالبانو ته هېڅ نه وایي، بلکې داسې هم ویل کېږي چې له دغو اډو او بېسونو څخه د شپې هلیکوپټرې پورته کېږي او په نامعلومو ځایونو، د طالبانو په ساحو کې کېنې او دوی ته اکمالات کوي. دا د لوبې هغه اړخ دی چې اوس په حقیقت ولاړ دی.

**آرین:** یعنې امریکا حال غیرمستقیم طالبان را حمایت میکند، یعنې به وسیله پاکستان آنان را حمایت میکند.

**اصولي:** خبر دا ده، که چېرې امریکا له دوی څخه ملاتړ نه کولای، دوی پر پاکستان فشار راوړلای شوای او یا یې هم پر پاکستان خپلې مرستې او کمکونه قطع کولای شوای. دغه خبرې چې اوس په مطبوعاتو کې اورو – چې په پاکستان یې غږ کړی چې که له تروریزم څخه لاس وانخلي، نو پر تاسو رااوړو، دغه ټول یوازې نمایشي موضوعات دي، ځکه پاکستان یو قراردادي شرکت دی او دا پروژه چې هر چا ورکړې ده، هغه خپله همدوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**آرین:** یعنې شما حالا این اقدام امریکا را یک اقدام فصلي میخوانید؟

**اصولي:** که چېرې امریکا په همدې موضوع کې صادقه وي، نو به په اوایلو کې یې، چې طالبان راټولېدل او یوځای کېدل، پر پاکستان غږ کولای شوای چې له دغه کاره لاس واخلي. ځکه هغو په میرانشاه، کوټه او د ډیورند د کرښې اېخوا په ټولو سیمو کې طالبانو ته اډې ورکړې دي. امریکا دا هرڅه لیدل، د هغه وخت ولسمشر په امریکا غږ کاوه چې تروریزم د افغانستان په کلیو او بانډو کې نه دی، چې دوی به زموږ پر کلیو او کورونو بمبار کاوه؛ د شپې به د خلکو کورونو ته اوښتل، بلکې تروریزم هلته دی، چې تاسو یې وینئ. تاسو یې وینئ چې پروژې ورکول شوې او پاکستان یې تمویلوي. هلته روزل کېږي؛ هلته یې جلب او جذب کېږي؛ هلته یې ساتنه او درملنه کېږي. پاکستان په همدې موضوع کې صادق نه و او نه دی. همدارنګه پاکستان دومره ځواکمن او غیرتي هېواد هم نه دی چې د امریکا د غوښتنو په خلاف رامیدان ته شي. کله چې طالبان له ماتې سره مخ شول، ټولو ولیدل چې د طالبانو مشران یې لوخ او لغړ په امریکایانو وپلورل. علت یې څه و؟ ځکه چې هلته امریکایانو پوه کړل چې دغه کار وکړئ، په دوی دا هرڅه امریکا وکړل. اسلام پاکستان ته هغه وخت مطرح نه و او نه اوس ورته ارزښت ورکوي. مسئله دا ده چې هر هغه څه چې امریکا غواړي پاکستان یې پلي کوي. دوی باید پر پاکستان هغه مرستې او کمکونه بند کړي چې د امریکا لخوا ورکول کېږي او په تروریزم مصرفېږي.

**آرین:** آقای اصولي سوال دیگر اینکه سرتاج عزیز می گوید که شورای امنیت ملی افغانستان حامي طالبان است. این مورد را چقدر میتواند عقل سلیم یک شهروند افغانستان یا جهان بپذیرد که کشور که حالا خودش

(c) ketabton.com: The Digital Library



حامی تروریزم است آن کشور بر علیه کشوری اتهام وارد کند که هر روز شهروندان آن کشور را تروریزم به خاک و خون می کشاند.

**اصولي:** هر کله چې افغانستان په داسې یو مقام کې وای چې له پاکستان سره یې سیالي کولای شوای، بیا نو پاکستان دا کار نه‌شو کولای. موږ افغانانو خپله ځان د پنجابیانو او پاکستانیانو له سیالۍ څخه وایستلو؛ موږ خپل وطن ړنګ کړ؛ اردو مو خرابه کړه؛ خپل ټانګونه طیارې او ټول نظامي وسلې هرڅه مو پر پاکستان او ایران وپلورل؛ ځانونه مو دېته اړ کړل چې اوس یو پنجابي هم راباندې رشخند وهي. دا د سرتاج عزیز اوسنۍ خبرې ټول رشخند دی چې په موږ یې وهي. موږ د تروریزم قرباني یو، تروریزم همدا پاکستان رالېږي، همدا سرتاج عزیز یې رالېږي، دوی یې تمویل او تجهیزوي، دوی یې پالي، وسلې ورکوي، ساتنه او درملنه یې کوي. بیا وایي چې دا افغانستان حمایه کوي. ښه خو به دا وی کله چې په افغانستان کې یو موټربم خلاصېدای، په اسلام‌آباد کې لس داسې موټر بمونه خلاصېدای! خو دا چې موږ کمزوري یو، ځکه خو موږ داسې کار نه‌شو کولای. ځکه موږ په خپل منځ کې په قومونو وېشل شوي او پخپلو کې سره ورغلي یو.  یوه پنجابي ته په بده نه‌شو کتلای او خپل حق ترې نه‌شو غوښتلای، علت یې همدا دی چې موږ بې‌اتفاقه قوم او په خپل منځ کې نه جوړېږو، ځانونه مو په قومونو، ژبو او په سمتونو وېشلي. سرتاج عزیز ته موږ څه نه‌شو ویلای. دا هغه سرتاج عزیز دی چې د ده نیکه او غورنیکه افغانانو مسلمان کړی وو.

**آرین:** حال اینکه آیا پاکستان واقعاً هم حاضر خواهد شد تا از حمایت گروه‌های دهشت‌افگن دست بردارد؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** پاکستان د تروریزم ځاله، مرکز او د پاللو تمځایونه لري؛ هلته روزل کېږي بیا نړۍ ته خپرېږي؛ سیمې او هند ته ځي؛ افغانستان ته راځي؛ امریکا او فرانسې ته ورځي. دوی یې هرې خواته خوروي، مگر امریکا څه نه ورته وایي. ما یادونه وکړه چې که چېرې امریکا له دوی سره لاس نه لرلای، بیا به یې پر پاکستان تمویل بند کړی وای.

**آرین:** حال آنچه شما گفتید؛ آیا کشورهای دیگر واقعن نیمدانند که تمویل کننده اصلي تروریزم امریکا است و پاکستان هم به نحوي این پروژه را اجرا میکند، آیا کشورهای دیگر نمیتوانند در مقابل پاکستان بپا خیزند؟

**اصولي:** سل په سلو کې پر دې پوهېږي، خو د دوی ملي گټې سره شریکې دي، موږ هغه هېواد یو چې په نړۍ کې راباندې تجارت کېږي. پر پاکستان هم تجارت کېږي. دلته د هغو اغېزمنو هېوادونو تجارت روان دی چې هغوی په نورو هېوادونو تاثیر او په دویمو یا درېیمو تجارت کوي، لکه په موږ چې تجارت روان دی. په موږ سوداگري کوي، منافع راټولوي د همدغو افغانانو پر سر چې گرو کېږي، کرایه کېږي او پردیو ته په لاس ورځي. موږ خرڅېږو، که چېرې موږ نه خرڅېدای، دغه حال به راباندې نه وای. تر ټولو غوره بېلگه یې هم دا ده چې اوس هم زموږ مشران په ارگ کې له یو بل سره نه جوړېږي. ډاکتر عبدالله په ولسمشر پسې خبرې کوي او ولسمشر بیا په ډاگتر عبدالله پسې غږېږي. تر دې بل لوی شرم نه‌شته. دوه کاله وروسته بیا هم له یو و بل سره نه جوړېږي.

**آرین:** آقای اصولي کدام گزینه های هستند که حکومت افغانستان و امریکا به دست دارند تا به کمک آن بالای پاکستان فشار وارد کنند.

**اصولي:** که چېرې زموږ مشران او رهبران هوښیار و اوسي، نو امریکا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید، په هر ډول چې وي، دا قناعت ورکړي چې یو سوله‌ییز افغانستان د امریکا په ګټه دی او په جګړه‌ییز افغانستان کې د امریکا ګټه نه‌شته. دا باید ورته په ډاګه شي چې که امریکا په سیمه کې د خپل حضور غوښتونکې وي، نو دا هرڅه په سوله کې ورته شوني دي، کنه امریکا به هم له افغانستانه همداسې وځي، لکه څنګه چې شوروي ووت.

**آرین:** تشکر آقای اصولي و عرفاني ممنون تان که تشریف آوردید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۰

## د افغانستان او پاکستان د سولې دويم پړاو

بډايو هېوادونو پرېکړه کړې چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سولې خبرو دويم پړاو ملاتړ وکړي او ولسمشر هم په همدې موخه د ډسمبر په راتلونکې مياشت کې پاکستان ته سفر لري. په دغه سفر کې به دوی د سولې پر روانو خبرو بحث وکړي. پر همدې موضوع د بحث لپاره په ستوډيو کې راسره د سياسي چارو کارپوه ښاغلی جمال ناصر اصولي دی. اصولي صاحب ستړي مه شئ، په خير راغلئ.

**اصولي:** سلامت اوسئ، سلامونه تاسو او ټولو ليدونکو، اورېدونکو ته!

**خبرياله:** اصولي صاحب! لکه څنګه چې ولسمشر بيا هم نيت لري چې د ډسمبر په مياشت کې پاکستان ته سفر وکړي او په هغه غونډه کې ګډون وکړي چې د افغانستان او پاکستان د سولې په اړه پکې خبرې کېږي. تاسو دا غونډه څنګه ارزوئ، آيا کومې لاسته‌راوړنې به ولري.

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! زما په اند اصلي موضوع دا ده چې له پاکستانه وغوښتل شي چې په صادقانه ډول د سولې له پروسې سره همکاري وکړي. هغه همکاري داسې نه چې دوی طالبان راولي او د سولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېز ته یې کېنوي، بلکې دوی دې یوازې هغه تجهیزات او تمویل، چې طالبان یا داعش یا نورې ډلې یې له دوی څخه ترلاسه کوي، قطع کړي. بیا نو سل په سلو کې په افغانستان کې سوله راځي. د افغانستان سیاسیون باید پر دې فکر وکړي چې پاکستان او بیا په لویه کچه امریکا ته دا قناعت ورکړي چې پاکستان د همدغو مخالفو ډلو له تمویل او تجهیزه لاس واخلي. بیا نو په افغانستان کې سوله راځي. دغه جرګې، شوراوې او دا ناستې، که په هر ځای کې وي، د افغانستان د سولې له پروسې سره هېڅ کومه مرسته نه کوي. سمه ده چې د خبرو یوه لاره ده، باید خلاصه وي او په دې مورد باید خبرې وشي، خو زه وایم چې په همدغو خبرو کې دوی د افغانستان دا جګړه لا ډېره اوږدوي. یوه ناسته په یوځای کې وکړي او بله ناسته په بل ځای کې. او همداسې دا پروسه له یوې ورځې څخه بلې ته غورځوي، څو چې د افغانستان جګړه لا پېچلې کړي. تاسو ګورئ چې د افغانستان جګړه د تېرو دوو، دریو کلونو په پرتله لا پېچلې شوې ده، علت یې دا دی چې په هغه وخت کې موږ د طالبانو یو رهبر او یوه ډله لرله، خو اوس موږ د طالبانو دوې ډلې لرو، ترڅنګ یې داعش هم شته او همدارنګه د حکمتیار یا اسلامي حزب بله ډله هم ده. دلته یعنې څلور بېلابېلې ډلې شوې او داعش ډله هم، چې نړیوالې ریښې لري، د افغانستان د سولې او جګړې مسایل د لا ډېرو پېچلتیاوو خواته اړوي. زه وایم چې په لویه کې د افغانستان سیاسیون باید له لویو قدرتونو سره خبرې وکړي، دوی ته قناعت ورکړي او ورته ووایي چې یو سوله‌ییز افغانستان ستاسو په ګټه دی او بیا هماغه لوی قدرتونه پر پاکستان فشار راوړي، څو چې د افغانستان له سولې سره صادق پاتې شي. دا غونډې زما په نظر له یوې ورځې څخه بلې ته د افغانستان د سولې خبرو اچول او د جګړې اوږدول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریاله:** اصولي صاحب فکر نه کوئ، چې دولت د سولې د راوستلو پر لاره چارو نه پوهېږي، یعنې دوی تر اوسه د سولې د راوستلو لپاره داسې یوه عیني ستراتېژي نه ده خپله کړې، ځکه چې دوی پوهېږي چې د افغانستان جګړه د پاکستان جګړه ده،

دوی نړیوالو ته ولې شواهد وړاندې نه کړل چې د افغانستان جګړه د پاکستان جګړه ده، کله قطر ته، کله هم چین ته او کله هم پاکستان ته د سولې لپاره مراجعه کوي.

**اصولي:** زموږ سیاسیون هم ملامت نه دي، ځکه چې د افغانستان جګړه کورنۍ نه، بلکې دا هغه استخباراتي جګړه ده چې رېښې یې تر واشنګټن او لندنه رسېږي دا د سیمې هېوادونه خو بیا بېخي بېله مسئله ده چې دوی څنګه عملن پکې ښکېل دي. د افغانستان د سولې پروسه یوازې د افغانستان او پاکستان ترمنځ نه ده او که داسې ووایو چې د طالبانو او حکومت ترمنځ نه ده، د دې ریښې اوږدې دي او د دغو اوږدو ریښو د وچولو لپاره یوې داسې ستراتېژۍ ته اړتیا ده، څو په دې وتوانېږي چې همدا لوی قدرتونه، چې دغو رېښو ته اوبه ورکوي، پر دې پوه کړي، چې افغانستان په جګړه کې د هېچا په ګټه نه دی؟

**خبریاله:** که دا جګړه استخباراتي ده بیا موږ هم استخبارات لرو، نو څه وخت موږ له خپلو استخباراتو څخه کار اخیستلای شو او که زموږ استخباراتي او کشفي ارګانونه هم کمزوري او ضعیف دي؟

**اصولي:** هر کله چې موږ د خپل پوځ او استخباراتو او ټولو نظامي برخو د یوې میاشتې مصرف د پوره کولو توان ونه لرو، یا یې معاش ورکړو یا یې حتا تېل نه‌شو پوره کولای، بیا څنګه کېدای شي چې زموږ استخبارات دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوي شي چې د هغه چا استخبارات د ځان تر سیوري لاندې راولو چې هغه زموږ دا ټول مصارف راکوي. له همدې امله ویلای شو چې موږ دریېیم هېواد یو او دریېیم هېوادونه په همدغو ستونزو کې ښکېل وي. هغه هېوادونه چې دریېیمو هېوادونو ته راځي او په سیاسي اوضاع یا حکومت پانګونه کوي، دوی خپلې ګټې لري، دوی تل کوښښ کوي چې د خپلو اهدافو لپاره په دغو هېوادونو کې جګړه توده وساتي. د دوی اهداف په یوه قوي دولت کې عملي کېدای نه‌شي. د دوی هېواد په یوه کمزوري جګړه‌ځپلي او بې‌اتفاقه هېواد کې په ډېره آسانه توګه عملي کېږي. د افغانستان جغرافیایي موقعیت یو داسې موقعیت دی چې موږ او تاسو یې تر یو حده خراب کړي هم یو. بهرنیانو هر ځل پر افغانستان د خپلو اهدافو لپاره یرغل کړی، ځکه زموږ همدا جغرافیایي موقعیت د دې لامل شوی چې دوی باید اول افغانستان ته راشي. که روسیې یا شوروي اتحاد د افغانستان کنټرول غوښت، څو له هغې وروسته تر ګرمو اوبو ورسېږي دا د هغوی لپاره یوه موخه وه. که اوس امریکا غواړي چې افغانستان په خپل لاس او کنټرول کې ونیسي، نو منځنۍ آسیا او روسیې ته سور څراغ ورکوي. همداراز چین ته ځکه چې هغه یو داسې هېواد دی چې په راتلونکو وختونو کې د امریکا لپاره به یوه بشري او اقتصادي خطر رامنځته کوي. د امریکا خپل لیدلوری او فکر د لسو یا شلو کالونو لپاره نه، بلکې هغه د پنځوسو او سلو کالونو لپاره دی چې دوی په راتلونکو سلو کالونو کې له چینه څه توقعات لري. له همدې امله دوی غواړي پاکستان په دې توګه، لکه څنګه چې ترهګري ترې خپرېږي او افغانستان ته راځي، دا ځای ناامنه کوي، خپله د پاکستان ځینې سیمې هم باید ناامنه وي، څو دوی وتوانېږي چې خپل ستراتېژیک اوږدمهاله پلانونه په ډېره آرامه توګه پرمخ یوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریاله:** اصولي صاحب، اوس چې پاکستان د افغانستان د سولې د خبرو مشري کوي، د دوی صداقت خو ټولو ته ښکاره دی، نو څه ضمانت شته چې بیا به د افغانستان د سولې په وړاندې خنډ نه جوړوي.

**اصولي:** اصلن داسې ده چې زموږ د سولې او جګړې ټول موضوعات له هغو قدرتونو سره دي چې د افغانستان پوځ حمایه کوي. یا هم که داسې ووایو چې هغه ځواکونه چې د پاکستان پوځ حمایه کوي او هغه پیسې چې دوی یې په افراطیانو لګوي، چې په افغانستان کې وضعیت نارامه کړي. زموږ د سولې ټول واک د دوی په لاس کې دی، دوی پوهېږي چې څنګه دلته سوله راولي او څنګه په دې سیمه کې جګړه ګرمه وساتي. دوی غواړي څو په افغانستان کې داسې حرکات وکړي چې د سولې همدا روانې خبرې د جنګ په یو سبب بدلې کړي. خلاصه دوی په ډېره آسانۍ دا هرڅه کولای شي. زموږ د جنګ اساسي مهارول او کنټرول د دوی په لاس کې دی. دا چې زموږ سیاسیون دوی ته څنګه دغه قناعت ورکولای شي چې افغانستان د جنګ په حالت کې ستاسو په ګټه نه، بلکې خپل اهداف او ستراتیژۍ د یوه سوله‌ییز افغانستان په شتون کې عملي کولای شئ.

**خبریاله:** یعنې تاسو فکر کوئ چې اوس د افغانستان پر وړاندې د پاکستان سیاست بدلون موندلی چې د سولې خبرې پرمخ بیایي؟

**اصولي:** پاکستان له پیدایښته تر دې دمه دوه‌مخی سیاست لوبولی. اوس خو په جنګ کې ښکېل دی. دوی د ظاهرشاه په دوران کې هم خپل اهداف لرل او د افغانستان لپاره یې کندې کېندلې، داسې ډېرې بېلګې یې شته. اوس چې پاکستان چیغې او نارې وهي چې موږ په افغانستان کې سوله غواړو یا د افغانستان د سولې په مسایلو کې ونډه غواړو، دا هم هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې اوږدول دي او افغانانو ته د سولې په خبرو بازي ورکوي. دوی غواړي چې افغانان د سولې په همدغو خبرو کې بوخت وساتي، کله یې چې افغانان دلته بوخت کړل، دوې درې میاشتې وروسته بیا دا خبرې ناکامېږي او دوی بیا تر شپږو یا اتو میاشتو دا جګړه توده ساتلی شي او نړۍ ته ښوولای شي چې موږ خو عملن د افغانستان لپاره د سولې پر مسایلو بوخت یو.

**خبریاله:** یعنې اوس هم کومې خبرې، چې دوی یې د سولې په اړه کوي، د دوی خپل سیاست او که بیا هم هغه کړۍ دي چې له پاکستانه ملاتړ کوي او وسله‌وال روزي؟

**اصولي:** د پاکستان سیاست خپل نه دی. دا چې هغوی ته سیاست او ستراتېژي څوک جوړوي، هغه موږ او تاسو عملن وینو چې انګلیس او امریکا ده. دوی چې هرڅه پاکستان ته وایي پاکستان په همغه ډول حرکات کوي. که داسې نه وي پاکستان کې مېشت هغه ترهګر، چې د افغانستان یا نړۍ پر ضد دي، هلته یوازې پټنځایونه نه لري، بلکې هلته یې ښکاره اډې ورکړې چې ټول یېویني. له همدې امله که چېرې امریکا یا انګلیس غوښتلای چې پر پاکستان فشار راولي نو په یوه میاشت کې یې دا ټولې ترهګرې ډلې، چې د افغانستان د نظام پر ضد جنګېږي، ختمولای شوای.

**خبریاله:** یعنې چې هغه خبره بیا هم رښتیا ده چې د افغانستان د سولې کیلي د امریکا او پاکستان په لاس کې ده؟

**اصولي:** بالکل، په دې کې هېڅ شک نه‌شته. دا هرڅه موږ ته ببخي په سمه توګه ښکاره دي. یوازې یوه فشار ته ضرورت دی چې پر پاکستان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولي او ورته ووايي، يوازې هغه ډلې، چې ستا په سيمه کې دي، ويې باسه او تمويل يې بند کړه.

**خبرياله:** بالاخره پاکستان د سولې په بدل کې له افغانستانه څه غواړي؟ ايا افغانستان د دې توان لري؟

**اصولي:** په ټوليز ډول د پاکستان يوه اصلي موخه ده چې هغه د ډيورند کرښه ده. د ډيورند دغه منحوثه کرښه، چې انګليسانو په هغه وخت کې د افغانانو يا پښتنو پر زړه راتېره کړه، دغه کار يې د دې لپاره وکړ چې دغه دوه ملکونه تل په جګړه پاتې شي. همدا شان يې د هند او پاکستان ترمنځ هم همداسې يوه کرښه راتېره کړه چې هغه د کشمير نيمايي کول وو. که کشمير يې اېخوا يا دېخوا ته واى او يا هم آزاد هېواد واى، نو دا ستونزه به يې له دوی سره حل واى. دغه راز د ډيورند د اېخوا پښتانه که آزاد شوي واى بيا به دا ستونزه نه واى. پاکستان د خپلې بقا او د خپلې ځمکنۍ بشپړتيا لپاره تل په افغانستان کې جګړه ګرمه ساتي، هېڅکله نه غواړي چې په افغانستان کې يو ځواکمن او قوي نظام رامنځته شي چې په آرامه ساه واخلي، ځکه که يو ځل افغانان قوي او هوسا شول، بيا پر دوی غږ کوي چې زما خاوره خو تا قبضه کړې ده. همدا ملحوظات دي چې پاکستان ترې ډارېږي؛ دلته همدغه يو واضح او ښکاره هدف موجود دی او که همدغه هدف دلته نه واى، نو د پاکستان لپاره هم يو سوله‌ييز او هوسا افغانستان د هغوی په ګټه دی، ځکه چې په اقتصادي لحاظ هومره راکړه ورکړه، چې موږ يې له پاکستان سره لرو، له بل هېڅ هېواد سره يې نه لرو. وينو چې له پاکستان سره زموږ د تجارانو او هېوادوالو سوداګري هومره ډېره ده چې له بل هېڅ کوم هېواد سره په دې پيمانه نه ده. له همدې امله کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دلته جنګ وي. بیا همدا اقتصادي مسایل خرابېږي. زما په اند پاکستان باید پر دې هم پوه شي چې که دوی لس یا شل یا سل کاله نور هم په افغانستان کې دا ناامني وساتي او همداسې دوام ورکړي، خو یوه ورځ به دا هرڅه بدلون مومي، ځکه د افغانستان د ټولو وګړو، حتا ماشومانو، په زړونو کې د پاکستان په اړه هومره عقده ځای پرځای شوې چې هېڅکله به پاکستان دلته د بقا خوب ونهویني. ځکه بالاخره به دلته سوله راځي او دا جنګونه به ختمېږي.

**خبریاله:** یوه بله مسئله دا ده چې ویل کېږي ولسمشر په دې غونډه کې د ګډون تصمیم نه درلود او له دغه ګډونه یې ډډه کړې وه، بیا پاکستان یو پلاوی ورته د جرګې په توګه استولی و چې له هغې وروسته بیا ولسمشر په دې غونډه کې ګډون ومانه. دلیل یې څه و چې لومړی یې له ګډونه ډډه کړې وه او بیا یې بېرته رضایت وښود؟

**اصولي:** اصلن ولسمشر اشرف غني او اجرائیه رییس دواړو او په ټوله کې حکومت لومړی ښه پرېکړه کړې وه چې پاکستان ته یې ویلي وو چې مونږ تر هغې د سولې پر پروسه له تاسو سره خبرې نه کوو، څو چې تاسو له طالبانو سره خپل تمویل او تجهیز ته د پای ټکی نه وي ایښی. دا ښه او ګټور دریځ و، اوس هم که ولسمشر غني همدې غونډې ته ځي، زما په اند دا یوه بله تېروتنه ده د دوی همدغه دریځ په هغو کې یو نرمښت راولي. ولسمشر باید د دوی دا جرګه نه وای منلې او په خپل دریځ ولاړ وی. څو چې بهرنیانو پر پاکستان یو څه فشارونه وارد کړي وای، چې دوی د افغانستان د سولې په بهیر کې سمه مرسته کړې وای. خو اوس یې دغه دریځ نرمېږي او که دغه دریځ یې نرم شو، بیا ویلای شو چې په راتلونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې به موږ له دغو هرڅه ښه پایله ونه لرو او دا به هم د سولې د هغو خبرو په څېر وي لکه څنګه چې موږ په تېرو وختونو کې درلودې. تاسو ولیدل چې په دغو وروستیو کې پاکستان له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړې او کله چې دوی ولیدل چې افغانان او طالبان یو له بل سره جوړېږي، نو د ملا عمر مرګ یې اعلان کړ.

**خبریاله:** یعنې یو خنډ یې ورته جوړ کړ.

**اصولي:** یو خنډ یې ورته جوړ کړ او همدا خبره وه چې د سولې له پروسې سره پاکستان صادق نه دی پاتې شوی. تاریخ شاهد دی او ټول افغانان پر دې موضوع ښه سم پوهېږي. پاکستان که هرڅه ووایي، چې موږ سوله راولو یا په دې پروسه کې صادقانه عمل کوو، خو بیا هم ټول پرې پوهېږي دا موضوع پخوا حل شوې ده، نور باور پرې نه دی پکار.

**خبریاله:** ځینې سناتوران او کارپوهان هم پر دې باور دي چې ولسمشر باید په دې غونډه کې ګډون ونه کړي. ځکه دا هم د پاکستان د نه صداقت له وجې ده چې د افغانانو په پوره هڅې سره سره بیا هم دلته سوله نه راځي. نو بیا هم د ولسمشر پالیسي ولې په یوه سیاست نه بدلېږي؟ له ستونزو سره ښه پوهېږي چې په افغانستان کې جګړه د پاکستان جګړه ده؛ د تروریزم ټولې ځالې په پاکستان کې دي؛ مخالفین ټول پاکستان روزي، بیا نو هم د ولسمشر پالیسي ولې نه بدلېږي؟

**اصولي:** ولسمشر غني که په دې غونډه کې ګډون وکړي، زما په اند دا یې یوه تېروتنه ده او د دوی په هغه دریځ کې نرمښت څرګندوي یا زموږ د هغه سیاست یو ډول کمزوري کول دي چې د پاکستان پر وړاندې یې لرو یا راسره د سولې په مقابل کې شته. همدا یې لامل دی چې موږ تل بایللې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ تل د يوې موضوع په اړه کلک دريځ نه لرو؛ موږ د جنګ په اړه هم کوم کلک هوډ نه دی لرلی او موږ د سولې په اړه هم همدا کار کړی.

**خبرياله:** اوس چې په دې غونډه کې ګډون کوي، ستاسو په اند د بحث لومړی خبرې به يې څه وي، پر څه بايد خبرې وکړي؟

**اصولي:** زما په اند ولسمشر غني به همدا مسايل، چې په هغه کلک دريځ کې يې لرلې، يو څه مکث ولري او په همدې به خبرې وکړي، همدا مسايل به نړيوالو ته ووايي چې تروريزم په افغانستان کې نه، بلکې ريښې يې له پاکستانه دي او تاسو پر همدغه پاکستان فشار راولئ. او دا به يوه ښه موضوع هم وي. لومړی خو دا چې هېڅ تللی نه وای، دا به ښه و، خو دا چې اوس ځي نو ښه به دا وي چې پر همدې موضوع ټينګار وکړي او نړيوالو ته همدا مسايل وښيي چې د تروريزم ريښې په پاکستان کې دي، نه په افغانستان کې.

**خبرياله:** اصولي صاحب ډېره مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱

## له امریکا څخه پر پاکستان د نور فشار غوښتنه

پر پاکستان د فشارونو غوښتنه د افغانستان همېشنۍ هڅه وه، خو لیدل کېږي چې په دې برخه کې لا هم د پام وړ پرمختګ نه دی شوی. لکه څنګه چې بیا هم پاکستاني ځواکونو د ننګرهار پر لعل‌پورې ولسوالۍ توغندیز بریدونه کړي او د ریپوټونو په وینا مخکې هم راغلي. دا په داسې حال کې ده چې امریکا د افغانستان او پاکستان په تړاو په خپلو نویو پالیسیو او کړنلارو کار کوي. چېرې چې د امریکا نوی ولسمشر ډونالد ټرامپ به وروستۍ پرېکړه پرې کوي. دا په داسې حال کې ده چې اېخوا بیا د افغانستان سیاسیون لا هم له امریکا څخه غواړي چې دوی پر پاکستان فشارونه ډېر کړي. د واشنګټن لخوا د کابل او اسلام‌آباد په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستي دريځونه او دغه راز د پاکستان مداخلې او د دغه هېواد راتلونکې په اړه بحث کوو. د بحث لپاره د سياسي چارو شنونکی ښاغلی جمال ناصر اصولي راسره دی. اصولي صاحب ښه راغلاست. ډېره منته چې راغلئ.

**اصولي:** منته ژوندي اوسئ.

**خبريال:** پاکستان تاسو په کوم حالت کې وينئ، آيا په رښتيا هم لکه هغه ډول، چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت وروستي ريپوټ څرګنده کړې ده، له څلور ميليارد ډالرو مرستو څخه اوس د دوی مرستې تقريباً څه د پاسه څلور سوه ميليونه ډالرو ته راغلې. هغه مرستې چې دوی يې په پوځي برخه کې له پاکستان سره کوي يا د دوی په وينا چې د ترهګرۍ د ختمولو لپاره يې ورسره کوي. د دې ترڅنګ د پاکستان پر وړاندې د فشارونو او د منزوي کېدو يادونه يې کېږي. اصولي صاحب تاسو يې په کوم حالت کې ګورئ، واقعاً پاکستان نن ورځ په کوم حالت کې دی او آيا د امريکا په ليدلورو کې توپيرونه راغلي؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! پاکستان هغه وخت منزوي کېدای شي چې له ترهګرۍ لاس واخلي او ترهګرې ډلې تمويل او تجهيز نه کړي. اوس چې موږ او تاسو وينو، نه يوازې دا چې دوی د طالبانو ډله تمويل، تجهيز او جلب و جذب ورته کوي، بلکې تر څنګ يې د داعش پروژه هم واخيسته چې د افغانستان ايران منځنۍ آسيا او چين له پاره يې هم سرخوږی جوړ کړ. نو ويلای شو چې د داعش يوازينی مرستندوی هېواد پاکستان دی او هم د دې ډلې جلب و جذب او مصرف په غاړه لري. دا چې دا پيسې او دا مصرف له کومه راځي هغه هم معلومه ده. امريکا د پاکستان پر کړنو له پخوا پوهېده، هغه کړنې چې پاکستان يې په سيمه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره کوي، امریکا تر یوه حده ورسره همغږې وه. په اوسني وخت کې چې د ټرامپ اداره وکتل شي چې دوی د پاکستان په اړه په دا نوې ستراتېژۍ کې څه وړاندوینې کوي. دغه اوسنی ریپوټ او زیاتره نور ریپوټونه دا په ډاګه کوي چې ترهګرې ډلې په پاکستان کې شتون لري، دوی هلته تمویل او تجهیز بیا سیمې ته لیږل کېږي. نو په ټوله کې موږ ویلای شو چې له اوایلو څخه یو څه د پاکستان پر وړاندې د امریکا په پالیسۍ کې بدلون راغلی. پاکستان تر یو حده د امریکا لخوا منزوي شوی او افغانستان هم په دې برخه کې یو څه کار وکړ. له امریکا سره یې کلکې خبرې لرلې او امریکا ته یې موضوع په سمه توګه روښانه کړه او تر ټولو مهمه موضوع دا ده چې ټرامپ په خپله پر دې پوهېده او تل به یې په ټاکنیزو بهیرونو کې هم دا خبرې کولې چې پاکستان د ترهګرۍ ملګری هېواد دی. ترهګر روزي او دا ترهګر بیا له پاکستانه د افغانستان هند او حتا تر نړۍ پورې خپرېږي. ځکه هر ځای چې کوم ترهګر ونیول شي حتماً به یې په پاکستان کې تریننګ لیدلی وي. دا یوه جوته خبره ده. په لویه کې اوس پکار ده چې امریکا په نوې ستراتېژۍ کې د پاکستان پر وړاندې هغه څه وکړي چې تر اوسه نه وو شوي او پاکستان یو د ترهګرو مل هېواد اعلان کړي. پر دوی فشارونه ډېر کړي؛ کمکونه پرې ودروي او تعزیرات پرې ولګوي. دا په دې معنا ده چې که چېرې دا کار وشو، نو په افغانستان او هندوستان کې به امن راځي. او په نړۍ کې به هم دا د ترهګرو سرچینه اصلن ورکېږي. که په نړۍ کې ورکه نه‌شي، لږ تر لږه خو دا سیمه آرامېږي. عربان تر دې ځایه نه راځي؛ عربان د کابل په هوایي ډګر کې نه کښېني، بلکې په اسلام‌آباد کې کښېني؛ هلته تورې جامې ور په تن کېږي؛ هلته ورته وسلې ورکول کېږي؛ هلته د پیسو مرسته ورسره کېږي او بیا د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوځوولو ته رالېږل کېږي.

**خبریال:** اصولي صاحب لکه څنګه چې تاسو ورته اشارې کوئ، دا هرڅه باید وشي څو پاکستان راوګرځول شي، اوس څه چې پاکستان ژغوري او د هغه پر سر د یو مصؤنیت د سیوري په توګه موجود دی، هغه کوم عوامل او څوک دي؟

**اصولي:** پاکستان یو طبیعي هېواد نه، بلکې یو رامنځته شوی هېواد دی، طبعی هېوادونه، لکه افغانستان، هند، ترکمنستان ایران او داسې نور هېوادونه دي چې په طبیعي ډول راپیدا شوي دي. د پاکستان غوندې هېوادونه، چې په لاس راجوړ شوي، ځانته بنسټونه لري. د پاکستان بنسټ ایښودونکی انګلستان دی، چې د افغانستان او هند په جغرافیه کې یې رامنځته کړ. د افغانستان نیمه خاوره یې واخیسته؛ د هندوستان یې هم نیمه خاوره قبضه کړه او پاکستان یې رامنځته کړ. د دې تر څنګ امریکا هم له انګلستان سره یوځای شوه او پاکستان یې د خپلو منافعو لپاره وکاراوه. پاکستان هم د خپلو منافعو لپاره د دغو دواړو هېوادونو هر ډول غوښتنې ومنلې. ځانونه یې ورسول، څو د امریکا له پروژو ګټه واخلي چې د هغه ترڅنګ یې ۸۰ سلنه بودیجه او ګټه پر خپلو پوځیانو او خپلو بنسټیزو پروژو ولګولې چې اوس یې وینو د اټوم خاوند دی. موږ څه وکړل؛ افغانستان مو په خپل لاس وران کړ؛ افغانان د پاکستان غېږې ته ورغلل او ځیني هېوادونه، لکه پاکستان ایران عربستان او داسې نور ورسره یوځای شول او افغانستان یې پرې داسې ویجاړ کړ. اوس هم هماغه خبره ده هر چا چې پاکستان ته دا پروژې ورکړې، پاکستان اوس هم هغه ۴۰ یا ۳۰ سلنه یې په جنګ لګوي او ۷۰ یا ٦۰ فیصده په خپل جېب کې اچوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان پرې جوړوي. موږ وايو چې د پردې تر شا همدا دوه هېوادونه ورسره دي، دوی پاکستان اصلاح کولای او ببلارې کولای شي او دوی کولای شي پاکستان ته ووايي چې نور جگړې بس کړه. د پاکستان لپاره دا مهمه ده چې په خپل څنگ کې یو کمزوری او له پښتو لوېدلی افغانستان ولري. نه دا چې یو خپلواک او په ځان بسیا هېواد. علت يې هم دا دی چې موږ له هغوی سره د ډیورند مسله لرو او د ډېورند له مسلې پرته هم پاکستان د افغانستان سوله او بشپړه خپلواکي نه غواړي، ځکه چې دوی انگېري، چې لکه څنگه چې مخکې افغانانو پنجابیان مسلمان کړل او د هغوی تر اغېز لاندې ول او د دا ډول تاثیراتو له امله سوځي. ځکه وایم هغه اور چې دوی يې د افغانستان لپاره بلوي، یوه ورځ به همدوی پکې سوځي. دا چې اوس دوی افغانان د کابل پر وړاندې روزي، نو د پاکستان او پنجاب پر وړاندې عملن بلوڅان پورته شوي او خپلواکي غواړي. دا خپلواکي یوه مقدسه خپلواکي ده، دوی د دې حق لري چې له پنجابه خپله خپلواکي واخلي، ځکه بلوچستان یو طبیعي جوړښت و، مگر پاکستان طبیعي جوړښت نه دی. له همدې امله پښتنو هم باید همدا کار کړی وای. ځکه پښتانه اوسمهال په همدې ډول دي او له دوی سره باید ټول هېوادونه مرسته وکړي. هند هم باید مرسته ورسره کړې وای او د نړۍ هېوادونه، چې ټول د پاکستان له منحوثو کړنو څخه ډېر په تکلیف دي، ټول باید لاس سره یو کړي او دا پروژه په سیمه کې پلې کړي.

**خبريال:** اصولي صاحب! که چېرې د پاکستان په تړاو د امریکا لیدلورو ته وکتل شي، تر ډېره دوه مسایل پکې مطرح کېږي؛ یو دا چې امریکا هم له پاکستان سره ځینې گډې گټې لري ځکه خو اړ دی چې دغو گټو ته د رسېدو لپاره له پاکستان سره جوړجاړی ولري. بل لوري ته بیا په ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحلیلونو کې دا هم ویل کېږي چې امریکا هم مجبوریتونه لري. غواړم پر مجبوریتونو یې راته وغږېږئ، که احتمالن امریکا دا اراده هم وکړي چې تر وروستي حده پر پاکستان فشار راولي، حتا انزوا ته یې نږدې کړي. په دغه مورد کې هغه مجبوریت، چې ښایي امریکا دغه کار ته پرېنږدي، کوم دی؟

**اصولي:** امریکا هېڅکله هم نه غواړي چې د افغانستان لپاره پاکستان له لاسه ورکړي. همدا پاکستان و چې په افغانستان کې یې د هغوی ټولې پروژې پلې کړې. د ثور له کودتاه راوروسته په سیمه کې د امریکا ټولې پروژې د پاکستان په وسیلې عملي شوې دي. په افغانستان کې بدلونونه راغلل، جنګونه پکې وشول، انقلابونه راغلل، خو پاکستان په یوه حال و، څکه امریکا لاس ورکړی و او پاکستان هم ټولې پروژې ورته په افغانستان کې پلې کړې. له همدې امله دوی هېڅکله هم د افغانستان لپاره نه غواړي چې پاکستان له لاسه ورکړي. په راتلونکي کې هم دوی فکر کوي چې په سیمه کې دوی پاکستان ته اړتیا لري او همداسې هم ده. افغانانو که چېرې اوس امریکا ته لاس ورکړی، نو لس کاله وروسته امکان لري چې دا دوستي په دې ډول نه وي. څکه پېژني یې او افغانان هم دوی درک کړي. له همدې امله دوی بیا هم اړ دي چې پاکستان ته لاس ورکړي. هغه مجبوریت، چې امریکا یې لري، همدا دی چې په سیمه کې هر ډول پروژه په پاکستان باندې عملي کولای شي. د پاکستان لپاره قوم، اسلام او قران مهم نه دي، هغه څه، چې هغوی ته ویل کېږي او دوی د پاکستان جوړښت پرې یقیني کولای شي، هغه کوي، خو افغانان بیا دغه کار نه کوي.

**خبریال:** اوس هغه مجبوریت، چې امریکا یې لري که چېرې احتمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبولو، چې دا کار وکړي او پوه شو چې د امریکا په لیدلورو کې بدلونه راغلی. نو څه فکر کوئ دا به امریکا ته د پاکستان په وړاندې کوم مجبوریت وي؟

**اصولي:** که چېرې امریکا وغواړي چې په سیمه کې خپلې ستراتېژۍ او خپل پلانونه اوږدمهاله پلي کړي، نو دا مجبوریت هم لري چې فعلاً باید پاکستان انزوا ته هم بوځي، ځکه چې که غواړي چې په افغانستان کې جګړه تر یوه حده ختمه کړي، نو پر پاکستان فشار راوړل او انزوا ته باسل دي. دوې خبرې دي؛ یوه دا ده چې امریکا نه غواړي چې پاکستان له لاسه ورکړي، ځکه دلته یې وروسته له افغانستانه بیا هم پاکستان پکار دی. دویمه موضوع دا ده چې په اوس کې هغه ستراتېژۍ او پلانونه، چې امریکا یې د سیمې لپاره لري، د پاکستان په اوسني دریځ کې نه‌شي پلي کولای. دوی دېته اړ دي چې پاکستان تر یوه حده انزوا ته وباسي. دا لوړ مصارفات چې دوی یې په افغانستان او سیمه کې د تروریزم په نامه کوي، لس کاله وروسته امریکا دا نه‌شي کولای. ځکه دا هرڅه بیا د دوی لپاره ډېر ستونزمن تمامېږي. شوروي اتحاد هم کله چې افغانستان ته راغی؛ په هغه وخت کې یې د جنګ مصارف ډېر لوړ وو، بیا موږ ولیدل چې په لږو کلونو کې د شوروي اتحاد پښې سستې، او له افغانستان ووت، حتا خپل شوروي اتحاد یې هم اداره نه‌شو کړای چې لوی لامل یې اقتصادي و، دوی هغه د شوروي اتحاد خپل جوړښت هم ونه‌شو ساتلی او شوري اتحاد ورڅخه تکه تکه شو. له همدې امله امریکا هم څه موده وروسته په نهایت کې نه‌شي کولای چې د جګړې دا لګښتونه پوره کړي. نو زه وایم چې د امریکا له ستراتېژیو سره اوس هم د پاکستان ځینې پلانونه او پروژې په ټکر کې دي. هو دا ده چې هغه پروژې پاکستان ورته پلې کوي، خو څه ډول چې یې پاکستان پلي کوي، هغسې د امریکا له ګټو سره په ټکر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي.

**خبریال:** په کومو مواردو کې دا ټکر شته؟

**اصولي:** دا ټکر په دې کې دی، لکه څنګه چې د طالب او داعش پروژه ورکول شوې او دوی یې پرمخ وړي په افغانستان کې یې جګړه توده ساتلې ده. په داسې جګړه‌ییزو حالاتو کې، چې افغان دولت او حکومت ورو ورو تضعیفوي، بیا په دغه تضعیف او کمزورۍ کې د امریکا ګټه نه‌شته. له همدې امله که چېرې غواړي چې د افغانستان اوسنی نظام پیاوړي شي، نو باید پر پاکستان فشار راوړل شي. همدا لامل دی چې دلته یو ټکر موجود دی، پاکستان دا نه غواړي چې افغانستان باید یو ځواکمن او زورور هېواد وي، خو ترڅنګ یې امریکا بیا وایي چې موږ دا هوډ کړی څو افغانستان یو ځواکمن او قوي هېواد کړو. له همدې امله ویلای شو چې دلته یو ټکر موجود دی او همدا ټکر دی چې پاکستان اوس د انزوا خواته بیایي. نو په لویه کې افغانستان ته اوس پکار دي چې امریکا ته ووایي چې شپاړس اوولس کاله په افغانستان کې جګړه اوږده شوه او ستاسو له نظامیانو سره سره بیا هم دلته سوله رانغله، اوس که غواړئ چې په افغانستان کې سوله راشي، نو پاکستان مو منع کړئ.

**خبریال:** افغان حکومت اوسمهال همدا غوښتنه کوي، خو اصولي صاحب هغه څه چې ستاسو په خبرو کې هم ورته اشاره وشوه، هغه دا چې د امریکا یو څو موارده د بدلون په حال کې دي؛ یو دا چې له هند سره د اړیکو پیاوړتیا، بل له اسلام آباد سره یې د خپلو مرستو کمول. په دې هکله هم ستاسو نظر غواړم، دغه حالت څه بیانوي یعنې په رښتیا هم واشنګټن یوه اراده لري چې پاکستان ته لږ تر لږه دغه خبرداری ورکړي چې د پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر وړاندې هر کار کولای شي؟

**اصولي:** د ټرمپ اداره د امریکا د نورو ادارو په پرتله یو څه فرق کوي، مخکې مې وویل چې ټرمپ به پخپلو ټاکنیزو کمپاینونو او بهیرونو کې هم ویل چې د تروریزم اصلي سرچینه پاکستان کې ده. پاکستان دی چې سیمه یې نارامه کړې او دا ترهګریزې پروژې مخته وړي. نو ټرمپ هم اوس کوشش کوي چې څنګه وتوانېږي دا خپله ستراتیژي، چې له ډېرې مودې یې نه‌شي عملي کولای، پلې کړي. زما په اند د هغوی لپاره هم مسله دا ده چې دوی له پاکستان سره څه وکړي. له افغانستان سره خو د دوی مسله جوته ده چې په هره برخه کې همکاري ده، خو هغه د ډېر فکر او سوچ خبره دا ده چې له افغانستان سره د پاکستان اړیکې دي او دوی ته مسئله همدا ده چې امریکا په دې برخه کې اوس څه وکړي. دغه لوری ونیسي او که هغه یا هم دواړه، چې هم له پاکستان او هم له افغانستان دواړو سره دوستي وکړي. نو که دواړه دوستان شول بیا په دې منځ کې د تروریزم نوم او د تروریزم تر نامه لاندې خپله جګړه به څنګه منزل ته ورسوي. نو که دوی غواړي چې په افغانستان کې جګړه ختمه کړي او د امریکا لګښتونه هم دلته کم شي، نو اړ دي چې پر پاکستان فشار ډېر کړي، لکه څنګه چې تاسو یادونه وکړه په پاکستان یې خپلې نقدې مرستې را کمې کړې دي. زه وایم که امریکا په رښتیا او صادقانه ډول له افغانستان سره مرسته غواړي، همدا مرستې باید بېخي صفر ته راورسوي او همداسې په نړۍ کې د پاکستان په منافعو بندیز ولګول شي، چې هم افغانان ورځخه بېغمه شي او هم نړۍ د دې منحوثې پدیدې (تروریزم) له شره خلاصه شي.

**خبریال:** د پالیسیو په تړاو، چې واشنګټن یې د کابل او اسلام آباد په اړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړلو په درشل کې دی، تاسو یادونه وکړه چې دا ځنډېږي او امریکا حیرانه ده چې کوم لوری ونیسي. د پالیسیو په اعلان کې دا رامنځته شوی ځنډ تاسو له کومه اړخه ګورئ، دلته به د واشنګټن اصلي موخه څه وي چې دوی نه د افغانستان او نه هم د پاکستان پر وړاندې پرېکړه کولای شي، آیا یو انتخاب لري که څنګه؟

**اصولي:** دلته درې انتخابه دي؛ یو دا چې که چېرې د افغانستان لوری نیسي نو پاکستان خپه دی او هغه باید منزوي کړي. که چېرې د پاکستان لوری نیسي نو په افغانستان کې د دوی شتون له پوښتنې سره مخ کېږي او افغانان هم ورته وایي چې تاسو په افغانستان کې څه کوئ، د څه لپاره راغلي یاست؟ درېیم انتخاب دا دی چې که چېرې دوی د اوباما د ادارې غوندې مخته لاړ شي، چې هم له پاکستان سره سلام کوي او هم له افغانستان سره، بیا نو جګړه اوږده ده. دوی پردې فکر کوي چې اوس باید څه وکړو. دوی د افغانستان جګړه هم باید مهار کړي او د دې جګړې د مهارولو لپاره پکار ده چې پر پاکستان هم فشار راشي.

**خبریال:** د یوه ډراماټیک بدلون په اړه مو نظر څه دی چې واشنګټن یې د اسلام آباد په اړه ولري او هغه سناریو، چې شپاړس کاله وغځېده او ستړې کوونکي هم تمامه شوه، بالاخره نه یوازې چې ترهګري کنټرول شوه، بلکې لا ډېره پراخه شوه، دغه ډول یو بدلون ته هم انتظار او تمه شته؟

**اصولي:** زما په نظر امریکا هم تر یوه حده له دې جګړې څخه ستړې شوې ده. د افغانستان په اړه د دوی په اوسنیو ستراتېژیو کې، زما په اند، د پاکستان لپاره یو سور څراغ شته؛ پنجابي ته سور څراغ پکې دی؛ تر یوه حده به په دغو خپلو بل کړیو اورونو کې دوی هم سوځي او زه باوري یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دې برخه کې د افغانستان دولت هم ډېرې هڅې کړې چې امریکا ته قناعت ورکړي چې اصلي ستونزه خو هلته ده. نو دوی هم تر یوه حده پر پاکستان اوس فشارونه راوستي دي.

**خبریال:** یعنې تمه لرئ چې ډراماټیک بدلون دې رامنځته شي او جګړه دې د پاکستان خواته ور واوړي؟

**اصولي:** ان‌شاءالله، ان‌شاءالله چې په دې نږدې راتلونکې کې به یې شاهدان واوسو.

**خبریال:** ډېره مننه اصولي صاحب، کور مو ودان چې زموږ بلنه مو ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲

## د امریکا له نوي دولت سره د کابل اړیکې

ډونالد ټرامپ د امریکا د نوي منتخب ولسمشر په ټاکل کېدو سره په نړیواله کچه د هغه په اړه اندېښنې رامنځته شوې چې دا اندېښنې په افغانستان کې هم محدودې نه دي، بلکې په بېلابېلو کړیو کې په دې اړه بحثونه روان دي، ځینې په دې نظر دي، چې د ټرامپ د حکومت رامنځته کېدل به د ملي یووالي حکومت اوسني جوړښت لپاره خطر وي، خو ځینې نور بیا وایي چې د ټرامپ یا بل هر ولسمشر په بدلېدو سره په افغانستان کې چندان بدلون نه راځي او چندان اغېز هم نه لري. جګړه به دوام مومي، خو په ځینو کوچنیو مواردو کې ښایي چې ځینې سطحي بدلونونه ولیدل شي. دا چې په واقعي ډول به د ټرامپ اراده څه وي او د کابل د حکومت په اړه به څه پرېکړه وکړي؛ په دې هکله د سیاسي چارو شنونکي ښاغلي جمال ناصر اصولي سره بحث لرو. اصولي صاحب پخیر راغلئ، مننه چې بلنه مو منلې.

که څه هم اوس به بېخي وخته وي تر هغه چې ټرامپ راځي او بیا پرېکړې کوي یو څه دا څرګندېږي چې هغه د کابل د اوسني حکومت یعنې د ملي یووالي د حکومت په اړه څه فکر کوي په ټوله کې د افغانستان د روانو حالاتو او داعش ډلې په اړه څه فکر کوي، دا هرڅه به له وخته مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، خو بیا هم غواړو د تحلیل تر کچې ستاسو نظر ولرو. څه فکر کوئ؟ ټرمپ څه ډول یو شخصیت وینئ، د اوسني حکومت د دوام لپاره به راځي، که نه د هغه په راتگ سره به دا حکومت له ځینې بدلونونو سره مخ کېږي؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! د لویو قدرتونو یا د لویو هېوادونو ستراتېژۍ او پالیسۍ د یوه ولسمشر په راتگ او په بدلېدا سره نه بدلېږي. سمه ده په خپله ستراتېژۍ کې به ځینې بدلونونه راولي، اما دا چې ووایو چې دوی به د افغانستان جگړه یوطرفه کړي یا به هغه له پامه وغورځوي، دا هم آسانه نه ده چې موږ دا تمه ترې ولرو، ځکه د دوی ستراتېژۍ نه یوازې په کلونو کې جوړېږي، بلکې رغښت یې په لسیزو کې دوام کوي او د راتلونکو څو لسیزو لپاره یې ستراتېژۍ او پلانونه لري. دویمه موضوع په سیمه کې د افغانستان د پاکستان د هند او د منځنۍ آسیا کومې ستونزې چې رامنځته شوې دي، د امریکا په وجود کې دي. د دغو ستونزو د حل لپاره به دا سړی څه نا څه گټور تمام شي. ځکه ده د افغانستان د جگړې اصلي لاملونه او سرچینه لیدلي چې پاکستان دی. ده پاکستان لیدلی او پخوا یې په خپلو څرگندونو کې ویلي وو، چې موږ پاکستان ته پیسې ورکوو او پاکستان هغه پیسې د ترهگرو په روزلو لگوي، یعنې پاکستان د هغه لپاره یو معلوم هېواد دی، یو پېژندل شوی او څېړل شوی هېواد دی. د پاکستان لپاره به دا یوه قاطع ستراتېژي جوړه کړي چې په رښتیا هم پاکستان به له دوی سره صادقانه همکاري کوي که نه، د پردې تر شا بیا بل څه کېږي. لکه اوس چې روان دي، امریکا ورسره مرسته کوله او دوی به هماغه د امریکا د مرستې پیسې راخیستلې، د ترهگرو په تمویل، تجهیز او جلب و جذب به یې لگولې. په دې نړیوال هم پوه دي امریکا هم همدا مسایل لیدل د ټرمپ په څرگندونو کې هم همدغو مسایلو ته څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلې اشاره شوې او بحثونه یې پرې کړي دي. یعنې ده اساسي د تروریزم سرچینه ښودله او په واضح ډول یې ویل چې په پاکستان کې دا ستونزې شته دي. په همدې توګه له روسیې سره که د ټرمپ د اړیکو په موضوع بحث وکړو، که چېرې له روسیې سره د امریکا اړیکې ښې شي، نو دا د افغانستان په ګټه هم تمامېږي، ځکه په افغانستان کې دا هم ویل کېږي چې روسیه له طالبانو سره مرسته کوي. یعنې په دغو موضوعاتو کې به هم څه نا څه همغږي رامنځته شي، او افغانستان به هغه د نیابتي جګړې له صحنې څخه یو څه راووځي. مانا د امریکا او روس پر هغه نیابتي جګړه، چې اوس دلته روانه ده، د ایران د هند او پاکستان یانې دا ټول هېوادونه چې په افغانستان کې مغرض دي او دلته غرضونه لري، پر دغو ټولو تاثیر لرلای شي. خو که منفي اړخ ته یې راشو یعنې نړیوال د ټرامپ له منفي اړخه هم وېرېږي. یعنې داسې نه وي چې ببخي یو ناڅاپه د امریکا پالیسي او ستراتېژۍ بدلې کړي. خو دا هرڅه هغه په یوائې توګه نه‌شي کولای، ټرامپ نه‌شي کولای چې په یو دم خپل سرتېري له افغانستانه وباسي. که یې چېرې سرتېرې له افغانستانه وباسي، دا د افغانانو په ګټه هم ده، خو پوښتنه دا ده چې که افغانستان یوائې پرېږدي، لکه څنګه چې شوروي پرېښود یا امریکا هغه وخت مجاهدین پرېښودل، یو له بل سره وجنګېدل، افغانستان وران ویجاړ شو، چې بیا داسې حالت ته ونه ګرځو. نو زما په اند تر هغه حده به نه وي که له افغانستانه سرتېري وباسي دا ښه ده ځکه د امریکا سرتېري دلته مفید نه دي. خو ضمانت باید شته وي چې افغانستان هغه حالت ته لاړ نه‌شي.

**خبرنګار:** د هېواد دننه او بهر په رسنیو کې د ټرمپ په هکله تاوده بحثونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان دي. له کله چې دی په يو ډراماټيکه او حيرانوونکې بڼه ولسمشر شو، نو اوس بحث دا دی چې د ټرمپ په اړه بېلابېل نظريات وړاندې کېږي، ځينې ستاسو په نظر دي چې ټرمپ به په هغه ډول هم تېز نه ځي، لکه څنګه چې د کمپاينونو په وخت کې يې ويل، خو ځينې بيا وايي چې لږ تر لږه ټرامپ خو به ۵۰ سلنه دا کار کوي، ستاسو برداشت له ټرمپ څخه څه دی؟ ټرامپ په ټوله کې په شخصي لحاظ څه ډول سړی دی؟

**اصولي:** په شخصي لحاظ که موږ د هغه ژوند ته يوه کتنه وکړو هغه يو تجار، ميليونر او داسې سړی دی چې ژوند يې په هوس کې تېر کړی. ده تل په ژوند کې هغه څه کړي چې يو امريکايی تجار يې کوي؛ هغه کړنې يې ترسره کړې چې يو امريکايي يا اروپايي بيليونر يې کوي، نو تاسو خپله فکر وکړئ چې يو بيليونر به څه ډول ژوند ولري؟ څومره به له سياسته لرې وي؟ ده له سياست سره اړخ نه دی لګولی؛ له سياسته لرې پاتې شوی. يعنې چا چې په يوه اداره کې ماموريت نه وي کړی، خو داسې ناڅاپه راپورته کېږي او جمهوري رياست ته راځي، نو دلته سړی فکر کوي چې دا به څنګه شي. خو زه وايم چې د امريکا ستراتيژۍ په عمومي ډول د شخص په بدلولو رابدلولو نه‌شي بدلېدلای، که په سطحي ډول کوم بدلونونه پکې راغلل، ډېر تاثير پرې نه کوي.

**خبريال:** يعنې تاسې فکر کوئ چې ټرامپ يو څرګند سړی دی؟

**اصولي:** ټرامپ له سياسته لرې سړی دی. زه وايم چې د امريکا سياست به له دغو مبهماتو راوباسي او که منفي وي يا مثبت هغه په صادق ډول يو منفي يا مثبت حالت کې پاتې شي.

**خبريال:** اصولي صاحب! لکه څنګه چې تاسو ورته اشاره کوی، د ټرامپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندلیک؛ په رسنیو کې د ټرامپ پاتې کېدل؛ د هغه په اړه خبرې؛ د هغه تجارت؛ د هغه شخصي ژوند او حتا د هغه ویناووې او خبرې چې ده په خپلو کتابونو کې لیکلي، هغو ته په کتو پوهېږو چې په نړۍ کې یو پېژندل شوی سړی دی، خو که چېرې موږ پر افغانستان بحث کوو، نو اړ یو چې د ځینو نیابتي جګړو یادونه وکړو چې په افغانستان کې د سړې جګړې راهیسې تر اوسه همداسې دوام پیدا کوي، په همدې ډول روان دی. ټرامپ په همغه اندازه چې څرګند دی؛ پوتین په هماغه اندازه یو مرموز او ناڅرګند شخص دی. څه فکر کوئ د دغو دوو اشخاصو جوړېدل تاسو ته منطقي ښکاري او هغه ډول چې ټرامپ وایي چې موږ غواړو له روسیې سره اړیکې سمې کړو او مسکو به زموږ ملګری وي، آیا دا هرڅه به ممکن وي؟

**اصولي:** که راشو د روسیې هغه حالت ته چې شوروي اتحاد ونړېد، له هغه وروسته د روسیې ولسمشر ایلسن و. کله چې ایلسن راتلو هغه د امریکا په پیسو ولسمشر شو، روسیه یې خرابه کړه. یو کمزوری ولسمشر واکمن شو او امریکا غوښتل چې همداسې یو ولسمشر موجود وي چې له هغه شوروي اتحاد څخه راپاتې‌شوې روسیه همدا ډول وي. له روسیې سره دا فکر هم و چې دوی څنګه کولای شي هلته غچ واخلي. زما په اند روسیې به په مادي لحاظ هم له ټرامپ سره مرسته کړې وي دا په دې اند چې یوه خوا به یې په روسیه کې یو داسې څوک راوستی وي چې روسیې ته د منلو وړ وي، بلخوا د سړې جګړې دا ستونزې چې رامنځته شوې دي، ټولې به پای ومومي او له بلې خوا به دوی خپل غچ اخیستی وي، لکه ایلسن چې دوی راواسته او دوی وکولای شول چې د ټرامپ په څېر یو څوک راولي چې اصلن اروپایانو دا فکر نه کاوه چې دا سړی به راوځي. دا یوه مسئله ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسیه او امریکا که چېرې په خپل منځ کې سره جوړ شي دا نه یوازې د اروپا، بلکې د روسیې امریکا او ټولې نړۍ په ګټه ده.

**خبریال:** ښه اصولي صاحب یو بحث دی چې که سره جوړ شي، نو ګټه به یې څه وي او په دې کې به څه بدلون راشي؟ بل سوال دا دی چې دواړه شخصیتونه ځینې مشترکات لري او په ځینو مسایلو کې ډېر متفاوت او متضاد دي، لکه هغه ډول چې یادونه وشوه ټرامپ یو ډېر ښکاره او پوتین یو ډېر مبهم او ناڅرګند رهبر دی. په دغو حالاتو کې دواړه یو ګډ ټکی لري چې دواړه ځان ډېر مغرور بولي او په خپلو خبرو ډېر مېین دي. دا ډول شخصیتونه به په خپلو کې جوړ راشي او کنه؟ دا به یو لنډمهالي څرګندونې وي، کله چې ټرامپ صحنې ته واردېږي، نو هرڅه بدلون مومي.

**اصولي:** ټرامپ ویلي وو: "زه نه غواړم چې د نړۍ ولسمشر و اوسم، بلکې زه غواړم چې د امریکا ولسمشر و اوسم." د روسیې لپاره دا خبره ډېره د منلو وړ ده او دا پالیسي هغوی ته خوند ورکوي. روسیه غواړي چې له نړۍ څخه د امریکا لاس لنډ شي او امریکا هم غواړي چې له نړۍ څخه د روسیې لاس لنډ شي. یعنې دواړه قووتونه غواړي چې په نړۍ کې خپل نفوذ ولري. دوی تل په سړه جګړه کې هم د یو او بل پر ضد همدغه کار کاوه او اوس هم د دویمې سړې جګړې د پیلېدو خبرې روانې دي او احساسېږي. په سوریه کې، که وګورو، همدا موضوع روانه ده دلته په افغانستان کې تر یو حده موږ دغه حالت وینو، زه وایم چې که ټرامپ هلته صادق وي، نو له پوتین سره جوړېدای شي. پوتین او روسیه اوس په هغه حالت کې نه دي چې لکه شوروي اتحاد چې و. شوروي اتحاد یو پیاوړی هېواد و اوس روسیه په هغه حالت کې نه ده چې وکولای شي امریکا لاندې راولي. اوس یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي چې د امریکا لاس دلته په نړۍ کې لنډ وي او دوی هم وکولای شي ځان تر یوه حده ورسوي. دوی همدا غواړي چې امریکا د داعش په کارولو سره منځنۍ آسیا ونه ګواښي. امریکا له داعشه په استفادې روسیه ونه ګواښي او د تروریزم، اسلامپالو او افراطیانو په نامه له هغو ټولو پروژو لاس واخلي چې په نړۍ کې یې طرحه کړې، څو روسیه په ارامه ساه واخلي. موږ او تاسو وینو، چې د طالب له پروژې څخه نه ډارېږي، بلکې د داعش له پروژې وېره لري او دا پروژه چې چا رامنځته کړې او روزلې یې ده، هغه هم موږ او تاسو پېژنو چې هغه سعودي عربستان او همدا امریکا دي.

**خبریال:** ښه اوس که ستاسو د خبرو هغه اصلي برخه دا وي چې ستا په خبره د مسکو او د واشنګټن اړیکې ښې کېدای شي. دغه اړیکې سمېدل به د افغانستان پر حکومت او د افغانستان پر اوسني وضعیت اغېز وکړي کنه؟

**اصولي:** بلکل، که چېرې امریکا او روسیه په خپلو اړیکو کې تر یو حده مثبت لاړل او خپلې اړیکې یې ښې کړې، نو د افغانستان امنیت هم ممکن تر یوه حده ښه کړي. د داعش پروژه په مطلق ډول هغه پروژه ده چې امریکا د روس، ایران او د چین لپاره طرحه کړې ده. دغه پروژه به نور د پاکستان له لوري نه حمایه کېږي او افغانستان به ورنه خلاص شي، یعنې دلته یې مثبت اغېز همدا دی. دویمه مسله دا ده چې که چېرې د دوی اړیکې له یو بل سره ښې شوې، هغه ګنګوسې، چې ګواکې روسیه له طالبانو سره مالي او نظامي مرسته کوي، هغه به هم په یو ډول له افغانستانه خلاص شي او هغه مرستې به نور نه کېږي. په همدې ډول په ایران هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاثیر کوي، ځکه ایران هم اوس تقریباً د افغانستان په جګړه کې دخیل دی. په هغه به هم تاثیر وکړي. که په پاکستان کې د دوی اړیکې ښې شوې، نو زه باوري یم چې دواړه به پر دغه هېواد فشار راولي چې د امریکا او ناټو له لوري ورکول شوې پروژې له منځه یوسي، چې د شیخانو په پیسو په افغانستان کې چلېږي او افغانان پکې وژني. په ټولیز ډول ویلای شو چې که د دغو دواړو هېوادونو اړیکې ښې شوې، نو په افغانستان یې تاثیر مثبت کېدای شي او د اړیکو په خرابېدا کې یې موږ او تاسو عملاً وینو چې جنګ ته لمنه وهي او حالت لا ډېر خرابېږي.

**خبریال:** ښه، په ورته وخت کې موږ او تاسو ګورو چې بارک اوباما او بیا ټرامپ. هغه څه چې تر دې دمه ټرامپ د افغانستان په اړه ویلي دا هرڅه ښیي چې ټرامپ د افغانستان له مسلې سره ډېر علاقه نه لري او افغانستان ورته یوه اوږده سترې کوونکې او له مصارفو ډکه جګړه ښکاري. په ځینو خبرو کې دی وايي چې موږ هغه پیسې چې په افغانستان مصرفوو، په خپل ځان به یې مصرفوو، یعنې په امریکا کې به یې مصرفوو، دا به زموږ لپاره په خیر او ګټه وي، خو بل لوري ته بیا بارک اوباما و چې هغه اوس هم هلې ځلې کوي چې په افغانستان کې دې پوځي مرستې ډېرې شي، مثلن په دغو وروستیو څرګندونو کې د امریکا له کانګرسه غواړي چې ۱۱,٦ میلیارد ډالره دېته ځانګړي کړي چې د افغان امنیتي ځواکونو، په تېره بیا د هوايي ځواکونو، په تجهیز او اکمال ولګول شي. دا دوه متفاوت لیدلوري څنګه ارزوئ، د اوباما همدا خبرې به پر ځای پاتې کېږي او کنه کله چې ټرامپ راځي، نو بیا به په رښتیا هم هغه څه کوي، چې ده وویل؟

**اصولي:** زما په اند د افغانستان په هکله د اوباما پالیسي یوه مثبته پالیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وه، افغانستان یې له کړکېچونو او ستونزو سره مخ کړ، جګړه یې لا توده او ورځ تر بلې یې قوي کړه. دا هرڅه موږ او تاسو ولیدل چې اوباما او امریکا متحده ایالاتو دلته دا جګړه توده ساتلې او تر ننه یې هم ساتي، په هر ځای کې چې د امریکا لپاره خطر وي هغه له منځه وړي او هغه خطر چې د افغانستان یا افغاني پوځیانو لپاره وي، سترګې پرې پټوي. تاسو عملن وینئ، په هلمند کې جګړه روانه ده په ګرمسیر کې د دوی اډه ده، په هغه ځای کې چې شا او خوا یې طالبان دي، خو کله چې پر دوی برید کېږي، دوی یې عملن ځواب وایي او که برید نه پرې کېږي، نو سترګې پرې پټوي. دوی عملن ویني چې طالبان او نورې مخالفې ډلې د دولت پر ضد جنګېږي، خو هېڅ کار پرې نه لري. دا هرڅه په دې معنا دي چې دوی دلته خپلې موخې لري د خپلو اهدافو لپاره راغلي. د دوی لپاره په افغانستان کې د جګړې تودوالی مهم دی. ټرامپ که د افغانستان له جګړې لاس واخلي، زه باوري یم چې د طالبانو په منځ کې هم د جګړې بهیر ورو او له تحرکه لوېږي. ځکه هغه پیسې چې امریکا زموږ حکومت ته ورکوي، همدومره یې په هغې خوا لګېږي. پاکستان ته چې څومره پیسې ورکول کېږي، له نیمې ډېره برخه یې د تروریستانو، داعشیانو او د طالبانو لاس ته ورځي. له همدې امله زه وایم که چېرې په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان له جګړې لاس واخلي، نو په افغانستان کې به امن راشي، خو داسې لاس اخیستل چې پر هغو مخالفو ډلو هم خپلې مرستې بندې کړي او هم یې تمویل نه کړي، بیا نو موږ افغانان سره جوړېږو. بیا د افغانانو ترمنځ مسئله ده چې افغانان بیا په خپلو کې سره جوړېدای شي. موږ د جهاد په وخت کې هم ولیدل چې یو خوا روسان وو او بلې خواته امریکا او نور هېوادونه، چې دواړو خواوو ته یې تمویل، تجهیز او پیسې ورکولې. له همدې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې شوروي اتحاد ړنګ شو، نو مجاهدین بریالي شول او افغانستان ته راغلل. په همدې ډول که چېرې دوی له دواړو خواوو لاس واخلي نو په افغانستان کې به سوله راځي او جګړه به ختمېږي. خو همدا جګړه چې دوی توده ساتلې، اصلن ورته دوی لمنه وهي. طالبان د جګړې دومره لوی لګښت له کومه کوي؟ افغانستان یې نهشي پوره کولای. افغانستان ته عملن په مستقیم او نامستقیم ډول وسلې پیسې او هر ډول مرستې ورکوي. بیا هم زموږ د امنیتي ځواکونو په پوستو کې وسلې او تجهیزات کمېږي، خو د طالبانو په برخه کې ولې دا هرڅه نه کمېږي، ځکه چې هغوی ته په مستقیم ډول دا ټول تجهیزات او هرڅه راروان دي. لکه څنګه چې دې خوا دي، د افغانستان له حکومته ډېر هغې خوا ته ورکوي. ځکه خو که چېرې ټرامپ د افغانستان جګړې ته د پای ټکی ږدي، نو اساسي سرچینه یې په پاکستان کې ده. پر پاکستان فشار راوستلای شي او کله یې چې فشار پرې راوست، هغوی (پاکستان) به د تروریزم له تحرک او روزلو لاس اخلي او په افغانستان کې به سوله راځي.

**خبریال:** د بحث دوه بېلابېل اړخونه وو، یو دا چې امریکا به له روسیې سره څه ډول برخورد کوي، بیا له افغان حکومت سره د هغوی په اړانه کې څنګه پرمخ ځي. بله مسئله بیا د پاکستان ده، هغه څه چې تاسې او نور ډېر مخور او شنونکي پر دې باور دي چې همدا پاکستان د افغانستان د جګړې شدت ته لاره برابره کړې. په ورته وخت کې بیا د ټرامپ دریځ لکه څنګه چې تاسې وویل دا ډول دی، ایا په رښتیا پاکستان او د دغه هېواد د ډیپلوماسۍ هغه قدرتونه، چې هلته موجود دي، ټرامپ ته به دا ډول یو څه پرېږدي چې دی په ډېر شدت ورشي او هغه څه ومني چې دوی یې غواړي؟ ځکه داسې هم ویل کېږي چې پاکستان د امریکې نبض په لاس کې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** د پاکستان هېواد له کله چې پیدا شوی د انګلیس او امریکا غېږ ته لوېدلی. هغوی تل پاکستان څرخوي او په نړۍ کې یې د یوه غلام غونډې استعمالوي. له همدې امله هغه پروژې چې د امریکا لخوا د ملي ګټو له پاره پاکستان ته ورکول کېږي او پاکستان یې په قراردادي ډول پلې کوي، د دغو ټولو تر شا امریکا ولاړه ده. پاکستان دومره هم قوی نه دی چې امریکا د ځان محتاجه وګڼي، بلکې که امریکا په صادقانه ډول وغواړي، پاکستان به هماغه کوي چې په لندن او واشنګټن کې ورته ویل کېږي.

**خبریال:** خو ګورئ اصولي صاحب څو مواردو ته لنډه اشاره کوو او ستاسو نظر پرې اخلو. همدا امریکا وه چې د روسیې او په تېره بیا د شوروي اتحاد له منځه تلو وروسته یې په افغانستان کې مداخله کوله، افغانستان ته به یې هر کال لسګونه میلیونه ډالر ورکول او بیا دا لسګونه سلګونو ته ورسېدل او اوس په دغو وروستیو کې، له ۲۰۰۱ څخه شروع، امریکا په افغانستان کې یو ځل بیا پښې کېښودې چې په دې سره د دوی مرستې ملیاردونو ډالرو ته ورسېدې. پاکستان اټومي قدرت شو نظام او همداراز پوځ او استخبارات یې په خپلو پښو ودرېدل، هغوی اوس د هند غونډې له یوه پیاوړي هېواد سره ډغرې وهي. په داسې یوه حالت کې پر دې فکر نه کېږي چې پاکستان د امریکا لپاره د یو قدرت په توګه مطرح کېږي او ټرامپ به هم د پاکستان لپاره همدا ځواکمن او قدرتمند اوسېدل په پام کې نیسي.

**اصولي:** د امریکا لپاره دا نه ده مهمه چې پاکستان یو قدرت دی، اصلن دا د امریکا لپاره یو قدرت نه، بلکې امریکا وه چې پاکستان یې تر دې حده ورساوه او څه یې چې ورکړي، بېرته یې ترې اخیستلای هم شي. دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمه دا ده چې امریکا څه غواړي ایا امریکا غواړي چې پاکستان یا هغه غلام کړي چې تل یې پانګونه پرې کړې او تل یې پخپلو اشارو نڅولی او یا غواړي چې دغه غلام له لاسه ورکړي؟ ایا دوی غواړي چې له پاکستان څخه هغه چا چې د دوی ملي ګټې په سیمه کې پلې کولې، لاس واخلي؟ نو زه ویلای شم چې امریکا که پر پاکستان فشار راوړي او پوه یې کړي چې ته خو دلته زما د غلام او یو قراردادي شرکت په توګه یې او که زه لاس درنه واخلم نو تجزیه کېږې. مخکې مو هم ولیدل چې کله د امریکا ګټې ورسره په خطر کې راغلې، نو هلته یې د پاکستان پر وړاندې د بلوڅو غږ راپورته کړ.

**خبریال:** یعنې که لنډ ځواب واخلو؛ امریکا توانېدلی شي چې پر پاکستان فشار راوړي او پاکستان دېته اړ کړي چې په افغانستان او په سیمه کې د ترهګرۍ له ملاتړه لاس واخلي.

**اصولي:** بلکل، حتا تر دې لکه څنګه چې یو پلار په زوی توانېدلی شي.

**خبریال:** اصولي صاحب ډېره زیاته مننه چې زموږ بلنه مو منلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳

## د ډیورند فرضي کرښه

د ډیورند د کرښې په اوږدو کې د تورخم موضوع هغه مسئله ده چې تل د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تاوتریخوالي لامل کیږي او د تاریخ په اوږدو کې دا هغه کرښه ده چې بالاخره د دواړو لورو ترمنځ په ناندریو او جنجالونو پرمخ روانه ده. په دغو وروستیو څو ورځو کې چې په دغه ځنځیر د پاکستاني ځواکونو لخوا د یوې دروازې د جوړلو هڅې پیل شوې، چې په پایله کې افغان ځواکونه هم دېته اړ شول چې له دوی سره برخورد وکړي او د پوځي اقداماتو له امله پاکستانیان له دغه کاره راوګرځوي. دواړو لورو ته څه ناڅه تلفات هم واوښتل او په پایله کې د پاکستان د دفاع وزیر له خپل ولس سره د غچ اخیستلو ژمنه هم وکړه. اوس که څه هم جګړه تر یوه بریده درېدلې ده، خو په سیمه کې په سلګونو هغه بېلابېل موټر چې له خوراکي او ځینې نورو موادو څخه ډک دي او ښایي چې د خرابېدو له ګواښ سره هم مخامخ شي. بله مسئله دا ده چې له اقتصادي پلوه نه یوازې افغانستان بلکې پاکستان ته هم د زیان اړولو مسئله پر ځای موجوده ده، خو هغه څه چې تر ټولو د پام وړ دي، هغه په دې برخه کې د بهرنیانو رول و، ځکه دلته د کابل او واشنګټن ترمنځ یو هوکړه‌لیک موجود دی چې د هغه لیک شپږمه ماده د بهرني تېري تر نامه لاندې ده او په هغه کې ځای ځای دېته اشارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې چې په دریو مادو کې یې اساسن دې مسئلې ته هم اشاره شوې ده. دا چې دوی په دې برخه کې څه کړي، دېته به هم پر دغه بحث کې اشارې وشي. په استډیو کې د سیاسي چارو شنونکي ښاغلی جمال ناصر اصولي او ښاغلی آرین خیبر راسره دي. تاسو دواړو ته ډېر ښه راغلاست وایم، منندوی مو یم.

اصولي صاحب له تاسو به یې پیل کړم او له همدغه ځایه به راشو، هغه څه چې ترسره شول بحثونه ډېر پرې وشول، وروستي جزیات یې له تاسو سره هم دي او له درنو لیدونکو سره هم، خو تاسو په دې برخه کې د بهرنیانو رول څنگه ارزوئ، ځکه د بهرني تېري په نامه په شپږمه ماده کې څو بندونه راغلي چې په هغو کې اشارې شوې او دا هم پکې ویل شوي چې باید په دې برخه کې د امریکا لخوا له افغانستان سره مشورې وشي یا د بهرني تېري پر وړاندې حتا ځوابونه هم ورکړل شي. تاسې یې څنگه ارزوئ، ایا په رښتیا هم بهرنیان په دې برخه کې سم په مخه لاړل کنه؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! بهرنیانو تل کوښښ کړی چې د افغانستان کړکېچ لا پیاوړی کړي. دوی د افغانستان لپاره نه پاکستان خپه کوي او نه هم ترې تېرېږي. د ډیورند پر موضوع کلونه وړاندې امریکا خپل نظر ورکړی و او دا یې ویلي وو چې ډیورند د پاکستان او افغانستان ترمنځ یو نړیوال سرحد دی، یعنې دا له امریکا او نړیوالو سره حل موضوع ده، ځکه امریکا خپل نظر پرې ورکړ. کله چې امریکایان افغانستان ته راتلل د ډیورند د موضوع لومړۍ ماده وه چې له امریکایانو سره پاکستان مطرح کړه چې تاسو کولای شئ زموږ له خاورې افغانستان ته لاړ شئ او هلته هغه څه وکړئ چې ستاسو موخه ده. خو یو کار به کوئ، هغه دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان اردو به زموږ پر وړاندې نه تقویه کوئ او د ډیورند موضوع به له موږ سره منئ. د دغو ټولو په اړه هغه وخت امریکا له پاکستان سره یو پټ تړون کړی و او یا یې هم په شفاهي ډول ورسره منلې ده. مخکې له دې چې پاکستانیان د ډیورند موضوع راپورته کړي، امریکایانو دا موضوع ځو ځله راپورته کړې ده او ویلي یې دي چې دا یو نړیوال سرحد دی له همدې امله موږ له امریکایانو څخه هیله لرو چې هغوی به د ډیورند په موضوع کې د افغانستان په خوا ودرېږي. د نړۍ په نقشه د پاکستان زېږېدنه د چا کار و؟ دا هرڅه انګلیس وکړل او امریکا بیا هغه څوک ده چې له برېتانیا سره یې ګټې شریکې دي او په ګډه سره پاکستان رهبري کوي. امریکا او برېتانیا پاکستان د دې لپاره په سیمه کې روزي او ساتلی یې دی چې دوی په سیمه او منځنۍ آسیا، جنوبي آسیا او مرکزي آسیا کې خپلې ګټې د پاکستان په وسیله خوندي کړي. موږ په دې برخه له امریکایانو، ناټو او له بهرنیانو هیڅ هیله نه لرو. دا چې پاکستان دغه تحرکات ولې اوس شروع کړي، ولې یې پخوا نه کول، دغه تحرکات له ګوشتې یا له بدخشانه، چې د ډیورند کرښه راپیلېږي، راشروع د هلمند تر اواخرو پورې دي. دوی اوس له دې وډار شول چې افغانستان نور ورو ورو راژوندی کېږي او په خپلو پښو درېږي. د همدې لپاره دوی خپل تحرکات شروع کړل.

**خبریال:** اصولي صاحب په ټوله کې مو زه د خبرو یو لنډیز کوم؛ که په ټولیز ډول وګورو چې په کراتو کراتو د افغانستان پر خاوره تېري وشول، د پاکستاني ځواکونو لخوا سرحدي تاوتریخوالی رامنځته شو چې په دې برخه کې یې تورخم وروستۍ بېلګه ده، په داسې حال کې چې امنیتي ځواکونه اصلاً ترې خبر هم نه وو، د دروازې د جوړولو هڅې کېږي، خو د کابل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



واشنګټن ترمنځ امنيتي تړون د شپږمې مادې دويم بند تاسو ته وايم:

"متحده ايالات د افغانستان د ملي حاکميت خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيا پر وړاندې د هر راز بهرني تېري يا د بهرني تېري ګواښ ته د جدي اندېښنې په سترګه ګوري او دا مني چې دا ډول تېري کولای شي، د افغانستان سيمې او نړۍ په سوله او ثبات کې د دواړو لورو ګډ منافع تهديد کړي."

اوس دېته په کتو ايا امريکا يا واشنګټن دغې مسئلې ته د جدي اندېښنې په توګه وکتل، په داسې حال کې چې موږ د واشنګټن وروستی دريځ له ځانه سره لرو، هغو ويل چې په دې مسئله کې موږ اصلن دخالت نه غواړو.

**اصولي:** کله چې د حامد کرزي حکومت و، کلونه کلونه په کنړ، نورستان، ننګرهار او خوست باندې توغندي ورېدل، هغه مهال امريکا چېرې وه؟ په هغه وخت کې هم امريکا دلته حضور درلود. دې مسئلې ته راځم، کله چې له دوی سره تړون لاسليک شو، له هغې وروسته هم همدا توغندي راروان وو او هېڅ بدلون پکې رانغی، بلکې حتا تر دې چې امريکا به خپله پاکستان ته ويل چې تاسو دغه کار وکړئ چې د ډيورند مسئله راپورته شي. دا اوس هم دوی چې تحرکات کوي يوازينی هدف يې دا دی  چې د پاکستان موضوع نه، بلکې د ډيورند موضوع راپورته کړي او بحث پرې وشي. پاکستان پر دې پوهېږي چې که چېرې د ډيورند مسئله همداسې خپ او چپ پاتې شي نو په راتلونکي کې به د هغوی لپاره سرطاني ناسور ګرځي. پاکستان له دې هرڅه ډېر ډارېږي او امريکا يې په يو ډول ترلې ده. ځکه چې دلته په سيمه کې پاکستان د امريکا، او انګليس ګټې ساتي، نو پاکستان هم بايد يو څه واخلي، انګليس او امريکا د دې لپاره چې خپلې ګټې مصوؤنه وساتي، نو پاکستان هم بايد د نړۍ په نقشه کې پياوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووینې. لکه څنګه چې اوس اصلي خبره همدا ده چې که افغانستان له امریکا سره هر ډول تړونونه ولیکي، خو امریکا په دې هرڅه پاکستان خپه کوي.

**خبریال:** یعنې دا د هغوی ترمنځ یوه نهایي شوې خبره ده؟

**اصولي:** سل په سلو کې د افغانستان لپاره امریکا، انګلیس او ټول اروپایان هم پاکستانیان نه خپه کوي او نه یې رټي.

**خبریال:** اصولي صاحب ډېره مننه. ښاغلی آرین، ستاسې نظر څه دی، لکه څنګه چې یې یو بند ته اشاره وشوه، په څلورم بند کې هم دې مسئلې ته اشاره شوې، یوه برخه یې داسې ده چې "د بهرني تېري یا هم پر افغانستان د بهرني تېري د ګواښ په صورت کې دواړه لوري غبرګون ښيي" ایا په دې برخه کې د امریکا له لوري کوم غبرګون وښودل شو؟

**آرین:** د لوی خدای په نامه سلامونه تاسو او ټولو لیدونکو ته. زه فکر کوم چې امریکا هېڅکله هم نه غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي. دوی د خپل شتون لپاره د افغانستان دا بې‌نظمي او ګډوډي یوه بهانه بولي. د دغه تړون ځواب دې هغه ملګري ورکړي چې له دغه تړون سره یې ډېر احساساتي برخورد وکړ، د نتایجو له اعلان څخه یوه ورځ تېره نه وه چې بله ورځ یې دا تړون اعلان کړ. خو دلته یو نړیوال قوي ضمانت هېڅ نه‌شته. تاسو شپږمه ماده ولوسته چې امریکا هوکړه وکړه چې پر افغانستان د کوم بهرني تېري پر مهال به د دغه هېواد تر څنګ درېږي. خو له بده‌مرغه نه یواځې دا چې له افغان سرتېرو سره ونه درېدل، بلکې په ځینو مواردو کې له پاکستان سره پټې اړیکې هم پاللي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** آرین صاحب یعنې اوس یوه خبره روښانه کېږي، د تورخم وروستۍ پېښه د دوو دولتونو د جګړې خلاف یوه کوچنۍ نښته وه. موږ له امریکا سره یو تړون لرو چې هغه تړون یوه رسمي بڼه لري او ډېرې ناندرې هم پرې رامنځته شوې، نن د همدغه تړون په شتون کې امریکا وايي چې موږ په دغه مسئله کې نه ښکېلېږو، نو افغان حکومت یې پر وړاندې ولې چوپ پاتې دی؟

**آرین:** په افغان حکومت کې دغه ظرفیت نه‌شته. موږ په ملګرو ملتونو کې د افغانستان یو داسې استازی لرو چې هغه هېڅ افغانستان نه مني، نو هغه به څنګه د افغانستان غږ پورته کړي. موږ باید یوه قوي ډیپلوماسي لرلی؛ په ملګرو ملتونو کې مو داسې پیاوړي کسان وای چې پر پاکستان یې عرض کړی وای. زه اوس هم وایم چې امریکا له موږ سره نه ده ولاړه، بلکې امریکا خپلې موخې لري. دا په افغان دولت پورې اړه لري چې دلته باید پیاوړی حکومت وکړي.

**خبریال:** د چوپتیا تر شا یې تاسو څه وینئ؟ بالاخره ولې حکومت چوپ پاتې دی؟

**آرین:** د افغانستان د خلکو لپاره د ولسمشر او د ملي امنیت د سلاکار په پاک نیت شک نه لرم، خو د دولت په منځ کې، د ایران په څېر، د پاکستان د ISI پنځم ستون شته. د ولسمشر په دفتر کې یې مشاورین شته او ریاست اجرایه خو د ISI رسمي مزدوران دي. فضل الله وحیدي د هرات رسمي والي و، په اسلام آباد کې ونیول شو هلته ورته ویل کېږي چې ستا ورور او ستا زوی اوس په ارګ کې دي، یعنې دوی زموږ د ارګ له موضوعاتو دومره خبر دي. ورونه یې چې تللي وو، څلویښت کاله پخوا همدوی ورسره هوکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې چې افغانستان به یې پنځمه صوبه وي. زموږ خاد په همغه وخت کې اسناد پیدا کړل، چې حکمتیار هغه مهال پاکستانیانو ته لیک ورکړی و چې اوسمهال خو نیم حکومت د حکمتیار دی همداسې جمعیت اسلامي او اتحاد اسلامي.

**خبریال:** ښه، دا هرڅه د یوه جلا بحث موضوع کېدای شي، خو دا چې اوس موږ یو تړون لرو پر دې اړه مو بحث دی. اصولي صاحب تاسو ته راځم؛ موږ چې کله تړون لاسلیک کړ، د تړون لپاره ځار هم موجود دی که نه، هر وخت په دې برخه کې ستونزې رامنځته کېږي بهرنیان به د جګړې ډګر ته ورځي یا نه، خو په ټوله کې د کابل واشنګټن تړون تر پوښتنې لاندې دی او نقص کېږي، دغه تړون د څه لپاره لاسلیک شو چې نن یې اصلاً څوک پوښتنه هم نه کوي او نه یې عملي کوي.

**اصولي:** پخواني ولسمشر کرزي په هغه وخت کې نه غوښتل چې دغه تړون لاسلیک شي، ده یوازې د دې لپاره وخت تېراوه چې خپله دوره یې پوره شي او هغه له واکه لرې شي. بیا چې د ډاکټر اشرف غني حکومت راغی، هغه به په دې اړه پرېکړه وکړي. ده سیاست وکړ او لکه څنګه یې چې ویل، تر هغې چې خپلې غوښتنې یې پرې ونه منلې، تر هغې یې تړون هم لاسلیک نه کړ. برعکس کله چې ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله د ملي یوالي په نامه حکومت جوړوي، نو په دویمه ورځ دغه تړون هم لاسیلکوي، یعنې لکه کوم ماشوم چې په ورځو ورځو له موره لرې پاتې شوی وي، په همدې ډول دوی په چټکۍ سره تړون ته راغلل او دفعتن یې امضا کړ.

پخواني ولسمشر غوښتل چې په یو ډول له دوی څخه ضمانت واخلي، خو هسې ونشول، مګر دوی په بېړه او هېجاني لاړل او هوکړه‌لیک یې لاسلیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ او اوس نهشي کولای چې پر امریکا دا مادې ومني. دا سمه ده چې دوی لاسلیک کړی، خو څوک به یې پرې ومني؟ ډاکټر صاحب اشرف غني به یې پرې مني، که ډاکټر صاحب عبدالله؟ نه، داسې هېڅکله هم نهشي کېدای. دوی اصلن دلته بېوسه دي؛ دوی ته حکومت اصلن بل چا جوړ کړ، داسې حکومت چې اصلن د افغانستان په تاریخ کې نه و.

**خبریال:** اصولي صاحب ډېره مننه. آرین صاحب! په مجموع کې موږ دغه تړون ته څه ووایو، دا تړون د څه لپاره لاسلیک شو؟

**آرین:** که د تړون په ماده موږ ټینگار وکړو دا د خلکو سترگو ته د خاورې شیندل دي. پکار ده چې حکومت بیا لویه جرگه راوغواړي او د دغه تړون په باره کې له خلکو سره خبرې وکړي.

**خبریال:** خو هغه په لومړي سر کې اراده غواړي. اوس چې حکومت په یو بند ورسره چوپ پاتې دی او اصلن نه پوښتنه شته، نه لا بیان او نه هېڅ، نو بیا لویه جرگه خو یوه غټه مسئله ده.

**آرین:** زه وایم چې خپله دولت تر فشار لاندې دی.

**خبریال:** په دې معنا چې که نور مملکتونه او گاونډي هېوادونه د افغانستان پر خاوره تر دې هم قوي بریدونه ترسره کړي، نو په هغه صورت کې به هم واشنگټن همداسې چوپ پاتې وي او واشنگټن به په ځغرده وايي چې موږ په دې مسئله کې دخالت نه کوو.

**آرین:** هغه وروسته خبرې دي، لکه چې اصولي صاحب وویل امریکا ته د موږ په پرتله پاکستان ډېر نږدې دی او هغه له څلوېښتو کلونو راپدېخوا دلته د پاکستان غلام دی، امریکا هم هېڅکله زموږ په خاطر پاکستان نه خپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. دا مو په یاد اوسي هر هغه ځای ته چې د امریکا پښې رسېدلي دي، هلته سوله نه ده راغلې. دا مو تل باید په یاد وي چې د افغانستان د سولې کیلي یوازې او یوازې د امریکا په لاس کې ده. که امریکا وغواړي، د ډیورند مسئله ډېر ژر حلولای شي. خو د ډیورند مسئله د اشرف غني، عبدالله یا دا نورو خلکو صلاحیت نه، بلکې زموږ د خلکو صلاحیت دی.

**خبریال:** له تاسو څخه ډېره مننه. سمونوال حسین‌خېل راسره په اړیکه کې دی، په دې اړه به د هغه نظر هم واورو. سمونوال صاحب سلامونه مننه چې وخت مو راکړ، ستاسو نظر څه دی، تاسو جګړه وکړه؛ تلفات مو ورکړل؛ ټپیان او مرګ‌ژوبلې درواوښتلې، خو په پایله کې هغه څه چې رامنځته شوي، د حکومتونو ترمنځ د کابل واشنګټن په نامه یو تړون موجود و. په دې برخه کې تاسو ته کله هم مراجعه وشوه؟ بهرنیو کله هم په دې برخه کې کوم اقدام وکړ؟ یا لږ تر لږه د مشورې تر حده تاسو سره وو؟

**سمونوال:** سلامونه تاسو ته. موږ دلته بهرنیانو ته کومه اړتیا نه لرله، موږ خپله پیاوړي یو، ښه تعلیم مو درلود او بهرنیو ته مو اړتیا پیدا نه‌شوه، مستقلانه مو له دغې ساحې دفاع کړې ده. دلته د امنیې قومندان صاحب زړه‌ور خان راغلی و هغه هم موږ حمایت کړو، نورو قوتونو ته ضرورت نه و پیدا شوی چې موږ ورڅخه مرسته غوښتې وای.

**خبریال:** یعنې که مطالبه او غوښتنه مو وشي، بیا به تاسو په هغه صورت کې بهرني امنیتي ځواکونه له ځانه سره ولرئ کنه؟

**سمونوال:** ماته خو ضرورت نه دی پیدا شوی، بیا که پیدا شو، نو دلته له عامه نظم ملي پولیسو او نورو افغان ځواکونو به مرسته وغواړم، ځکه پر دې پوله دا د پولیسو وظیفه ده او موږ نه غواړو چې دلته ټول دخیل کړو، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وړتيا لرو او هر ډول نړيوال قوانين په پام کې نيسو، دوی هم نه پرېږدو چې وخت او ناوخت پر موږ حملې وکړي.

**خبريال:** حسين‌خېل صاحب دا هم راته ووايئ چې اوس وضعيت څنګه دی؟ که څه هم ويل کېږي چې بيا هم په دروازې کار شروع کېږي، دا وضعيت څنګه دی؟

**سمونوال:** په دروازې خو مو د دوی کار اوله، دويمه او درېيمه ورځ بند کړی، ځکه چې مطلق د اصولو خلاف و، اوس ډيپلماتيکې هڅې روانې دي چې دوی له دغه کاره لاس واخلي. موږ لا د کار شروع ته اجازه نه ده ورکړې او وضعيت هم اوسمهال دلته نورمال دی.

**خبريال:** ښاغلی حسين‌خېل صاحب ډېره زياته مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴

## د ملا اختر محمد منصور وژنه

په دغو وروستیو کې ریپوټونه خپاره شوي چې، د طالبانو د ډلې مشر ملا عمر ځایناستي، ملا اختر محمد منصور سره بلې ډلې مخالفت وکړ، په تازه نښتو کې چې د پاکستان په بلوچستان ایالت کې د دوی ترمنځ رامنځته شوې لومړی ټپي او بیا وژل شوی دی. دا خبرونه که څه هم د طالبانو ډلې نه دي منلي، خو د ملا منصور بلې مخالفې ډلې، چې د ملا رسول تر نامه لاندې فعالیت او هغه یې خپل مشر منلی، دا خبره مني او وایي چې ملا منصور ټپي شوی دی. خو د افغان حکومت سرچینې وایي چې نوموړی د پاکستان په بلوچستان ایالت کې ، لومړی زخمي او بیا په روغتون کې مړ شوی دی. د دغې خبر په رامنځته کېدو سره اوس د طالبانو د ډلې د مشرتابه برخلیک ناروښانه برېښي. له بلې خوا افغان حکومت تل په دې ټینګار کوي چې د سولې مذاکرات باید پیل شي او د مذاکراتو د پیل لپاره پاکستان د ثقل مرکز بلل کېږي، خو پاکستان تل د افغانستان پر وړاندې دوه‌مخی سیاست کړی دی. اوس په تازه ځرګندونو کې په ورته وخت کې په افغانستان کې د هند سفیر ویلي چې پاکستان غواړي حقاني شبکه اوس د طالبانو د ډلې مشرتابه یا د طالبانو په وینا امیرالمونین هغه ځانګړي ځای ته معرفي کړي چې دا به د حقاني شبکه، چې د نړۍ د ډېرو هېوادونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې توګه د امریکا په تور لیست کې شامله او د یوې ترهګرې ډلې په توګه بلل کېږي، مشروعیت ورکړي. پر دغو موضوعاتو به سره بحث کوو.

د ملا اختر محمد منصور د وژل کېدو په اړه وروستي ریپوټونه په بحث نیسو، دا چې نوموړی په رښتیا هم وژل شوی که نه، پر دې به هم بحثونه ولرو. د همدغو موضوعاتو د تحلیل له پاره په سټډیو کې راسره د سیاسي چارو کارپوهان، ښاغلی جمال ناصر اصولي او تر څنګ یې ښاغلی غفور جاوید دی. تاسو ته ښه راغلاست وایم. اصولي صاحب، لومړی دا چې ملا اخترمحمد منصور دې په رښتیا وژل شوی وي، دا خبر تاسو ته تر کومه حده د منلو وړ دی او امکان یې شته؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! سلامونه تاسو او لیدونکو ته. زما په نظر دا واقعیې باید نورې هم وشي او دا واقع کېدونکې وي، ځکه کله چې طالبان په دوو ډلو ووېشل شول، دا د افغانستان د جنګ موضوع چې لا یې پېچلې کوله او ګاونډیانو پکې ګوتې ووهلې، تر څو چې افغانان ونه توانېږي د سولې پروسه پر مخ یوسي او ونه توانېږي چې له یوه مرکز سره دوی خبرې وکړي، دا حادثه شونې وه او دا ده وشوه. زما په نظر دا سړی که وژل شوی وي او که نه، ترڅنګ به یې نور قومندانان هم ووژني چې د هغوی استخباراتو کړنې ونه مني او د استخباراتو پر ضد یې وي، کوم چې دوی ته ویل کېږي. بله مسئله چې له ټولو مهمه ده، لکه څنګه چې اشاره مو وکړه د سیمې استخبارات اوسمهال غواړي چې د افغانستان جنګ لا پېچلی کړي. دوی غواړي چې طالبان په ډلو ډلو ووېشي. عملن طالبان په دوو ډلو وېشل شوي دي، ترڅنګ یې داعش او ورسره د حکمتیار ډله ده چې په ټوله کې په اصطلاح څلور تنظیمه شول. دا به نور هم تر لسو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتو رسېږي، لکه څنګه چې د جهاد پر وخت کې یې پخواني مجاهدین وېشلي وو، دوی غواړي چې همدا جنګ لا پېچلی کړي، لکه څنګه چې د مجاهدینو په وخت کې یې پېچلی کړی و. خو نظام یا حکومت به چې مجاهدینو ته وړاندیز وکړ چې راشي او د سولې مېز ته کېني، بیا به دوی ته په ډول ډول غړونه راتلل. اوس هم همدا مسئله روانه ده. همدا پېچلتیا د جنګ چې پخوانیو استخباراتو په لاره اچولې ده دا به لا هم پېچلې کوي. دوی همدا طالبان چې فعلن په دوو ډلو وېشل شوي، په راتلونکي کې به یې په څلورو ډلو ووېشي.

**خبریال:** ښه کله چې تاسو وایاست چې د استخباراتو کومه لوبه روانه ده، نو دلته د دوی لاس لرل راځي، که چېرې ملامنصور وژل شوي وی، تاسو فکر کوئ چې دا به د سیمې استخبارات کار وي، په بلوچستان کې د هغه د وژل کېدو ریپوټونه ورکول کېږي، ایا ISI به دا کار کړی وي، که هو، نو ستاسو نظر څه دی؟ دغه کار یې ولې کړی؟

**اصولي:** لکه څنګه چې مو مخکې وویل، پاکستان نه غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي، پخوا کله چې د سولې خبرې پیل شوې، دوی د ملا عمر د مړینې موضوع رابرسېره کړه. دا په داسې حال کې ده چې کله دغه موضوع پټه شوې وه، یعنې د ملا عمر د مړینې موضوع دوه کاله پټېږي او کله چې وخت راځي او د افغانستان د سولې موضوعات له ستونزو سره مخوي، بیا یې نو د ملا عمر مرګ رامخته کړ. اوس هم کله چې نړۍ په همدې راتم شوه چې پر پاکستان فشارونه راوړي او موږ تاسو ولیدل چې پر پاکستان یې فشار راوړه چې د افغانستان د سولې له پروسې سره همکاري وکړي، خو دا چې د پردې تر شا څه کیسې دي، پر هغې موږ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو پوهېږو چې پاکستان هېڅکله هم صادق نه دی پاتې شوی. په دې برخه کې دوی بیا هم همدا کار وکړ همدا دوې ډلې یې سره وجنګولې.

**خبریال:** یعني ISI غواړي چې طالبان په څو ډلو ووېشي، چې مشرتابه معلوم نه وي او د افغانستان د سولې پروسه همداسې وځنډېږي.

**اصولي:** بالکل. سل په سلو کې همداسې ده.

**خبریال:** ډېره مننه. جاوید صاحب ستاسې نظر څه دی، لکه څنګه چې اصولي صاحب ورته اشاره وکړه ISI ته نور ملا منصور یوه مطلوبه مهره نه وه او د دې اړتیا لیدل کېده چې نور یې باید له صحنې څخه لرې کړي، ځکه یې هغه وواژه دا منئ؟

**جاوید:** ستاسو، اصولي صاحب او لیدونکو ته د سلام په وړاندې کولو سره. زه به د خپلو معلوماتو پر اساس دا موضوع یو څه روښانه کړم. اول دا چې تر اوسه د ملا منصور مرګ لا نه دی تایید شوی او افغان حکومت هم د ده مړینې راپور رسماً نه دی تایید کړی.

**خبریال:** خو د ولسمشر د دویم معاون د دفتر لخوا دا تایید شوې. د دې ترڅنګ په هلمند کې د ۵۰۵ قول اردو قومندان هم دا هرڅه تایید کړي.

**جاوید:** نه، هغه په ټویټر لیکلي چې سړی ډېر شدید زخمي دی، خو د مرګ تایید یې نه دی کړی. دویمه موضوع دا چې ملا منصور په طالبانو کې په دې باره کې یو تېز او قوي سړی و. له پښتو، دري سربېره په عربي، اردو، هندي او انګلیسي ژبو پوره حاکم و. په دغو وروستیو کې یې له یو شمېر عربي هېوادونو سره ښې اړیکې ساتلې وې او په دغو وروستیو کې یې غوښتل چې د افغان حکومت هغې غوښتنې ته لبیک ووایي، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو سره د سولې په تړاو وه او دا خبرې هم روانې وې، پاکستان تر ډېره بریده هڅه کوله چې دا هرڅه مهار کړي. ده څه نا څه له ایران سره هم تعلقات ساتلي وو او ځینې امکانات یې له عربي هېوادونو هم ترلاسه کړي ول، خو هغه خودمختاره حرکت یې د دې لامل شول چې له داسې یوه برخلیک سره مخ شي. بله مسئله دا ده چې پاکستان غوښتل که داسې یو څوک راشي، چې سبا د افغانستان د سولې امتیاز طالب ته هم ورکول کېږي، نو باید داسې کس وي چې د دوی هغه اصلي موخې وڅاري. دا هرڅه د هغه د خبرو اصلي ټکي دي چې پاکستان دغه کار وکړ.

**خبریال:** اصولي صاحب لکه څنګه چې جاوید صاحب اشاره وکړه، د هندوستان سفیر وایي چې پاکستان اوس بله لوبه پیل کړې هغوی له حقاني شبکې سره خبرې غواړي او دوی د طالبانو رهبریت ته رابولي او نړیوال اذهان هم دېته چمتو کوي. دا چې دا ډله له یوې خوا د امریکا او نورو هېوادونو په تور لیست کې ده او له بلې خوا بیا دلته طالبانو ته هم یوه ډله د منلو وړ نه ده. تاسو ته څومره حقیقت پورې تړلی خبر ښکاري او ښاغلی سنها ولې باید دا ډول خبرې وکړي؟

**اصولي:** زما په اند د طالبانو دا اوسنۍ دوې ډلې له پاکستان سره ډېرې جوړې نه وې او پاکستان هم ډېر باور پرې نه لاره، لکه څومره چې یې د حقاني پر شبکه کوي. پاکستان به دومره لېونی هم نه وي چې په اوسنیو شرایطو کې، چې د ټولې نړۍ سترګې د حقاني شبکې ته دي او د دغه شبکې نوم هم په تور لیست کې دی، فکر نه کوم چې د ټولو سره سره دې د حقاني ډله رامخته کړي. دا سمه ده چې د طالبانو هغه تجهیزات، چې پاکستان ورکول، یو څه به کم شي او حقاني ډلې ته به یې ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبريال:** اوس د امريکا او د لوېديځ هېوادونو دغه تور ليست تاسو ته څومره د باور وړ دی؟ ځکه په تېرو کې داسې بېلګې شته چې تور لست دفعتن سپين شي.

**اصولي:** سل په سلو کې تور او سپين د دوی په لاس کې دي، چې هرڅه يې زړه وي هسې يې جوړوي او دا تور ليست هم د ناټو او امريکا لخوا جوړ شوی. ناټو او امريکا خپله پر دې پوهېږي او عملن يې ويني چې حقاني شبکه چېرې ده؛ چېرې روزل کېږي؛ پټنځايونه يې چېرې دي؛ اډې يې چېرې موقعيت لري. چې دا ټوله نړۍ ويني هره شېبه يې همدا امريکا او ناټو د هغوی د اډو فلمبرداري کوي. نو همدا امريکا او ناټو ته د هغو تمويل او تجهيز هرڅه معلوم دي. روزنتونونه يې ورته معلوم دي، دوی پخپله همداسې کوي چې دغه جنګ په همدې ډول وغځوي دا چې ولې يې وغځوي هغه ځانته مسئله ده، امريکا دلته په سيمه کې نور ستراتېژيک اهداف لري. دلته يې د داعش په نامه بله ډله راپيدا کړه، دا يې هم په سيمه کې د روسيې او د چين او منځنۍ آسيا لپاره يو سور ځراغ دی او دوی پرې ځوروي. زما په اند دا چې د دوی وس ورسېږي، د افغانستان اوضاع لا نوره خرابوي، څو دلته، منځنۍ آسيا، چين، روسيه او نورو ته يو ګواښ جوړ کړي. بله مسئله کومې پروژې چې امريکا يې په ناټو جوړوي او پر پاکستان يې عملي کوي يا پاکستان په سيمه کې يو قراردادي شرکت جوړوي، د همغو پروژو په اواخرو کې په دې ډول بايد راڅرګند شي چې دلته داعش بايد قوي شي، ترڅنګ يې طالبان ورو ورو له صحنې څخه وځي. دا چې په کوم ډول، دا بيا ځانته مسئله ده. يا هم په ډلو ډلو تقسيمېږي يا له داعش سره يوځای کېږي، يا يې ځينې ډلې له دولت سره يوځای کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** یعنې د طالب د حذفېدو لپاره یوه پالیسي روانه ده؟

**اصولي:** بالکل. د طالب د نوم د حذفولو یوه پالیسي په دې ډول روانه ده چې دوی باید وویشل شي، ځینې ډلې یې له داعش سره وي، ځینې ډلې یې له حکومت سره یوځای شي او...

**خبریال:** خو ځینې نور تحلیلونه بیا په دې برخه کې داسې دي چې دغسې طرحه پکې ناممکنه برېښي، ځکه طالبان که څو ډلې هم شي، په هغه کې له ایډیالوژیکي لحاظه جګړه کوي. چې دوی ته بیا داعش د منلو وړ نه دی، دوی بیا د اسلامي امارت په نامه کلک ولاړ دي.

**اصولي:** دا اوسنۍ ډلې هم چې په دوو ډلو وېشل شوې دي، زما په اند په نږدې وختونو کې به د دوی یوه ډله د طالب په نامه پاتې وي او بله ډله به ځانته یو نوم غوره کوي. همدا یوه ډله چې د طالب په نامه پاتېږي، دا به هم په ډلو وېشل کېږي، ځکه اوس د دې وخت رارسېدلی چې دوی څنګه تجزیه کړای شي. څو دلته د طالب نوم ورک شي دا چې بیا په کوم نوم راژوندي کېږي یا د کوم نامه تر سیوري لاندې به جګړه کوي، دا بېله مسئله ده.

**خبریال:** اصولي صاحب ډېره مننه. جاوید صاحب ستاسو نظر څه دی، لکه څنګه چې اصولي صاحب اشاره کوي کیسه ټوله داسې روانه ده چې بالاخره به د طالبانو په نامه ډله د اسلامي امارت بېخ او بنیاد ونړوي او له صحنې به حذف شي. تاسو ته څنګه ښکاري، آیا دا ممکنه ده؟

**جاوید:** څه نا څه ممکنه ده، ځکه هغه څه چې د پاکستان په لاس کې دي؛ هغه امکانات او اړیکې چې پاکستان یې له دې ډلې سره لري؛ تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره اغېزمنې اوسېدای شي. تاسو وګورئ د کوټې شورا په نړیواله سطحه ډېره یاده شوه چې دا ولې له منځه نه ځي؛ ولې یې مخه نه نیول کېږي او... خو د پاکستان موخه دا ده چې دا ځای باید بل ځای ته منتقل شي. هغه د حقاني ډلې ته منتقل شي او ځای یې بدل شي، ځکه غواړي نړیوالو ته دا وښایي چې د تروریزم ځالې په خپله خوست، پکتیا او نورستان کې دي. بله مسئله دا ده چې په ایډیولوژیکي لحاظ فکر نه کوم چې دوی په لنډه موده کې د طالب دا مفکوره له منځه یوسي، ځکه دا مفکوره په ایډیولوژیکي بڼه ډېره پراخه او قوي ده. دا وروستۍ پېښې چې د داعش په وسیله شوې، د افغانستان له عقیدوي او کلتوري لحاظه سره ډېر زیات توپیر لري، نو زه فکر کوم چې په دې که به داعش زیاتې لاسته‌راوړنې ونه لري، خو طالب یې لري، مثلن په ډېرو مسایلو کې طالب په کلیو کې مداخله نه ده کړې. په دغو وروستیو کې یې وویل چې حتا ښوونځي دې بېرته فعال شي. یا په ننګرهار کې له تېرو ۱۴ کلونو راهیسې ښوونځي نه وو تړل شوي، خو داعش چې راغی هغه ټول ښوونځي وتړل شول.

**خبریال:** اصولي صاحب ستاسو نظر په دې اړه غواړم. د سولې فضایي هندسې ته ورته معادله چې افغان حکومت یې په مخ کې لري، هر ځای چې یې د ډیپلوماسۍ له لحاظه یادونه کوي، کابل پر دې ټینګار کوي چې موږ د سولې په مذاکراتو کې ګامونه اخلو که په هرشکل یې یادونه کوي. اوس که د طالب د حذف مسئله مطرح وي دلته بیا د سولې دا مجهوله معادله بالاخره څه نتیجه ورکوي؟

**اصولي:** کله چې د طالب نوم حذفېږي، هغه ډلې چې په کوم بل نامه اوړي، هغه ځانته مسئله ده. یعنې دا په دې معنا ده چې د طالب نوم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحنې وځي. د طالب ډلې وېشل کېږي، هغو ته نور نومونه ورکول کېږي، یعنې بیا به هم دوی د افغانستان په جګړه کې شته وي، خو په یوه بل نامه. دا په دې معنا نه ده چې له صحنې لرې شي. یوازې د هغه طالب نوم له منځه ځي.

**خبریال:** یعنې تاسو فکر کوئ که چېرې طالب له منځه ځي او بیا په داعش اوړي، نو همدا شان معادله به د هغوی پر وړاندې د روغې جوړې لپاره پر مخ بیایي، که څنګه؟

**اصولي:** بالکل.

**خبریال:** خو بیا داعش یوه داخلي پدیده نه بلل کېږي، هغه وخت نو داعش یوه بهرنۍ پدیده ده چې لوی اهداف لري او خراسان غواړي. دا مذاکره د کوم قانون او کوم منطق له مخې؟

**اصولي:** اصلن مسئله داسې ده چې سوله د افغانانو په لاس کې نه؛ د پاکستان په لاس کې ده، او د هغو قدرتونو په لاس کې ده چې په افغانستان کې سوله او جنګ دواړه پر مخ وړي.

**خبریال:** دا چې تاسو وایئ چې سوله د پاکستان په لاس کې ده دلته بیا افغان حکومت څه کوي له دې څخه ولې همېشه لاره ورکه وي؟ بالاخره ۱۴ کاله تېر شول څنګه افغان حکومت لاره نه‌شي پیدا کولای؟ که نه غواړي یا دلته کومه اراده موجوده نه ده؟

**اصولي:** اصلن داسې ده لکه مخکې چې موږ وویل کومې پروژې چې پاکستان ته ورکول کېږي، پاکستان هماغه پروژې پر مخ وړي، خو یوازې دومره کوي چې خپلې ملي ګټې پکې ساتي او د خپلو ملي ګټو په خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلو سره دوی هغه پروژې په افغانستان او سیمه کې پلې کوي. اوس هم زموږ سیاسیون لا پر دې هم نه پوهېږي او چیغې وهي چې افغانستان او پاکستان دواړه د تروریزم قرباني دي. زما سر پر دې نه خلاصېږي چې زموږ سیاسیون له یوې خوا وایي چې همدا تروریزم پاکستان راته تمویلوي او له بلې خوا وایي چې پاکستان هم د دغه تروریزم قرباني دی. څنګه قرباني؟ قرباني خو موږ یو، پاکستان خو ترویزم روزي. نه، پاکستان یې سل په سلو کې قرباني نه دی؛ پاکستان ترویزم روزي او خوروي یې، بلکې قرباني یې افغانستان دی.

**خبریال:** ډېره مننه اصولي صاحب. جاوید صاحب ستاسې نظر څه دی پاکستان عین رول لوبوي، دوی باید ځینې پروژې پلې کړي، داعش صحنې ته راتلونکي دی او پاکستان هغه کارونه کړي چې ۱۴ کاله پرې تورن دي، چې په افغانستان کې یې بېلابېلې وسله‌والې ډلې روزلې، نو د داعش په وړاندې به هم عین پالیسي ولري.

**جاوید:** زه فکر کوم چې پاکستان په ټوله کې دا هر څه ترسره کوي. خو پاکستان اوس باید پر دې پوه شي چې دا ځل که افغانستان نارامېږي، نو طبیعي خبره ده چې خپله به هم د دغه ناامنۍ اور ورسېږي. پاکستان چې په وروستیو کې په سیمه‌ییزو مسایلو کې ځان ښکېلوي، مثلن شانګهای یې ترلاسه کړ یا له روس یا چین څخه وسلې رانیسي، نو زه فکر کوم چې دې نتیجې ته پاکستان هم تر یوې اندازې، خصوصن یې ملکي سیاسیون، رسېدلي دي، څو په سیمه کې خپلو پالیسیو ته بدلون ورکړي. لکه ویل کېږي چې داعش پاکستاني رسنیو ته اخطارونه ورکړي، ښکاره ده کله چې پاکستان پروژې پلې کوي، بالاخره به یې دوی ته هم یو څه ضرر رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** که په لنډه راته ووایاست، آیا د دې امکان هم شته چې طالبان یو ځل بیا بسیج شي او تر یوه رهبریت لاندې کار پیل کړي.

**جاوید:** زه فکر کوم چې دا مسئله اوس ډېره ستونزمنه ده. نور طالب متحد کېدای نهشي، یوه مسئله کېدای شي چې که د طالب بڼه بدلون ومومي او د حقاني شبکې تر رهبریت لاندې یې راولي، شاید یو څه امکان ولري او هغه څوک چې له پاکستانه سرکشي کوي، ممکن هغه ترور کړي.

**خبریال:** اصولي صاحب ستاسو نظر هم په ورته مسئله کې غواړم، آیا حقاني شبکه ټولو ته د منلو وړ ده؟

**اصولي:** هېڅکله نه، هغه طالبان چې په پراخه پیمانه له ISI سره اړیکې نه لري، هغوی ته هېڅکله د منلو نه ده، لکه څنګه چې اوس په دوو ډلو وېشل شوي چې یوه یې بېخي له ISI څخه وتلې او په پوره هغه افغاني ننګ ورڅخه بېل شوي دي.

**خبریال:** اصولي صاحب ډېره مننه. جاوید صاحب له تاسو هم نړۍ مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵

# د ملي يووالي حکومت په اړه د جان کېري خوشبيني

اصولي صاحب تاسو ته ښه راغلاست وايم. جان کيري وايي چې د ملي يووالي حکومت نسخه يوه سمه نسخه وه، موږ پر دې وتوانېدو چې د افغانستان د کورنۍ جګړې مخه ونيسو دا خبر تاسو ته څومره د منلو وړ دی؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! جان کيري په هغه وخت کې هم له ځينو پلانونو سره افغانستان ته راغی او خپل پلانونه يې پر افغانانو ومنل. د افغانانو هغه روحيه، چې په ټاکنو يې لرله، هم يو څه زيانمنه کړه. د خلکو رايو ته احترام ونه‌شو او په زور له ولسمشر غني څخه حکومت نيم کړای شو، له همدې امله دا طرحه د جان کيري وه. دوی چې څه کړي، د تل لپاره به له هغو دفاع کوي. که دوی دا مثال ورکوي چې افغانستان به کورنۍ جګړې ته نږدې شوی و، نو دا يو غلط فکر و، ځکه هغه کورنۍ جګړې چې پخوا په نوويمه لسيزه کې رامنځته شوې وې، هغوی ته هم چې چا بنسټونه اېښي ول، يوه يې امريکا وه او بل يې روس. امريکا په هغه وخت کې هغه خلک پرېښودل چې کله شوروي اتحاد مات شو، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلو کې سره ورته شول؛ په یوه نه کنټرولېدونکي حالت کې یې پرېښودل او هغوی غوښتل چې دا کنټرول نه‌شي، څو چې په افغانستان کې کوم ملي بنسټونه دي یا هغه ټول موجوده سیاسي او اقتصادي بنسټونه له منځه یوسي او هماغسې یې و هم کړل. نو هغه نسخه هم د امریکایانو او روسانو وه، له همدې امله اوسنۍ نسخه هم، چې په افغاني سیاسیونو او مشرانو یې عملي کړه، د امریکا وه. ځکه خو موږ ویلای شو چې هغه وخت هم موږ د کورنیو جګړو په لور نه تلو، ځکه حالات داسې وو چې که ولسمشر غني هم په هغه وخت کې باید ویلي وای چې ما خو واک ترلاسه کړی، رایې مې اخیستې او ټاکنې مې ګټلې، نو ولسه که تاسو غواړئ چې زه ولسمشر شم، نو ښه تر ښه او که نه غواړئ، نو درنه لاړم، نو دا اوسنۍ ستونزې، چې په دولت کې راپېښې‌ږي، ډېرې به کمې وای. خو په هر حال امریکایانو دا نسخه په افغانانو عملي کړه. دا که د زهرو غړپ هم و افغانانو نوش جان کړ. د اوس لپاره افغانان باید پر دې فکر وکړي چې څنګه کولای شو له دغو ستونزو څخه تېر شو. یعنې موږ یې باید پر اساسي بنسټ فکر وکړو. دغه زموږ نظام دی او موږ نظام ته ضرورت لرو. او د نظام د بقا لپاره باید ټول افغانان سره لاس ورکړي او تقویه یې کړي. له خپلو ملي ځواکونو، دولت او حکومت څخه دفاع وکړي او له همدغو مشرانو څخه هم دفاع وکړي. ځکه اوس مو همدوی ځانته ټاکلي، ځکه نو افغانانو ته پکار ده چې له حکومت او خپل دولته دفاع وکړي؛ له دوی سره یولاسي شي او له دغو راروانو ستونزو څخه تېر شو، څو په راتلونکي کې له دغه حکومته یو ښه حکومت ولرو او یا هم له دغه ولسمشر څخه لا ښه ولسمشر ولرو. موږ داسې نه‌شو کولای چې اوس ټوپک راواخلو او خپل نظام خراب کړو یا له طالبانو سره لاس ورکړو، بلکې پکار ده چې د خپل نظام ملاتړ وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان‌کيري په هغه وخت کې، چې خپل پلانونه يې په افغانستان کې عملي کول، ټول کارونه د خپلو ملي ګټو لپاره کړي او اوس هم ژمن دي چې له دغه حکومته او له دې دولته دفاع وکړي. که د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت څخه يې دفاع ونه کړه، نو دوی دلته خپلو موخو ته نه‌شي رسېدلای. له همدې امله مجبور دي چې دفاع وکړي.

**خبريال:** په ورته وخت کې دفاع وزارت هم وايي چې دوی په افغانستان کې مثبتو بدلونونو او راتلونکې ته خوشبينه دي، خو له دغو ټولو سره سره بيا هم افغانستان له خطره ډک هېواد بولي. دا څرګندونې بيا د جان‌کيري له وروستيو څرګندونو سره چې امريکايان د امريکا په اړه موقف نيسي او بل اوباما چې د افغانستان په اړه خبرې کولې، هم لاسته‌راوړنې يادولې او دا راز د داعش موضوع ته يې هم اشاره وکړه. په ټوليزه توګه په افغانستان د امريکا دا ټينګار څه پيغام لري؟

**اصولي:** په افغانستان کې جګړه د بهرنيانو په لاس کې ده، دوی جګړه له دې خوا هم رهبري کوي او له هغې خوا هم. که چېرې دوی د افغانستان له دولت سره رښتيا او په صادقانه ډول ملګري وی، نو بيا يې هلته ملګرتيا نه کوله، له همدې امله دوی بيا هلته صادق نه دي. دوی هغه ستونزې او هغه مشکلاتويني چې په افغانستان کې پېښېدونکي دي او يا هم دوی پلانونه ورته نيولي، چې دا بايد په دې ډول په افغانانو يا په افغانستان کې پلي شي. له همدې امله مخکې له مخکې وړاندوينه کوي چې ټول هغه پلانونه د دوی په لاس کې دي چې په افغانستان کې د جګړې لپاره جوړېږي. يعنې که چېرې دوی په افغانستان کې سوله غوښتلای، نو پر پاکستان يې رښتينی فشار راوستلای شوای او په افغانستان کې هم سوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتله. هغه ټول مراکز، تجهیزات، تمویل او جلب و جذب افغانان ویني چې په پاکستان کې د دولت د مخالفو ډلو لپاره کېږي. دا څوک او ولې یې کوي، پر دغو ټولو اوس د هر افغان سر خلاص دی، ځکه خو که چیرې امریکا غوښتلای، نو پاکستان ته یې ویلای شول چې دا کار مه کوه، خو دوی پر پاکستان فشار نه راولي.

**خبریال:** اصولي صاحب که ټولو مسایلو ته وګورو د امریکا دریځ ته تاسې اشاره وکړه چې دوی په دې ډول سره څه غواړي، البته د دوی هغه خپل اهداف دي چې غواړي په دې ډول یې تعقیب کړي. خو یوه مسئله، چې د سړي پام ځانته اړوي، دا ده چې زموږ د حکومت مشران بیا په دې برخه کې څه نه وایي. مثلن ۲۰۱۷ هم د ناټو او هم د امریکا لخوا ډېر خطرناک او له تهدیدونو ډک کال بلل کېږي. په ځانګړې توګه بیا د پنټاګون لخوا، وروسته د داعش یادونه کېږي چې ګواکي دا ډله په افغانستان کې د ځالې موندلو په لټه کې دي. هلته بیا روسیه وایي، چې عملن داعش دغه کار ته راغلی؛ پرمختګ یې کړی او په دې برخه کې له طالبانو سره اړیکې نیسي. بل لور ته بیا د امنیت په ډګر د ګواښونو او سختیو یادونه کېږي، خو افغان حکومت بیا په خپلو کې سره ډېری وخت اخته دي او د یو او بل پر وړاندې دریځونه نیسي. که په کنفرانس یا هره مسئله کې وي، د یو او بل په مقابل کې دریځونه نیسي او د داعش په اړه ډېر څه نه وایي. همداراز زموږ امنیتي ارګانونه هم په دې برخه کې چوپ او یا د ویلو څه نه لري. ولې دا ډول یو حالت رامنځته شوی دی. موږ ایا په دې اوسني حکومت کې لومړیتوبونه وینو، که دا لومړیتوبونه تر موږ ډېر نورو ته ښه واضح دي؟

**اصولی:** لکه څنګه چې مو په لومړیو کې اشاره وکړه، جګړه د بهرنیانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس کې ده، دوی یې کنټرولوي؛ دوی یې ګرموي او سړوي؛ دوی ته ښه معلومېږي چې حالات څنګه روان دي. هر کله چې روسيې په ځغرده وویل چې موږ له طالبانو سره اړيکې لرو او دا اړيکې مو د خپلو ملي ګټو په بنسټ له هغوی سره ټينګې کړې دي؛ يعنې که په لويه کې وويل شي، کله چې امريکا کوم ځای ته ځي، په زرګونو کيلو متره لرو سيمو کې د خپلو ملي ګټو ساتنه کوي او هلته يرغل کوي، نو روسيه هم حق لري چې له طالبانو سره اړيکې ولري، خو ستونزه دا ده چې په دغه اور کې څوک سوځي، بيا هم افغانان سوځي، يعنې افغانستان به د نيابتي جګړې مرکز وګرځوي او دا هرڅه د همدې په لور روان دي، دا کړنه څوک کوي، همدغه امريکايان يې کوي.

**خبريال:** خو د حکومت رول تاسو څنګه ګورئ؟ دا به صحيح وي چې په افغانستان کې بهرنۍ لوبې شته اوس تقريبن د ۱۵ کلونو په تېرېدو سره ډېر مسايل په همدې اړه دي او نظريات هم رامنځته کېږي. پوښتنه دا ده چې افغان د ملي يووالي حکومت ولې په دې برخه کې څرګند دريځ نه لري؛ په دې اړه څه نه وايي او مسايل تر ډېره مبهم او ګونګ پاتېږي؟

**اصولي:** دغو پوښتنو ته هم راځم، نو روسيه هم دېته وهڅول شوه چې د داعش پر وړاندې له طالبانو سره کمکونه ولري. دا په دې معنا ده چې امريکايان هم غواړي چې افغانستان د نيابتي جګړې مرکز وګرځوي، لکه ورو ورو چې اوس روان دی او دا يوه خطرناکه جګړه ده چې زموږ رهبران او سياسيون بايد فکر پرې وکړي. د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې چې طالبان فعاليت پکې کوي؛ داعش فعاليت پکې کوي؛ حتا تر چينه هم په دې موضوع کې له روس سره ښکېل شول، نو له طالبانو سره يې اړيکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کړې؛ ایران ورسره اړیکې پیدا کړې، دا په دې معنا ده چې افغانستان خطرناکې مرحلې ته روان دی، ځکه خو د دې هرڅه مخه باید ونیول شي.

راځم ستاسو پوښتنو ته، هر کله چې افغانان یو پیاوړی حکومت ولري؛ هر کله چې افغانان داسې حکومت ولري چې په سیمه کې مو کوم هېواد ته د خیرات لاس نه وي نیولی، نورو هېوادونو ته اړ نه وو، نو بیا په هغو حالاتو کې له ټولو سره ځغرد غږېدلای شو. زمونږ حکومت همدا مسایل ویني، اما ځینې کړه وړه داسې دي چې سمون ته یې وس نه رسي، یعنې موږ داسې پیاوړی دولت نه لرو، لکه د پاکستان، ایران یا د نور هېوادونو. نو پکار ده چې موږ افغانان باید خپلې کمزورۍ ووینو.

**خبریال:** یعني تاسو ته دا یوه عاقلانه لار ښکاري چې کله وایاست چې موږ کمزوري یو، نو له هغه چا سره چې تاسو تړونونه لاسلیک کړي، دغه تړون خو د یوه کمزوري هېواد په توګه نه‌شي لاسلیک کېدای. تاسې ځان په یو ډول له هغوی سره سیال وینئ او له هغوی سره په یو ډول تړون ته ورځئ، یو تړون رامنځته کوئ چې موږ اوس له امریکا سره یو ستراتېژیک تړون لرو او بیا د هغې په منځ کې تر ټولو مهم تړون د کابل واشنګټن تړون دی. دغو هرڅه ته په کتو سره افغان حکومت ولې باید ځان کمزوری احساس کړي. یعنې دا منطق په کوم ځای کې دی چې موږ ووایو چې حکومت ځان کمزوری احساسوي او که په ورته وخت کې تاسو وایاست چې داسې ځینې عوامل شته دي، نو بیا موږ د دغه ډول چلند پر وړاندې به څومره وخت دوام وکړو، ځکه کمزوری به پاتې کېږي او د افغانستان حالات داسې دي چې په دې ډول به نه پاتېږي او وېره همدا ده چې دا به هرڅه لا ډېر خطرناک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** دا تړونونه، چې تاسو یاد کړل، افغان دولت له امریکا سره لاسلیک کړي، خو د هغې پلي کول او عملي کول څوک کولای شي، یعنې افغانان که هرڅه ووایي تر یو حده به یې په دوی عملي کړي وای، خو دوی نه‌شوای عملي کولای، بلکې د هغه تړون پر اساس هغه څه چې دوی ویلي، هغه په افغانانو عملي کوي. دا باید هم ومنو چې سل په سلو کې د تړون ټولې مادې موږ په دوی نه‌شو عملي کولای، ځکه دغه هغه هېواد دی چې په ټوله کې په افغانانو ورته لاس اوږد کړی، یانې دا تړون نه عملي کېږي له همدې امله افغانان اوس پوهېږي چې په ټولو کړنو کې دا کړه وړه چې اوس روان دي، په دې حال کې څه نه‌شي پکې ویلای.

**خبریال:** نو دا اوس زموږ کمزوری موقف دی او که زموږ کمزوري ده، یعنې په ټوله کې که موږ په ډېرو مواردو کې که هرڅه وګورو چې یو څوک هم له شپون سره بوخت دی، هم له لېوه سره. په دغه حالت کې موږ ووایو چې بس خاموشه خوله بهتره ده. ولې مذاکرات نه کېږي، ولې په ځینو مسایلو کې رغنده ګامونه نه پورته کېږي؟

**اصولي:** دا په دې معنا ده لکه څنګه چې اشاره وشوه زموږ حکومت که د ګاونډیانو په پرتله کمزوری دی، نو زمونږ همدا موقف هم کمزوری دی. یعنې موږ په دې کې کمزوري یو، موږ باید لږ تر لږه خپل غږ اوچت کړو او نړیوالو ته ووایو چې حالات په دې ډول روان دي. تاسو یې هم وینئ چې امریکا څه کوي؛ ناټو څه کوي او پاکستان پر څه لګیا دی. نو زموږ خولې خو تړل شوې نه دي. له همدې امله دا زموږ د حکومت او زموږ د مشرانو کمزوري ده، چې دا کار باید وکړي. په هلمند کې جګړه روانه ده. د دغه ولایت په یوه کونج کې د امریکا اډې دي، شاوخوا ټولې سیمې او ولسوالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سقوط کوي، خو امریکایان ورته هېڅ نه وایي، هلته اوسي؛ هلته ځواکونه، الوتکې او هرڅه لري، خو بیا هم هېڅ ځواب ورته نه وایي؛ پر وړاندې یې هېڅ غبر نه اوچتوي، خو نن موږ او تاسو واورېدل چې د ګرمسېر ولسوالۍ د امنیې قوماندان یې له مخدره موادو سره نیولی، چې د همدغو مخدره موادو په نیولو کې له بې‌پیلوټه الوتکو هم کار اخیستل شوی دی. دا په څه معنا ده؟ یعنې دا ډېره مهمه ده چې هغه سړی ونیسي او که دا چې شاوخوا ټولې سیمې او ولسوالۍ له مخالفینو وژغوري. له همدې امله موږ وایو چې دلته خپله د دوی اهداف دي، ځکه یوازې ناست دي، یوازې یې ننداره او عکاسي کوي.

**خبریال:** اصولي صاحب لکه څنګه چې تاسو وویل؛ تر ډېره نظریات هم په همدې برخه کې راټول دي او تر ډېره د امریکا دوه‌ګوني اوسېدل او په ځینو مواردو کې د څو بعدي، درې‌ګوني او څلورګوني‌توب هم په دې برخه کې لیدل کېږي. بیا حکومت څنګه په دغو ټولو مواردو خط باسي او وایي چې زه به په امریکا نیوکه نه کوم؛ زه به له امریکا سره د سپینو خبرو جرأت نه کوم؛ زه به په عمده او اساسي مسایلو هېڅ نه وایم؛ خلک به وژل کېږي؛ ملي اردو او پولیس به قتلېږي، اېخوا به له طالبانو سره جګړه کېږي؛ کله به دوی او کله به هغوی تلفات ورکوي، خو دوی خوندي ناست او هرڅه په همدې ډول روان دي، دا حالات به ترکومه داسې وي. دوه حالته، یو دا چې حکومت نه غواړي ځان پرې پوه کړي او دویمه مسئله دا چې تر کله به د افغانستان د اوسني حالاتو زغم ولري، ځکه ویل کېږي چې حالات ډېر ماتېدونکي او نازک دي.

**اصولي:** دغه اوسنی حالت داسې روان دی، لکه د شهید ډاکټر نجیب الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکومت حالت او یا هم د ثور له کودتا راوروسته حالت، چې ورو ورو جګړې پراخېدې، ولسوالیو او ولایتونو سقوط کاوه، تلفات ډېرېدل، خلک له جګړو ستړي شول، حتا تر دې چې ټول حکومت سقوط شو. موږ دا هرڅه نه غواړو، موږ د خپل نظام لپاره هیله‌مند یو چې باید خپل نظام تقویه کړو، خو دا حالت یې په همغه ډول روان کړی دی. بهرنیان نه غواړي چې جګړې ته د پای ټکی کېږدي، دا جګړه همداسې توده ساتي، نه غواړي چې د افغانستان اوسني نظام ته د پای ټکی کېږدي، ځکه خو دوی په همدې توده جګړه کې خپلو اهدافو ته نږدې کېږي. دا چې کله رسېږي هغه به وخت وښیي خو افغانانو ته پکار ده چې له خپل نظام سره ودرېږي، د بهرنیانو همدا منحوثې توطیې وپېژني، زر کرا او خرڅ نه‌شي او خپل هېواد کنډواله نه کړي. په دې جګړه کې اېخوا وګړي، چې د افغانستان د نظام پر ضد جنګېږي، هم افغانان دي هغوی باید پخلا کړای شي. هغوی څه غواړي باید خبرې ورسره وشي او د منلو وړ غوښتنې یې ومنل شي. هغه غوښتنې چې د منلو وړ نه دي، باید قناعت پرې ورکړل شي. د دوی لومړنۍ غوښتنه دا ده چې امریکایان باید له افغانستانه ووځي. خو ودې وځي، دلته څه کوي، که یو تضمین موجود وي چې د امریکایانو په وتلو به افغانستان آرامېږي، نو ودې وځي، زموږ اوس هم دلته امریکایي سرتېري نه دي پکار. که امریکا مرستې راسره کوي، نو په اقتصادي ډګر کې یې دې وکړي؛ په نظامي ډګر کې دې لاس راکړي. په افغانستان کې د دوی حضور نه غواړو، ځکه دا د جنګ اصلي لامل ګرځېدلی، اېخوا طالبان هم هوښیار نه دي، هغوی هم له عقله کار نه اخلي او دا فکر کوي چې که امریکایان له دغه ځایه نه وځي، نو افغانستان باید وران شي. په دې برخه کې باید طالبان هم یو څه عاقلانه فکر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** اصولي صاحب اوس د عاقلانه فکر کولو یو ځواب راکړئ. په افغانستان کې حکومت، طالبانو یا نورو ډلو ته د عاقلانه فکر کولو لپاره وخت ورکول کیږي. ځکه اوس روسیې هم رادانګلي، چین هم په دغه مورد کې بوخت دی او پاکستان خو هسې هم په افغانستان کې خپل بزنس ساتي او خپلې ګټې په همدې کې ګوري، ایران هم فعالیتونه ډېر کړي، نو د دې فرصت شته چې هرڅه ته لاره برابره شي. ځکه اوس هر یو پخپلو دریځونو له پخوا ډېر کلک ولاړ دی.

**اصولي:** اوس زموږ د افغانستان د حکومت رهبرانو ته پکار ده چې دوی د روسیې، ایران، امریکا، چین، پاکستان او د هند دا نیابتي جګړه وپېژني. دا کړه وړه، چې روان دي، باید یو ښه درک ترې ولري او د دغو ټولو توطیو مخه ونیسي، چې افغانستان له نیابتي جګړې څخه وساتي، کنه حالات په دې ډول روان دي چې افغانستان به د یوې نوې نیابتي جګړې مرکز ګرځي، موږ افغانانو ته پکار ده، زموږ سیاسیونو ته پکار ده چې اوس همدا توطیې کشف کړي، دوی د ټولو مخه ونیسي. څو وکولای شو چې په راتلونکي کې یو ښه نظام ولرو.

**خبریال:** ډېره مننه، کور مو ودان چې زمونږ بلنه مو منلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱٦

# په لندن کې د افغانستان، پاکستان او برېټانيا غونډه

په لندن کې د افغانستان پاکستان او برېتانيا ترمنځ درې اړخيزه ليدنه په داسې حال کې ترسره کېږي، چې په دغو وروستيو کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ترينګلتياوې تر وروستي حده رسېدلي او د دغې ناستې اصلي موخه هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترينګلتياوو د له منځه وړلو لپاره د حل لارو لټول دي. خو دا چې په دې ناسته کې به د افغانستان دريځ څه وي او آيا د برېتانيا په منځګړيتوب به دا رامنځته شوې ترينګلتياوې حل شي؛ د دې موضوع د لا روښانه کېدو په موخه د ملي امنيت شورا وياند تواب غورځنګ او د سياسي چارو کارپوه ښاغلي جمال ناصر اصولي سره بحث لرو. تاسو ته ښه راغلاست وايم.

ښاغلی غورځنګ پيل به يې له تاسو وکړو. په ناسته کې به ستاسو دريځ څه وي؟

**غورځنګ:** د سلام په وړاندې کولو سره. اول اجازه راکړئ چې يوه مسئله اصلاح کړم، د افغانستان انګلستان او پاکستان ترمنځ په درې اړخيزه ناسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دغه فارمت یوازې د دې وضعیت د څېړلو یا کابو کولو او یا د حل‌لارو د لټولو لپاره نه دی، پخوا هم دغه فارمټ کار کاوه او په همدې فارمټ کې مو ډېر ارزښتناکه غونډې درلودې؛ البته چې دا ځلې یې د تمرکز مسئله د افغانستان او پاکستان ترمنځ د وروستیو ترینګلتیاوو په هکله ده چې د هغه لپاره د معقولو حللارو لټول یې لویه برخه ده. همداراز د دواړو هېوادونو په خوښه یوه مهمه مسله دا ده چې د افغانستان پلاوی د ملي امنیت د سلاکار ښاغلي اتمر په مشرۍ، په اسلام آباد کې د افغانستان سفیر زاخیلوال به هم ورسره وي، ډېر تمرکز یې پر دې دی چې له یوه کاله راهیسې هغه ټول اسناد او شواهد، چې په خاص ډول د ډیورند د فرضي کرښې په اړه هغه اسناد او شواهد وړاندې کړي، او د افغانستان د دولت استدلال مطرح کړي. سربېره پر دې د ډیورند د فرضي کرښې په اوږدو کې د عبور او مرور د شته لارو بندښت او اغېزې یې په تېره بیا د مهاجرینو او ناروغانو پر سر یې اغېز او فشارونه، دا ټول مسایل به په قوت او استدلال سره مطرح شي او هغه څه چې موږ یې له دغه مجلسه توقوع لرو، هغه دا دي چې یوې داسې پایلې ته به ورسېږو چې هم د دواړو ملتونو رفاه پکې نغښتې وي او هم موجوده وضعیت بدلون وکړي.

**خبریاله:** مننه. ښاغلی اصولي تاسو څه فکر کوئ، دېته په پام سره چې له کلونو راهیسې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ترینګلتیاوې شته دي او دغه راز د نورو هېوادونو په لاس‌وهنې سره خبرې هم ترسره شوې دي، خو بیا هم کومې پایلې ته نه یو رسېدلي. څه فکر کوئ چې دا خبرې به د برېتانیا په منځګړیتوب کومې پایلې ولري؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه. پاکستان د تاریخ په اوږدو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له افغانستان سره په مسايلو کې صادق نه دی پاتې شوی. پر دې ټول افغانان پوهېږي، په تېرو څو لسيزو کې، چې په افغانستان کې جګړه روانه ده او دلته په هېواد کې چې شوروي اتحاد يرغل وکړ، نو د پاکستان دريځ معلوم و، دوی ته افغانان مهم نه وو، بلکې يواځې دا ورته مهم وو چې د طالب، مجاهد يا په بل هر نامه يې د افغانستان د مشروع حکومت پر وړاندې مخالفې ډلې روزلې او بيا به يې افغانستان ته رالېږلې. اوس هم هماغه خبره ده. دوی ته اوس طالب، داعش يا القاعده مهم نه، بلکې يواځې هغه څه مهم دي چې افغانستان پرې ورانېږي. دوی په اوايلو کې هغه ډلې، چې پاکستان يې زېږوي او تحرک ورکوي، افغانستان ته رالېږي. دوی په لومړيو کې د خپلو اجنټانو يا ملېشو په ډول تقويه کوي او جوړوي يې بيا پراختيا مومي او افغانستان ته يې رالېږي. اوس هم تاسو وليدل چې داعش ډله هغه ډله نه ده چې موږ او تاسو يې په عراق او سوريه کې وينو، بلکې دا يوه ځانګړې ډله ده چې له اسلام آباده سرچينه اخلي، هغوی يې تمويل او تجهيزوي او د افغانستان پر ضد يې کاروي، نو ويلای شو چې پاکستان د تاريخ په اوږدو کې له زېږېدو څخه تر دې دمه له افغانستان سره صادق نه دی پاتې شوی. موږ ويلای شو چې همدا کومې غونډې چې د افغانستان د سولې په مورد ترسره کېږي، دا ګټورې دي او افغانستان ته يو اميد وربښي، خو بيا هم افغانان په دې بسنه نهشي کولای؛ افغانان پر دوی اعتبار نه لري، ځکه دوی په افغانستان کې دوهمخی او درېمخی سياست چلوي او د نړيوالو په سترګو کې هم خاورې اچوي. نړيوالو ته يو څه وايي افغانانو ته بل څه او په عمل کې بيا بل څه کوي. نو ځکه پر پاکستان اعتبار نه دی پکار. اوسنی جنګ اصلن افغانی جګړه نه ده. د افغانستان حکومت بايد په ځغرده ووايي چې دا يوه پاکستانی جګړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ جګړه له پاکستان او اسلام آباد سره ده؛ زموږ جګړه له پنجابي سره ده؛ زمونږ جګړه له هغو جنرالانو سره ده چې **ISI** او د دوی پوځ يې تقويه کوي او يا هم په لويه کې که ووايو زمونږ جګړه له هغو سره ده چې د افغانستان حکومت ته ميلياردونه ډالر ورکوي، يعنې هغه څوک چې هم افغانستان ته مرستې ورکوي او هم مخالفينو ته.

**خبرياله:** اصولي صاحب له تاسو څخه مننه. ښاغلی غورځنګ دا چې په تېرو ۱۵ کلونو کې افغانستان او پاکستان پاليلې ته ونه رسېدل، څه فکر کوئ چې اوسمهال دا ممکنه ده چې دغه دواړه هېوادونه يوازې د خبرو له لارې پايلې ته ورسېږي؟

**غورځنګ:** متاسفانه په دومره وخت کې افغانستان د پاکستان همکاري نه ده ليدلې، د لويو غونډو او تعهداتو سره سره مو بيا هم کومه سمه پايله نه ده اخيستې. د آسيا د زړه په کنفرانس کې شوي تعهدات يې هم عملي نه کړل او د نورو ناستو تعهدات يې هم له پامه وغورځول، خو د سولې په اړه موږ له هرې لارې مخته ځو، خپل ځواک مو هم قوي کوو او د ډيپلوماسۍ يا خبرو اترو له لارې هم له ټولو هېوادونو سره مخته ځو، څو خپلې ستونزې حل کړو.

**خبرياله:** له تاسو څخه مننه. ښاغلی اصولي څه فکر کوئ، دېته په پام سره چې دا خبرې په څو کلونو کې سمې پايلې ته نه دي رسېدلې، ايا اوس به کومه پايله ولري او له دې سره سره به د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه شونې وي، که د هغو خبرو پايلې به ناڅرګندې وي؟

**اصولي:** په تېره يوه نيمه لسيزه کې مو وليدل چې پاکستان سمه همکاري نه ده کړې، دوی به د تل لپاره هغه څه کول چې د پاکستان د ملي ګټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ضرور وو، یعنې خپلې ملي ګټې یې ساتلې. دوی د هغو طالبانو پر ضد جګړه پیل کړه چې د پاکستان پر خلاف جنګېدل او هغه طالبان چې د افغانستان پر وړاندې جنګېدل، هغه یې لا ډېر تجهیز او تمویل کړل. په وزیرستان، سوات او ټولو ځایونو کې یې د خپلو عملیاتو په لړ کې همدا ډول کارونه وکړل. اوس هم چې په کومو سیمو کې د عملیاتو ژمنه کوي او هلته عملیات کوي، بیا هم په همدې تګلاره مخته ځي. دوی هغه ډلې او هغه طالبان ځپي چې د پاکستان د حکومت پر خلاف جنګېږي او هغه ډلې، چې له افغان حکومت سره جنګ کوي، تمویل او تجهیزوي. دا کومه پټه موضوع نه ده تاسو ښه پوهېږئ چې په تېره یوه لسیزه کې امریکا همدا ټول لیدل چې دا خلک په وزیرستان، میرالي او په نورو پولو ته نیږدې سیمو کې ښکاره ګرځېدل، او هلته یې اډې لرلې. له دوی سره د ټرېننګ لپاره د ISI د پوځ استادان وو. دوی یې په ښکاره ټریننګ او تجهیزول؛ جلب او جذب یې ورته کاوه بیا یې افغانستان ته رالېږل. زه وایم دا غونډې د افغانستان او پاکستان موضوعات نه‌شي حلولای. د پاکستان پر وړاندې باید د افغانستان د دولت دریځ قاطع و اوسي. دوی چې زموږ په کابل کې چاودنې کوي؛ ماشومان مو وژني او ولسوالۍ مو په راکټونو ولي، نو موږ هم باید ارام پاتې نه‌شو او د دوی ځواب هغسې ورکړو، لکه څنګه چې یې دوی موږ ته راکوي. که دوی طالب روزي، موږ هم لږ تر لږه کولای شو چې د دوی لپاره بلوڅان وروزو، دوی چې په کابل کې بمونو ته انفجار ورکوي، موږ هم کولای شو چې په اسلام اباد کې چاودنې وکړو.

یعنې د افغانستان دولت باید بالمثل عمل غوره کړي، څو ځانونه وژغورلای شو او دا بالمثل عمل به بلوڅان کوي، ځکه چې هغوی یوه آزادي غوښتونکې ډله ده او دا هرڅه د هغوی حق دی، هغوی باید خپله آزادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي.

**خبریاله:** ډېره مننه. ښاغلی اصولي، وروسته له دې چې دا نوملړونه ضمانت شي او دربیمګړی یا څلورم هېواد یې ضمانت وکړي او ویې څاري، نو پاکستان به کوم ګام پورته کړي؟

**اصولي:** زما په نظر هېڅکله هم هغه هېوادونه، چې اوس له موږ سره همکار دي، لکه برېټانیا او امریکا، پر دې نه پوهېږي چې دا خلک د افغانستان پر ضد جنګېږي، ټول په پاکستان کې دي. هغوی پوهېږي هغه ډالر چې امریکا یې پاکستان ته ورکوي له همغو څخه دوی تجهیزېږي. په هغو پیسو، چې برېټانیا یې پاکستان ته ورکوي، طالبان، داعش او نورې ډلې تجهیزېږي. ځکه خو زه پر دغو مسایلو هېڅ باور نه لرم، تر هغې چې پاکستان د امریکا او برېټانیا لخوا په صادقانه ډول تر فشار لاندې رانه‌شي، یعنې تر هغې چې امریکا په صادقانه ډول ونه غواړي چې پاکستان د ترهګرو ډلو روزل بند کړي او له خپلې خاورې یې بهر کړي. دا هرڅه د همدغو دوو هېوادونو، یعنې امریکا او برېټانیا، په واک کې دي. نو ویلای شو چې دوی ورسره همکار دي. په دغو نوملړونو او په دغو ضمانتونو، اصلن نه کېږي. اصلي جرړې یې همدا دي چې امریکا خپله دا هرڅه ویني چې طالبان له کومه ځایه اوبه اخلي. موږ او تاسو پوهېږو چې د جنګ او د جګړې لګښت کم نه وي. د افغانستان حکومت د جنګ لګښت نه‌شي پوره کولای، نو دا طالبان به یې بیا څنګه پوره کوي. همدا داعش خپل لګښت له کومه کوي، دوی له کومه ځایه تجهیز شول، له کومه ځایه ټرېننګ شول، چا ورته جلب او جذب وکړ. امریکا دا هرڅه ویني او په صادقانه ډول نه غواړي چې پر دوی فشار راولي. که پر پاکستان فشار راولي، نو موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



همله په یوه نیمه میاشت کې حل ده او د دغه فشار له امله به هغه ډلې، چې د افغانستان د نظام پر ضد جنګېږي، خپله د سولې مېز ته راځي. ځکه خو لکه څنګه چې پخواني ولسمشر حامد کرزي ویل د افغانستان د سولې کیلي له امریکا او پاکستان سره ده، خو زه وایم چې اوس له پاکستان سره نه، بلکې پخپله له امریکا سره ده. که چېرې امریکا وغواړي په افغانستان کې به ډېر ژر سوله راشي او که چېرې په دې ډول روانه وي چې ترمنځ یې افغان حکومت نه ژوندی وي او نه مړ، بلکې نیمژواندی یې ساتي، بیا به نو همدا حالات روان وي او موږ له دې هرڅه سره مخ یو.

**خبریاله:** هو ښاغلی اصولي له تاسو مننه. ښاغلی غورځنګ دا چې د افغانستان اساسي ستونزه د پاکستان له ملکي حکومت سره نه، بلکې له پوځي حکومت سره ده، نو دېته په پام سره چې په دې ناسته کې د پاکستان هېڅ یو پوځي چارواکی ګډون نه لري. نو آیا د ترهګرۍ په وړاندې د مبارزې په برخه کې به کومې پایلې ته ورسېږو؟

**غورځنګ:** لږ تر لږه دا غواړو چې خپل نیت خپلو نړیوالو همکارانو ته وښییو. موږ د یوه مسوول حکومت په توګه تلاش غواړو، څو ثابته کړو چې د دې ستونزې هواري ته ژمن یو. بل هغه څه چې د یادونې وړ دي، هغه دا چې افغانستان اوس له اقتصادي لحاظه یواځې په یوه ځانګړې هېواد متکی نه دی، بلکې موږ اوس له سیمې سره لاره پیدا کړې، د منځنۍ آسیا له لارې له دنیا او د ایران له لارې له نړۍ سره وصل شوي یو. یعنې موږ هېڅکله هم له اقتصادي ستونزو سره نه مخ کېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷

## پنځم ستون

**خبریال:** اصولي صاحب پنځم ستون باید معلوم شي، دا پنځم ستون څوک دي کوم کوم خلک دي، کومه ډله ده؟

**اصولي:** پنځم ستون هغه خلک دي چې عملن وزیر وي او عملن خپل ولسمشر ته چلینج ورکوي. د پنځم ستون ډلې هغو ته وایي چې عملن په نظام کې وظیفه لري، خپل ګوند او خپلو غړو ته وایي چې ورشئ په مظاهرو کې له ټوپکه هم استفاده وکړئ، او د تفتګچو په ګډون هر ډول سلاح وکاروئ. دوی هغه خلک دي چې په خپله والي وي، خلک یې په کابل کې (یا ارګ یا مرګ) نارې وهي، دېته پنځم ستون وایي. پوهېږئ دوی اصلن د چا لخوا تقویه کېږي. دا خلک بهرنیانو دومره وپړسول. د بن په کنفرانس کې په دوی پانګونه وشوه، لاروهونکي ټوپک‌سالاران او قوماندانان یې راوستل او دوی ته یې چوکۍ ورکړې، واک او پیسې یې ورکړې او بالاخره یې دومره وپړسول چې د ملي یووالي له حکومته ۵۰ سلنه هم اخلي. هغه یو طرف ۵۰ سلنه یې بیا په دا بل ۵۰ سلنه کې هم ۳۰ سلنه اخلي. خو بیا هم د حکومت او نظام پر ضد راپورته کېږي؛ بیا هم عملن درته وایي چې موږ افغانستان نه‌منو، بلکې دلته فدرالي نظام غواړو، دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه غواړو، بل څه غواړو، ځکه دا د هر چا خپله غوښتنه ده، داسې دې ووايي، خو په سياسي لحاظ دې ووايي، په نظري لحاظ دې ووايي مبارزه دې سوله‌ییزه ورته وکړي، نه دا چې راووځي د خپل نظام پر ضد؛ د خپل حکومت پر ضد؛ د خپل ملت پر ضد؛ د خپل افغانستان د نامه پر ضد؛ د خپل ملي سرود پر ضد؛ د خپل بیرغ پر ضد او د خپلو تاریخي نوامیسو پر ضد راپورته شي او د هغوی پر خلاف شعارونه ورکړي.

**خبريال:** دا خلک چې هم په حکومت کې دي او هم يې تاسو پيڼځم ستون بولئ، ولې يې حکومت پر وړاندې چپ دی؟

**اصولي:** اصلاً زموږ دولت کمزوری دی. پر دې باید هېڅوک هم پرده وانه چوي چې موږ قوي یوو. دولت کمزوری دی، چا کمزوری کړ؟ په هغه هېواد کې چې عملاً بهرني ځواکونه شتون ولري. بهرنيان هېڅکله نه غواړي چې هلته یو قوي مقتدر خپلواک او په ځان بسیا نظام موجود وي او بیا چې په څنگ کې موږ داسې گاونډیان ولرو، لکه پاکستان او ایران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸

## د طالبانو نوی مشر ملا هیبت الله

طالبان، گروه که بیش از ۱۹ سال با حکومت‌های مختلف افغانستان می جنگند، در این میان این گروه دو رهبر خود را از دست داده اند و در آخرین مورد هم ملا اخترمحمد منصور در بلوچستان پاکستان توسط طیاره بدون سرنشین آمریکا آماج قرار گرفت و کشته شد. بدنبال آن ملا هیبت الله آخندزاده معاون اول منصور جانشین او گردید و اما جسد که حالا به آقای منصور ربط داده میشود تا حال هم تثبیت هویت نشده، آمریکا سخن از نبود نام ملا هیبت الله در فهرست سیاه میزند و حکومت افغانستان هم این گروه را بار دیگر به گفتگو فرا میخواند. آینده یې گروه طالبان چگونه خواهد بود و از طرف دیگر اینکه سرنوشت گفتگوی‌های صلح چه خواهد شد؟ من بیژن آرین در این برنامه نگرش آقای جمال ناصر اصولي آگاه امور سیاسي، عبدالمعین معین نویسنده و پژوهشگر، و فرهاد صدیقي عضو مجلس نماینده گان را باخود دارم. خوش آمدین مهمانان عزیز.

آقای اصولي با شما آغاز میکنم از میان برداشته شدن منصور و انتخاب رهبر تازه طالبان روی روند مصالحه با طالبان برای گفتگوی صلح تاثیر گذاشته میتواند؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! سلامونه تاسو، د مجلس ګډونوالو او ټولو ليدونکو ته. د افغانستان د جنګ او د سولې مسئله يانې دا چې موږ څنګه له جنګه خلاص او سولې ته رسېدلای شو، دا د طالبانو له يوه مشر سره تړاو نه لري چې يو مشر يې له منځه ځي، نو هيله‌مند شو چې ګواکې سوله راځي. د افغانستان د جنګ او د سولې په دواړو برخو کې بنسټيزه موضوع په هغه ځای کې ده چې رهبريت يې په واک کې نيولای. دا په دې مانا ده، کله چې طالبان وژل کېږي؛ کله چې د القاعده مشران وژل کېږي؛ کله چې د داعش مشران وژل کېږي. او يا هم د حزب اسلامي مشران افغانستان ته راځي يا د سولې له پروسې سره يوځای کېږي دا په دې مانا ده چې د افغانستان دښمنانو يا د افغانستان هغه دښمن لپاره مفيد نه دي چې د افغانستان د سولې او جګړې پروسه يې په لاس کې نيولې ده. دا په دې معنا ده، تر هغه وخته چې له ملا عمره کار اخيستل کېده، تر هغه يې وساته، خو کله چې يې ترې استفاده ونه‌شوای کړای، نو په يو مرموز ډول يې مړ اعلان کړ. همدا شان ملا منصور تر پرونه ژوندی و؛ تر پرونه يې د طالبانو رهبريت په لاس کې و، يعنې دلته هغه هېوادونه چې د دوی مهار يې په لاس کې و، هغه دوی ته نور د منلو وړ نه و.

**خبريال:** يعنې شما ميګين اينان مهره‌های بی‌تاثير بودند؟

**اصولي:** کله چې هغه هېوادونه دوی د جنګ او جګړې لپاره کاروي، هغوی چې کله پوه شي چې نور همدا موجوده مهره نور د دوی د ملي ګټو لپاره نه کارېږي، نو له منځه يې لرې کوي. دا د نړيوالو استخباراتو هغه پروسه ده چې په لومړيو کې پر همدې بحث هم کېږي. کله چې د يوې ډلې مشری ته يو رهبر راوړي، نو بيا د هغه د وژلو په اړه هم فکر کوي چې که چېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مفید تمام نه‌شو نو موږ څنګه کولای شو چې دا له منځه یوسو. په همدې ډول ډېرې نورې ډلې، چې اوس اوس د افغانستان د سولې له پروسې سره یوځای کېږي له هغوی څخه هم ناوړه ګټه واخیستل شوه او یا هم هغه ډلې، چې د افغانستان په کورنیو جګړو کې یې لاس لاره، له هغوی څخه تر ننه پورې ناوړه استفاده وشوه. یعنې هغه ډلې چې د افغانستان په جګړه کې یې لاس لاره.

**خبریال:** مثلاً چه کسانی؟

**اصولي:** کله چې د ثور کودتا کېږي، له کودتا وروسته روسان افغانستان ته راځي همغه مهرې د روسانو لپاره د قبول وړ وې. د بهرنیو استخباراتو لخوا د روس پلوه حکومت پر مقابل کې کومې مهرې چې وکارېدې، هغه د څه پر اساس وکارېدې؟ ولې یې دوی ته په میلیاردونو ډالر او وسلې ورکړې؟ علت یې دا و چې دوی د خپلو ملي ګټو لپاره دا کار کاوه. دوی یې وکارول، وکارول؛ افغانستان یې پرې ټکه ټکه کړ؛ د افغانستان اردو یې پرې لمنځه یوړه؛ زموږ د هېواد ټولې بنسټیزې پروژې او ټول بنسټیز توکي یې ختم او په پاکستان، ایران او نورو هېوادونو یې خرڅ کړل. له همدې امله کله چې مجاهدین افغانستان ته راځي په افغانستان کې د روس‌پلوه حکومت له منځه وړي. له دې وروسته د امریکا، اروپایانو او عربانو لپاره مهمه نه وه چې دوی وکاروي، نو په خپل حال یې پرېښودل، خو دوی وکارېدل.

**خبریال:** یعنی مجاهدین بخاطر از بین بردن نظام استفاده شدند؟

**اصولي:** هو، یعنې بهرنیانو د خپلو ملي ګټو لپاره دوی وکارول؛ د هغوی لپاره د افغانستان د جهاد موضوع مطرح نه وه. کله چې مجاهدین راغلل او په خپلو کې سره ښکېل شول، د دوی لپاره یوه ډله پکار وه چې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې همدا چور او چپاول، چې په افغانستان او په کابل کې روان و، له منځه وړي وای. طالبان راغلل. باید راغلي وای، که طالب نه وای، باید یوه بله ډله راغلې وای چې دوی یې له افغانستان څخه جارو کړي وای. په همدې ډول بهرنیانو د طالبانو ډله راپیدا کړه، کله چې طالبان په افغانستان کې د دوی په کار و، نو د افغانستان واک یې ورکړ او کله چې په کار نه و، نو په **B52** یې له افغانستانه تبعید او وشړل. اوس هم کله چې مشر ټاکل کېږي په بهر کې دوی پوهول کېږي چې څوک باید مشرۍ ته راشي.

**خبريال:** یعنې حضور این رهبران یا رهبران طالبان دقیقاً تاثیری روی روند گفتگوهای صلح نخواهد داشت؟

**اصولي:** همدا وایم د افغانستان سوله د احمد او محمود په وژلو نه راځي، کله چې د طالبانو یو مشر وژل کېږي، نو سبا ته محمود راځي، محمود وژل کېږي، احمد راځي. د افغانستان ستونزه په جګړه او په وژلو نه حل کېږي.

**خبريال:** پس با چه حل میشود؟

**اصولي:** دا په مذاکراتو حل کېږي. مذاکرات باید له امریکا او پاکستان سره وشي، امریکا ته قناعت ورکړل شي چې ته موږ ته ملا منصور مه وژنه، بلکې پر هغه ډلې او هېوادونو فشار راوړه چې تروریزم روزي؛ د تروریزم ریښې، هسته او اډې هلته دي. تروریزم په افغانستان کې نه‌شته. کله چې تروریزم دلته نه وي او له بل ځایه دیکته کېږي بیا افغانستان ته راځي، پکار ده چې ته هماغه ځای راونیسې، خو ته برعکس له هغه هېواد سره په میلیاردونو ډالرو مرستې کوې؛ ته برعکس هغه هېواد ته په میلیاردونه ډالر، په طیارو او زره‌هي ټانګونو ورکوې او ورته خریداري کوي یې. نو په افغانستان کې له وژلو سره څه نه ترلاسه کېږي. که زموږ مشران او اوسني

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبران لس واړې په افغانستان کې ووژل شي؛ لس واړې که د طالبانو ووژل شي؛ لس واړې که د نورو ډلو ووژل شي، په دې هرڅه سوله نه راځي. سوله په هغه ځای کې راځي له کومه ځایه چې همدا تروریزم خوربېږي او رېښه اخلي. دا څوک کولای شي، دا امریکا کولای شي.

**خبریال:** ممنون آقای اصولي. آقای صدیقي شما با آنچه که آقای اصولي گفتند هم باور استید، اینکه جنگ افغانستان ریشه در بیرون دارد و کسانی که حالا کشته میشوند یا روی قدرت میایند اینان مهره‌های بیش نیستند و برخی شان هم مهره‌های سوخته عنوان میشوند، اما نباید حالا کسي در افغانستان کشته شود و راه حل این نیست. موافق استین؟

**صدیقي:** بنام خدا، سلام به شما مهمانان و بینندگان، طالب‌های افغان که در پاکستان استند، مثل ملا عمر که کشته شد، مثل ملا منصور که کشته شد، اینها سخنگویایی استخبارات بیگانه بخصوص پاکستان بودند. دګه اینکه ما تا کی با اله دست دیگرا شدن به مادر وطن خود خیانت کنیم. کشته شدن ملا منصور به این دلیل بود که از پاکستان نافرمانی کرده بود.

**خبریال:** خوب به باور آقای اصولی کشته شدن این رهبرها فایده یی ندارد و اینها مهره‌های سوخته استند و افغانستان باید با امریکا و پاکستان در رابطه به صلح بحث کنند. و میگویند که آمریکا در این قضیه با پاکستان دست دارد.

**صدیقی:** مه با حرف جناب اصولی موافق استم، اگر امریکا صادقانه بر پاکستان فشار وارد کند. در ۲۴ ساعت جنگ افغانستان تمام است. پاکستان منبع تروریزم است که خود افغانها را استفاده میکنند و با نکات دین و ناموس و این چنین مسایل افغانها را علیه افغانستان استفاده میکنند

(c) ketabton.com: The Digital Library



و زمینه را برای حضور امریکا مساعد میسازد.

**خبریال:** آقای اصولی اشاره کردند که مجاهدین هم آمدند و در افغانستان استفاده شدند. طالبان هم به همین قسم، خوب عمدتن طالبان و مجاهدین یک قسم استند؟

**صديقى:** مجاهدین با طالبان زمین تا آسمان فرق دارند، و فرق شان در ایست که این دموکراسی و این سهولت‌های امروزی ما همه اش از برکت مجاهدین است. اگر مجاهدین نمی بود امروز افغانستان یک صوبه پاکستان بود و همه یی سهولت‌های و پیشرفت‌های امروزی ما از برکت مجاهدین است.

**خبریال:** آقای اصولي هم باور استین، یا چېزې دیگری در میان است؟

**اصولي:** جهاد تر هغې په افغانستان کې فرض و چې روسان له افغانستانه لاړل، نو ته ووايه کله چې روسان لاړل، دوی له چا سره جهاد کاوه؟ جهاد له کفارو سره کېږي، خو دوی جهاد له مسلمان سره کاوه؟ يو ورور يې مجاهد و، بل ورور يې د کمونېست او د خلقي په نوم یاداوه. جهاد يې له اردو سره کاوه، له افغاني پوځ سره يې کاوه چې تکه تکه يې کړه. بیا يې ضیاالحق او پاکستاني ISI ته پر مېز کېښوده، جهاد يې له ټانکونو سره کاوه چې ټول يې راټول کړل او هغه يې په پاکستان خرڅ کړل. جهاد يې له چا سره کاوه، جهاد يې له افغانۍ پېغلې سره کاوه چې ځان يې له پنځم منزله وغورځاوه. جهاد يې د کابل له کورونو سره کاوه چې ټول يې چور کړل، جهاد يې له چا سره کاوه، له دې سره يې کاوه چې د افغانستان ټول غیرت او ناموس يې په پاکستان او په عربي ممالکو خرڅ کړ. ګورئ زموږ افغانۍ پېغلې يې په پنجاب او په عربو خرڅې کړې. دا جهاد و؟ جهاد په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تر هغو فرض و چې روسان وو. دویمه موضوع، وکیل صاحب ته احترام لرم، دا د ده خپل فکر دی او زما خپل. خو زه دومره وایم چې موږ او تاسو باید په حقیقتونو سترګې پټې نه کړو. ټول باید حقایق څرګند کړو. افغانستان په رښتیا هم چې روسانو نیولی و، دلته راغلي وو، له دوی سره باید جهاد شوی وای.

**خبریال:** یعنې شما فرق بین طالبان و مجاهدین را نمی بینید؟

**اصولي:** دومره فرق یې کوم، تر هغه وخته چې روسان دلته موجود وو او مجاهدینو ورسره جهاد کاوه، همغه مجاهدین او غازیان و، وروسته له هغې هغو خلکو چې کابل یې کنډواله او پوځ یې په پاکستان خرڅ کړ، د پوځ ټول تجهیزات یې، توپونه ټانګونه، چې یواځې ۴۰۰۰ مو ټانګونه لرل، په پاکستان خرڅ کړل. جبټ او لویې الوتکې یې ټولې په ایران او په پاکستان خرڅې کړې، دا کوم جهاد و؟ که دا جهاد وي، ناهید له پنځم منزله څخه ځان وغورځاوه. که دا جهاد وي چې د خلکو په ناموس تېری وکړي. که دا جهاد وي چې په خیرخانه کې یو ولسمشر وي، په پلچرخي کې بل ولسمشر، په دشت برچي کې بل وي. که دا جهاد وي چې د یو او بل پر سرونو یې مېخونه ووهل. که دا جهاد وي، زه بالکل دا جهاد نه منم.

**خبریال:** یعنې میګین که هر دو یکسان اند؟

**اصولي:** طالبان پرې بهتر و، دغو مجاهدینو باید دا ګندګي نه وای کړې. دا ګندګي یې باید ټوله کړې وای. طالبانو دا ګندګي پاکه کړه، طالبان هغه مهال داسې کسان وو چې په افغانستان کې یې امن راواسته، دا چې د چا غلامان وو دا بله مسئله ده. ځکه همدا مجاهدین چا تمویلول؟ خو یو څوک یې ضرور تر شا ول او یو څه یې ترې غوښتل. نو کوم چا ته چې څه ورکوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید چې یو څه ترې واخلې.

**خبریال:** ممنون تان. آقای صدیقي طالبان آمدند و گندگي‌های مجاهدین را پاک کردند، واقعاً این چنین است؟

**صدیقي:** تعجب آور است، طالب‌ها کسانی بودند که ضد بشریت و این وطن و مجاهد کسی است که در کنار این دولت ایستاده و در امور کشور سهیم است.

**خبریال:** آقای اصولي امریکا چندی قبل اعلان کرد که دگر طالبان دشمن آن کشور نخواهد بودند، اما حدود دو یا سه ماه گذشت و حالا میاید رهبر گروه طالبان منصور را مورد حملات خود قرار میدهد و می کشنش چرا؟

**اصولي:** دا چې موږ وایو چې د افغانستان د سولې کیلي له امریکا سره ده. ولې وایو، ځکه چې امریکا په افغانستان کې داسې برخورد کوي چې د دوی د ملي ګټو د ساتلو موجب وګرځي. یعنې هره کړنه چې په افغانستان کې د خپلو ملي ګټو له پاره ترسروي. دوی خپلو کړنو ته ګوري او د هغې پر اساس تحرک کوي.

**خبریال:** آیا دو یا سه ماه آنچه را که بیان کردند آنرا منافع ملي شان ایجاب می کرد؟

**اصولي:** سل په سلو کې همدا اوس چې ملا منصور وژني، ملا منصور هغه څوک و چې دوی ته یې نور په درد نه خوړل. بن لادن یې ولې وواژه؟ دوی نه پوهېدل چې بن لادن چېرې دی. دوی پوهېدل چې له **ISI** سره هملته د پاکستان پر خاوره په حیات‌آباد او نورو ځایونو کې و.

**خبریال:** دقیقاً بازم سوال که مطرح میشود. چرا این چنین اقدامی را پیشتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکردند؟ قبلن مهره یی مفیدی به او کشور بود؟

**اصولي:** زه يوه شي ته غواړم، اشاره وکړم. هغه دا چې د ډېورند له کرښې اېخوا همدا طالبان او همدا د حقاني ډله او نورې ډلې وې چې د افغانستان د نظام پر مقابل کې جنګېدل. دا ټول پټ نه ګرځېدل، دوی هلته پتنځایونه نه لرل، بلکې ښکاره اډې یې لرلې. دوی هلته د میرانشا شورا، د پېښور شورا، د کوټې شورا په واضح ډول کېني، ISI په جریان کې وي او له هغوی سره خلک کېني. امریکا دا هرڅه ویني، مګر نه یې شو کولای چې هرڅه هملته ځای پر ځای ختم کړي. دوی کولای شول، خو ځکه یې ونه کړل چې ګټې یې پکې نه وې. اوس یې هم په ګټه نه ده، ملا منصور پاکستان په امریکا خرڅ کړ. ګوروئ دی چې له طیارې څخه ویشتل کېږي، موټر یې سوځي، هرڅه یې سوځي، خو د ده پاسپورت پاتېږي. دا څوک او کوم عقل یې مني، دا خو هسې یوه دسیسه وه. د دې لپاره چې دوی دا وښيي چې دی ایران ته هم لاړ او هلته یې هم اړیکې ټینګې کړې. د دې لپاره یوه دسیسه وه چې دی باید ووژل شي. لکه څنګه چې طالبان په اوایلو کې پاکستان په امریکا خرڅ کړل، ملا ضعیف او دېته ورته نور قوماندانان او لوړپوړي یې امریکا ته وسپارل، همداسې دا هم یوه مهره وه چې پرې خرڅه یې کړه او د دې په بدل کې به هغه څه اخلي چې امریکا ورته نه ورکول.

**خبریال:** ممنون، آقای صدیقي، واقعاً پاکستان ملا منصور را به امریکا فروخت؟

**صدیقي:** زماني که ملا منصور کشته میشه ارتباط گرفته بود میخواست، در افغانستان صلح بیاید و خوده یک افغان فکر می کرد بناان زمانی که آنها دیدند که ملا منصور مهره است که آنها ازش استفاده نمیتوانند، پس

(c) ketabton.com: The Digital Library



او را از بین بردند.

**خبریال:** اما آقای معین به این باورند که ملا منصور از جمله کسانی بود که باوری به صلح نداشت و جنگجو بود. و بیشتر کوشش میکرد که مسایل را از طریق جنگ حل کند.

**صدیقي:** با احترام به گفته‌های جناب معین، من گفته هایشانرا نه رد میکنم و نه تایید، اما اطلاعات که من دارم ملا منصور میخواست مستقیم با حکومت افغانستان مذاکراتی را داشته باشند و پاکستانیان که دیدند از منصور استفاده نمیتوانند پس با کمک امریکایی‌ها او را از بین بردند.

**خبریال:** ممنون، آقای معین حکومت پاکستان در پشت شدن ملا منصور دست دارند و ملا منصور به اساس اطلاعات آقای صدیقی در تلاش مذاکره بوده که سبب کشتنش شد.

**معین:** مهم اینه که پاکستان در چه موارد دست ندارد، اینکه ملا منصور خواستار مذاکره بصورت مستقیم بود، مشروط به چه چیز بود. مشروط به جنگ را که ما نمی پذیریم، اما در قسمت مجاهدین میتوانیم آن دوره را به سه دوره تقسیم کنیم. دوره جنگ با روس‌ها که مقدس ترین دوره بود؛ دوره قدرت مجاهدین دوره پراگندگي و ویرانی مجاهدین؛ دوره مقاومت که یک دوره فرهنگ بود.

**خبریال:** ملا منصور با چه شرایطي میخواست که به گفتگوی‌های صلح بپیوندد؟

**صدیقي:** انفجار و انتحار در مدارس پاکستان تدریس میشود، من اسنادی دارم که حدود ۳۵۰ مدرسه در پاکستان وجود دارد که در آن انفجار و انتحار

(c) ketabton.com: The Digital Library



تدریس میشود. اما ملا منصور آماده بود تا با روند صلح افغانستان بپیوندد. ملا منصور اگر از بین نمی رفت تمام برنامه‌های پاکستان را افشا میکرد که به اساس نافرماني پاکستان کشته شد.

**خبريال:** حالا آقای معین با درنظر داشت آنچه که بحث شد، و در فضای که حالا بی اعتمادي بوجود آمده، بی اعتمادي میان حکومت افغانستان و پاکستان، طالبان بالای حکومت افغانستان و حکومت افغانستان هم بالای طالبان و به نوعی هم بالای امریکا، آینده یی گفتگوی‌های صلح حکومت افغانستان را چگونه می بینید؟

**معین:** من مدتی با فرایند و میکانیزم صلح افغانستان مشکل دارم، چون این میکانیزم میکانیزم شفاف نبوده. یک مقدار سلیقه یی برخورد شده. بحث اینست که تا زماني که طالبان را سیاسي نسازید، این مشکل حل نمیشود و به میز مذاکره نمیشود و تا حال که سیاسي نشده.

**خبريال:** پس حالا چگونه میتوان طالب را سیاسي ساخت؟

**معین:** عواملی دارد، یک اینکه پاکستان باید بر طالبان فشار وارد کند، دوم مسئله آمدن آقای حکمتیار است و حمایت آقای حکمتیار است که میتواند طالب را از بین ببرد و آنرا به میز مذاکره بکشد. و هم چنین نقش آمریکا است. حکومت افغانستان باید از این مسایل خوب استفاده بکند.

**خبريال:** ممنون تان، آقای اصولي آیا واقعاً میکانیزم صلح حکومت افغانستان با طالبان تا حال شفاف نبوده؟

**اصولي:** غواړم یو څه ته اشاره وکړم هغه دا چې په یوه شي موږ ټول افغانان باید وشرمېږو چې یو پاکستانی راځي په افغانستان کې ډاکټر صاحب نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهیدوي، یعنې موږ خپله سره جوړ نه یو، که نه ولې به یو پنجابی راتله او زمونږ ولسمشر به یې واژه. په یو شي بیا هم شرمېږم، هغه دا چې که طالبان د افغانستان له حکومت سره یو وای، ولې به امریکا راتله زما افغان به یې وژاه. ملا منصور یو افغان و، خو هر څوک چې و، که تروریست و که هر څوک و. زه وایم که موږ افغانان سره یوځای وای ولې به بهرنیانو وژلو؟ په همدې ډول که زما مسعود په شمال کې عربان راته وژني، خو که موږ یو موټی وای، ولې به یې راته واژه؟ په همدې ډول ټولو ته وایم چې دا ټولو افغانانو ته د شرم خبره ده، هغه که د افغانستان د نظام پر خلاف ډله هم وي.

**خبریال:** حالا روند گفتگوهای صلح افغانستان واقعاً شفاف نبوده؟

**اصولي:** شفاف‌والی یا نه شفاف‌والی یې د بل چا په لاس کې دی، دا د افغانانو په اختیار کې نه دي، ولسمشر غني هم پر دې ټینگار نه کوي. نه‌شي کولای چې پر امریکا فشار راولي، که په امریکا فشار راوستل غواړي، نو سم فشار دې پرې راولي او داسې دې ووایي چې پر پاکستان فشار راولم. همدا جنگیالي، چې ستا په هېواد کې فعالیت کوي، دا له هغه ځایه وشړه او له تمویل او تجهیزه یې لاس واخله. د جګړې قیمت څوک په جوارو او غنمو نه‌شي پوره کولای. د جګړې قیمت ډېر لوی دی چې ترڅنګ یې بیا ډېر نور هېوادونه دي او هغوی یې ورکوي.

**خبریال:** ممنون تان، تشکر از اینکه دعوت ما را پذیرفتید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹

## یو سوله‌ییز افغانستان د پاکستان په ګټه دی

راحیل شریف لوی درستیز پاکستان می گوید: "افغانستان با ثبات به نفع پاکستان است، افغانستان همسایه مسلمان و برادر پاکستان می‌باشد، پاکستان نقش فعالش را برای تامین صلح و ثبات در افغانستان انجام میدهد. اما بعضی عناصر منفعت طلب بخاطر منافع شخصی شان مانع تلاش‌های پاکستان در افغانستان میشود." مهمانان من آقای قاسم عرفاني استاد پوهنتون، آقای جمال ناصر اصولي آگاه امور سياسي، و آقای بشیر بیژن معاون نهاد خدمت گذاران کابل. مهمانان گرامی سلام وخوش آمدید.

آقای عرفانی بحث را با شما آغاز می کنیم، افغانستان باثبات به نفع پاکستان می باشد، با این دیدگاه موافق اید؟

**عرفاني:** سلام به شما مهمان‌های بحث، و بینندگان عزیز. به نظر من در کلیت موافقیم، افغانستان باثبات به نفع پاکستان و به نفع منطقه است، اما نمیشود که سخنان راحیل شریف را به تمام معنا پذیرفت. اما شواهد و مدارک و کارکردهای پاکستان نشان میدهد که یک افغانستان ضعیف و بحرانی به نفع پاکستان است. سیاست اعلامي پاکستان با سیاست عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آنان کاملاً در تضاد است. و ما هم نباید فقط منتظر آن باشیم تا پاکستان کاري را انجام دهد. ما هم باید در عرصه بین الملل یک واکنشگر خوب شویم.

**خبریال:** ایا ما آن ظرفیت را داریم که در عرصه بین الملل یک کنشگر خوب شویم؟ تا بتوانیم از  فرصت‌ها و امکانات مناسب استفاده کنیم یا خیر.

**عرفاني:** به نظر من بستر و زمینه‌های آن تا حدودی مساعد است و بستگی به ظرفیت توانایی و هماهنگی ما در نهادهای افغانستان و سطح رهبری افغانستان دارد، دو راه وجود دارد که همکاران بین المللی را میتوانیم به واسطه آن بسیج کنیم تا پاکستان را تحت فشار قرار بدهد، یکی مبارزه با تروریزم و دیگرش هم برای افغانستان که بسوی صلح و ثبات به پیش برود و یک کشور دموکرات باشد در طی ۱۵ سال گذشته میلیاردها دالر جامعه جهانی در اینجا به مصرف رسیده عساکر زیاد در اینجا کشته شدند. حد اقل این دو محور میتوانند قدرت چانه زنی را برای ما ایجاد کنند. و ما بتوانیم صدای خود را بلند کنیم.

**خبریال:** تشکر. آقای اصولي اگر افغانستان باثبات به نفع پاکستان است پس چرا سیاست‌های خصمانه را در پیش گرفته و در افغانستان بازی می کند؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه! سلامونه تاسو، د بحث ګډونوالو او لیدونکو ته. له کله چې پاکستان د نړۍ په نقشه راپیدا شوی، تر نن ورځې د پاکستان سیاستونه د سیمې او یا هم خصوصاً د افغانستان په مقابل کې منفي دي دا زموږ له سیاسیونو او ټولو قومونو سره هم حل ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله کله کېدای شي چې همدا ډلې او ټپلې د پاکستان غېږې ته ولوېږي، لکه څنګه چې موږ او تاسو یې په دغو تېرو څلوېښتو کلونو کې ګورو. کله چې پاکستان زموږ همدا بېلابېلې ډلې خپل لاس ته کړي، نو پاکستان بیا خپلې ملي ګټې پرې ساتي او د دوی په لاس بیا خپل هېواد ورانوي. لکه څنګه چې اوس یې په ښکاره توګه وینو.

**خبریال:** حالا بشکل این چرا بیاییم افغانستان باثبات به نفع پاکستان است، ولی در مقابل ما چیز دیگری می بینیم. سیاست پاکستان در قبال افغانستان سیاست خصمانه است، تجربه ۱۴ سال یا بالاخره بالاتر از آن این چنین چیز را نشان داده.

**اصولي:** خبره داسې ده کله چې پاکستان په حقیقت کې په صادقانه ډول غوښتلای چې یو آرامه او سوله‌ییز افغانستان د پاکستان په ګټه دی، نو د هغو ډلو تمویل، تجهیز او ټریننګ به یې نه کاوه چې د افغانستان پر خلاف جنګېږي. خو دا کار یې تر اوسه نه دی کړی. دا په دې معنا ده چې پاکستان صادق نه دی. افغانان له پاکستانه سوله نه غواړي، بلکې تل یوازې همدا ناره ورته کوي چې تاسو یوازې هغه ډلې مه تمویلوئ چې زموږ پر ضد جنګېږي.

**خبریال:** ولی ریس جمهور قبلي افغانستان بالاتر از ۲۰ بار به پاکستان نرفت، ریس جمهور کنوني افغانستان به پاکستان نرفت، هرگاه حکومت افغانستان و بلاخره دولتمردان افغانستان صلح را از پاکستان نمیخواهند پس چه نیاز است که به پاکستان می روند؟

**اصولي:** ما وویل کله چې له پاکستانه سوله نه غواړي، د هغې په مقابل کې بل څه ترې غواړي، هغه دا دي چې د طالبانو یا داعش او یا نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفو ډلو تمويل دې بند کړي چې د افغانستان پر ضد جنګېږي. موږ دا نه وايو چې دوی دې طالبان راولي او زمونږ د سولې مېز ته دې يې کېنوي.

**خبريال:** ولی ريس جمهور قبلی افغانستان آقای کرزی گفته بود که کليد صلح افغانستان در پاکستان و ايالات متحده امريکا است.

**اصولي:** همداسې ده. زه هم همدا وايم. کله چې په طالبانو، داعش او نورو ډلو تمويل او تجهيز بند شي، نو څوک به يې تمويلوي؟ پاکستان دی چې د يوه قراردادي شرکت په توګه يې همدا پروژه اخيستې ده. همدا ډلې تمويلوي، تجهيزوي يې، د ټپيانو يې درملنه کوي او ځای يې ورکړی. دوی ته جلب او جذب کوي، دا هرڅه په دې معنا دي چې پاکستان مستقيم او نامستقيمن په جنګ کې ښکېل دی. له افغانستان سره د دوی برخورد نه يوازې دا دی چې مخالفې ډلې ورته تمويلوي، بلکې د پاکستان اردو، د پاکستان د ملېشو هغه ځواکونه، چې دوی يې لري او په ډول ډول طريقو يې روزي، هغوی هم د طالبانو او داعش په نامه راځي او په افغانستان کې عملن فعاليت کوي. څه وخت مخکې د افغانستان دفاع وزارت وويل چې په هلمند کې د پاکستان څو جنرالان وژل شوي. دا په دې معنا ده چې عملن دوی په جنګ کې دي، دوی جګړه کوي، بيا زموږ د افغان حکومت رهبران، سياسيون او نور ولې غلي او پر وړاندې يې غږ نه‌شي اوچتولی.

**خبريال:** مشخص اگر بگوييم هرگاه افغانستان باثبات به نفع پاکستان است. پس چرا پاکستان سياست خصمانه را در برابر افغانستان تطبيق می کند؟

**اصولي:** ځکه چې يو باثباته خپلواک او زورور افغانستان د پاکستان په ګټه نه دی، ولې، ځکه که افغانستان يو ځل پخپلو پښو ودرېد؛ که يو ځل يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوايي ځواک پيدا کړ؛ که یو ځل یې پوځ منظم شو؛ که یو ځل په خپلواک ډول میدان ته راداخل شو، نو بیا به ډېر ژر د ډیورنډ مسئله رامخې ته کړي او پاکستان ته به ووايي چې زما خاوره راکړه. ته تر جیلمه تر آټکه زما پر خاوره څه کوې. ځکه د ډیورند موضوع له چا سره شوې وه، له انګرېزانو سره شوې وه.

**خبریال:** یعنې تا زمانی که موضوع دیورند حل نشود افغانستان همچنان باید نا امن باشد؟

**اصولي:** دا هغه خبره ده چې موږ، تاسو او ټول پرې پوهېږو. څو چې د ډیورند مسئله حل نه‌شي، پاکستان به تر هغو له افغانستانه لاس وانه خلي. دا په دې معنا ده چې که اوس د ډیورند مسئله ورسره حلوې، نو مجبور یې چې خاوره به ورته پرېږدې او که یې نه حلوې، نو تا به همداسې په جنګ او اور کې ساتي.

**خبریال:** پس از دید شما راه حل چیست؟

**اصولي:** د حل‌لاره یې دا ده چې موږ امریکا ته قناعت ورکړو. کله چې امریکا افغانستان ته راتله، پاکستان تړون ورسره کړی چې په خپل څنګ کې یو باثباته افغانستان نه غواړم، اما داسې یو افغانستان مو پکار دی چې ستا لاس ته هم ناست وي او زما لاس ته هم. پاکستان امریکا ته ویلي چې د افغانستان پوځ به نه راته قوي کوې چې سبا یې موږ ته پام را اوړي؛ اردو یې راته قوي نه کړې چې سبا پر موږ غږ کوي، پولیس یې پیاوړي نه کړې. یعنې په ټوله کې به یې داسې راته ساتې چې نه مړه کېږي او نه هم ژوندي پاتېږي، لکه اوس یې چې موږ او تاسو وینو چې زموږ د ملي اردو او نظامي ځواکونو د تجهیز لپاره یوه طیاره په ورځ کې راځي، او که دا هرڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخ شي بيا دوی ته تجهيز، وسلې او مهمات هم نه رسېږي. علت يې دا دی چې نه مو وژني او نه مو پرېږدي.

**خبریال:** تشکر. آقای بیژن روی چه اهدافی راحیل شریف لوی درستیز پاکستان  این چنین موارد را بیان کرده؟

**بیژن:** سلام بشما، مهمانان و بینندگان؛ یک مسئله روشن است که در برابر پاکستان یک اجماع جهاني بوجود آمده، اجماع منطقه‌یی بوجود آمده و در سطح کشور هم یک اجماع ملي بوجود آمده، پاکستان با زیر فشار آمدن با این اجماع‌ها دست به بازی‌های میزند که منطقه و جهان را مشغول بسازد، ولی در حال حاضر این کار پاکستان بسیار مضحک است چون در مورد پاکستان دگر چیزی برای جستجو یا تحقیق نزد جهانیان باقی نمانده همه یی جهان معتقد شده اند که پاکستان در تمامی مانند یک دانه سرطان است.

**خبریال:** آقای بیژن دقیقاً پاکستان لانه تروریزم است، و تروریزم هم متاسفانه آله‌یی دست قدرت‌های بزرگ اما دارای دوست‌ها و همکارران بزرگ جهانی فکر میکنید که این دید جهانی واقعاً بر پاکستان اعمال شود و پاکستان را به انزوا بکشاند.

**بیژن:** کشورهای بزرگ اهداف استراتیژیک را پیش میبرد که در راس آن امریکا است و پاکستان هم برای آنان مانند یک آله است و این آمریکا بود که پاکستان را در سطح جهان بعنوان حامی تروریسم معرفی کرد و به نحوی اسامه بن لادن را در آن کشور به قتل رساند. اما اهداف امریکا این بود که دگر ماموریت پاکستان به امریکا اختتام پیدا کرده و با هند هم موافقت‌نامه یی را امضا کرد تا به هند نشان دهد که دگر از پاکستان دست

(c) ketabton.com: The Digital Library



بردار شده و حال می بینیم که در پاکستان حرکت‌های سریع مانند، حرکات بلوچها و کشمیر و پشتونستان یا صوبه سرحد جریان دارد که پیام آور تجزیه پاکستان است.

**خبریال:** هرگاه مقامات پاکستانی این توطیه‌ها را درک کرده فکر میکنید که با توجه به این توطیه‌ها سیاست آن در قبال افغانستان تغییر کرده باشد؟

**بیژن:** نقشه‌ها و پلان‌های برای پاکستان کشیده شده که چه زمانی بلاخره این زخم ناسور از نقشه جهان برطرف خواهد شد و تکلیف ما با پاکستان بدون شک که بسیار برجسته است. اما حوزه مشکلات ما متمرکز به پاکستان نیست ما از ایران و عربستان هم در مشکلات هستیم. پس نیاز است که یک سیاست مدبرانه و شجاعانه در افغانستان روی کار شود، که حد اقل زمینه مساعد نشود که بازم پاکستان از فرصت‌ها استفاده کند و مارا درگیر مشکلات بسازد.

**خبریال:** تشکر. آقای اصولي! لوی درستیز پاکستان گفته که نیت ما در پروسه صلح افغانستان بلاخره خوب است و ما کارهای را هم انجام داده ایم. از شما میخواستم بپرسم که با توجه به تجربه ۱۴ یا ۱۵ سال اخیر آیا در استراتیژی پاکستان صلح و ثبات افغانستان جای دارد؟

**اصولي:** نه یواځې دا چې موږ تېرو ۱۴ یا ۱۵ کلونو ته وګورو، بلکې د پاکستان له جوړښته تر دې دمه به غور وکړو. لکه څنګه چې مخکې مو یادونه وکړه پاکستان له کله چې جوړ شوی آن تر نن یې له افغانستان سره په هغه صادقانه ډول، د یوه صادق ګاونډي په توګه نظر نه دی کړی.

**خبریال:** آقای اصولي اما یک چیز دیگری را هم باید در نظر داشته باشیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که در سیاست صداقت و این موارد اخلاقی مطرح نمی شود.

**اصولي:** یو د سیاست موضوع ده او یو هم له پاکستان سره د افغانستان روابط دي چې د سیاست نه، بلکې عملن جنګ دی. د سیاست موضوع هغه ده چې په ډیپلوماټیک ډول دوی له نورو هېوادونو سره حل‌لارې ولټوي.

**خبريال:** آقای اصولی یک چیز راهم باید در نظر داشت که آخرین مرحله دیپلوماسی دقیقاً جنگ است.

**اصولي:** کله چې جنګ راغی په هغه کې بیا ډیپلوماسي هم نه چلېږي. پاکستان عملن له افغانستان سره د جنګ اعلان کړی، خو دا چې موږ افغانان، زموږ سیاسیون یې نه ویني او زموږ مشران پرې سترګې پټوي، دوی ورته نااعلان شوی جنګ وایي، خو دغه نااعلان شوی جنګ نه، بلکې عملن د دوی پوځ په افغانستان کې جګړه کوي. عملن دوی ورته جلب و جذب کوي او تجهیزوي یې. دویمه مسئله د ډیورند په هکله داسې ده چې د ډیورند مسئله دومره کوچنۍ مسئله نه ده چې اوس یې موږ راپورته کړو؛ افغانان یې راپورته کړي او له پاکستان سره پرې وغږېږي.

**خبريال:** پس چه زماني باید کشیده و روی میز گذاشته و حل شود؟

**اصولي:** دا مسئله داسې ده، کله چې پاکستان قوي او موږ کمزوري یو، موږ عملن په جنګ کې یو، نو بیا څنګه کولای شو چې خپله خاوره له هغوی څخه واخلو.

**خبريال:** خوب شما قبلاً اشاره کردید که پاکستان نمی گذارد که افغانستان قوی شود هرگاه چنین است پس راه حل چیست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** د ډیورند مسئله کومه وړه مسئله نه ده، کله چې موږ په متو کې له پاکستان سره سم نه‌شو، تر هغې موږ د ډیورند په مسئلې کې تاواني یو. دویمه مسئله دا ده چې خاوره ناموس دی، خاوره مور ده، دا خاوره چې تر اټکه ده، ټوله د افغانستان یوه برخه ده، له دې څخه باید څوک سترګې پټې نه کړي. دا یوه داسې خاوره ده لکه زما بدخشان، لکه زما خوست، لکه زما هرات، خو دا چې اوس یې په زور نیولې، دا نو بیا بېله مسئله ده. کله چې د ډیورند کرښه تعینېدله، له انګرېزانو سره یو پرېکړه‌لیک شوی و، خو له پاکستان سره نه و. آیا پاکستان کولای شي چې د انګلیس جېره خور شي. دا هغه څه دي چې نړیوال هم ورته ګوته پر غاښ دي، چې که افغانستان قوي شي، نو که په نړیواله سطحه به افغانستان د خپلې خاورې اخیستو ته اقدام وکړي او پاکستان به ډېر تاواني شي، ځکه موږ په دې برخه کې له پاکستان سره کوم تړون نه لرو. هرڅه چې وو، هغه له انګرېزانو سره وو. دویمه مسئله دا ده چې که افغانستان غواړي له پاکستان سره په ځینو نورو مسایلو کې پر پاکستان فشار راوړي، څو پاکستان له دغو مسایلو لاس واخلي، نو باید هماغه ډول برخورد ورسره وکړي لکه څنګه چې طالب ساتي او دوی هم باید بلوڅان ورته وساتي. بلوڅانو ته دې ځای ورکړي، بلوڅان دې ورته تجهیز کړي، بلوڅان دې ورته پورته کړي.

**خبریال:** حالا شما از سیاست افغانستان گفتید که باید بلوچها را حمایت کند، آیا شرایط کنوني افغانستان برای اتباع خود افغانستان توانایی این سهولت‌ها را دارد که باید بلوچها را هم آورده و آنان را تجهیز و تمویل نموده و در مقابل پاکستان استفاده کند؟

**اصولي:** په افغانستان کې د یوې ورځې د جنګ مصرف او لګښت ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلیونه ډالره دی. کله چې ۱۲ میلیونه مصرفېږي، نو آیا وبه نه‌شو کولای چې همدا ۱۲ میلیونه نیمايي کړو، ٦ میلیونه پر بلوڅو ولگوو، څو اسلام آباد ته درد ورکړو، لکه څنگه چې یې موږ ته راکوي.

**خبریال:** حال که ما با ۱۲ میلیون نمیتوانیم جنگ را کنترول کنیم و در بسیاري از ولایت‌ها و ولسوالی‌ها جنگ جریان دارد. ولایت‌ها در حال سقوط اند و په دست مخالفان است، اگر این رابه ٦ میلیون کاهش دهیم فکر نمیکنید که تمامی کشور به دست مخالفان بیافتد؟

**اصولي:** کله چې موږ بلوڅان دلته راولو او همدا ٦ میلیونه ډالر پرې ولگوو، دا ټول مصرف موږ له هنده اخیستلای شو، دغه مصارف به هند ضرور راکوي، لکه څنگه چې یې دوی د افغانستان د جنگ لپاره له امریکا، برېتانیا او عربستان څخه اخلي، نو ایا موږ یې له هند یا نورو هېوادونو څخه نه‌شو اخیستلای؟ له همدې امله چې هغه هر ډول راته گوري، هسې باید ورته وگورو، تر هغې چې دا حقیقتونه درک نه کړو همدا به مو حال وي.

**خبریال:** آقای اصولي آیا این ظرفیت در حکومت افغانستان وجود دارد که دست به چنین کاری بزند؟ با توجه به این که ما تا هنوز فساد اداري را از حکومت دور نتوانستیم، یک وزیر درست را معرفي نتوانستیم.

**اصولي:** په دې دومره وزیرانو او دومره کابینه کې یو داسې مدبره او ځواکمن شخص به پیدا شي چې داسې کار وکړي. هر کله چې زما ماشوم ژړېږي، درد یې باید اسلام آباد هم واوري. اوس مو که لس ولسوالۍ سقوط دي راتلونکي کال کې به شل کېږي، بل کال به ۴۰ ته رسېږي، ځکه چې درد دلته په افغانستان کې دی. که موږ ته پنځه ځانمرگي رالېږي، موږ باید دوه ورواستوو. پاکستان ته که درد ورکړو، خپله به پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** حالا واقع بینانه باید قضاوت کرد، ایا این ظرفیت را دولتمردان ما دارد؟ افغانستان که حتا نمیتواند جلو انتحاري را در شهرنو یا دارالمان بگیرد چه انتظار دارید که برود در پاکستان انتحاري کند؟

**اصولي:** د انتحاري مخه په کابل کې نه نیول کېږي، خو په اسلام آباد کې نیول کېږي، همدا یې حل‌لاره ده. پر دې باید ټول پوه شو چې د انتحاري مخه په پېښور، اسلام آباد او ټول پاکستان کې نیول کېږي.

**خبریال:** ممنون تان. آقای بیژن با حرفهای جناب اصولي موافق استید که سیاست همانند پاکستان را باید در مقابل آنان اتخاذ کرد. آیا ما ظرفیت آنرا را داریم که چنین کاری را در آنجا انجام دهیم؟

**بیژن:** در برابر دشمن محاسبه تنها برحسب ظرفیت نیست، فلحال اگر محاسبه کنیم ظرفیت ما بمراتب بیشتر از ظرفیت پاکستان است چون ما هم پیمانان استراتیژیک و حمایت کشورهای قدرتمند را داریم، اما مشروط به اینکه ما سیاست‌مداران مدبر شجاع و دانا داشته باشیم، واقعیت کلی ما اینست که عامل همه‌یی بدبختی‌های ما وجود رهبران فاسق غلام و جاسوس است. و در نزد جهانیان هم هویت پاکستان حال یک هویت خراب و لجوجانه است و بعنوان یک ابزار فاسد در جهان معرفی شده است.

در موضوع دیورند، بحث دیورند یک بحث عقلانیت و خردمندي است، بحث عاطفی نیست و من هم اولین کسی هستم که بعد از سقوط طالبان برای اولین بار بحث دیورند را مطرح کردم. از نظر جامعه جهانی موضوع دیورند یک موضوع مسدود شده است و این بحث باید خاتمه پیدا کند و دگر ادامه نیابد. این زخم ناسور نباید بیشتر از این برای حلقات فاسد و مزدور و قوم فروش باز گذاشته شود. و این موضوع باید با مراجعه با اسناد

(c) ketabton.com: The Digital Library



و مدارک پایان یابد.

**خبریال:** تشکر. آقای اصولي! بحث دیورند مسدود شده و زخم ناسور برای مردم افغانستان است و کسایی هم از این بحث استفاده میکنند که آقای بیژن بیان داشتند.

**اصولي:** زه یوه خبره کوم، موږ یو منتخب ولسمشر، حکومت یا هرڅه چې دوی وویل دا ټول لرو، خو دا دې ووایي چې په دې اوسنۍ کابینه کې څوک ملي فکر لري او څو يې نه دي خرڅ شوي چې د ISI غلامان نه دي. په همدې اوسنۍ کابینه کې موږ ډېرى داسې کسان لرو چې له ISI سره لاس لري. په دې اوسني پارلمان کې له نیمایي زیات شمېر په ځینو استخباراتو کې دي. کله چې موږ خپله افغانان تر دې حده فاسد و اوسو او تل مو هرې دروازې ته لاس نیولی وي، د ټولو خیرات‌خواره یو، نو څنګه به ډیورنډ وګټلای شو. که داسې وي چې موږ ورته ووایو چې ډیورند مو خرڅ کړ، نو بالکل به سبا بدخشان هم خرڅوو؛ سبا به خوست هم خرڅوو او بیا به نه وایو چې زموږ خاوره زموږ ناموس دى. کله چې مونږ ډیورند پرېږدو، دا په دې معنا ده چې موږ خپل ناموس ته بد کتلي او موږ خپله مور خرڅه کړې ده، بله هېڅ کومه معنا نه لري.

**خبریال:** حالا این بار نخست نیست متاسفانه بیش از ده بار جغرافیای افغانستان توته توته شده و به عقیده شما مادر مردم افغانستان بلاخره فروخته شده.

**اصولي:** هر کله چې هر چا جغرافیې ته لاس وروړى دى، بالکل یې ناموس خرڅ کړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبريال:** تشکر، آقای عرفاني شما بفرمائید.

**عرفاني:** ببینید به لحاظ میهن پرستي میګویند که وطن خاک است و ناموس است در این که هیچ تردید نیست، ولی باید عاقلانه قضاوت کرد، من موافق استم که اینجا باید یک رویکرد عقلانی حاکم باشد. این مسئله در زمان امیر دوست محمد خان، در زمان حبیب الله خان، در زمان امان الله خان و همه تایید شده و پاکستان با ګرفتن استقلال خود آزاد اعلان شد و این مسئله بصورت کلی حل شد.

**اصولي:** تر اوسه چې چا د ډیورند کرښه ورکړې ده، هغه امیر عبدالرحمن خان دی، خو په هغه سند کې د امیرعبدالرحمن امضا نه‌شته. څوک دې یو داسې سند پیدا کړي چې زموږ د ولسمشر، زموږ د امیر، زموږ د مشر امضا پکې وي. دا په دې معنا ده چې موږ د پردیو غلامان یوو، د پاکستان استازي یو او دلته د هغوی لپاره بحث کوو.

**خبريال:** تشکر از شما تشکر از اینکه دعوت ما را پذیرفتید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۰

## د ټاکنو په کميسيون کې اصلاحات

ولسمشرۍ د ټاکنيز نظام اصلاح په برخه کې ګامونه او د دې اړوند ټول فعاليتونه په خپل اختيار کې راوستي او نه پرېږدي چې اصلاحات راشي. دا د غوراوي کمېټې وروستۍ څرګندونې دي او وايي، سبا به په دې برخه کې خپل وروستی دريځ هم اعلان کړي. ويل کېږي چې حکومت هېڅ اراده نه لري چې د ټاکنو په برخه کې اصلاحات رامنځته کړي. ټاکنيز نظام کومې خوا ته روان دی؟ د همدې موضوع په اړه د افغانستان د رڼو ټاکنو د بنسټ له رييس ښاغلي نعيم ايوب‌زاده او د سياسي چارو له څېړونکي ښاغلی جمال ناصر اصولي سره بحث لرو. تاسو ته ښه راغلاست وايم.

آقای ايوب زاده بنظر شما وضعيت کنوني که در نظام انتخاباتي بوجود آمده و بالاخره امور به رييس جمهور واگذار شد که ايشان بايد فرمان تقنينی صادر کنند و کارهای آنرا اغاز کند، اما متوقف شد، نظر شما در اين زمينه چيست؟

**ايوب زاده:** سلام خدمت شما مهمان گرامی و بينندگان. خوب برای اصلاحات انتخاباتی ما وقت زيادی را از دست داده ايم و هيچگونه سهل انگاری در اين زمينه از سوی حکومت افغانستان توجيه پذير نيست ارزيابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما از وضعیت کنونی اینکه چرا تلاش‌های انتخاباتی با چالش روبرو شده اینست که حکومت وحدت ملی از برگزاری انتخابات پارلمانی و شورای ولسوالی حراس دارند، حراس از برگزاری درست انتخابات دارند، حراس از نا امنی دارند و حراس از ناکامی دارند. همین دلایل سبب آن شده که حکومت توجه کافی برای اصلاح‌سازی نظام انتخاباتی نداشته باشد.

**خبریال:** اصولي صاحب ستاسو نظر هم غواړم. افغانستان په داسې اساسي شرایطو کې دی چې له یوې خوا یې ټاکنیز کمیسیونونه وايي چې قانون دوی ته اجازه ورکړې او هېڅوک یې مانع کېدای نه‌شي، دوی نېټه اعلان کړې، حکومت باید مداخله ونه کړي او دا پروسه باید سیاسي نه‌شي. خو حکومت وايي چې دوی ناکاره ول، باید چې اصلاحات رامنځته شي. کمیسیون بیا ورپسې د غوراوي کمېټه بیا د دې وضعیت بندېدل، په ټوله کې تاسو دا وضعیت څنګه ارزوئ؟ په مملکت کې څه روان دي، لکه څنګه چې ایوب‌زاده صاحب اشاره وکړه، آیا دا پروسه په رښتیا هم سیاسي شوې ده؟ ایا د افغانستان د اصلاحاتو لپاره خوش‌بین ونه اوسو؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه سلامونه تاسو قدرمن مېلمه او ټولو لیدونکو ته. اصلن موضوع داسې ده چې دا دوه مشران مو د انتخاباتو پر اساس دې ځای ته نه دي رسېدلي، بلکې له یو ډول جوړښت سره یې دا حکومت رغولی. په همدې ډول دوی ټول وزارتونه، ټولې ادارې، د ټاکنو کمیسیونونه او دا ټول نظام غواړي په همدې ډول جوړ کړي.

**خبریال:** اوس تاسو د کوم لوري طرفدار یاست، قوانین او ټولو ته په کتو دا اوسني کمیسیونونه باید خپل کار ته دوام ورکړي؟ لکه څنګه چې دوی وايي چې حکومت دې مداخله نه کوي، موږ نېټه اعلان کړې ده؟ که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځانګړی کمیسیون چې د اصلاحاتو لپاره جوړ شوی او د غوراوي کمېټه پکې رامنځته شوه، د کوم یوه طرفدار یې یاستئ چې باید خپل کار ته دوام ورکړي؟

**اصولي:** قانون وایي چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید خپل کار ته دوام ورکړي. موږ تاسو په همدې باور یو؛ د افغانستان ولس په همدې باور دی؛ زمونږ قانون همدا وایي؛ دوی ناقانونه راځي په زور نور اشخاص پرې تپي هغوی به داسې راولي چې همدا دواړه مشران به کیني او د خپلو ډلګیو یا له خپلو اقوامو څخه به یې راخلي او دلته به یې ځای پرځای کوي.

**خبریال:** اوس اساسن تاسو وویل چې قانون وایي چې اوسني کمیسیونونه باید خپل کار ته دوام ورکړي، خو هغه تېرې ټاکنې څنګه ارزوئ چې د نړۍ په کچه بدنامې او وحشتناکې وبلل شوې او حتا بېلابېلو لورو په دې فیصله کوله چې تر دې ډېر رشخند ټاکنې تر اوسه په دنیا کې هم نه وې لیدل شوې. دلته په راس کې دغه مدیریت چې واقع و، هغه لا هم باید هسې باقي پاتې شي؟

**اصولي:** دا هرڅه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ونه کړل، بلکې هغه خپله همدغو مشرانو وکړل، هغه همدغو مشرانو  یو له بل څخه زیاته درغلي وکړه. د افغانستان حالاتو ته په کتو سل په سلو کې دلته امکانات شته چې درغلي وکولای شي، که لس ځلې هم د ټاکنو دغه نظام بدل کړي، ځکه موږ الکترونیکي سیستم نه لرو. که مو دغه سیستم لرلی بیا د درغلیو شمېر پکې کمېده. ځکه اوس د درغلیو امکان ډېر دی. ډاکتر عبدالله تر ډاکتر غني ډېره درغلي وکړه او همدا شان ډاکتر غني تر ډاکتر عبدالله ډېره درغلي وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** یعنې تاسو وایاست چې د قانون له اړخه کمیسیونونه باید خپل کار ته دوام ورکړي، هلته د ولسمشر صلاحیتونه هم په قانون کې یاد شوي، آیا ولسمشر د دې صلاحیت نه لري چې په دغو کمیسیونونو کې تغییرات راولي؟

**اصولي:** زما په اند نه یې لري، ځکه چې ټاکلې موده نه لري. کله چې ولس راپورته کېږي او ولسمشر ټاکي، ولس د ولسي جرګې استازي ټاکي، په همدې ډول پارلمان هم دوی د یوې خاصې مودې لپاره ټاکي.

**خبریال:** په تېر حکومت کې هم همدا ډول وشول، اوسنیو غړیو د تېر حکومت ولسمشر وټاکه.

**اصولي:** مسئله د غړیو نه ده؛ د وګړو نه ده؛ دوی یې لا نور هم خرابوي، که دا غړي وباسو او پر ځای یې نور راولو، دا بیا هم د حل لاره نه ده. زموږ سیستم له اوایلو څخه په همدې ډول دی، او د افغانستان اوضاع په همدې ډول ده.

**خبریال:** نو بیا دا اوږده سلسله، چې د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړی کمیسیون او بیا ورپسې د غوراوي کمېټه رامنځته کېږي او تقریبن یو کال وخت نیسي او دوی چې کار پیلوي بیا کله ودرېږي او کله شروع شي او ستونزې پکې رامنځته کېږي، د څه لپاره وه، تاسو ته د منلو وړ ده؟

**اصولي:** دا پروسه د یو څو خاصو اهدافو لپاره ده. هغه اهداف شخصي دي، د دې لپاره چې په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې خپل اشخاص ځای پر ځای کړي او همدارنګه په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې بیا هم درغلي وکړي، نو د همدې لپاره یې دا هرڅه رامنځته کړي، څو پروسه لا خرابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي او دواړه مشران په دې برخه کې همدا اراده لري.

**خبریال:** بیا ستونزه په څه کې ده، کله چې دوی تر دې ځایه راځي، دلته یو ځل بیا مکس کوي. دوی ته ځینې وخت د قوانینو له مخې تعبیرونه هم رامنځته کېږي چې کولای شي د پارلمان د رخصتیو پر وخت په داسې حال کې چې یو وخت هغه طرحه چې دوی د واکمنو صلاحیتونود تشکیل په هکله لیکلې وه هغه هم له منځه لاړه او بیا د قوانینو له مخې ولسمشر دا حق درلود چې دوی باید دا فرمان صادر کړی وی دلته بیا ولسمشر که اراده لري چې دا ډول یو څه رامنځته شي نو ولې مخته نه ځي ستونزه  څه ده؟

**اصولي:** زه یوې بلې خاصې مسئلې ته اشاره کوم. هغه دا چې اوس د اوسني نظام د انتخاباتو په کمیسیون کې یو څه ملي وګړي شته. که چېرې دوی دلته بدلون راولي نو سل په سلو کې به د پنځوص سلنو د فورمول مطابق په هرو راتلونکو ټاکنو کې جګړه وي.  لا به نور هم بدنامېږي.

**خبریال:** اصولي صاحب ډېره مننه. جناب ایوب زاده آنچه جناب اصولي گفتند که کمیسیون‌ها باید به کار خود ادامه دهند، قانونی نیست که کسی هم مانع اینان شود و ریس جمهور صلاحیت ندارد راجع اصلاحات اقداماتی داشته باشند، این مسایل را شما چقدر تایید می کنید؟

**ایوب زاده:** من با نظریات ایشان موافق نیستم، خیلی دشوار خواهد بود که من خلاف آنچه که واقعیت است چیزی بگویم چون از یک مرجع آمدیم که در بسیاری از نقاط کشور نظارت کرده و آمدیم. کمیسیون اصلاحات انتخاباتی غیرقانونی نیست، کمیته غیرقانونی نبود. اینکه حکومت وحدت ملی برخلاف قانون بوجود آمد ولی مهر تایید و تصدیق نامه از سوی همین کمیسیون به این حکومت داده شد. متاسفانه ضعف مدیریتی در نهادهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتی باعث شد که ما بطرف بحران انتخاباتی برویم و حرف اخیر اینکه مردم دگه بالای این کمیسیون اعتماد ندارند.

**خبریال:** اگر کوتاه بگوین اینکه جناب اصولی گفتند که قانون به ریس جمهور و یا هیچ کسی دیگری این اجازه را نمیدهند تا در نظام انتخاباتی مداخله کنند و یا تغییرات بوجود آورند دقیقا در کدام قسمت قانون گفته شده که ریس جمهور این صلاحیت را دارد تا تغییر بیاورد؟

**ایوب زاده:** در حالات اضطراری، در قانون اساسی و ایجاد کمسیون از صلاحیت‌های ریس جمهور است. در قانون اساسی به ریس جمهور صلاحیت داده شده که کمیسیون را شکل دهد که ماموریت آن مشخص باشد و دایمی که نه بلکی موقتی باشد.

**خبریال:** ممنون تان. اصولي صاحب تاسې د ایوب زاده خبرې واورېدې چې ولسمشر د قانون له پلوه دا صلاحیت لري چې دغه پروسه تنظیم کړي، چې انتخابات باید څنګه ترسره شي او د اصلاح لپاره یې هم ګامونه پورته کړي او د ایشیا فوندیشن، ټیفا او انټرنشنل ډیموکراسۍ نهاد د څېړنو پر اساس اصلي ستونزه دا ده چې خلک په ټاکنیزو سیستمونو باور نه لري.

**اصولي:** دوی وویل چې په اضطراري حالت کې یو. لومړی خو دا چې په افغانستان کې اضطراري حالت نه دی. دا باید ومنو. دویمه موضوع دا ده چې د خلکو اعتبار د ټاکنو پر کمیسیون نه دی کم شوی، د خلکو اعتبار په همدغو دوو مشرانو کم شوی، دوی درغلي کړې، دوی حالات دومره خراب کړل، دوی وویل چې د انتخاباتو کمیسیون دواړو ته تصدیق‌نامه ورکړه. اصول دا دي چې د انتخاباتو خپلواک کمیسیون یو ولسمشر ټاکي نه دا چې دوه. د انتخاباتو کمیسیون یې داسې حالت ته رارسولی و چې ډاکټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرف غني يوې خوا کشاوه، ډاکټر عبدالله بلخوا، جان‌کيري بلې خوا او بهرنيو هېوادونو او نورو مؤسساتو بلې خوا ته کشاوه. آخر يې دغه کميسيون بېخي لاروركی کړ او تر دې حده يې راورساوه چې دغه دوه کسان يې پرې ومنل.

**خبريال:** خو دوی له ځانه د خپلواک نوم درلود، ولې يې دا د خپلواک نوم ونه ساته، آيا دا پخپله د مديريت ستونزه نه ده؟

**اصولي:** د مديريت ستونزه په هغه ځای کې کېدای شي چې پر دوی هغه موجوده فشارونه لږ شوي وای. دوی هم افغانان وو، گذشت يې د دې لپاره وکړ چې دوی هم د افغانستان حالات ليدل او له بحراني کېدو څخه يې وېره لرله.

**خبريال:** ډېره مننه. د ټيفا له ريس نعيم ايوب زاده او جمال ناصر اصولي څخه نړۍ مننه چې په دغه بحث کې يې راسره برخه اخيستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱

## د الکترونیکي تذکرو بحث

په داسې حال کې چې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنې او ترڅنګ یې د ولایتي شورا ټاکنې هغه څه وو چې په افغانستان کې یې د ټاکنو پر لمن تور داغ پرېښود. همدارنګه له هغې مودې چې تر اوسه تقریبن یو کال تېرېږي خو بیا هم د الکترونیکي تذکرو د وېش په برخه کې عملي ګام نه دی پورته شوی. په ورته وخت کې دا هم ویل کېږي چې د دې اداري لخوا تر اوسه تقریبن ۱۳ میلیونه ډالره مصرف هم شوی دی. پایله یې تر اوسه پورې معلومه نه ده، په بېلابېلو مواردو کې کله کار پیل او کله هم بېرته بند شي. اوس مهال دا کار درېدلی او علت یې دا دی چې ولسمشر تر اوسه پورې په دې اړه کومه واضحه پرېکړه نه ده کړې. ولسمشر ولې په دې اړه پرېکړه نه کوي؟ نور خنډونه څه دي؟ هغه پیسې چې په دې برخه کې مصرف شوې هغه چېرې ولاړې او بالاخره یې څومره ضربه د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصاد او د الکترونیکي تذکرو د وېش لړۍ ته ورکړه، پر همدې مسایلو بحث لرو.

د الکترونیکي تذکرو د وېش پر وړاندې اساسي خنډ څه دی؟ په داسې حال کې چې تر اوسه پورې د الکترونیکي تذکرو د اداري له لوري د ولسمشر نه پاملرنه د دې هرڅه لامل ښودل شوی دی. دا څه ډول مسئله ده؟ د حکومت اراده څه ده؟ او د الکترونیکي تذکرو پر وړاندې نور خنډونه څه دي؟ پر همدغو مسایلو د بحث لهپاره په ستوډیو کې د الکترونیکي تذکرو د وېش ریس ښاغلی همایون محتاط او تر څنګ یې د سیاسي چارو کارپوه ښاغلی جمال ناصر اصولي راسره مېلمانه دي. تاسو ته ښه راغلاست وایم.

جناب محتاط با شما آغاز میکنم، از شروع این پروسه که اخیر سال ۱۳۹۲ بوده تا حال در این زمینه چقدر پول به مصرف رسیده است؟

**محتاط:** تشکر از دعوت شما سلام به شما، جناب اصولي و بینندگان عزیز. اداره تذکره الکترونیکی در دلو سال ۱۳۹۱ ایجاد شده و مسؤلیت آن توزیع طرح و تشکیلات و تمام امور توزیع تذکره الکترونیکی بوده که ماوظایف خود را در چوکات وزارت داخله انجام داده. حدود ۷,۵ میلیون دالر از بودیجه انکشافی دولت و حدود ۵,۵ میلیون دالر از بودیجه جامع تمویل کننده را در این پروژه مصرف کردیم، اما این پولها به شکل نبوده که به حدر رفته باشد، در مقابل این پول ما امروزه یک اداره یی داریم که کاملاً آماده یي توزیع تذکرههای الکترونیکی به هموطنان ما میباشد.

تذکره الکترونیکی در چهار مرحله توزیع میشود، مرحله اول جمع آوری معلومات خانه پری فورمهها و تثبیت هویت شهروندان است، مرحله دوم ثبت نام هموطنان ما است که شامل اخذ بایومتریک میشود، مرحله سوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ تذکره میباشد، و چهارم هم توزیع تذکره است ما اجازه تطبیق مرحله اول و دوم را قبلاً کسب کرده بودیم یعني که ما در سال ۱۳۹۴ حدود ۵۰۰۰۰۰ شهروند خود رابا ۱۰۰۰ کارمند خود با جمع آوری معلومات و تثبیت هویت کردیم. متاسفانه ما توقع داشتیم که مشکلات سیاسی تذکره حل شود و تذکره‌ها را توزیع کنیم اما نشد.

**خبریال:** آقای محتاط میشه توزیح دهید که اینقدر پول گزاف یعنی ۱۳ میلیون دالر را شما در چه موارد استفاده کردید؟

**محتاط:** ما حدود چهل تیم را استخدام کردیم، تریننگ دادیم مراکز را ایجاد کردیم، فرنیچر خریدیم و به شما معلوم است که یک اداره یی که حدود ۱۰۰۰ کارمند داشته باشد، تجهیزات خیلی زیادی را نیازمند میباشد.

**خبریال:** یعني چرا باید ۱۳ میلیون دالر مصرف شود شما از فرنیچر و معاشات کارمندان یاد آور شدید در حالیکه یک وزارت خانه مکمل افغانستان که تعداد شان هم زیاد است مصرف آنها تا حال به این حد نرسیده که شما میگویید.

**محتاط:** شما اگر فعالیت‌ها و برنامه‌های کاری ما را ببینید ما حدود ۵۰۰ هزار شهروند کابل را خانه به خانه رفتیم و وزارت به وزارت رفتیم تمام فورمه اینها را خانه پری کردیم و کارمندای خودما این فورمه را گرفته و به وکلای گذر برده این همه مصارف ترانسپورتی کار دارد شما اگر کرایه مراکز وسایط ترانسپورتی و معاشات را بسنجید ۱۰۰۰ کارمند با دوسال فعالیت در ساحه مصارف هنگفتی را دربر دارد.

**خبریال:** ښاغلی اصولي په دې اړه ستاسو نظر غواړو، لکه څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي محتاط هم ورته اشاره وکړه، په څه کم دوو کلونو کې دوی ۱۳ میلیونه ډالر مصرف کړي دي او د مصارفو سرچینې یې یادې کړې. ستاسو په نظر دا پیسې څنګه مصرف شوې او پایله یې څه وه؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه، سلامونه تاسو، مېلمه او لیدونکو ته. اصلن د تذکرو موضوع که په عمومي ډول وڅېړو زه وایم چې تذکرې د افغانستان د رهبرانو د سیاست قرباني شوې دي. یعنې زموږ سیاسي رهبرانو ونشو کولای چې دا پروسه پرمخ یوسي او بریالۍ یې کړي. اوس خو ګورو چې له خنډ سره مخ ده او لا به هم مخ کېږي. ۱۳ میلیونه ډالر چې دوی مصرف کړي دي، موږ ګورو چې دوی مامورین لري او دا هرڅه ته اړتیا لري. او دا پیسې اوس هم لږې مصرف شوې ځکه موږ چې د افغانستان اداري فساد ګورو نو بیا هم کمې مصرف شوې دي.

**خبریال:** اصولي صاحب مسئله په بل ځای کې ده، زه غواړم په دې برخه کې ستاسو نظر واخلم، کله چې تذکرې توزیع شوې نه دي، کار دوام پیدا کړی، دا کوم قوانین ول چې نتیجه یې معلومه نه وه او کار دوام پیدا کړی، بیا هم پیسې مصرفېدلې معاشونه ورکول کېدل یوازې پیسې مصرفېږي او کار معلوم نه دی.

**اصولي:** خبره دلته ده کله چې دوی مامورین ګمارلي، نو دا کسان معاش غواړي. زموږ رهبران په دې نه دي توانېدلي چې دا ۱۰۰۰ کسان، چې د پېژندپاڼو په اداره کې یې ګمارلي او دېته منتظر دي چې کله د وېش لړۍ پیلېږي، دوی کار کولای شي، خو بیا هم په ځنډ کې واقع کېږي، همدا کسان یې په تمه کېنولي، زما په اند به په نږدې راتلونکي کې خپلو کورونو ته ځي. هغه ۱۲۰ میلیونه ډالر هم قطع شوي دي چې د امریکا پراختیایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري دوی ته ورکول. او کوم ابتدايي مصارف چې دوی ښيي دا به هم قطع شي، ځکه همدا پيسې هم موږ په خيرات اخيستې دي، خو موږ دا پروسه ناکامه کړه.

**خبريال:** پوښتنه دا ده کله چې دا زموږ پيسې خيرات دي، نو دلته بايد پلان موجود نه وي، پيسې چې هر ډول مصرف شوې بايد څوک يې پوښتنه ونه کړي. ۱۳ ميليونه ډالر مصرفيږي هېڅوک تذکره نه لري او دلته د دوی لخوا پلان هم موجود نه و. څه وخت به شروع شي څومره مصرف به راشي او که چېرې بنديږي نو څه بايد وشي. په دې برخه کې هم تر اوسه هېڅ نه دي شوي.

**اصولي:** که دوی دېته پلان لرلی چې د تذکرو وېش يې په خپل وخت پيل کړی وای، نو دوی کامیابېدل، همدا پروسه به اوس هم کامیابه وه. په دې برخه کې هر جنجال چې رامنځته شو د همدغو رهبرانو له امله و.

**خبريال:** اصولي صاحب پوښتنه اساسن دا ده چې دوه کلونه تېر شول او په دغو دوو کلونو کې دا اداره هېڅ ونه توانېدله چې دوی ته یو مشخص پلان جوړ کړي چې څه وخت بايد دا کار ودريږي او پيسې بېرته را ټولې شي بيا د افغانستان په بوديجې کې وساتل شي. پيسې مصرفېدلې په داسې حال کې چې هېڅ روښانه پايله يې نه لرله.

**اصولي:** کله چې مديريت نه وي موجود، پروسه ناکامېږي؛ پروژې تر برياليتوبه نه رسېږي. د تذکرو موضوع چې کله جنجالي شوه نو زموږ رهبران بايد پر دې توانېدلي وای چې همدغه جنجال يې مديريت او حل کړی وای، بيا يې د تذکرو رياست ته ويلي وای چې تاسو تذکرې پيل کړئ. تاسو وليدل اجرايه رييس د دغه حکم ورکوي چې تذکرې پيل کړئ، نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ورته ټاکي خو بېرته برعکس ولسمشر همدا نېټه بېرته اخلي او له هغوی سره جورجاړی کوي چې ته يو څه موده غلی شه چې موږ دلته دا ستونزه حل کړو.

**خبريال:** مننه. جناب محتاط، آغاز کار توزيع تذکره‌های الکترونيکي در افغانستان ۱۸ اسد فيصله شد، شما هم تاييد کرده بوديد اما بازم اين کار نشد زمانی که شما اين کار را متوقف کرديد نظر به کدام فرمان مکتوب و يا اصل بوده؟

**محتاط:** اداره ما هم برنامه داشته هم پلان داشته، ما هميشه آماده بوديم که تمامی مراحل را يکجايي آغاز کنيم اينکه قسمت قسمت اجازه کار داده شد اينجا دگر ما ملامت نيستيم چون رهبران ما همطو صلاح ديدند، کار ما تاهنوز متوقف نبوده، ما در تاريخ معينه آماده توزيع تذکره بوديم اما رييس جمهور تقاضا کرد که در يک مراسم ويژه بايد توزيع تذکره شروع شود. ولی بازم تلاش‌ها است به شکل اپديت ما درخواست اختيار و عملی کردن مرحله سوم را هم خواسته ايم و هر زمانی که مشکل حل شود من با اطمينان گفته ميتوانم که بزودی روند توزيع آغاز ميشود. از حمل ۱۳۹۲ تا اکنون پروسه تذکره بصورت شفاهی متوقف بوده ما ماهوار هفته وار به وزارت داخله و اداره امور گزارش داده ايم.

**خبريال:** اصولي صاحب تاسو فکر نه کوئ چې که چېرې موږ ۱۳ ميليونه ډالر په افغانيو بدلې کړو دا ډېرې پرېمانه پيسې جوړېږي چې هغه د افغانستان د حکومت يوه لويه برخه جوړوي. مخکې مو يادونه وکړه چې د يوه وزارت مصارف، چې سنجول شوي، دومره ډېر نه دي، خو د دې ادارې پايله معلومه نه‌شوه، د توقف لپاره يې پروګرام ونه سنجول شو يا دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځنډول شي او د دومره مصارفو مخه ونیول شي خو تذکرې هم تاسو ګورئ چې نهشته.

**اصولي:** همدا موضوع ده، لکه څنګه چې مخکې موږ او تاسو یادونه وکړه کله چې په یو ځای کې مدیریت نه وي موجود د مشکلاتو اساسي منبع یې مدیریت دی.

**خبریال:** که د مدیریت مسوولیت یې ښاغلي محتاط ته ورکړل شوای وای، تاسو یې  څنګه ارزوی؟

**اصولي:** یوه موضوع همدا ده چې دوی په خپله اداره کې څه کولای شي. دویمه مهمه موضوع دا ده کله چې دوی ته له لوړ پوړو مقاماتو څخه امر وشي چې تاسو تذکرې توزیع کولای شئ، نو بیا که په هغه وخت کې دوی کم راغلل بیا موږ پوهېږو چې دا د تذکرو د ریاست ناغېړي ده. کله چې سیاسي موضوعات یا ستونزې په لوړ پوړو مقاماتو کې موجودې وي دوی څه کولای شي؟

**خبریال:** مثلن یو څه ته بیا هم ستاسو پام اړوم، مسئله دا نه ده چې دوی پروسه څنګه مخته وړې، بلکې موضوع دا ده چې دوی دوه کاله په یوه خالي او بېسرنوشته حالت کې کار ته دوام ورکړی او په ښکاره توګه یې دا ټکی نه دی مشخص کړی چې یو اداري کار څه وخت باید پیل او څه وخت یې باید بند کړو او دغه راز په کومو حالاتو کې باید مطلق هرڅه بند کړو.

**اصولي:** زما په اند د کار د بندولو مسئله یا دا چې زه د محتاط صاحب ځینې خبرې تاییدوم علت یې څه دی، ځکه چې دا زما لومړی ځل دی چې زه له محتاط صاحب سره وینم. کله چې داسې یوه لویه پروژه یا لویه پروسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره کېږي د دې درول او نه درول زما په آند د دوی د وسې خبره نه ده. دا خپله د رییس کار نه دی چې دا پروژه په ټپه ودروي او یا یې پرمخ یوسي.

**خبریال:** خو دا چې نن له دوی څخه پوښتنه کېږي چې ۱۳ میلیونه ډالر څه شول دا خو د دوی په مسوولیت پورې اړوندېږي، نه دا چې په نورو ارگانونو پورې. نن هم لومړۍ پوښتنه له دوی وشوه او تر دې وروسته به هم کېږي، نو تاسو فکر نه کوئ چې دوی باید په دې اړه مخکې له مخکې فکر کړی وای؟

**اصولي:** دوی باید سل په سلو کې پر ځینو مسایلو فکر کړی وای. دا مسئله شته، زما په اند په دغو مواردو باید فکر شوی وای چې دا ۱۰۰۰ کسان، چې دوی ورته معاش ورکوي، کولای شي دا پروسه په څومره وخت کې شروع کړي، شپږ میاشتې، یو کال یا څومره موده بیا په همغه وخت کې یې باید دا خلک راغوښتي وای، ټریننګ کړي یې وای او کورونو ته یې لېږلي وای او یا هم دا چې همدا ۱۳ میلیونه ډالرو لپاره داسې یو سیستم جوړ وای چې داسې په نامعلومه توګه د دولت له جیبه نه وای تللي.

**خبریال:** کور مو ودان ډېره مننه. آقای محتاط صحبت‌های اخیر جناب اصولی این بود که نخست باید شما زمان آموزش کارمندان را دقیق میکردید و بعد به کار آغاز میکردید چرا اینگونه نشد؟

**محتاط:** اداره ما فعلاً هم تحت فرمان ٦٦ و ٧٧ ریس جمهور است و به ما فرمان داده شده که شما چهل تیم را استخدام کنید و پروسه را آغاز کنید تا امروز به اداره ما فرمان دومی نیامده که این کار را متوقف بسازید. ما یکی از موثرترین پروژه‌های بودیم که توانستیم بیش از نیم میلیون شهروندان خویش را برای تذکره‌ها ثبت نمودیم. اگر مایل بودین باز ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلان عملیاتی خود را هم با همگان شریک خواهیم ساخت و در افغانستان پروژه‌های بوده که به صدها میلیون دالر در آن بدون کدام دست آورد خاص حیف و میل شده.

**خبریال:** بسیار زیاد تشکر از شما جناب محتاط، او اصولي صاحب تاسو هم ډېره زیاته مننه چې زمونږ بلنه مو ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۲

## له اداري فساد بډو يا رشوت سره مبارزه

بنام خدا، با وجود تلاش‌های ۱٦ ساله حکومت افغانستان و جامعه جهانی در راستای مبارزه با فساد اداری باز هم این پدیده ریشه کن نشده ادارات و نهادهای مختلف در این راستا از چندین سال بدینسو در افغانستان فعالیت می کنند اما هنوز هم مردم شاهد رویدادهای بزرگ فساد در کشور هستند. سوال اینجاست که چه عواملی باعث شده که فساد اداری در افغانستان ریشه کن نشده و یا نمیشود برای بحث در این رابطه آقای جمال ناصر اصولی آگاه امور سیاسی، آقای محمد ناصر تیموری پژوهشگر دیده بان شفافیت و بانو مسعوده کروخی عضو مجلس نماینده‌گان با ما هستند. مهمانان گرامی ښه راغلاست، خوش آمدید.

ښاغلی اصولي له تاسو به يې پيل کړو د فساد د له منځه وړلو لپار شپاړس کاله مبارزه وه او همدارنگه نړيوال هم غواړي چې فساد له افغانستانه بېخي محوه شي، لامل يې په څه کې دی؟ يا هم دا چې په افغانستان کې د فساد ترويج د چا په غاړه دی؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه، سلامونه تاسو، مېلمنو او ټولو ليدونکو ته. په افغانستان کې د موقتي اداري راپدېخوا تر ننه پورې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوانین چې د فساد په ضد دي او فساد پرې له منځه ځي، هغه عملي شوي نه دي. که څوک قانون نه عملي کوي نو بیا په هر ډول د قوانینو عملي کول د امنیتي ارګانونو په تېره بیا د پولیسو او ملي امنیت په غاړه دي. اساسي ستونزه دا ده چې په خپله امنیتي یا نظامي ارګانونو کې مو فساد موجود دی. د پخواني ولسمشر یا کرزي حکومت کې کله چې د یوه ولایت قوماندان به مقررېده نو مستقیمن به د کورنیو چارو وزارت معین او وزیر ته دوی هره میاشت پیسې رالېږلې، میاشتنۍ پیسې به یې لرلې چې له قومندان څخه به یې هم اخیستې د امنیت له آمر څخه به یې هم اخیستې او کله چې مقررېده بیا به یې هم په هغه وخت کې پیسې اخیستې چې یو څوک مقرر کړي، نو کله چې به یو قوماندان کوم ولایت ته لاړ، هلته به یې چور شروع کړ. د خلکو ستونزې به یې نه حلولې او په خپله دنده کې به ناکام و. علت یې هم دا و چې ده به خپلې غوښتنې یعنې پیسې به یې لټولې چې په کوم ځای کې پیسې دي او له کومې دوسیې یا کومې معاملې څخه څومره پیسې ترلاسه کولای شي. په همدې ډول په کابل کې هم. یعنې تر دې حده چې مامورین هم که د اداري اصلاحاتو له لوري مقررېدل بیا هم همدا حال و، که مستقیمن د وزیر لخوا هم مقررېدل بیا هم همدا حال و. یعنې په لویه کې ویلای شو چې د قوانینو نه عملي کول وو. قانون همدا خلک چې پولیس او امنیتي ځواکونه دي، همدوی یې عملي او دوی یې پلی کوي.

**خبریال:** اصولي صاحب اوس اصلي ستونزه د فساد بیا زموږ په غاړه ده د نړیوالو ډېری کارپوهان او شنونکي پر دې باور دي چې نړیوالو غوښتل څو موږ په فساد اخته شو. یعنې د فساد زمینه هغو مساعده کړه. بله خبره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګسالارانو شتون هم دی، دوی نه غوښتل چې چا ته بیې ورکړي؛ دوی نه غوښتل چې چاته حسابي ورکړي؛ دوی ډېر په فساد کې ښکېل وو.

**اصولي:** یو خو د نړیوالو عمومي موضوع ده. نړیوال هېڅکله هم نه غواړي چې په هغه هېواد کې امن راشي چې هلته مستقیمن د دوی نظامي ځواکونه مېشت وي. دوی هلته یو متزلزله حکومت یا دولت غواړي، علت یې دا وي چې دوی بیا په یوه امن هېواد کې خپلو موخو ته نه‌شي رسېدلای. دا د قضیې یو اړخ دی. دویمه مسئله د جنګسالارانو ده، یعنې د بن په کنفرانس کې پر همدې جنګسالارانو پانګونه وشوه. هغه ټوپک‌سالاران چې په مستقیمه توګه یې د افغانستان په تېرو جګړو کې لاس لاره. دوی د بیت‌المال پیسې لوټلې وې، دوی د بیت‌المال هرڅه خلاص کړي وو؛ دوی د افغانستان نظام ړنګ کړی و؛ دوی د افغانستان اردو له منځه وړې وه او همداسې ډېر څه یې خراب کړي وو. یعنې هغه ملي پروژې چې دلته وې او ملي بنسټونه ټول یې له منځه یوړل. هغه خلک یې ټول راوستل او په قدرت یې وګومارل، څوکۍ یې ورکړې قدرت یې ورکړ او هېڅا به هم له دوی څخه حساب نه‌شو اخیستلای، اوس هم په همغه ډول ده. اوس هم څوک له هغوی څخه حساب نه‌شي غوښتلای.

دا وضعیت ټول په لومړیو کې جنګسالارانو پیدا کړ چې دوی پر جنګسالارانو پانګونه وکړه. کرزي هم ورسره ومنله، چې دا کړنه یې د بخښلو نه ده. ډېر مثبت کارونه یې هم د دې وطن لپاره کړي دي، خو یو منفي کار یې هم دا دی چې کله بهرنیانو پر ټوپک‌سالارانو پانګونه وکړه، نو ده دا پانګونه څو څو چنده کړه او دوی ته یې لا ډېر واک، لا ډېرې پیسې ورکړې او همغه وو چې قانون یې تر پښو لاندې کړ او د دوی په شتون کې قانون اصلن نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلي کېږي، ځکه هر کله چې يو ټوپک‌سالار او جنګ‌سالار د کورنيو چارو يا د ملي دفاع وزير وي يا په همدې ډول د نورو وزارتونو وزير وي، نو څنګه کېدای شي چې دوی په هغه وزارت کې اصلاحات راولي.

**خبريال:** اوس د فساد پر ضد فساد دی، نو څنګه مبارزه ترسره کېدای شي او څنګه دا مبارزه قانوني کړو. ستاسو ښه انګېرنه وه، که دا انګيرنه رښتيا ثابته شي نو فساد په افغانستان کې يو دود او يو کلتور دی. نو له يوه دود يا کلتور سره څنګه بايد مبارزه وکړو دا به ډېر سخت وي؟

**اصولي:** اداري فساد يا بډې او رشوت اوس يو دود ګرځېدلی. مثلن که ګُمروکونو ته لاړ شئ، يعنې له دروازې چې ننوځئ او بېرته راوځئ، نو تاسو به په قانوني ډول پيسې ورکوئ او په قانوني ډول به تاسو ټول مراحل تېر کړي وي، خو بيا به هم له تاسو څخه پيسې غواړي، يعنې کله چې د ګمرک له دروازې څخه وځئ نو هغه عسکر هم له تاسو پيسې غواړي، مامورين خو يې هسې غواړي، حتا هغه پياده کارکوونکي هم درنه پيسې غواړي او که پيسې ور نه کړئ، نو ستونزې درته جوړوي. يعنې دا هر څه يو دود ګرځېدلی، د دغه دود له منځه وړلو لپاره اول بايد په مديرانو کار وشي. هغه مديران راوستل شي چې جنګسالاران نه، بلکې هغوی داسې خلک وي چې حساب و کتاب ورسره کېدای شي؛ داسې خلک وي چې دې وطن ته متعهد وي. يعنې بايد داسې خلک وي چې ووايي، افغان يم، د افغانستان يم، دا مې ملک دی، که زه يې جوړ نه کړم، نو ماته يې امريکايي، ايرانی، پاکستانی يا کوم بل څوک نه جوړوي، ځکه خو زه خپله بايد دا وطن جوړ کړم. نو بايد داسې کسان راوستل شي چې خپل وطن پرې ګران او يو ملي فکر ولري. خو په اوس کې يو ډول کلتورجوړ شوی، هغه پخواني خلقيان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پرچمیان چې په صادقینو او پاکو خلکو مشهور وو، په اوس کې هغوی هم په بدو هیله نه کوي. دوی هم اوس په ډېر ویاړ سره رشوت اخلي، علت یې هم دا دی چې دوی ته یې ویل چې تاسو لېونیان وی، ولې مو نه پیسې پیدا کړې او نه کور. یعنې اوسمهال هم د هغه وخت وزیران وینو چې دلته کور نه لري. د هغه وخت ولسمشر کور نه لري. د دفاع وزیر یې کور نه لري. د کورنیو چارو وزیر یې کور نه لري. خو هماغه وزیران چې اوس په دغه حکومت کې راګډ شول، ډېر څه یې پیدا کړل.

**خبریال:** ډېره مننه اصولي صاحب. آقای تیموری نهادها بخاطر مشکلات ایجاد میشوند بلخصوص نهاد شما و یا نهادهای که در مقابل مبارزه با فساد ایجاد شده اند زمانی که اثر گذاری نداشته باشند توجیه شما چیست؟

**تیموري:** بنام خدا، فساد یک پدیده بسیار گسترده در نظام افغانستان بوجود آمده زمانی که دولت وجود آنرا قبول نکند و یا به حل آن اقدام نکند پس این وظیفه مردم و نهادهاست که دولت را قانع به آن سازد تا در این زمینه‌ها اقدمات را انجام دهد. توجه بیشتر نهادهای مدنی مثل ما این بوده که نهادهای مستقل داخل ساختار نظام تقویه شوند، تا اینکه بتوانند نهادهای دیگری که در قسمت‌های مختلف کار میکنند اینان را تحت نظارت قرار داده بتوانند. در دولت افغانستان یک سلسله ادارات وجود دارند که وظیفه کلی شان نظارت ادارات دیگر میباشد تا از فساد جلوگیری بکنند، مانند اداره عالی تفتیش قسمت‌های از اداره نظارت قسمت‌های از اداره لوی څارنوالي، تفتیش های داخلی خود وزارت‌ها و ادرات که توجه ما هم بیشتر روی این ادارات بوده تا ببینیم که این ادارات در چه وضعیت قرار دارند و میتوانند از فساد جلوگیری کنند یا خیر. و قوه مقننه یا پارلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان هم وظیفه دارد تا از قوه اجرائیه نظارت بکند. وضعیف ترین نهادهای اداری در کشور مسوولیت جلوگیری از فساد را دارد به همین خاطر ما نتوانستیم در این زمینه دست آورد داشته باشیم.

**خبریال:** در بخش سکتورهای امنیتی، که شما گزارش دادید، بحث تان سر اردو و نظام دفاعی افغانستان بود که آنجا هم فساد موجود بوده و این تاثیر مستقیم بر امنیت افغانستان دارد. و اکثریت از کارشناسان به این باور اند که ناامنی در افغانستان بعد از ۲۰۰۷ زمانی گسترش یافت که سطح فساد بالا رفت.

**تیموري:** دقیقاً گرفتن رشوه از یک شهروند عادی هم بر امنیت کشور تاثیر گذار است. بحث فساد در نیروهای امنیتی شامل سه موضوع عمده میشود که نخست بحث تعیینات ارشد در سکتور امنیتی است که شامل قوماندان‌های امنیه قوماندان‌های حوزه و در ادارات دولتی میشود که حدود ۷۵ در صد این تعیینا مبتنی بر رشوه و ارتباطات سیاسی و قومی است. مسله بعدی بحث نیروهای خیالی است یعنی هر کسی که در محل تعیین شده وظیفه خود را انجام نمیدهد و یا آنجا حاضر نباشد او نیروی خیالی گفته میشود که حدود ۲۵ تا ۳۰ در صد نیروهای خیالی داریم، موضوع سوم هم بحث تدارکات و لوجستیک است.

**خبریال:** و این سه بخش تاثیرات مستقیم بر امنیت کشور هم دارد. بسیار تشکر آقای تیموری، خانم کروخی از پارلمان افغانستان بسیار توقع میرفت که بر قضایای افغانستان بسیار توجه داشته باشد و فساد را از نزدیک ببیند و حال تعداد از اسناد و مدارک هم هست که خود پارلمان هم در فساد درگیر است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کروخي:** بنام خدا فساد در هر کشور کلانترین مشکل سر راه دولت ها هست و بزرگترین مانع رشد و توسعه است و نظام ما از ابتدا بنایش کج گذاشته شده و قدرت بدست کسانی قرار گرفت که آنان پول دوست بودند و آنان احساس مسوولیت نداشتند قدرت به دست کسانی بود که آنان خود را حقدار و تیکه‌دار قدرت میدانستند و مگفتند که جنگ کردیم و جهاد کردیم لذا حکومت از ماست هم چنان یک تعداد از تکنوکرات‌های از ممالک مختلف داخل این نظام شدند و آنان هم خواستار پول بودند تا توانستند چور و چپاول کردند و بانکهای خارج را پر کردند و داخلی‌ها هم همینگونه تا اینکه کار بجای رسید که ریس جمهور قبلی برایشان گفت (هی مردم اگر رشوت هم میخورین داخل همین وطن مصرف اش کنید.) پارلمان هم یکی از ساخته و پرداخته همین نظام بوده اند. در پارلمان هم بیشترین کسان به زور پول آمدند و همه به این فکر آمدند که آن پولهای را که مصرف کرده بودن باید آنرا دوباره بدست میاوردند و چند برابر دیگر را هم بدست میاوردند تا بار دیگر هم بتوانند بیایند. که علت تمامی آن اساس و بنیاد خراب بوده که خارجیها و داخلی ها آنرا گذاشتند. و بدبختی ما افغانها هم همین است که تمام داشته‌های خود را نابود کردیم. که از همه‌یی این بدبختی‌ها و فسادها باید پارلمان نظارت کند اما اینجا پارلمان هم بیشتر از آدرس زر و زور آمده و بنحوی با حکومت درگیر فساد استند و امروزه همین سه قوه درگیر این همه بدبختی‌ها هستند و زمینه ساز فساد شده اند.

**خبریال:** ښاغلی اصولي صاحب، اوس سړ کال څه باید وشي، موږ باید څه وکړو دولت څه باید وکړي، څه کول پکار دي؟ وکیله صاحب خو وویل دا چې دولت هم د فساد لپاره زمینه مساعده کړي، نړیوال یې هم برابره کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د خلکو حالت به څنګه وي؟

**اصولي:** تاسو پوهېږئ ولسمشر له یوې عقیدې سره افغانستان ته راغلی هغه غوښتل چې دلته یو څه بهبود راولي خو دې نظام ته چې اوس کتل کېږي یا بهرنۍ لاسوهنې چې په دغه نظام کې لیدل کېږي، زما په اند داسې هوډ نه لیدل کېږي یعنې په یوه ولسمشر نه سر ته کېږي. دلته حکومت دی او ۵۰ ، ۵۰ وېشل شوی دی، تر څنګ یې اجراییه رییس دی د هغه خپل وزیران خپل والیان او خپل قوماندانان دي هغه یې په خپله لاره پرمخ وړي. دلته پارلمان دی. له حقیقته باید تېر نه‌شو، ولسي جرګه هغه ځای دی چې د حکومت په کړنو باید نظارت وکړي او د حکومت چارواکي باید د قانون منګولو ته وسپاري، خو برعکس پارلمان په بل څه اخته دی، هغوی چې په خپل منځ کې هم ټاکنې ولري، څو یو بل ته پیسې ورنه کړي دوی یو بل ته رایه نه ورکوي. یعنې د یوه کمېسیون د ریاست او معاونیت لپاره هم دوی په خپل منځ کې پیسې تبادله کوي. په همدې ډول د معاونیتونو لپاره همداراز د مشرانو په جرګه کې هم همدا حالت روان دی. نظام له اوایلو څخه په همدې ډول روان دی. بنسټ یې په همدې ډول اېښودل شوی او هېڅوک هم داسې فکر نه کوي چې رشوت حرام دی. یعنې که څوک یې ورکوي که هغه فکر وکړي چې حرام دی، خو هغه اخیستونکی بیا دا فکر نه کوي چې دا حرام دی. یو ډول رشوت یا دا حرام زموږ په وطن کې حلال ګرځېدلي، یو څوک چې په کوم ځای کې ولسوال یا قوماندان وي او یا هم کوم مدیر یا مامور وي، هغه چې رشوت نه اخلي هلته هغه پرمختګ نه‌شي کولای، ځکه هغه اداره فاسده وي. د ده د پرمختګ لاره نیسي او دی په دغه ټیم کې نه داخلېږي او که داخل شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مجبور دی هم فساد وکړي، نو دا له منځه وباسي يا دا چې دا خپله وځي، ځکه ساحه ورته تنګېږي. کله چې وزير يو وزارت ته ځي نو نوی وزير د تدارکاتو رييس بدلوي مالي رييس بدلوي کوم ځای کې چې پيسې وي هغه رييسان بدلوي خپل کسان هلته لېږي. ځکه چې هلته د وزارت لپاره پروژې او قراردادونه وي او هلته د پيسو د ټولولو ځای وي، نو همدا رييسان يې ټولوي او هغه ته يې ورکوي. په نظامي وزارتونو کې هم قوماندانان پکې ډوب دي، دوی ملامت نه وي، هغه لوړپوړي يې همداسې ورڅخه غواړي، يعنې همداسې يوه لاره جوړه شوې چې له يو بل څخه يې په ځنځيري ډول جبري غوښتونکي دي.

**خبريال:** ښاغلی اصولي صاحب! په داسې وضعيت سره چې موږ دا بحث انګېرو نو څه به وشي؟ ايا پرېږدو چې دا وضعيت په همدې حالت روان وي يا بايد د دغه وضعيت مخه ونيول شي؟

**اصولي:** زما په اند د افغانستان ولسمشر هغه هوډ، چې پخوا يې لاره، بايد تقويه کړي، هغه په اجراييه رييس پلی کړي او د اجراييه رييس يې په تر لاس لاندې وزيرانو پلی کړي او يو داسې کاري ټيم رامنځته کړي چې په فساد کې ښکېل نه وي. يوه داسې کاري ډله رامنځته کړي چې همدا غله، همدا رشوت‌خواره او بډې اخيستونکي را ونيسي. خو ستونزه دا ده چې ولسمشر يو هييت ته دنده ورکوي چې تاسو لاړ شئ، هغه وزارت بررسي کړئ چې فساد پکې شوی. دا هييت راځي هغه وزارت بررسي کوي،ويني چې دلته دوه ميلياده افغانۍ غلا شوې دي، خو بيا ورته وايي چې دوه ميلیارده پيسې دې دلته غلا کړې، نو دا يو ميليارد ماته راکړه او يو ميليارد خوره، خپله هييت دا کار کوي. يعنې دا ځنځير په همدې ډول پخوا د کرزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وخت کې جوړ شوی و. اوس چې همداسې یو هوډ شته چې باید د دې هرڅه مخه ونیول شي. ولسمشر ډېر څه وکړل، هلې ځلې یې د دې لپاره وکړې چې په قراردادونو کې فساد ونشي، خپله یې تر خپل نظر لاندې د تدارکاتو ملي کمېټه جوړه کړه، خو اوس هم د ده تر نظر لاندې ځینې ګونګوسې شته چې دغه حالت هلته هم روان دی.

**خبریال:** ښه څه به وشي؟

**اصولي:** زه وایم چې په دې دوه‌سري حکومت کې، چې موږ یې اوس لرو، زما باور نه‌شي چې د فساد مخه به ونیسو. په همدې ډول چې روان وو، همداسې به روان اوسو. که چېرې راتلونکی حکومت یوسری وي، تغییر او تبدیل پکې راشي او د پخواني حکومت مفسیدین او جنګسالاران پکې نه وي، بیا کېدای شي چې موږ یوه رڼا ووینو.

**خبریال:** ډېره مننه. آقای تیموري! آقای اصولي به این باور است که در حال حاظر نمیشود که یک راه روشنی را برای مبارزه با فساد سنجید. آیا راه‌روشنی برای مبارزه با فساد وجود دارد و یا خیر؟

**تیموري:** حکومت وحدت ملی با تمامی مشکلاتش بعضی از روزنه‌های امید را بوجود آورده که باید بالای آن توجه شود. یکی مرکز عدلی مبارزه علیه فساد اداری است. که یک مرکزی برای بررسی دوسیه‌های بزرگ فساد اداری است و تا حال حدود شش قضیه بزرگ را که شامل چهار جنرال وزارت داخله و یک جنرال هم از لوی څارنوالي هست و یک څارنوال نظامی است این همه دوسیه‌ها را بررسی کرده و بالای شان حکم شده و پشت میله‌های زندان رفته اند. و این نهادهای است که نیازمند تقویه هستند که به لحاظ مالی و استقلالیت باید تقویه شوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** بزرگترین قضیه تا حال قضیه ۱۵۰,۰۰۰ دالری بوده اما قضایای مافیایی بزرگ و غاصبین زمین بررسی نشده فکر نمیکنید که این قضیه فقط بالای کسانی که بی واسطه هستند و یا با مافیای بزرگ ارتباط ندارند این قانون تطبیق میشود.

**تیموري:** کاملاً مرکز عدلی مبارزه علیه فساد اداری بصورت گزینشی عمل میکند یا بصورت جدی و سیستماتیک عمل میکند، اما این مرکز نیاز دارد که از سوی یک ارگان بیرونی بررسی شود تا تضمین کند که کارهای آن بصورت گزینشی انجام نمیشود. اما آنجا قضایای بزرگ یک معین وزارت داخله و یک وزیر کابینه هم بوده که تعلیق درآمده قضایای رئیس شورای ولایتی یکی از ولایات آنجا هست قضایای یازده جنرال وزارت دفاع هم اونجا هست. اما اینکه سرعت این نهادها بسیار کم است بدلیل آنست که منابع مالی زیادی در اختیار این نهادها قرار نگرفته قضایای آن بسیار کم است. ما در این قسمت‌ها به نهادهای مستقل نیازمند استیم که ما فقط روی یک یا دو نهاد باید منابع کافی را در اختیار آن بگذاریم تا باشد که بصورت درست کار کنند و به لحاظ ساختاری ما نیازمند تمرکز زدایی هستیم که یک سلسله نهادها را باید به ولایات هم ببریم تا باشد که مردم هم در آن دخیل شوند. یعني که ما نیازمند آنیم که قدرت دولت را در همه جا پخش کنیم و مردم را در ان دخیل بسازیم و یک اراده سیاسی مستحکم باید ایجاد که حکومت مردم محور ایجاد شود.

**خبریال:** تشکر. خانم کروخي شما راه حل را در چه می بینید؟ آیا فکر میکند آنچه جناب اصولی گفتند که راه حل نزدیک را نمی بینند و سخت است که با وجود این دو رهبر یک راه حل قاطع مبارزه با فساد بوجود بیاید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کروخي:** راه حل وجود دارد در کشورهای که فساد وجود دارد، خود مردم توانستند که خود مردم با نهادهای مختلف توانستند با فسادها مبارزه کنند. اینجا وظیفه مردم است که باید بالای دولت و قوه مجرئیه فشار وارد کنند. مردم باید صدای خود را بلند کنند مردم باید از آدرس ساختارهای موجوده بر دولت و وکلای خود وارد کنند آنگاه فساد ریشه کن میشود، اما متاسفانه مردم هم در یک حالت بی‌تفاوتی قرار گرفتند اگر مردم بالای ما وکلا فشار بیاورند ما هم از این حالت بی‌تفاوتی رهایی می یابیم.

**خبریال:** چرا مردم چنین کاری را نمی کنند. چرا اقدام نمیکنند و از این حالت بی‌تفاوتی خود نمی برایند؟

**کروخي:** مردم در یک حالت بي‌اعتمادی مطلق هستند و فکر میکنند که این خارجیها آمده اند و یک حکومت دست نشانده‌یی را بوجود آورده اند و تمامی کارمندان بر اینان تحمیل شده اند در تامین امنیت رضایت مردم نقش بسیار اساسی دارد. یعنی بحث اعتماد بین مردم و حکومت از بین رفته و مردم بصورت کلی در یک حالت بی‌تفاوتی و بی‌اعتمادی بسر می برند. در این زمینه باید نهادهای مستقل بیرون از حیطه حکومت ساخته شود، یک اداره مستقل تفتیش باید ایجاد شود و در رابطه به تمامی قضایا هم به حکومت هم به پارلمان و هم به مردم باید گزارش بدهند. پس تا زمانی که قانون اساسی ما یک بازنگری نشود، خود حکومت که هم رشوت بگیرد و هم با آن مبارزه کند این همه هرگز نتیجه بخش نخواهد بود. در بسیاری کشورها پارلمان منبع ریشه کن کردن فساد و رشوت در جوامع هستند اما اینجا متاسفانه ما تنها تمامی مشکلات را به دوش دولت گذاشته نمیتوانیم اینجا پارلمان خود هم در فساد دخیل است و اینجا گروپ‌های

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمانی برای باج‌گیری و فساد ایجاد شده. پس میخواهم به مردم بگویم که هم حکومت و هم پول همه چیز از خود مردم هستند و مردم باید برای آن مبارزه کنند چون حق از آن مردم هست.

**خبریال:** تشکر از شما. به امید همچون یک زمان در وطن تشکر از همه‌یی شما مهمانان که تشریف آوردید. ممنون تان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳

## د طالبانو د حملو ډېروالی او د جګړې نوی فصل

بنام خدا، بیننده‌های عزیز سلام بر شما، نهاد سیگار به تازه‌گی گزارش داده است که مناطق تحت کنترول حکومت افغانستان نسبت به ماهای گذشته کاهش یافته است. سیگار گفته که حکومت افغانستان اکنون بر ۵۷ در صد از خاک این کشور تسلط دارد. تغییر فصل جنگ که باید توام با حملات زمستانی آغاز میگردید از آن خبری نیست. برای بحث در این رابطه آقای فدا محمد نظری آگاه امور سیاسی، آقای جمال ناصر اصولي آگاه سیاسی و عبدالطیف نهضت یار سناتور مشرانو جرگه را با خود داریم تاسو ټولو ته ښه راغلاست وایم، خوش آمدید.

ښاغلی اصولي صاحب له تاسو به يې پیل کړو، زیاتره وخت طالبان د ژمي په رارسېدو خپل عملیات کمزوري کوي، ولې افغان دولت نه‌شي کولای چې نوي عملیات پیل کړي او د ستونزو ځایونه يې حل کړي؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه. سلامونه تاسو مېلمنو او ټولو لیدونکو ته. په افغانستان کې جګړه په چیریکي ډول روانه ده. له تېرو دوو دوونیمو کلونو راهیسې دغو جګړو جبهه‌یي بڼه هم پیدا کړې. هر کله چې په کوم هېواد کې چیریکي جګړه روانه وي، نو د هغه جنګ ګټل یو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزمن وي. افغانان عمومن په چیریکي جګړو کې تاریخ لري. دوی د تل لپاره د بهرنیو په وړاندې په چیریکي جګړه کې ښکېل ول او همدا چیریکي جګړې وې چې دوی یې څه ناڅه بریالي کړي هم وو.

**خبریال:** ښاغلی اصولي صاحب! په هلمند کې مخامخ جګړه روانه ده، مګر دولت پکې لا هم تقریبن یو تر نیم کیلومتره پرمختګ نه دی کړی او جنګ هم مخامخ دی؟

**اصولي:** همداسې ده زه وایم چې لږ تر لږه دا دوه درې کاله کېږي چې جبهه‌یي جګړې هم پیل شوې دي. په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان جګړې نیابتي اړخ نیولی دی، دغه نیابتې اړخ قوت پیدا کړ، روسیې راودانګل، ایران راودانګل او له طالبانو سره یې مرستې پیل کړې. دوی اوس هم عملن له طالبانو سره مرستې کوي او وسلې ورکوي. لکه چې د فراه او نیمروز چارواکو وویل چې ایران مستقیمن له طالبانو سره مرسته کوي او هغوی تجهیزوي.

**خبریال:** ښاغلی اصولي غواړم ستاسو نظر پر دې اړه هم واورم چې د امنیت شورا په وار وار ویلي چې په ټول افغانستان کې دومره ډېر طالبان نه‌شته یعنې له ۲۰٬۰۰۰ تر ۲۵,۰۰۰ پورې طالبان دي. حال دا چې ملي پوځ او زمونږ نظامیان له ۳۰۰٬۰۰۰ څخه هم زیات دي، بیا ولې په دغه وضعیت نه‌شي بریالي کېدای؟

**اصولي:** یوه خبره دا ده چې تر اوسه زمونږ اردو د سیمې د هېوادونو غوندې تجهیز شوې نه ده. هوایي ځواک په هغه ډول نه لرو. که څېرې موږ په هغه ډول هوایي ځواک لرلی، لکه پخوا چې د شهید ډاکټر نجیب په وخت کې و، نو اوس به دا جګړه تر یوه حده کنټرول او مهار وای. اصلي ستونزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راځو؛ څومره چې په دغو جګړو کې طالب او داعش وژل کېږي هومره نور را پیدا کېږي. لکه د جهاد پر وخت چې روس‌پلوه نظام چې هرڅومره دا مجاهدین ووژل، خو هومره نور راپورته کېدل. یعنې جګړه په جګړه نه ګټل کېږي. په دې نه ګټل کېږي چې ډېر مړه کړه نو د سیمي په پاکولو به بریالی شې. طالبان هم که هر څومره وژل کېږي، هومره نور را پیدا کېږي. عملن په پاکستان کې هغوی ته جلب او جذب کېږي په اسلام آباد، په کوټه، په پېښور او ورته نورو سیمو کې روزل کېږي. هلته عملن آی اس آی او د پاکستان پوځ ورته ته جلب و جذب کوي.

**خبریال:** خو دلته دېخوا ته له افغان حکومت سره هم نړیوال مرسته کوي. امریکا ورسره مرسته لري یوازې له دفاع وزارت سره تقریبن د کال څلور میلیارده ډالره مرسته کېږي. ایا د یوه جنګ لپاره دا بسنه نه کوي؟

**اصولي:** زما په آند نه. څنګه چې ما مخکې یادونه وکړه، زموږ اردو په هغه ډول نه ده تجهیز شوې، لکه څنګه چې د پاکستان پوځ تجهیز شوی. زموږ پوځ د هغوی په څلورمه یا پنځمه اندازه هم نه دی تجهیز شوی. تاسو پوهېږئ زموږ پولیس او اردو په رنجرو کې سفرونه کوي او خدای ناخواسته کله چې پر ماین وربرابر شي، نو په رنجر کې سپاره ټول کسان یې له منځه ځي. دا په دې معنا ده چې یو پوځ باید داسې موټر او داسې زېرې ماشینونه ولري چې د ماینونو د انفجار پر مهال تلفات ونه لري. ځکه زموږ ډېری تلفات د ماینونو د انفجار له امله دي. موږ ته هیڅ نه راکول کېږي، لکه څنګه چې بهرنیانو په افغانستان کې یوبارمصرفه تعمیرونه جوړ کړل او کله چې دوی ووځي، هغه به ببرته ړنګېږي او یا به په یوه عادي جګړه کې له منځه ځي. په همدې ډول یې اردو ته ماشینری ورکړه؛ موټر او وسایل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړل؛ همداسې وسلې يې ورکړې. پوهېږئ په اوايلو کې يې پوليسو ته داسې کلاشينکوفونه ورکړي وو چې له دوو، دريو يا څلورو ډزونو وروسته به بندېدل. بيا هغه وسلې بېرته ترې واخيستل شوې او پرځای يې نورې وسلې ورکړل شوې. په دې ډول لکه يوه نسخه چې په ناروغ نه لګېږي، بيا بله ورته ورکړي، بيا بله ورته ورکړي. امريکا نه غوښتل چې د افغانستان پوځ هسې تجهيز شي، لکه څنګه چې پکار وه/ ده. اوس هم امريکا نه غواړي چې افغانستان په بشپړ ډول يو هوسا او خپلواک هېواد شي او يوه ښه اردو ولري، څو موږ لږ تر لږه په دې وتوانېږو چې خپلې ستونزې پرې حل کړو. خو دوی دا هرڅه نه غواړي. دوی هغه څه غواړي چې دلته جګړه توده وساتي، او په وسيله يې خپلو ستراتېژيو ته ورسېږي. دوی په افغانستان کې د دې لپاره نه دي، چې سوله راولي. که دوی په رښتيا سوله راوستلی، نو د هغو جرړو مخه به يې نيولې وای چې په پاکستان کې دي او هغه هېواد يې روزي. هغه پنجابی ، چې په ورځ کې په سلګونو افغانان راته وژني؛ بې‌شمېره اردو، ماشومان او مېرمنې مو شهيدانوي، مخه به يې ورنيولې وای، خو داسې نه ده، بلکې برعکس پاکستان ته په ميلياردونو ډالر ورکوي چې تروريزم تمويل کړي، بيا يې افغانستان، هند او نړۍ ته ولېږي، ځکه پاکستان هغه هېواد دی چې د امريکا لپاره په سيمه کې هرڅه کوي. يعنې کله چې پلار نه لري هغې ته موږ او تاسې په ناادبي اصطلاح حرامي وايو. له همدې امله پاکستان يو کنيز هېواد دی، په همدې ډول رامنځته شوی دی او تل افغانستان ته تروريزم رالېږي.

**خبريال:** په هر حال ښاغلی اصولي صاحب پاکستان د ځان لپاره مشرتابه لري، هغوی يې په بحرانونو باندې ښه مديريت کولای شي، چې له بده‌مرغه موږ يې مديريت نه‌شو کولای. نو دا زموږ ستونزه ده، دا د افغانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزه ده چې موږ ونه‌شو کولای چې په هر ناورین او بحران باندې ښه مدیریت وکړو.

**اصولي:** مسئله دا ده چې موږ نه پرېښودل کېږو، مدیریت په هغه صورت کې راځي، چې یو سیستم جوړ وي. کله چې سیستم جوړ وي بیا که مدیریت یو څه ضعیف هم وي، مګر هلته هغه سیستم یوڅه خپل کار کوي. موږ عملن ځلوېښت کاله په جګړه کې یوو، ځلوېښت کلنې جګړې له مونږه، تر فرهنګه پورې، هرڅه اخیستي. زموږ کدرونه، چې پخوا مو لرل، په رښتیا یې اوس نه لرو. که هرڅه نارې وهو چې موږ په امریکا انګلستان یا نورو هېوادونو کې دوکتوراوې اخلو، مګر په هغه ډول کدرونه اوس نه لرو، لکه پخوا مو چې لرل. له همدې امله زه وایم چې موږ باید له پردۍ جګړې راووځو او د دوی له غیږې څخه چې ځان راوباسو، هله افغانستان جوړولای شو، کنه افغانستان به همداسې رنګ او د پردیو په لاس کې وي.

**خبریال:** مننه ښاغلی اصولي صاحب. ښاغلی نظري صاحب د اصولي صاحب د خبرو په پام کې نیولو سره، تاسو پر ملي پوځ یا ملي اردو څومره باور لرئ چې رښتیا هم همدا ملي پوځ، ملي پولیس، ملي اردو  او ملي امنیت څومره د امنیت جوګه کېدای شي؟

**نظري:** اصولي صاحب ته په احترام سره، د ده خبرې ټولې د ارګ د خبرې تکرار وې. زه وایم چې زموږ حکومت هېڅ په امریکا پورې وابسته نه دی. زه دا نه وایم هغه څه چې اصولي صاحب وویل، هغه په پاکستان کې نه‌شته، خو موږ هم ملامت یو او په موږ کې هم ډېرې ستونزې دي، دا ځکه چې موږ سم مدیریت نه لرو. بله خبره دا ده چې زموږ نظامي ښوونې بېخي کمزورې دي. موږ خپل نظامیان سم نه دي روزلي. د هلمند اتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصده ولسوالۍ د طالبانو په لاس کې دي، هلته ډېرې فابریکې لري دا زموږ د وطن جنګ په پاکستان نه چلېږي، بلکې په هېروینو چلېږي.

**خبریال:** نظري صاحب مننه. آقای نهضت‌یار، آیا بنظر تان حکومت افغانستان استراتېژي نظامي ندارد بیانش بکند؟

**نهضت‌یار:** سلامونه تاسو، ګډونوالو او لیدونکو ته. بېشکه چې د افغانستان د جنګ زیاتره برخې بهرنۍ خواوې لري. دا د بهرنیانو جنګ او په موږ تپل شوی دی او همداسې به په پروژه‌یي ډول دوام مومي. په ملي او نظامي برخه کې د یوې ملي ستراتیژۍ نه‌شتون د دې لامل کېږي چې موږ همداسې په جګړو کې پاتې شو. نو یوه ښه ستراتېژي او ښه مدیریت باید رامنځته شي. موږ په لویو مسایلو کې بې‌واکه یو. موږ باید بهرنیانو ته د دې قناعت ورکړو چې زموږ سوله‌ییز وطن او سم نظام د هغوی په ګټه دی.

**خبریال:** ښاغلی اصولي صاحب اوس په دغه وضعیت کې د حل‌لاره څه ده؟ افغان حکومت او خلک باید څه وکړي. دا چې په هلمند کې اتیا سلنه خاوره د طالبانو یا مخالفینو په واک کې ده. دلته خلک له سختو ستونزو سره مخ دي.

**اصولي:** زه به لومړی د نظري صاحب ځواب ووایم، ځکه ده وویل چې ګواکې پاکستان د افغانستان په جګړه کې هېڅ لاس نه لري او زموږ نظام د جان‌کیري په لاس جوړ شوی او د پاکستان ډېر ښه نظام دی. دا یو ډول توپیرونه به یې سره وڅېړو. زموږ حکومت یا زموږ اوسنۍ دولتي اداره، چې د ملي یوالي نوم لري، سمه ده چې د جان‌کیري په وساطت رامنځته شوې، خو که دا بل اړخ یې وګورو، خپله د پاکستان نظام چا جوړ کړی؟ پاکستان چې زېږېدلی د انګلستان او انګرېزانو په وسیلې رامنځته شوی. نه پلار لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه مور. او پر دې خو ټول پوهېږو چې تر دې دمخه تر اټکه، تر مارګلې، یعني د پاکستان نیمه خاوره زموږ او نوره برخه یې د هند وه. کله چې رامنځته کېږي، د انګرېزانو په وسیلې رامنځته کېږي. تر اوسه هم د انګرېزانو قانون پکې چلېږي، جمعه پکې نه‌شته او د دغې ورځې لمونځ له آټکه اېخوا څوک نه پېژني. همداراز روژه، زکات او حج پکې څوک نه پېژني. هغوی یوازې اسلامي شعارونه جوړ کړي او موږ د اسلام په نامه ورته ځرخېږو. دا یوه مسله ده.

دویمه مسله دا ده چې موږ تاسو نظام ته ضرورت لرو، که دا نن ډاکټر صاحب غني یا ډاکټر صاحب عبدالله زما خوښېږي که مې نه خوښېږي، که پرون مې ښاغلی کرزی خوښېده که مې نه خوښېده، خو یو څوک و چې د نظام مشري یې کوله اوس هم موږ نظام ته اړتیا لرو دا که احمد راشي که محمود، سبا به بل راځي هر څوک چې راځي. خو بالاخره نظام ته ضرورت لرو، نو که رښتیا خبره شي راځئ چې موږ دا کارپوهان چې د ملت له غمه چندان خبر هم نه یو، خو غټې غټې خبرې کوو، ښه به دا وي چې هغه وکړو چې نظام پرې تقویه کېږي. نظام وساتو، هو اصلاحي نقدونه هم وکړو دا نه چې فلانی کافر دی یا یې په بېلابېلو نومونو یادوو. اصلاحي نقد دا دی چې مثلن فساد وینو، نو ښه ده چې ووایو چې افغان حکومته، ولسمشره دلته فساد موجود دی دا دې خرابي ده. مګر که موږ ووایو چې زموږ ولسمشر د جان‌کیري په وسیلې راغلی او زموږ ولسمشر هم کافر دی نو دا خبره غلطه ده. ځکه موږ هغه هېواد یو چې په کلونو کلونو دلته جګړه موجوده وه، یعني چې له داوود خان شهیده راپدېخوا دلته ټول نظامونه موږ او تاسو ته پردیو جوړ کړي دي. شوروي اتحاد دلته روس‌پلوی نظام جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی، کمونیستان یې راوستل افغانستان یې پرې خرڅ کړ. له هغې وروسته کله چې افغانستان په شوروي اتحاد خرڅ شو، نو مجاهدین راغلل مجاهدین هم د پاکستان ښکار شول او د آی اس آی غېږې ته ولوېدل. خو مقدس جهاد هم و، یوازې تر هغې وخته و چې روس له دې ملکه نه و وتلی. کله چې روس وواته نو دوی د آی اس آی ایران او نورو هېوادونو غېږ ته ولوېدل.

دلته ستونزې ډېرې دي، په ټولیز ډول د افغانستان جنګ او جګړه یو بهرنی جنګ دی. دا یوه امریکایۍ او پاکستانۍ جګړه ده او دا باید ټول ومني. دا چې موږ مدیریت لرو او که یې نه لرو، علت یې جنګ دی. که موږ تاسو ښه نظام غوښتلای او دوی راته جوړولای، نو په بن کې به دوی پر جنګسالارانو او ټوپک‌سالارانو پانګونه نه کوله؛ په غلو او لاروهونکو به امریکا پانګونه نه کوله، بلکې په انسانانو او په سمو کدرونو به یې راته پانګونه کړې وای. په سمو ملي وګړو به یې پانګونه کړې وای. اوس هم هماغه خلک په حکومت کې دي. او د افغانستان نیم واک غواړي، نو ښکاره ده چې د ستونزې اساسي بنسټ دلته بهرنیان دي. خو مدیریت یې چې موږ ته په لاس راکړی، سم یې نه دی راکړی. سمه ده چې ستونزې په افغانستان کې شته، خو د افغانستان د ستونزو اساسي سرچینې په خارج کې دي، په امریکا، پاکستان او ایران کې دي. اوس خو روس هم راودانګل. اوس نو موږ افغانان خپله باید سره کېنو او داسې ووایو چې دا خلک نه غواړي چې موږ یوځای شو او پر یوه مېز سره کېنو او نه غواړي چې افغانستان جوړ کړو. بله خبره دا ده چې زه به ووایم، چې د ارګ له ټریبیونه وغږیږم، ځکه ارګ د افغان غیرت شمله ده. خو تاسو اوس هم په کابل کې د پاکستان د سفارت په ژبه راغږیږئ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریال:** ښه نو تاسو داسې فضا ګورئ؟

**اصولي:** بالکل. که چېرې افغانان یو مېز ته سره کېني او طالبان دا ومني چې موږ د پردیو له غېږې راووځو، د افغانستان له حکومت سره پر یو مېز کېنو او د سولې خبرې په مخ وړو. که چېرې دا کار وشي نو تاسو پوهېږئ چې دلته به نه د امریکايي لاس اوږد وي، نه د روسیي، نه هم د پاکستاني، بلکې ټول به قطع وي. له همدې امله خبره په موږ کې هم ده چې همدا بېاتفاقي مو ده. موږ تل پردیو کرا کړي یو، پردیو غلام کړي یو، تل مو ځانونه په پردیو خرخ کړي. که دا د شورویانو په وخت کې وو که د مجاهدینو، د طالبانو او یا هم په اوسني وخت کې. اوس هم خرخ شوي یو، اوس هم داسې ډلې شته چې د پردیو په لاس کې دي او د افغانستان پر ضد یې جنګوي. دا ټول خرخ دي دا ټول کرا شوي دي. پوهېږئ د دومره بمونو پر ځای، چې په هلمند کې یې خښ کړي، که دومره نیالګي یې خښ کړاي وی، اوس به هلمند ګل و ګلزار وای. خو دومره بمونه یې کېنول، هلمند یې دومره کنډواله کړ، دومره هلمندیان یې بېوسه کړل، دومره هلمندیانې یې کونډې کړې چې شمېر یې نه کېږي. دا هرڅه ولې کوئ؟ دلته خو دا د جهاد یا د کفر موضوع نه ده. موږ او تاسو وینو چې دلته پخوا هم د کفر موضوع نه، بلکې دلته د لویو قدرتونو موضوع وه، خو د سوخت مواد یې افغانان وو. موږ خپل هېواد د اسلام په نامه کنډواله کړ. دا د جنت لاره له افغانستانه یا له کابله ولې تېرېږي.

**خبریال:** اوس راتلونکې څنګه ارزوئ؟ څه به وي؟ د افغانستان وضعیت به څنګه وي؟

**اصولي:** راتلونکی که په دې توګه روان وي، لکه دا اوسنۍ جګړې مو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې په ډېرېدو وي، نو موږ به سمه ورځ نه وینو. خو موږ او تاسو بهرنیانو ته باید دا قناعت ورکړو، چې یو سوله‌ییز افغانستان د هغوی په ګټه دی، نه دا چې یو جګړه‌ییز افغانستان. دوی خپلې ټولې ستراتېژۍ په سوله کې هم پلي کولای شي.

**خبریال:** یعنې په موږ او تاسو کې داسې څوک یا داسې ظرفیت شته چې بهرنیان دېته وهڅوو چې راځئ افغانستان د سولې ځای دی؟

**اصولي:** نو دغه ولسمشر د څه لپاره لرو؟ اجرایه رییس، چې د ورځې رقم رقم سینګارونه کوي، د څه لپاره پر چوکۍ ناست دی. که دوی مشري نه‌شي کولای، نو دواړه دې په خپلو کورونو کې کېني، هغه څوک دې پرېږدي چې قناعت ورته ورکړي. ما خو رایه د دې لپاره نه ده ورکړې چې ټوله ورځ سینګار وکړي او بل یې پر مېزونو احساساتي شي. له همدې امله زه وایم چې دوی باید نړیوالو ته قناعت ورکړي او که قناعت نه‌شي ورکولای نو خپلو کورنو ته دې لاړ شي.

**خبریال:** ډېره مننه. ښاغلی نظري صاحب! تاسو پکې څه وایاست؟

**نظري:** اصولي صاحب ته په احترام سره، زه دا منم چې پاکستان زموږ دښمن دی او ټولې بدبختۍ مو د هغوی له لاسه دي. خو دا لازمه نه ده چې موږ هم ټولې ستونزې مو، پر پاکستان ور اچوو، هغوی چې ستونزې جوړوي موږ یې ولې نه‌شو حلولی. هلمند ډېر لوی ولایت دی چې تل له دغو ستونزو سره مخ دی. یوه حل‌لاره یې دا ده چې هلمند په دوو ولایتونو شمالي او جنوبي تقسیم کړو، بیا به دولت سم حاکمیت پرې پیدا کړي.

**خبریال:** نهضت‌یار صاحب ستاسو وړاندیز څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهضت‌یار:** دوستانو ته په احترام سره. موږ ټول پوهېږو چې دا جنګ پردی جنګ او پر موږ تحمیله شوې جګړه ده. زه وایم چې د افغانستان ټول خلک، که مجاهدین دي، که سیاسي چارواکي، که نور ټول افغانان، باید پر یوه ټغر راټول شي او یوځای د افغانستان لپاره کار وکړي. زموږ بدبختي دا ده چې هم زموږ حکومت هم مو مخالفین دواړه د بهرنیانو لخوا تمویلېږي. هغوی زموږ دوه برابره امکانات زموږ مخالفینو ته ورکوي. هغوی همدا امریکا او همدا پاکستان دي چې مخالفین مو تمویلوي، روزي او بیا موږ پرې بدبخته کوي. نو د حکومت مشرانو او رهبرانو ته زما وړاندیز دا دی چې ټول سره پر یوه ټغر راټول شي، هله به ملت آرام او له دې بدبختۍ به خلاص شي. ځکه خو دا د دغو مشرانو مسوولیت دی چې بهرنیانو ته قناعت ورکړي چې نور دا هرڅه بس دي.

**خبریال:** ډېره مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۴

# په افغانستان کې د مجازاتو قانون ولې نه پلی کېږي

**خبریاله:** ولې په افغانستان کې د مجازاتو قانون نه پلي کېږي؟ په همدې موضوع د بحث لپاره په استډیو کې راسره د سیاسي چارو شنونکی ښاغلی جمال ناصر اصولي  دی. ښه راغلاست.

په افغانستان کې د مجازاتو قانون ولې نه پلی کېږي؟ څوارلس کاله کېږي چې موږ یو قانوني حکومت لرو کسان گمارل کېږي، اشتباهات کوي. مگر هغوی مجازات کېږي نه، بلکې لا نورې نوې دندې هم ورکول کېږي. دلایل یې څه دي؟

**اصولي:** د لوی او بخښونکي خدای په نامه. سلامونه تاسو او لیدونکو ته. داسې ده کله چې د بن له کنفرانسه وروسته موقته اداره رامنځته شوه. نو په همغه کنفرانس کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان واک باید هغو ډلو ته وویشل شي چې په جگړه کې لاس لري. یا هم د طالبانو په مقابل کې راپورته شوي وو او جگړه یې کوله. بهرنیانو په دوی پانگونه وکړه. همغه ټوپک‌سالاران، جنگسالاران او همغه پخواني قومندانان یې لا ډېر پیاوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل، دوی ته یې قدرت ورکړ. پیسې یې ورکړې او دوی یې د افغانستان واکداران کړل. کله چې ولسمشر له بله ځایه راځي او همدا خلک د ده ترځنګه وي، ان تر دې چې د ارګ تر دروازې پورې همدا خلک رسېدلي وي. د افغانستان واک یې ټول له همدغو خلکو سره و، د وسلو زخیرې او ټولې ډیپوګانې له همدغو خلکو سره وې؛ پیسې له دوی سره وې؛ د افغانستان عمومي سیاست یې په لاس کې اخیستی وي او په مقابل کې داسې کومه ډله ورسره نه‌شته، چې د تلې هغه بله خوا ورسره ونیسي، نو څنګه ویلای شو چې په داسې یو حالت کې به د مجازاتو قانون پلی شي.

**خبریاله:** یعنې دا د اوسنیو حالاتو او عوامل ټول هغه دي چې ۱۵ کاله دمخه د بُن په کنفرانس کې د افغانستان په اړه دا پرېکړه شوې ده.

**اصولي:** همدې موضوع ته راځم، نو افغانستان له داسې شرایطو څخه تېرېده، واک له همدوی سره و، پیسې له همدوی سره وې، بهرنیان په همدوی لاس ایښی و. په دوی یې پانګونه کړې وه. دوی والیان و، دوی قوماندانان و. دوی په اردو په پوځ حتا د پوځ د ملي دفاع وزارت پورې دا ټول د دوی په لاس کې وو. نو هېڅا نه‌شو کولای هغه څوک چې په دنده کې یې ناغیرې کړې، هغه له لاسه را ونیسي او له دندې یې لرې کړي یا یې هم مجازات کړي، ځکه چې دلته په کابل کې ټول همدوی وو؛ دوی د همدغو غلو ملاتړ کاوه؛ دوی ورسره وو او دوی یې په سر لاس راتېراوه، له همدې امله یوازې په ولسمشر څه نه کېدل. ان تر دې چې ولسمشر په داسې یوه وخت کې راځي چې په افغانستان کې مېز او چوکۍ نه وې. قلم، اداره او هېڅ هم نه وو. اصلن هرڅه یې له صفره راشروع کړل او تر دې ځایه یې راورسول. خو زه وایم چې په هغه حالت کې بله لار هم نه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې بهرنيانو په دوی پانګونه کړې وه، اوس هم هغه حکومت د هغو بهرنيانو په وسيله، چې په دوی يې پانګونه کړې وه، په قدرت کې دی.

**خبرياله:** هو، اوس د پخواني ولسمشر ښاغلي کرزي په راتګ سره لکه څنګه چې تاسو يې يادونه وکړه، هغه مهال دلته هېڅ هم نه وو. يو وران افغانستان ته راغی او ولسمشر شو. له هغه وخته د يوه قانوني حکومت څښتنان شولو. ښاغلي کرزي ته د يوه قانوني ولسمشر په توګه هغه وخت څه لازم وو چې دوی بايد کړي وای، څو موږ دې حالت ته نه وای رسېدلي.

**اصولي:** د پخواني ولسمشر حامد کرزي په لاس کې نه وه. ځکه خپله حامد کرزی هم همدغو بهرنيانو د بُن د کنفرانس په لړ کې وټاکه؛ پر افغانستان يې حاکم او ولسمشر مقرر کړ. له همدې امله په اوايلو کې د ولسمشر دومره لاس نه رسېده، ځکه دلته نه پوځ موجود و، نه اداره، نه حکومت موجود و او نه هم... مطلب هېڅ هم نه وو. له همدې امله ولسمشر بايد همدا کار کړی وای چې په دوی يې لاس اېښی وای. تر يوڅه حده، خو دا چې وروسته يې ولې دوی په واک او پيسو وپړسول دا د هغه تېروتنه وه.

**خبرياله:** د ځينو خلکو پر پانګونه کې د خارجيانو ګټه څه وه. او په داسې خلکو يې پانګونه وکړه چې بالاخره د هغوی کنټرول د ولسمشر له واکه هم لرې خبره وه.

**اصولي:** بهرنيان يا استعمارګر قوتونه هر هېواد ته چې ځي. په هغه هېواد کې دوی يو داسې حکومت رامنځته کوي چې هغه حکومت پياوړی نه وي، بلکې يوه کمزورې اداره وي. علت يې هم دا دی چې دوی بيا هلته خپله راتلونکې سمه نه‌شي ليدلای. دوی په کمزورو خلکو په کمزوري حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانګونه کوي، څو چې هلته خپله راتلونکې تضمین کړي. لکه څنګه چې امریکایانو دلته خپل شتون د لسو کلونو لپاره تضمین کړ. اوس هم تاسو وینئ چې په هغو هېوادونو کې یې، چې امریکایانو هلته پښه اېښې او راغلي، بې‌بنسټه او یو داسې حکومت یې رامنځته کړی دی چې اصلن د خلکو خوښ نه دی. پخوانی او منظم پوځ یې ورته ویجاړ کړی، ادارات یې ورته صفر کړي. مشران یې ورته وژلي. موږ او تاسو وینو، لکه د عراق هېواد هلته یو پیاوړی حکومت و. هلته صدام حسین یو پیاوړی ولسمشر و. دوی ورغلل پرته له دې چې وګوري په سیمه کې څه کېږي او څه نه. پرته له دې یې د صدام حسین حکومت ړنګ کړ. اوس هم په عراق کې جنګ روان دی، اوس هم خلک هلته آرامه ژوند نه لري.

**خبریاله:** یعنې چې بهرنیان په افغانستان کې هم غواړي چې خپلې موخې پلې کړي اوس ښاغلي کرزي هم ومنله او په وروستیو کې یې په وار وار بېلابېلو کنفرانسونو کې د افغانستان په خلکو غږ کړی، چې بهرنیان دلته خپلې موخې لري. کرزي ولې پخوا دا خبرې نه کولې او یا که د بهرنیانو له دغو موخو څخه بې‌خبره و؟

**اصولي:** په پیل کې به کرزی ریښتیا هم له دې هرڅه نه و خبر. ځکه دی راغی او د قدرت غوښتنه هم یو شوق لري چې هغه شوق به هم له ده سره و. خو وروسته بیا پر دې پوه شو او هڅه یې وکړه چې بهرنیانو ته قناعت ورکړي چې د هغوی دا اوسنۍ کړنې د افغانستان د ملي ګټو پر خلاف دي، مګر په اواخرو کې ستړی شو، ولس ته راووت او دا یې ورته په ډاګه وویل، چې بهرنیان دلته خپلې ګټې لري؛ دوی د خپلو ګټو لپاره دلته راغلي؛ دوی نه غواړي چې دلته سوله راشي. دا د امنیتي تړون مسئله یې هم چې یاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه په هغه ځای کې یې هم وویل چې لویې جرګې هغه مسئله تصویب کړه، خو ده هغه کار ونه کړو او لاسلیک یې نه کړ. علت یې دا و چې دی پر دې پوهېده چې بهرنیان نه غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي، ځکه یې لومړنی شرط ورته د سولې راوستلو کېښود.

**خبریاله:** آیا هغه پر همدغو حالاتو خبر و؟

**اصولي:** بالکل. نه یې غوښتل چې دغه تړون امضا کړي او بهرنیانو نه غوښتل چې په افغانستان کې سوله راشي اوس هم نه غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي.

**خبریاله:** هو، هغه وخت به هم دا موضوع چاته معلومه وه یا به نه چې بهرنیان په افغانستان کې څه موخې لري؟ اوس خو معلومه شوه او تاسو هم تشریح کړه چې د افغانستان د اوسني حالت مسوولیت ټول د هغو کسانو پر غاړه دی چې ۱۵ کاله دمخه د بُن په کنفرانس کې پرې پرېکړې شوې دي. اوس مشران کشران ټول پر دې پوهېږي چې دلته په افغانستان کې بهرني استخبارات قوي لاسونه لري او غواړي په افغانستان کې جګړه وکړي. په داسې حالاتو کې زموږ د اوسني حکومت مشرانو ته پکار ده چې څه باید وکړي، څو بالاخره له داسې یوه بحرانه ووځي؟

**اصولي:** په داسې شرایطو کې چې حکومت ۵۰\۵۰ نیم شوی وي. داسې شرایط، چې موږ اوس ورسره مخ یو، حکومت به تر یوه حده وکولای شي چې دا ستونزه حل کړي. موږ له ۵۰ سلنه زیاته توقوع هم له دوی نه لرو، ځکه چې دلته حکومت نیم شوی او۵۰ سلنه حکومت د هغو ډلو په لاس کې دی چې همدا بحران یې راوستی. دا بحران همدغو ډلو راوستی چې اوس عملن په قدرت کې دي. دوی د افغانستان ملي ګټې له صفر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرب کړې، دوی ته د افغانستان ملي ګټې مهمې نه وې. دوی ته خپل جیبونه خپل سمت او خپلې ډلې مهمې وې او دوی د افغانستان ویجاړونکي دي. زه پر دوی هم غږ کوم چې کاشکې همدا خلک د ملي ګټو لپاره په کار لوېدلي وای، لکه څنګه یې چې خپل ګوند ته کار وکړ. لکه څنګه یې چې خپل سمت ته کار وکړ. په همدې ډول کاش چې دوی د افغانستان ملي ګټو ته کار کړی وای، اوس به په دغه بحران کې هم نه وو او نه به دلته بهرنیان وای.

**خبریاله:** اوس له دې بحرانه د وتلو کومه لار شته؟ څه باید وشي؟ مشران څه باید وکړي؟

**اصولي:** بالکل چې شته، دوی باید همدغو بهرنیانو ته قناعت ورکړي او بهرنیان پر دې پوه کړي چې که چېرې تاسو په افغانستان کې همدې بحران ته د پای ټکی کېښږدی، نو موږ ستاسو حضور ته د پای ټکی ږدو. یعنې موږ کولای شو چې له هغوی سره یوه سیاسي مبارزه وکړو.

**خبریاله:** یعنې د دوی دا سیاسي مبارزه په بهرنیانو باندې اغېزمنه ده؟ څه وخت مخکې د ولسمشر خبرې وې، موږ چې کله له سیاسي کارپوه سره کېنو، هغه هم وایي چې د افغانستان په اداراتو په تېره بیا په نظامي ادارو کې ډېر نامسلکي کسان راغلي، د واسطو د زور په وسیلې دوی راغلي. عام خلک هم همدا وایي، اوس چې کله ولسمشر هم همدا خبره کوي، نو فکر کوي چې دا خبره د ولسمشر له واکه هم وتلې ده؟

**اصولي:** ولسمشر هرې ستونزې ته نه رسېږي. ولسمشر هغه څوک دی چې له پاسه احکام ورکوي، څو لاندې یې پلي کړي، خو لاندې مدیریت خراب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبریاله:** خو ولسمشر اوسمهال هم د زیاترو چارو مدیریت په خپل لاس کې اخیستی. اوس گرم څوک دي، ایا د فساد له ډاره یې، چې په افغانستان کې احزاب دي، دلته د قومونو لپاره کار کېږي، له دې ویرې دوی واکونه په لاس کې اخیستي دي؟ او که د شوق یا علاقې څخه یې دا د هرشې واک په خپل لاس کې اخیستی دی؟

**اصولي:** داسې ده چې ولسمشر نه پرېښودل کېږي، په هغه ډول چې پکار ده هسې اصلاحات راولي. ولسمشر یې هوډ لري چې باید وشي. خو زه وایم دلته چې خپله هغه حلقه چې په ولسمشر راتاو ده، هلته ستونزې ورته جوړېږي. هغه ستونزې دومره دي چې دی نه پرېښودل کېږي چې کار وکړي. یو ولسمشر نه‌شي کولای چې ټول مسایل اداره کړي.

**خبریاله:** که پر ولسمشر دا حلقه دومره زوروره ده، نو د ولسمشر واک بیا څه شی دی؟ ولسمشر که چېرې غواړي چې قانون عملي کړي، له فساد سره د مبارزې هوډ لري، نو په کندز کې له دا څو کلونو راهیسې د روانې جگړې عاملین ولې نه په ډاگه کوي. همداسې په بغلان او د افغانستان په نورو سیمو کې د موجوده جگړې لاملین ولې نه په ډاگه کوي او ولې سزا نه ورکوي؟ دا خو د ولسمشر په واک کې شته او که نه وي بیا نو ولې خلکو ته نه وایي چې پر ما حلقې راتاوې دي او دا خلک مې کار ته نه پرېږدي دا کسان ولې نه افشا کوي؟

**اصولي:** تاسو وینئ چې حکومت په دوو ډلو وېشل شوی، یوه ډله چې د بل چا په لاس کې دی. نو ولسمشر لکه څنگه چې باید وکړي، په هغه ډول نه‌شي کولای. که موږ د کندز مثال ورکړو، باید چې د کندز د امنیې قوماندان اوس قوماندان نه، بلکې څارنوالۍ ته معرفي شوی وای. ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یو ځل کندز سقوط وکړ، باید چې په همغه وخت کې دی څارنوالۍ ته معرفي شوی وای، او په دنده کې نه وای. خو دویم ځل یې هم سقوط وکړ، ولې بیا هم هغه په دنده کې دی او د هغو کسانو له ډلې څخه دی، چې په کابل کې یې چور غلاوې او لوټمارۍ کړې دي. موږ او تاسو لیدلي چې دی په هغه وخت کې په ځلورم مکرویانو کې د نظار شورا قوماندان و. د خلکو له کوره یې حتا یخچالونه او قالینې هم په زوره یوړل. که والي ته یې راشو. له والي څخه خبریال پوښتنه کوي چې دلته ولې جګړه ده؟ دی ورته وايي چې دلته ځوک وژل کېږي، دا د خدای خوښه ده. ښه نو ته هلته څه کوې؟ یعنې که زما په لاس کې وای، نو داسې والي مې هېڅکله هم هلته نه پرېښوده او مستقیم مې زندان ته لېږه. ته هلته د څه لپاره والي یې!؟

**خبریاله:** یعنې د داسې کسانو مجازات اوس د ولسمشر له واکه وتلې خبره ده؟ تاسو وایئ، چې ترځنګ یې حلقات دي چې هغه نه پرېږدي څو داسې کسان مجازات کړي او که مجازات نه‌شي، نو کندز خو دوه ځلې سقوط وکړ، شاید لس وارې نور هم سقوط وکړي.

**اصولي:** سل په سلو کې دا باید مجازات شي، ولسمشر لکه څنګه چې د خپلو حلقو، چې پر ده یې فشار راوستی، له هغې څخه راووځي او که دا خلک مجازات نه کړي او دېته ورته په نورو مسایلو کې ناغېړي وکړي، نو دا حالت به لا نور هم خراب شي. څو چې د مجازاتو قانون په ریښتیا دلته پلې نه‌شي، بله لار نه شته. څو چې موږ وتوانېږو چې د افغانستان حالت د سولې خواته بوځو او له بحرانه یې راوباسو. که په همدې ډول روانه وي نو دا به ډېره مشکله او ستونزمنه خبره وي. د ولسمشر لپاره به هم ستونزمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې دی له دغه بحرانه راووځي.

**خبرياله:** په افغانستان کې ټول دا خبره کوي چې د افغانستان جګړه زموږ نه، بلکې بهرنی جنګ دی. دلته داخلي او بهرني استخبارات دواړه کار کوي. دواړه دلته لاس لري. که چېرې ولسمشر پيل وکړي او د مجازاتو قانون پلی کړي، هغه کسان چې په کارونو کې ناغېړي کوي دا ټول مجازات کړي، نو څه فکر کوئ، څومره به د افغانستان په حالاتو کې تغييرات راوستلای شي، سره له دې چې دلته بهرني لاسونه هم شته دي؟

**اصولي:** که د پخواني ولسمشر کرزي په وخت کې د مجازاتو قانون پلی شوی وای، نو زه وايم چې اوس به په افغانستان کې تر يوه حده دا بحران نه وای. اوس هم لا وخت شته، که اوس هم ولسمشر دا کار وکړي، نو د افغانستان حالات به په يو يونيم کال کې کنټرول شي. تاسو پوهېږئ چې کندز سقوط کوي د امنيې قوماندان او سياسي چارواکي يې هملته وي او هېڅوک هم اصلن څارنوالۍ ته نه ليږل کېږي. که ليږل کېږي هم، هغه کسان به وي چې يا د پوستې قوماندان او يا عادي کسان وي.

**خبرياله:** يعنې مجازات په دې معنا نه وي چې تاسو واياست: که يو چا ناغېړي وکړه نو هغه دې له دندې لرې شي او لاړ دې شي په خپل کور کې دې کېني، که خارج ته ځي که دوبۍ ته يا بل هر ځای ته ځي، بلکې پکار ده چې څه نا څه قانوني چلند هم ورسره وشي. په فعلي حالت کې زموږ حکومت دا ظرفيت لري چې له دوی سره قانوني چلند وکړي. محکمې ته يې وسپاري حساب و کتاب ورسره وکړي؟

**اصولي:** تر يوه حده يې کولای شي. ما وويل کله چې حکومت په ۵۰\۵۰ وېشل شوی وي، نو ولسمشر هم نه‌شي کولای چې سل په سلو کې دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، خو تر یوه حده بریالی کېدای او دا موضوع کنټرولولای شي؛ تر یوه حده د افغانستان بحران هم کنټرولولای شي، خو سل په سلو کې ولسمشر هم نهشي کولای چې دا کار وکړي. ځکه هلته مخالفتونه ورسره شته دي. په ارګ کې په ریاست او په همدې ډول په حکومت کې ورسره ستونزې شته دي. له ده سره همکاري ببخي کمه ده. موږ او تاسو یې وینو چې دی تر یوه حده نهشي کولای چې له دغو ستونزو ووځي. ځکه دلته واک وېشل شوی دی. که واک د ولسمشر په لاس کې وای، نو زه باوري یم چې اوس به دا حالت نه وای او حالات به ډېر ښه ول.

**خبریاله:** ښه اوس خو داسې حالات پېښ شوي، نو د حل لارې به یې څه وي؟ د کندز جګړه ډېره زیاته پېچلې شوې ده. که څه هم هلته افغان ځواکونه جنګېږي، خو بیا هم دا پېچلتیا له منځه نهځي. قرباني یې عام خلک او هغه امنیتي ځواکونه چې هلته په لیکو کې جنګېږي. په هلمند کې هم او په نورو ښارونو کې هم همدا حالت دی، حل لاره یې څه ده؟ اوس څنګه کولای شو چې ځان له دغه حالته وباسو؟ اوس نو باید څه وشي، نړیوالې ټولنې ته مراجعه وشي، له نورو هېوادونو څخه مرسته وغوښتل شي، که په خپله نظام کې باید تغییرات راولي؟

**اصولي:** د افغانستان جګړه د افغانانو په لاس کې نه ده چې مهار یې کړي، بلکې دغه جنګ د بهرنیانو په لاس کې دی؛ دوی یې کنټرولوي او دوی تحرک ورکوي. د کندز او په لویه کې د شمال جګړه بهرنیان غواړي، همدا جګړه چې په جنوب ختیځ کې وه. غواړي همدا شمال ته انتقال کړي. دا جګړه یې کندز ته یوړه، دا جګړه یې تخار ته یوړه. دا جګړه یې تر بدخشانه وغځوله. علت یې دا دی چې دا سیمې د طالبانو په وسیله د دولت له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وباسي، هلته انارشیزم خوروي او بیا له هغې وروسته هلته داعش انتقالوي. لکه څنگه چې د ولسمشر دویم مرستیال هم وویل داعش هلته راځي او د داعش مرکزونه به هم هملته وي. څو چې روسیه پرې وگواښي، چې منځنۍ آسیا پرې نارامه کړي او څو چې چین ته سور څراغ ورکړي. یعنې په ټوله کې موږ ویلای شو چې د افغانستان جگړه د پردیو په لاس کې ده. موږ افغانان یې په پیسو سره کرا کړي یو او هغه څه راباندې کوي چې د دوی خوښ وي. په څلوېښتو کلونو کې دا مسئله په همدې ډول روانه ده. له یوې خوا که روسان راځي افغانان کرا کوي. له بلې خوا امریکایان، پاکستانیان، عربي ممالک، چین او نور هېوادونه راځي، افغانان کرا کوي پانگونه پرې کوي؛ څو چې خپل هېواد پرې وران کړي؛ څو چې په افغانستان کې انارشیزم قوي کړي، ځکه په همدې کې د دوی گټې دي.

**خبریاله:** یعنې دا په دې معنا ده چې بهرنیان هم پر دې پوهېږي چې افغانان په یوه اراده نه دي؛ یو فکر او یو نظر نه لري، ځکه دوی خپل اهداف دلته په آسانه عملي کولای شي.

**اصولي:** بهرنیان د تل لپاره په ځینو کړیو پانگونه کوي. دوی په دغو تېرو څلورو کلونو کې په قومونو پانگونه کړې؛ ایران راځي په یوه قوم پانگونه کوي، تاجکستان راځي په بل قوم پانگونه کوي. پاکستان یې په بل قوم کوي او په خپلو منځنو کې یې سره اچوي. په دغو څلوېښتو کلونو کې همدا کار وشو. د افغانستان کورنۍ جگړه چې وه، کابل یې وران کړ، افغانان یې د ژبې او سمت په نوم ووژل، کابل یې ړنگ کړ، اردو یې له منځه یوړه. ادارات یې وتړل، ملي بنسټونه یې له صفر سره ضرب کړل، موږ یې د پنجابي، ایراني او ټولو له سیالۍ څخه وایستلو او اوس هغه حالت راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې موږ له دوی سره سيالي نه‌شو کولای.

**خبرياله:** اوس ملامت څوک دي؟

**اصولي:** ملامت په لويه کې موږ خپله يو. افغانان ملامت دي.

**خبرياله:** يعنې دا په دې معنا ده چې موږ خپلو ملي ګټو ته وفاداره نه وو، ځکه نو خرڅ شوو. مننه کوم له ګډون څخه مو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۵

## د کندز ښار د سقوط پايلې

پيامد سقوط شهر کندز برای امنيت ولايت‌های شمال کشور خطر ساز است. شماری از آگاهان امور مي گويند هر چند نيروهای امنيتی شهر کندز را دوباره تصرف کردند اما افتادن چهل موتر زری، سلاح و مهمات ديگر در هنگام سقوط شهر کندز به دست طالبان، سبب شده که طالبان تجهيز شوند بخاطر بحث بيشر در اين رابطه آگاه امور سياسی آقای جمال ناصر اصولي را باخود داريم. آقای اصولي خيلی خوش آمديد به بحث امروزی.

در نخست ميخواهم بپرسم که چرا کندز با اينکه به دست نيروهای دولتی قرار گرفت اما باز هم مقدار مهمات و سلاح‌های و حتا موترهای زری به دست طالبان افتادند؟

**اصولي:** د لوی او ښخښونکي خدای په نامه سلامونه تاسو او ليدونکو ته. نه يوازې دا چې په کندز کې همدا مسئله وشوه، بلکې ډېرې وسلې په ډېرو ولسواليو کې د دوی لاس ته ورغلې. څو وروځې مخکې موږ او تاسو وليدل چې په بدخشان کې هم د يمګان ولسوالۍ ونيول شوه او دا څووم ځل دی چې د يمګان ولسوالۍ سقوط کوي او بېرته يې دولت نيسي. په هلمند کې همداسې وشول. په ډېرو ولايتونو کې موږ وينو چې ولسوالۍ سقوط کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتا د ملي اردو د اډو زیاتره وسلې او تجهیزات دوی له ځانه سره وړي چې دا هم د دوی لپاره یوه مهمه موضوع ده، ځکه ځای په ځای وسلې ترلاسه کوي. دا په یو ډول داسې هم ښودل کېږي چې د دوی لپاره تکتیکي پرېښودل دي، څو دوی مسلح شي. دا چې څومره حقیقت لري دا بیا ځانته مسئله ده. خو موږ یې چې وینو د دې لپاره چې یوه ولسوالۍ دوی وساتلی شي، داسې نه کوي چې دوی هغه ولسوالي وساتي، بلکې برعکس ولسوالي قطعات او هرڅه پرېږدي او په ناامنو سیمو کې هغه ځایونه دوی ته پرېږدي چې د دولت په لاس کې دي، د دې لپاره چې دوی هغه وسلې واخلي او دولت بیا درې ورځې وروسته عملیات کوي. د دولت یوه تر ټولو لویه سهوه همدا ده چې مخکې له دې، چې کومه ولسوالۍ وساتي، دوی یې پرېږدي؛ خپلې وسلې مهمات او تجهیزات ټول د مخالفینو په لاس کې ورکړي او له هغې وروسته بیا خپل عملیات کوي، څو هغه ولسوالي بېرته ونیسي. نو د دولت کمزوري او نیمګړتیا په همدې کې ده، مخکې له دې چې یوه ولسوالۍ ونیسي، باید پر همدې تمرکز وکړي چې څنګه دوی په پوره توګه هغه ولسوالي ساتلی شي. دوی برعکس ولسوالۍ پرېږدي او کله چې ټول تجهیزات د مخالفینو لاس ته ورغلل، بیا له سره عملیات کوي. دا د افغانستان دولت تر ټولو لویه کمزورتیا ده او د افغانستان دولت باید پر دې تم شي، فکر پرې وکړي چې څنګه کولای شي په ناامنو سیمو کې خپل موجوده ځایونه او دولتي تجهیزات په پوره توګه له کلک هوډ سره وساتي.

**خبریاله:** بلی. حالا به نظر شما این تقسیمات اداری و اداره‌های محلي که در ولایات به ویژه در ولایت‌های مثل کندز تشکیل شده و نیروهای امنیتی که در آنجا هستند چگونه بررسی می کنید آیا با وجود همه اینها قابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبول است؟ که بخواهند یک ولایتی سقوط بکنند، نه تنها کندز بلکی سایر ولایت‌های مانند هلمند، بدخشان یا ولایت‌های دیگر؟

**اصولي:** که موږ او تاسو يې د مثال په توګه ووايو؛ د کندز پر مسئله خو ټول پوه شول، ځکه کله چې يو ولايت سقوط کوي او هلته ډېر جنګ هم نه کېږي يعنې په پوره توګه طالبانو ته ورسپارل کېږي. په همدې ډول په هلمند کې هم وشول. د باباجي سيمه د لښکرګاه د هلمند له دريابه اېخوا ده. يوازې له ښار سره يو څو کيلو متره فاصله لري دا هم د دولت لپاره ډېره د شرم خبره ده چې مخالفينو هغه سيمه ورڅخه ونيوله او تر اوسه هم په پوره توګه هلته نه دي تصفيه شوي. په هلمند کې زياتره ولسوالۍ د دوی په لاس کې دي. دا ټولې هغه ستونزې دي چې دولت بايد په پوره توګه پرې مکث وکړي او په کلک هوډ سره همدا ځايونه وساتي او که چېرې دا ځايونه ونه‌شي ساتلی، نو پر نظام د خلکو ټول اميدونه او هيلې کمېږي او ورو ورو له منځه ځي. دا خو يو اعتماد دی چې خلک يې پر دولت لري او که په دولت د خلکو دا اعتماد او باور ختم شو، نو په افغانستان کې به ډېرو برخو ته ضرر ورسوي. تاسو ټول وينئ چې اوسمهال د افغانستان په فعلي شرايطو کې له دغه ځايه ټول پانګوال او سوداګر په تېښته دي؛ ټول يې خپلې شتمنۍ له دې ځايه وباسي، دوبۍ يا نورو داسې ځايونو ته ځي چې هلته په آرامه کار کولی شي. د بېکارۍ کچه هم ورځ تر بلې په زياتېدو ده. کومه څېړنه او سروې چې د احصايې د رياست له لوري خپره شوې، ښيي چې شاوخوا دوه ميلونه خلک په افغانستان کې بېکاره دي چې د کاري نفوس ۴۰ سلنه تشکيلوي، درې ميليونه يوازې زموږ او تاسو معتادين دي. په دومره کم نفوس کې موږ درې ميلونه معتادين دوه ميلونه بېکاران او شاوخوا شپږ ميلونه مهاجرين لرو. دا په دې معنا ده لکه يو کور چې وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک پکې نه وي. یعنې هغه پوه کسان ترې وځي، ځوانان یې معتادېږي، دا چې په افغانستان کې کار نه‌شته، نو ځوانان یې بهر ته تښتي. دا د یوه هېواد لپاره اصلي بنسټ ویجاړونکې خبره ده او پر دې باید زموږ رهبران او سیاسیون فکر وکړي. ځو همدا بشري قوت، چې په افغانستان کې یې لرو، وساتلی شو او ګټه ترې واخلو. یوازې دا نه ده مهمه چې دولت باید په ټولو برخو کې ځوانانو ته کار پیدا کړي، بلکې دومره باید وکولای شي چې لږ تر لږه خو ورته له امنیت ډکه فضا جوړه کړي، څو ځوانان په آرامۍ کار وکړي او سوداګر وکولای شي چې دوی ته کار پیدا کړي. په ځوانانو پانګونه وکړي، په فابریکو او نورو هغو مسایلو کې چې دوی په کار ګمارل کېږي. خو برعکس اوس د دې پر ځای چې له سوداګرو سره مرستې وشي سوداګرو ته په دولت کې ستونزې جوړېږي. کله چې یو سوداګر کوم وزارت ته ځي ټول یې جېب ته ناست وي. سوداګر باید حمایه شي، کله چې سوداګر حمایه شي، بیا کولای شي چې ځوانانو ته کار پیدا کړي. خو که دولت په دې ډول وي، چې ولایتونه او ولسوالۍ یې سقوط کوي، بیا نو سوداګر هم دلته خپلې پانګونې ته زړه نه ښه کوي. له همدې امله ځوانان هم په تېښته دي. اوس باید زموږ سیاسي مشران پر دې پوه شي او د امنیت لپاره له ناټو او ټولو ملګرو سره وغږېږي. افغان حکومت باید همدغې ناټو ته، چې په یو ډول پکې ښکېل هم دي؛ زموږ مخالفین یا طالبان او نورې ډلې د پاکستان په وسیله تجهیزوي؛ مالي ملاتړ یې کوي او د افغانستان حکومت یې هم له لرېویني، قناعت ورکړي چې یو سوله‌ییز افغانستان د دوی په ګټه دی، نه یو جنګ‌ځپلی هېواد.

**خبریاله:** بنظر شما ضعف حکومت و دولت در سقوط کندز چه بوده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصولي:** زما په اند یوه موضوع د کندز د سقوط دا وه چې خپله د کندز په لوړپوړو چارواکو کې اختلافات موجود وو. د امنیې قوماندان خپله ځانته قومنداني کوله او د والي یې نه منل. همداراز والي بیا له قوماندان سره په تفاهم کې نه و. یعنې دلته یوه ستونزه همدا وه او هلته بیا نورې مافیایي کړۍ وې چې دوی یې سم مدیریت ته نه پرېښودل. دویمه موضوع دا هم وه چې ډېری خلک له محلي حکومته په عذاب شوي وو. په اداراتو کې له دوی سره داسې برخورد کېده لکه له شړل شویو کسانو سره چې کېږي. خلک په عذاب شوي وو. له همدې امله خلکو همدا طالبان راوستل په خپلو کورونو او بانډو کې یې ځای ورکړ او له هغې یې بیا راوباسل. لکه څنګه چې ولیدل شول، کله چې جنګ شروع شو زیاتره طالبان دننه د خلکو له منځه راپورته شول او د ښار له منځه یې له امنیتي ځواکونو سره جګړه پیل کړه. دا د دې ښکارندویي کوي چې خپله د هغه ځای خلک له محلي حکومته ناراضه وو. دوی باید یو داسې حکومت او اداره رامنځته کړي چې همدا ولس په خپل ځان راټول او چاته اجازه ور نه کړي چې د دوی تخریبي افکار و روزلای شي. نو زه وایم چې عوامل یې په رښتیا همدا وو. یو بل لوی لامل یې دا هم دی چې دولت له لرې څخه لیدل چې دوی په ډېرو ولسوالیو کې فعالیت کوي، مګر څه یې نه ورته ویل. عملیات به یې یوه ورځ وکړل او بله ورځ به بېرته په شا شول او هغه سیمې به یې بېرته د طالبانو لاسته پرېښودې. دشت ارچي ولسوالۍ د دوی مطلق مرکز ګڼل کېده. همدا نظامیانو به مو لیدل؛ همدا حکومتي پوځیانو او ټولو به لیدل چې دوی هلته دي. د کندز له سقوطه څو میاشتې مخکې دوی ځینې تصویرونه خپاره کړل، چې په لوړه اندازه همدا د ملي اردو وسایط ټانګونه او هغه وسلې ورسره دي چې حتا هغسې وسلې زموږ له ملي ځواکونو سره هم نه‌شته. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه غټه پیمانه پر یو ځای راټولېږي. رسنیو ته تصویرونه لیږي دا په دې معنا ده چې دوی په هغه وخت کې د کندز لپاره یو لوی خطر و. خو چارواکو ځان پرې پوه نه کړ. زموږ چارواکي هلته یوازې ځان پر دې موضوع پوه کوي، چې هلته هغه موضوع پېښه شوې وي. له پېښې مخکې یې وقایه نه کوي. که چېرې له پېښې مخکې یې وقایه وکړي، نو ښکاره ده چې هېڅ ستونزه او مشکل به هم نه وي. تاسو ولیدل چې په هلمند کې د ملي پوځ ٦٥ کسان طالبانو ته تسلیم شول، علت یې دا و چې دوی محاصره شوي وو؛ چیغې یې وهلې چې موږ ته اکمالات راورسوئ، مګر دولت پسې هېڅ سر ونه ګرځاوه، بیا نو هغوی هم مجبور شول چې تسلیم شي، ځکه بله لاره یې نه لرله؛ مشکلات یې ډېر وي. کله چې یوځای یوه پوسته، یوه ولسوالۍ یا یو نظامي ځای محاصره کېږي، هلته په مناسب وخت او زمان سره اکمالات نه رسېږي؛ مرسته ورسره نه کېږي، نو دوی مجبورېږي چې یا خپل سرونه قرباني کړي یا هم تسلیم شي؛ بله لار نه لري. د همدغو مسایلو لپاره دوی باید یوه سمه حل‌لاره او چاره جوړه کړي او د دې چوکاټ په منځ کې باید هغو ځایونو ته ، چې تر تهدید لاندې راځي ، عاجل امکانات او مرسته ورسوي.

**خبریاله:** حالا با داشتن دو رهبر در یک حکومت چرا ما هنوز نمیتوانیم هماهنگی خوبی میان اداره‌های دولتی داشته باشیم و به نظر شما بی‌تفاوتی رهبران است و یا اینکه کدام یک از رهبران ما در سقوط ولسوالی‌ها پاسگاها و ولایت‌ها مقصر هستند؟

**اصولي:** کله چې د یوه حکومت بنسټ غلط جوړ شي، نو ضرور به پکې راپورته شوي ارګانونه او ټولې کړنې دوې سرې وي. کله چې دوی قدرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ووېشه او دلته يې بنسټ غلط کېښووده همدغو مشرانو خپله ويل چې مورږ په اساسي قانون تجارت نه کوو، خو برعکس په اساسي قانون يې تجارت وکړ. د اجرايه رياست په نامه يې ناقانوني پُست را پيدا کړ. په دې يو نه، بلکې دواړه مشران ملامت دي. که يو يې غوښتل چې ماته واک راکړئ، خو بل يې هم همدا واک ورکړ. دوی بايد ملي فکر کړی وای؛ دوی بايد په قدرت پسې نه وای گرځېدلي؛ په همغه وخت کې بايد تېر شوي وای او حکومت يې يوه کس ته پرېښی وای. که چېرې قدرت له يوه سره وای، نو زه باوري يم چې اوس به افغانستان په امنيتي او اقتصادي لحاظ يو څه پرمختگ کړی وای، نه دا چې لا به هم شاته روان وای، لکه اوس چې مورږ يوازې په شا او منفي خوا ته روان يو. ستونزه اصلن په دواړو کې ده. او که څوک وايي چې ولسمشر ملامت دی، دا سمه نه ده، بلکې تر څنگ يې اجرايه رييس هم سل په سلو کې ملامت دی، ځکه چې اجرايه رييس ولسمشر خپل حرکت ته نه پرېږدي. بلخوا ولسمشر په دې ملامت و چې پنځوس سلنه حکومت يې ورکړ او خپل واک يې ووېشه، مانا دواړه ملامت دي. کله چې حکومت دوه‌سری شي؛ کله چې واک دوه‌سری شي؛ کله چې دوه ډرېوران د يوه موټر د چلولو هڅه کوي، نو سل په سلو کې به له ټکر او پېښې سره مخېږي، ځکه چې مفکورې فرق کوي. مورږ د دواړو ټيمونو/ ډلو مفکورې وليدې چې له ځمکې تر آسمانه يې توپير لاره. څنگه کېدای شي چې دواړه سره جوړ شي. يوه بله موضوع چې دوی جوړه کړه او د افغانستان په گټه هم نه ده، هغه دا ده چې نه يوازې دوی دواړه مشران د دغو دواړو مشرانو ترڅنگ هغه ټيمونه جوړ کړل چې يو هم د هېواد په گټه نه دی. د اجرايه رييس په شاوخوا کې د بلې ډلې لپاره منفي افکار رامنځته کېږي. همدا ډول د ولسمشر په شاوخوا کې هم ځينې هېواد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمنې کړې نه‌شته. دوی دواړه باید پر دې فکر وکړي چې همدا منفي افکار په پراخه پیمانه اوس روان دي؛ دا منفي افکار تقویه او لا ډېرېږي چې مخه یې باید ونیول شي، څو په راتلونکي کې د افغانستان پرمختګ له خنډ او ځنډ سره مخ نه کړي.

**خبریاله:** حالا این دو رهبر با این هه مخالفت‌ها و لجبازي‌ها میخواهند چه چیزې را ثابت بسازند؟ چه بدست شان می آید؟ و به خاطر چه این کارها را میکنند؟

**اصولي:** دوی په اوایلو هر یو یوازې پر خپل قدرت تم شوي. دوی یوازې پر دې فکر کړی و چې څنګه وکولای شی په کابینه یا ولایتونو کې ډېره ونډه یا برخه واخلي. دوی لا هم په همدې لاس او ګرېوان دي؛ ولسمشر نه پرېښودل کېږي چې پر دې برخه کار وکړي. په ډېرو ولایتونو کې داسې کېږي چې والي د ولسمشر وي، خو قوماندان باید د اجرایه رییس له ډلې څخه وي. لکه څنګه په کندز کې دوې جلا پاچاهۍ ولیدل شوې. قومندان ځانته پاچا و، والي ځانته؛ ستونزې یې رامنځته کړې وې. اوس هم تقریین په ټولو ولایتونو کې همدا ستونزې راپیدا کېږي یا په ډېرو وزارتونو کې چې هلته وزیران له یوې ډلې او معینان له بلې ډلې وي. هلته هم سمه همغږي نه‌شته. اوس خبره دا ده چې که لا هم دا مفکوره وروزل شي، چې دوی تولید کړې، نو دا به د افغانستان د نظام لپاره خورا ډېره بنسټ‌ورانوونکې وي. دا مفکوره به یوازې د افغانستان په تاوان وي او تر آخره به د دغه هېواد په درد ونه خوړل شي. زه خو وایم چې باید په یوه اداره کې یوه مفکوره عملي شي؛ باید همغږي رامنځته شي، ځکه همدا همغږي ده چې نظام پرمخ بیایي او همدا ناهمغږي ده چې نظام مو منفي لوري ته ټېل وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د افغانستان نظام په ټولو برخو کې منفي خوا ته روان دی. که څوک ووايي چې دوی د افغانستان بقا ساتلې، نو د افغانستان بقا چا خرابوله؟ د افغانستان بقا خو د کرزي صاحب په وخت کې هم ساتل شوې وه. موږ په زرګونو کلونه همدا د افغانستان نظام په يو نه يو ډول درلود، خو چا يې د بقا په اړه دومره فکر نه کاوه، ځکه افغان يو ملت دی او په ګډه ژوند کوي؛ دوی سره خوښ دي ګټې او تاوانونه يې سره شريک دي. دا بقا همدغو دوو مشرانو خرابوله، نه دا چې له بلې خوا ورته کوم بهرنی راغلی و چې دا بقا ورته خرابه کړي. هغه افکار يې هم، چې بهرنيانو روزل، پر چا تطبيق او عملي کول. له همدې امله زه وايم چې د افغانستان د بقا موضوع دې دوی هېڅ مطرح کوي نه، ځکه دوی يوازې همدا خطر جوړاوه. دوی که د افغانستان لپاره پرمخ ځي او ښېګڼه رامنځته کوي، خو همدا خپله دي، بايد راشي په ګډه سره کار وکړي او خپلې ستونزې، چې په ارګ کې يې سره لري، نور له هغو لاس واخلي؛ يو بل دې پرېږدي، هغه څوک چې کار کولای شي مخه دې ورکړای شي او داسې ټيمونه دې، ورسره ولېږي چې له دوی سره همغږي وي. دوه ټيمونه چې بېلابېلې نظريې لري، هغه دې نه سره يوځای کوي. په يو بنسټ کې دې يوه مفکوره کارولو ته پرېږدي، څو يو پوخ بنسټ ورغولای شي.

**خبرياله:** جناب اصولي شما بررسي که در رابطه به کارکرد رهبران داريد، بنظر شما کارکرد کدام يک شان بهتر است؟ که به گونه‌يی ميخواهند به اين اختلافات به مردم نشان دهند که ميتوانند در رأس قرار داشته باشند و تمام امور را رهبری بتوانند؟

**اصولي:** زما په نظر دواړه مشران، چې نظام يې تر دې حده رسولی، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفي دی که مثبت، د دې لپاره چې د افغانستان نظام پرمخ لاړ شي، د افغانستان خلک هوسا شي، باید خپل اختلافات لومړی په ارګ کې سره حل کړي. که چېرې یې حل یې نه کړي، نو دا ستونزې لا ورته زیاتېږي. هغه رهبران چې غواړي ځان خلکو ته پیاوړی وښیي، اوس خو ۵۰\۵۰ کې خبره ده. یو یې هم نه‌شي کولای چې خلکو ته ځان ثابت کړي، چې زه ډېر پیاوړی یم او ما ډېر کار وکړ. دوی په نظام کې کار کوي دوی په یوه حکومت کې کار کوي. دوی باید د ورونو غوندې مخکې لاړ شي او د آمر او مامور هغه موجوده احکام باید ومني. که چېرې یې سره ونه منل، نو دا جنجال به یې نور هم ډېرېږي. دوی دې خپلې ستونزې مخکې له هرڅه سره حل کړي. دوی باید هغه افکار، چې د دواړو پخوا کې راڅرګندېږي، باید مثبتو خواوو ته وغځوي، چې د دواړو ټیمونو دي. دواړه ټیمونه باید سره پخلا کړي، هغه د ډلو افکار یې ډېر سره لرې دي، منفي او مثبت افکار دي، باید سره یوځای یې کړي، څو چې دواړه د افغانستان د نظام لپاره د افغانستان د ثبات لپاره د افغانستان د نظام د هرې برخې لپاره دا هرڅه مثبتې خوا ته رهبري کړي او که داسې ونه شول، نو افغانستان به لکه څنګه چې اوس روان دی، لا به پسې خرابېږي.

**خبریاله:** حالا اینکه اعضای کمیسیون حقیقت یاب کندز می گویند که در کل دست دولت و حکومت در پی سقوط کندز بوده، به نظر شما با این حالت نتیجه ای این کمیسیون چه خواهد شد و چه رسیدگی خواهد شد؟

**اصولي:** زه وایم چې کمیسیون که په صادقانه ډول ریپوټونه جوړ او مستند کړي وي، د اسنادو پر اساس او بنسټ وي، نو ولسمشر دې له هغو چارواکو سره، چې ناغېړي یې کړې، باید شدید برخورد وکړي، دوی څارنوالۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



معرفي کړي او په څارنوالۍ کې يې تعقيب کړي چې د پيسو په بدل کې بېرته راخلاص نه‌شي. لکه څنګه چې اوس ډېر جنايتکاران او ډېر په فساد ککړ خلک په همدې نظام کې وينو، چې دوسيه ورته جوړېږي مګر درې ورځې وروسته بيا آزاد ګرځي. محکمې په لسګونو کلونو بند محکوم کړي وي، خو بيا هم دوی آزاد ګرځي. د دې علت همدا دی چې اوس هم دلته فساد موجود دی. اوس هم هغه قانون، چې څنګه بايد پلی شي، هسې نه پلی کېږي. ولسمشر بايد پر دې اړه فکر وکړي او يا هم داسې يو کميسيون رامنځته کړي چې نه يوازې د کندز د مسئلې لپاره، بلکې د هېواد د ټولو ناغېړيو د معلوملو په‌پار خپل څار پر محاکمو او څارنواليو وکړي. اساسي قانون خو هسې هم تر پښو لاندې دی، څکه چې دلته تجارت پرې وشو، نو همدا کمېسيون دې جوړ کړي چې څارنوالۍ او محاکم وڅاري.

**خبریاله:** حالا در صورت که خود حکومت مقصر است و در این کار دست دارد پس فکر میکنید که چه رسیدگی خواهد شد؟

**اصولي:** ما وويل چې د دې لپاره بايد يو خاص کمېسيون جوړ کړای شي چې د افغانستان ټولې مسئلې وڅېړل شي.

**خبریاله:** خوب این کمیسیون از چه کسانی باید تشکیل شود در صورت که حکومت وحدت ملی است و شماری از اشخاص یک طرف و برخی هم طرف دیگری، فکر میکنید کمیسیون از کیها باید تشکیل شود؟

**اصولي:** که دوی په رښتيا هم دواړه مشران د افغانستان لپاره کار کوي او که په رښتيا هم ملي فکر ورسره وي، نو کېدای شي چې له دواړو لوريو څخه رامنځته شي. خو که په همدې ډول ناملي مفکورې موجود وي؛ د خپلې ډلې لپاره کار کول وي؛ سمت‌پلوۍ او... وي، بيا نو دا باور نه‌شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای چې دوی په دغو یا دېته ورته نورو موضوعاتو کې کار وکړي او نه دا ممکنه ده. بیا به هم همدا خلک، چې ناغېړي یې کړې، آزاد ګرځي. دوی به لا هم تقویه او تشویقېږي، څو چې په خپلو منفي کارونو کې لا هم پر مخ لاړ شي. نو که چېرې جدي برخورد ونه‌شي او دلته د مکافاتو او مجازاتو مسایل مطرح نه‌شي، نو د افغانستان نظام به لا پسې خرابېږي.

خو زه وایم چې د افغانستان ولسمشر هوډ لري. ان‌شاءالله دغه کار به تر یوه حده کېږي. ولسمشر د افغانستان پر مسایلو پوه دی؛ ولسمشر د دې خاورې بچی دی او په همدې خاوره یې زړه خوږېږي. دا چې اوس نظام تر دې حده رسېدلی دی، دا د ناغېړۍ له امله رامنځته شوي. خو زه باوري یم چې د افغانستان وضعیت به په راتلونکي کې ان‌شاءالله مثبت بدلون کوي او ښه به شي.

**خبریاله:** بلي سپاسګزاریم جناب اصولي ممنون از اینکه در بحث امروزی با ما حضور یافتید.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**